

# د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ
# څېړنـــــــــــــچوپړي (ریســــــــــرچ پاڼې)

## لومړی ټوک

ماسټر. انجینیر

# صفي الله فردوس

Ketabton.com

کورس: [illegible] پوهنه
خبروونکی: د کوشنیوالي احساس
پېخلیک: د وري ۱۴، ۱۴۰۳ لیږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

د الله په نوم پیل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لرroونکی دی؛ مهرباني د پینی پنځونکي ځښتن بر لورینه ده.

## ۲. لیکي پوهه

| | |
|---|---|
| سرلیک:. | د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پانېِ) |
| ټوک:. | لومړی ټوک له څلورو |
| لیکوال:. | ماستر اېنجینېر صفي الله فردوس |
| د محصول اوړدوالی، سوروالی او پېړوالی:. | ۲۹۰ * ۲۱۵ * ۱۸.۳۲ میلي مېتر. |
| د کښلې غټې ټکي:. | ۱۹ ځپرکي |
| کښلې د چوپړو ګڼه:. | ۲۹۶ چوپړي ( مخه ) |
| وړلو وزن:. | ۷۴۰ ګرام |
| وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ( د ابېڅو او نورو) پرانټ.،، :. | ۲۷۵،۶۰۵.۰۰ دانې |
| منشوره یې له وت سره:. | ۳۶۰،۲۳۴.۰۰ دانې |
| سرلیکه:. | ۳،۷۶۸.۰۰ |
| لینونه ( خطه، کرښې له لیکي هړپې، لاندنۍ یادونې او پاینۍ یادونې سره، سره) ګڼه:. | ۱۱،۱۶۶.۰۰ |
| وییزېرمه ( پښتو په پښتو وی یا ویویکي یا لغاتونه، ویکي) ګڼه:. | ۷۸،۴۲۳.۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ**

خپرنــــــــــچوپړي ( ریســـــــــرچ پاڼې)

| | |
|---|---|
| د کښلې د ابېڅې پیل او پای:. | د دې کښلې پیل په دې ,, د ،، سره شوی او پای یې په یې ,, ې ،، اوړدې یې سره شوی دی. |
| ګڼه:. | پېنځم کتاب |
| لیکوال استوګنځای:. | بغل، تره خیل، کچور شمټی، مهترلام، لغمان، افغانستان |
| خپرندوی:. | مومند خپرندویه ټولنه |
| اېډېټور:. | ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس |
| طراح او ډیزان:. | ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس |
| کښلې د پیل پېر:. | پیلنی وار: د رییس غلام حسن بابا کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختیخ نوی ښار، مهترلام، لغمان، افغانستان؛<br>تله ۱۵، ۱۳۷۲ لېږدی<br>( زېږدی ۱۹۹۳ October ۰۷)،<br>دوېیم وار: : زموږ کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختیخ نوی ښار، مهترلام، لغمان، افغانستان؛<br>غبرګولی ۱۹، ۱۳۸۸ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۰۹ June ۰۹)،<br>درېیم وار: زموږ کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختیخ نوی ښار، مهترلام، لغمان؛<br>کب ۲۰، ۱۳۹۵ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۱۷ March ۱۰)،<br>څلورم وار: ۷ کور، درېیم پوړ، ۵۳ بلاک، اماراتو ښارګوټی، کسبه، ۱۵ سیمه، کابل، افغانستان؛<br>کب ۰۱، ۱۳۹۹ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۲۱ February ۱۹)، |
| کښلې د پای پېر:. | جوهریزاده سړک، میدګاردوک، دوشنبې ښار، دوشنبې، تاجیکېستان؛ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ**
ځېړنـــــــچوپړي ( ریســـــــــرچ پاڼې)


پسرلی، وری ۱۴، ۱۴۰۳ لېږدی
( زېږدی ٢٠٢٤ April ٢)

| | |
|---|---|
| خپرېدو نېټه:. | وری ۱۴، ۱۴۰۳ لېږدی ( زېږدی ٢٠٢٤ April ٢) |
| چاپ نېټه:. | پسرلی، وری ۱۴، ۱۴۰۳ لېږدی |
| چاپشمېر:. | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ وار:. | لومړی |
| ډول:. | ادبيات او هنر ( لیکنی ارت، ادبيات او فن، ادبيات او عملي مهارت، ادبيات او صنعت، لیکنی او صنعي قدرت ضد، ادبيات او د ښکلا د تخليق فن، د تخليقي تخيل اثر، ادبيات او د پوهې یوه څانګه په ټېره د اجتماعي علومو د موسيقي یا ټنګټکور برخه؛ لیکنی او مهارت یا تخصص؛ لیکنی او استعداد؛ ادبيات او ځیرکي؛ ګړنې پيېلې) ټولګه |
| ژبه:. | پښتو |
| ژباړونکی:. | هېڅ یوه |
| پوخ بڼه:. | اساسي |
| ترړ:. | تازه |
| رپ ځای:. | A٤ |
| یادونه:. | د ګډون کولو بېلګه |
| بيه:. | ۵۰۰ افغانۍ |
| د ليکوال ګرځنده اړيکه:. | +۹۳۷۸۶۹۰۴۷۹۹ |
| برېښنالیک:. | Safiullah_firdows@yahoo.com |
| له پاره:. | د ټول پښتون پښت ( نسل) له پاره دی چې لر او بر ټول پښتنو له پاره کښل شوی، یانې د ۷۰۰۰۰۰۰۰ اویا مېليونو وګړو له پاره. |
| کښلې د ګټنې ګور:. | زر ټولګي دی، ټول پښتون پښت به ترې ګټه پورته کړي چې د یوه تود بځري (پرتون) په اندازه هم د یوه پښتون د پرمختګ سبب شي؛ نو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ چوپړی** | **د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**
خپرنـــــــــــچوپړي ( ريســـــــــــرچ پانې)

اويا مېليونه تنه پښتون پښت ته يې ګټه ور رسيږي.

يادونه: د پښتون پښته! زما ګټه په کې نه شته؛ په ۵۰۰ افغانۍ يې له ماليې سره را وباسم، ۵۰۰ داني يې وړيا وېشم او پاتې نور پلورم.
په ۵۰۰ افغانۍ چې له يوه کرډيټ کارټ سره برابرېږي بيه يې ده.
ګټه خو يې نه شته که دا لږ پيسې په لاس راغلې نو بل کتاب به پرې چاپ کړم.
د پښتو ورم دی چې د ليکوال ګټه د شپانه ګټه ده.
 که مو ډېره ورته روغه وه د خپرولو له پاره يې و دربېږئ. ( له چاپ روغ تېر شوی نه دی.)

د اي في اي (APA) کالب په بڼه د اخځوک يا ريفريس له پاره ترې ګټنې اجازه شته.

زما د الواک اغېزښندنې په څېړنه کې څلور ستنې شاملې دي: خلاص ډيټا، خلاص کوډ، کاغذونو ته خلاص لاسرسی او خلاصه (وازه) بياکتنه. د خلاص پښتو ګړنې ادب د ودې له پاره د ټاټوبي ټولو پوګړو وګړو، د معلوماتو ټيوټوريلونه کوربه کړئ، په اوبپانو کې خپور کړئ، ترڅو و ګړو سره مرسته و کړي، ټولو وګړو ته د خپل پښتون پښت دودي دود ليکدود کارولو او پوهيدو کې د مرستې له پاره وسيلې رامنځته او لا کوربه کړئ.

د چاپ رښت له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳. تیسس څرګندونه

تر روانپېره (اوسمهاله) پورې، د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ لا پښتون پښت (نسل) ته څرګند نه دی. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ترمنځ بېلوالی؛ ځانګړې ځانګېړنې؛ انځورونه؛ تعریفونه ( څرګندونې، ښکارونې، د یوه توري یا سکالو تشریح کول یې)؛ څېپزې او زورنې؛ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت؛ سپړنې؛ زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې؛ څه بڼه لوری سپینې ته را وباسم؛ د رنګونو ښکاروندي ( د رنګونو کوډنه)؛ د پښتو پېیلو د رنګونو څېرې، د رنګونو بوړولو کړنلارې او لښتیلیکي یې؛ د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي کې اوړمنګې شننه؛ دفتنګونه؛ د کچې اندازې یې چې ما خپله رېبڅ کړي ( جاروبکړي) او ربڅ کړي ( برسکړي)؛ سیمه ییزې پایلې؛ آړوتی (شرط)، آر (اصل)، پیخلیک (تاریخ)، پېر (وخت) او یېبره (حاصل یا ثمره) یې هم ستونځمن کار وو.

د دې هر یوه څېړلو ته زما اوږدپېری (اوږد پړاوی) او اوږدمنګی (اوږد عمری) لید لوری.

## ٤. غټ ټکي

**۱. پخښتئ ........................................................................ ۱**
**۲. لیکي پوهه ................................................................... ۲**
**۳. تیسس څرګندونه........................................................... ٦**
**٤. غټ ټکي........................................................................ ٦**
**٥. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو بېلوالی......................... ۱۱**

**٦. اې (ا، الف): لنډۍ.......................................................... ۱٥**
٦. ۱ د لنډۍ ځانګړې ځانګېړنې .................................................. ۱٦
٦. ۲ د لنډۍ انځورونه: ........................................................... ۱۸
٦. ۳ د لنډۍ تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، لنډۍ د یوه توري یا سکالو تشریح کول.)........................................................... ۲۲
٦. ۴ د لنډۍ څېپزې او زورنې..................................................... ۲۳
٦. ۵ د لنډۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت.................................. ۲۳
٦. ۶ د لنډۍ سپړنه ................................................................ ۲٤
٦. ۷ د لنډۍ بېلوونکې نخښې...................................................... ۲٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷. بې (ب): ټپه ............ ۲۶**
۷. ۱ د ټپې ځانګړې ځانګېړنې ............ ۲۹
۷. ۲ د ټپې انځورونه: ............ ۳۰
۷. ۳ د ټپې تعريف ( ځرګندونه، ښکارونه، ټپې د يوه توري يا سکالو تشريح کول.) ............ ۳۱
۷. ۴ د ټپې ځپيزې او زورنې ............ ۳۲
۷. ۵ د ټپې ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت ............ ۳۲
۷. ۶ د ټپې سپړنه ............ ۳۳
۷. ۷ د ټپې ښېلوونکې نخښې ............ ۳٤

**۸. پې (پ): ټيکۍ ............ ۳۵**
۸. ۱ د ټيکۍ ځانګړې ځانګېړنې ............ ۳٦
۸. ۲ د ټيکۍ د چارپېرياڵ انځورونه: ............ ۳۷
۸. ۳ د ټيکۍ تعريف ( ځرګندونه، ښکارونه، ټيکۍ د يوه توري يا سکالو تشريح کول.) ............ ۳۸
۸. ۴ د ټيکۍ ځپيزې او زورنې ............ ۳۹
۸. ۵ د ټيکۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت ............ ۳۹
۸. ٦ د ټيکۍ سپړنه ............ ٤۰
۸. ۷ د ټيکۍ ښېلوونکې نخښې ............ ٤۱

**۹. ټې (ټ): مصرۍ ............ ٤۲**
۹. ۱ د مصرۍ ځانګړې ځانګېړنې ............ ٤٥
۹. ۲ د مصرۍ انځورونه: ............ ٤٦
۹. ۳ د مصرۍ تعريف ( ځرګندونه، ښکارونه، مصرۍ د يوه توري يا سکالو تشريح کول.) ............ ٤۹
۹. ۴ د مصرۍ ځپيزې او زورنې ............ ٥۰
۹. ۵ د مصرۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت ............ ٥۰
۹. ٦ د مصرۍ سپړنه ............ ٥۱
۹. ۷ د مصرۍ ښېلوونکې نخښې ............ ٥۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰. د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ) ........................................ ٥٤**
۱۰. ۱ پښتو پېیلو د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ) ......................... ٦٤
۱۰. ۲ د پښتو پېیلو د رنګونو څېره................................................. ٦٥
۱۰. ۳ لنډۍ د رنګ ښکاروندی.......................................................... ٦٦
۱۰. ۴ ټپې د رنګ ښکاروندی........................................................... ٦٦
۱۰. ۵ ټیکۍ د رنګ ښکاروندی ......................................................... ٦٦
۱۰. ۶ مصرۍ د رنګ ښکاروندی ........................................................ ٦٦
۱۰. ۷ د پښتو پېیلو د رنګونو بوړولو کړنلارې........................................ ٦٧
۱۰. ۸ د پښتو پېیلو د رنګونو لښتیلیک................................................ ٦٨

**۱۱. د اوازنو ټیټوالي او لوړوالي............................................................. ٧٠**
۱۱. ۱ اې (ا، الف). وازه څپه: .............................................................. ٧٢
۱۱. ۲ بې (ب). تړلې څپه:.................................................................... ٧٢
۱۱. ۳ د اوازنو ټیټوالي او لوړوالي کې اوړمنګې شننه.............................. ٧٣
۱۱. ۴ غږونو د لوړوالي غورځېدونکي د اواز پورته والی او ښکته والی: .... ٨٠
۱۱. ۵ غږونو د لوړوالي د اواز پورته والی او ښکته والی:.......................... ٨٠
۱۱. ۶ د اواز پورته والی او ښکته والی په لړ شویو غونډلو کې:.................... ٨٠
۱۱. ۷ د اواز پورته والی او ښکته والی په ورستاړي پوښتنو کې:............... ٨١
۱۱. ۸ د اواز پورته والی او ښکته والی د خوښونې پوښتنو کې:................... ٨١

**۱۲. دفتنګونه................................................................................ ٨٥**
**۱۳. لوړ د پلورلو وړ........................................................................ ٩٠**

**۱٤. د کچې اندازې .......................................................................... ٩٣**
۱۴. ۱ د دې موخې اړوند لومړی باید خپل ځانې پانګه، خپلې پلټنې په خپلو پانګو چې زما دي، کښلي مې دي، څرک یې داسې دی او داسې په ډاګه کیږي. ..................................................................... ٩٣
۱۴. ۲ د کچې اندازې یې چې ما خپله رېبځ کړي ( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي)، اوربدلي، لوستلي، لیدلي او لیکلي په لاندې بڼه دي:...... ٩٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴ .۳ د پښتو لنډۍیو، ټپو، ټیکیو او مصرۍیو ټول ټال ټولې سره ګډې، د کچې ګڼه یې ۲۱۹،۵۶۴ دوې سوه او نولس زره او پینځه سوه او څلور شپېته دانې دي. ............................................................ ۱۰۲

**۱۵. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو سیمه ییزې پایلې .............. ۱۰۵**

۱۵. ۱ اې (الف). ګل باچا الفت داسې لیکلي دي لکه: ......................... ۱۰۷

۱۵. ۲ بې (ب). صدیق الله رښتین د پښتو ټولنې مشر داسې لیکلي دي لکه:. ۱۲۱

۱۵. ۳ بې – ۱. پښتو ځېړنو د نړوال مرکز، نړوال سیمینار د مقالو مجموعه، ۱۳۵۴ لېږدی کې پوهاند صدیق الله رښتین په اووه مه ګڼه مقاله پښتو پېژندنه کې کښلي دي: ................................................................ ۱۲۴

۱۵. ۴ پې (پ). پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح نظریه داسې سپینې ته راباسې.............................................................................. ۱۲۵

۱۵. ۵ تې (ت). سلیمان لایق د لنډۍیو په اړوند چې څه سپینې ته راباستلي. موږ ته یې په پوخ کې کړي دي، په دې بنه بوږوي. .................. ۱۲۹

۱۵. ۶ تې – ۱. سلیمان لایق کښلي او ویلې په قلم ټولنه کې چې لایق په لنډۍیو باندې کنفرانس ورکوي، زما د ادبي بهیر د ۱۳۸۳ لېږدي اشنا د بازمحمد عابد ثبت او کښلی متن، ۱۳۸۷لېږدی. .................. ۱۴۶

۱۵. ۷ ټې (ټ). پوهیالی محمد اسماعیل یون په دې بنه کښلي دي او روڼ وي داسې. ........................................................................ ۱۵۹

۱۵. ۸ جې (ج). ځېړنوال دوست محمد دوست شینواری روڼوي داسې. ..... ۱۶۲

۱۵. ۹ چې (چ). جانان د پښتو لنډۍیو کې د محرومیت پر موضوع کښلې دي. ................................................................................ ۱۶۶

۱۵. ۱۰ ځې (ځ). فیاض علي شاه اخونزاده له پام سره لږ څه ګډوم. ........ ۱۷۱

۱۵. ۱۱ څې (څ). محمد حامد حلیمي لنډۍ د ګلونو په سمندر کې تر خپل پام لاندې راوستې دي. ......................................................... ۱۷۶

۱۵. ۱۲ خې (خ). ولایت خان ځدراڼ د پښتو لنډۍیو په اړه یوه څو خبرې. ۱۸۵

۱۵. ۱۳ دې (د). حبیب الله رفیع د المان ږغ راډیو ته د مرکې له پاره داسې کښلي و. ................................................................... ۱۹۱

۱۵. ۱۴ د – ۱. حبیب الله رفیع د هارون حکیمي د مرکې د پوښتنو ځوابونو کې د پښتو لنډۍیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسوي. په لاندې بنه یې کښلي و. ................................................................ ۱۹۵

۱۵. ۱۵ ډې (ډ). محمود نظري په لنډۍیو کې طنزي او خندونکي توکي داسې په ډاګه کړي.......................................................... ۲۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵. ۱۶ رې (ر). سرباز خان ,, پښتو ادب کې د ټپې يا لنډۍ مقام ،، په دې ليکنه کې داسې کښلي دي. .......................................... ۲۱۱
۱۵. ۱۷ ړې (ړ). پوهنمل سرفراز مومند څخه د ډيپلوم انجينېرعبدالکادر مسعود غوښتنه. ................................................ ۲۲۳
۱۵. ۱۸ ز. پوهندوی لال باچا ازمون د لنډۍ او دوبيتي پرتله! کړې، ما ځنې لنډۍ او د پر تړښتی راخېستې، دوبيتې او تله يې پاتې............... ۲۲۶
۱۵. ۱۹ ژې (ژ). عبدالباري جهاني يوه ځل بيا د لنډيو په باره کې تر سرليک لاندې په مقاله کې په لاندې بڼه کښلي دي................... ۲۳۶

**۱٦. د انځورونو، څېړو او لښتيليکو لړليک: ............................... ۲۵۳**
**۱۷. د کره ليکنۍ پښتو په پښتو تشريحي وييکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سټه په لاندې لښتيليک کې کښل شوي:............................. ۲۵۹**
**۱۸. بيبلو ګراپي Bibliography د هغو ليکونو لېست چې په يوه سکالو يا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري.............................. ۲۸۸**
**۱۹. د پخښتۍ سټ ........................................................ ۲۹٦**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو بېلوالی

د دې څېړنې د چوپړو بنه یا د دې ریسرچ پاڼې د کالب بنه د اي في اي (APA) په کالب کې شوی دی. او د نوموړي لاربنود څخه ګټه اخېستل شوې.

,, خپور شوی لاربنود د امریکا اروا پوهنې ملګرتیا، پینځمه ګنه. ۲۰۰۱،، (لیونل، ۲۰۰۱م کال، ۱۰۱ چوپړی). چې امریکا د ماچیګن مطبوعاتو له پوهنتون څخه خپرېږي. کټ مټ کړی دی. زه باید هڅه و کړم چې دا لاندې شیان د خپلې لیکنې له پاره و وینم او وي منم. له خپل ځان نه داسې پوښتنې و کړم چې ایا زه د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو بېلوالی کوی شم:

:- ایا ما دې خپلو سوالونو ته ځوابونه برابر موندلي دي؟
:- ایا دا ټول شیان چې لیکل شوي وړ دي ؟
:- ایا دا اسانه ده چې دا لیکنه دې درکړل، څارل یا تعقیبکړل شي؟
:- ایا ما په ډېره ښه کچې د پښویې، پېیلې او د وییوکیو څخه ګټه اخېستې؟

په دې پوهېدل چې څه شي ته اړتیا چې وي لیکي، هغه شي ته چې زه اړتیا لرم چې وې لیکم پرې پوهېږم. دا تر ټولو غوره ورم دی د علمي لیکنې له پاره، ځان ډاډه کړه چې ته پوهېږې په ډاډمنه بڼه کله چې ته یې اړتیا لرې چې وېکړې، هر کله چې ته په رښتنې نړۍ کې یوه څه کاږې په ازموینه کې نه، په دې ځان پوی کړه چې ته پوهېږې چې ته یې په کومه بڼه کاږې او موخه د لیکلو مو څه ده.

او همدارنګه تاسو اړتیا لرئ چې د خپلو لیکولو ډول ته مو ځواب ورکړئ. د لیکو ډول مې داسې نه دی لکه یوه خپل ملګري ته چې په بربښنالیک کې څه لیکم. دا علمي زیارایستل له هغو څخه ډېر توپیر لري. تاسو به و مومئ د علمي پښتو ژبه کې او همدا رنګه چې خلک په کومه بڼه د رېسرچ پاڼې په پوهنتونو کې لیکي. د لیکلو فکر مو په دې بڼه کړئ، کله چې څه لیکم، زه اړتیا لرم چې څو جلا شیان د لاندېنو سربېره پام کې نیسم:

:- په اندونو فکر او پر دې پرېکړه کوم، د کوم شي زه تکل لرم د لیکلو
:- پلان او برابروم خپلې لیکنې
:- لیکمه یې
:- کنټرول، نیونه، تمبونه یا د سمولو له پاره یې پلټنه کوم د خپلو لیکلو، ښایي داسې شونې وي چې بدلون او یا و منم همغه.

ما به پردې ځان ډاډه کړه چې له لیکلو نه وړاندې به مې پلان ونیوه، پر دې به مې پام کوه چې کوم شیان په کومو لړونو یا څېرکو کې وي. وخت به مې پرېښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ**
ځېړنــــــچوپړي ( ریســـــــرچ پاڼې)

چې په پای کې زه خپلې کښلې و منم. جغات مې کاږه چې کښلې مې په زړه پورې او ښې شي.

د خپلو کښلو د منلو له پاره مې ګړندیتوب او بیړه اسانه نه وه، ګواکې داسې پام مې کوه چې زه به نور هم بریالی وم، کله چې وار په وار مې پورتني شیان د پرمختلو له پاره چارچول او د خپلې زده کړې له پوهې مې کښل.

ګواکې دا ده چې کنه نو هر هغه څه چې مې لیکل لومړی مې هغې ته ښه فکر کو، بیا مې پلان جوړه و ورته، بیا مې لیکل پیلول، بیا مې کتل چې څه مې زړه و هغه مې لرېکول او یا پر ځای پرېښودل. د لیکلو پام مې په دې ښه د بریا له پاره چارچولو. سربېره پر هغو د پښتو داسې غونډلې د ریسرچ پاڼې ( د ځېړنې چوپړي) کې راسره لا ملا ټینګوله. ترې ګټه مې اخیستې.
لکه:

١. له هغه سره سم
٢. د هغه په اند کې
٣. د هغه ځرګندول چې رونوي کتنه داسې
٤. هغه نظریه داسې کوي
٥. لکه څنګه چې دا وایي
٦. لکه څنګه چې راپورشوی د هغه په واسطه
٧. زده کړه داسې ښایي
٨. د هغې پلټنه داسې په ډاګه شوې، یا د هغې ځېړنه داسې ښودل شوې.
٩. دا ځېړنه داسې سپیني ته باسي
١٠. د دې پیله ساده برابر وي دا
١١. له ټولو نه وړاندې
١٢. بل لورې ته
١٣. زما په نظریې
١٤. په ټولو کې همداسې
١٥. په دې پوښ (قضیه) کې
١٦. دا به داسې ښکارېږي
١٧. د دې بېلګه داسې ده
١٨. دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
څېړنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

دې ته به زه نغوته و کړم چې ځینې پښتو شعرونه د لوستلو، لیکلو په دوران کې ما څېړلي او سپړلي دي. ښه بېلګه یې دا ده چې په ټوله پنډوسکه کې د ټول پښتون پښت ۷۰ میلونه و ګړي دي.

د دوی ۴۰٪ له سلو څلوېښت وګړي یې زده‌کړې لري، ښه مثال یې هم دا دی چې د شعرونو لوستلو او ویلو ترمنځ نظریې یې په ډاګه کړم. لاندې هغه څه دي چې په وار، وار په مکرر ډول د لنډۍیو، ټپو، ټپکیو او مصرۍیو په علمي ښه لوستلو او لیکلو توپیر څرګندوي. دا به زما یا په راتلونکي کې د ډیپلوم انجینېر صفي الله فردوس خان د څېړنې (ریسرچ) بېلګه وي.

که چېرې لومړۍ څېرې ۱. الف ته زېر شو په وار، وار د ۱۰,۰۰۰ لیکل شویو شعرونو کې د ګراپ لوړوالی لړ دی؛ نظر دوېیمې څېرې ۱. ب ته. په دوېیمه څېرې ۱. ب کې بیا د همدغو شعرونو چې لوستل کېږي ګراپ لوړوالی لوړ دی؛ دلته دا موندل کېږي چې د دغو پېنځه څلوېښت ښه شعرونو او ۱۶۰ نورو ښلا ښېلو شعرونو  کې چې ټول وار په وار لوستل کېږي ډېر لړ یې لیکل کېږي.

له دې څېرو څخه را څرګندېږي چې د پېیلو( شعرونو) د لیکلو او لوستلو ترمنځ ډېر توپیر شتون لري. دلته غزل ډېر مشهور دی، خو دومره نه لیکل کېږي، لکه چپاربیته، ایزې، د ښادۍ نارې، کاکړۍ، د اتڼ نارې، لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ.

په څېړنه کې داسې ده چې که ۳۰ زره داني غزل په ټول پښت کې لیکل شوي وي، نو ۱۵ زره یې ویل شوي دې چې د لوستلو کچې یې هم کمه ده. ترې سروکي، کاکړۍ، د اتڼ نارې، لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ډېرې هم دي. د ګراپ له نیمه ملا څخه او لوستلو کې د ګراپ سر پورې تر ۹۵,۸۰۰ پورې لوستل شوي دي.
عادې لیک چې په لیست او بازار کې د چاته ادرس ورکولو له پاره ور کول کېږي.
له هغو د ازموینو پارچو، عریضي او شکایتونو څخه مې موخه نه ده.

که چېرې تاسو داسې پام کوئ نو بیا د ځان له پاره مو یوه سکالو (مضمون) ورکړئ، چې کوم شعرونه ستاسو ډېر خوښ دي.


په لیکلو او لوستلو یې د یوې اونۍ شپه او ورځ له پاره پیل کړئ، او له ۱۰۰،۰۰۰ ډېر چوپړي له پامه تېر کړئ.

بیا یې پر تله کړئ سره چې تاسو څومره شعرونه لیکلي او څومره مو لوستلي. د همدې له پاره پام و کوئ چې دا ښه د هر یوه له پاره څنګه ده؛ منئ یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library




### ځېره ۱. الف په وار، وار ( د هرو۱۰,۰۰۰ليکل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵ليږديز لمريز کال




۵. ۱ ځېره ۱. الف په وار، وار ( د هرو۱۰’۰۰۰ليکل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵ليږديز لمريز کال

### ځېره ۱. ب په وار، وار ( د هرو۱۰,۰۰۰ويل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵ليږديز لمريز کال




۵. ۲ ځېره ۱. ب په وار، وار ( د هرو۱۰,۰۰۰ويل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵ليږديز لمريز کال

شعرونو د رنګونو ښکاروندي (شفرونه يا کوډونه ) په ځېره ۱. ۲. ۱ کي و ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦. اې (ا، الف): لنډۍ

د دې له پاره چې ماران ښه و پېژنو، الله عظیم په ډېر ښه بڼه د ټولو مخلوقاتو غوندې، دوی یې هم جوړه، غبرګونې سرونه پیدا کړي دي، لکه ځینې ژوي، ( انسان، حیوانات، دوې سره غبرګونې ماشومان، انجونې یا الکان، ژوي، لکه پسونه او خوسیان...).

د مارانو د لا سپړلو له پاره ما خپل اصلي د پښتو متل چې وایي ,, ګوسڼه له ګوسڼې څخه زېږېږي او لټکه له لټکې څخه،، دا متل یا مثال چې په عربي ژبه کې متل ته مثال وایي. موږ یې هم د مثال په بڼه یاد وو، زموږ سیمه مهترلام کې، دغه متل زموږ د تربورانو یوه پښتون قوم وتخیل (هودخیل) یې ډېر کار وي، خپلو بچیانو د روزنې او هڅونې د غښتلتیا له پاره خپل زوزات ته وایي.
چې تاسو ځانونه، بیدار، ګړندي، تېز، چټک، کړۍ!!؟ لکه د لټکې مار په شان، خپل د پلارو په پل ځۍ، خپل اصلیت مو له لاسه مه ورکوۍ، د ژوند په هرو څارو کې...، ورته وایي د ګوسڼې نه مه کېږۍ، لټ، سست، بې غوره، بې ګرمتیا (مسولته)، چې په هېڅ څه نه وېره غورځوي او نه هم ترې وېره کوم ژوی کوي.

ما د مارانو ځانګېړنو د څېړنو له پاره چې زموږ نیکونو په لرغونې زمانه کې لکه څنګه چې د لټکو ځانګېړنې وي، هغه ماران یې هم له ځانګېړنو سره پېژندل، د پښتو هغه پېبیله (اشلوک، پیړان، شېر یا شعر) چې ډېر ورته د لټکې غوندې و، په لټکې و نومه وو، چې هغه لټکه یا لنډۍ هم همغه څې د ځانګېړنې در لودونکې ده.

ما د نړۍ غوره د ژویو پېژندونکو پوهانو خبرې چې د دوی په اړه یې کړي کټ مټ راخستې او بیا مې ژباړلې دي خپلې ژبې ته: ,, دوې د لېندۍ ژبې او د تنې څلور سترګې، چالباز وېشتونکي د زهرو سر یې پیل کېږي او د دې چې سیالې کوي د هر ډول جګړې له پاره چې پابښت (ژوندي پاتې شي، بقا) و کړي. عجېبه احساساتي ده دوې سرو لرونکی مار یا لټکه. تېره ورځ ونیول شوه د هوټل په بڼ په پالما، ماجورکا کې. ساینس پوهان نه پوهېدل چې دوی ته د حشرو لنډپېري(موقتي) خواړه چې په خویه یې و خوري تیار کړي.

د رومي نوم مکروپروټوډن د حساب کې ناڅاپي بدلون و کړه. خو تجربه لرونکي پروفیسور ګارډن برغارډټ، تینسي، و ویل چې دوې سره هېڅ له یوه سره غوره نه وي. هغه داسې ورځیاته کړه: ,, دوې سري ماران یا لټکې ډېرې اومچکې وي، خو نه اوریدلو ځواک یې غلی نه وي. خنډ یې پر دې کې وي چې دواړه ډېر ښه مشکل لري. په پرېکړه کولو کې چې په کومه لاره تله و کړي، نو ګړندی ځواب نه شي ورکولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاپانیان وایي چې دوې سرى مار دوې برابره وېروونکى وي. ۲۷ سانتي مېتره اوږد، هر سر يې ۲ سانتي اوږوالى لري، دوې سرى مار دوى نیولى دى او د ټیګاشیما ښاروالۍ کې يې په حکمتي حال کې د ننداري له پاره وړاندې کړى. په وینا يې ډېرى وګړي په حیرانونکي ښه نندارې ته راځي. ،، ( اډمین، ۲۰۱۰م کال).

،، ژوند د دوې سرو مارانو له پاره وارخطا وي. لېکه پورته شوله کوچنۍ هتۍ ته او هغې ډېر ښه فکر کوه. برغارډټ درلوده دوې سره لرونکى تور مرک خوړونکى مار چې هغه لا پوره شل ۲۰ کلن وو. د اریزونا حکومتي پوهنتون د دوې سرې سلطان مار کور و، دا يې په دښته کي د یوه ماشوم په اندازه موندلى و، دې مار نږدې ۱۷ کاله په پوهنتون کې تېر کړه. سلما او لوویسو د غلي دوې سرې مار د سانډیګو په ژوبڼ کې تر مرګه پورې ژوند کوه، او ۱۵ دانې يې سالم نارمل بچیان درلودل،، ( هېلارې، ۲۰۰۲ م کال،۱ سرلیک).

نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله (شېر یا شعر) يې د لنډۍ نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو دوې سرې پېیلې له لېکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لرلې. لکه:

## ۱.۶ د لنډۍ ځانګړې ځانګېرنې

۱ :- ښه ډول لري، ۲:- بند، بند دې ۳:- ګرندى حمله کوي ۴ :- تېز زهر لري ۵:- تېز زورور زهر شیندي ۶:- اوږد عمر لري. ۷:- ښه غږ یا پشهارى کوي ۸:- په حیراونکي ښه دې خوښ راځي چې وې ویني.۹:- د لیدلو تلوسه پیدا کوي ۱۰ :- سالم بچیان راوړي، ګڼه يې ډېرېږي. ۱۱:- هر سر يې ښه فکر کوي او د بل اوز اوري. ۱۲:- دوې د لېندۍ ژبې يې پر دوښمن وېره اچوي. ۱۳:- د تنې څلور سترګې وي ( هر څه رانه ویني ) ۱۴:- چالباز وپشتونکي د زهرو سر يې پیل کېږي د دې چې سیالي کوي د هر ډول جګړې له پاره چې پاښت و کړي. ۱۵ :- عجیبه احساساتي.

موږ ته يې دا همداسې را پربښې دي او په همدې ښه يې پوښ کې کړي. هرې ټپې، ټیکى او مصرى چې دغه پورته ځانګېرنې و درلودلې نو هغو ته لنډۍ وایي. تاسو لنډۍیو، ټپو، ټیکیو او مصرۍیو ته ښه غوږ و نیسئ!! پام ورته و کړئ! نو بیا يې پېژنئ چې دا لنډۍ دي چې د لېکي ځانګېرنې لري. ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دا پورته ۱۵ ځانګېرنې نه لري. ټپې، ټیکۍ او مصرۍ نه دي، بېلوالى يې پر همدې کې دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې د بېلولو له پاره زه یوه بېلګه تاسو ته له خپل شعري لیکي څخه را اخلم چې د سر مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک صیب د ۷ اووه مې پوښتنې ځواب کې مې ورته کښلي و.

,, ۷. د تا په نظر د: مصرۍ ، لنډۍ ، ټپې او ټیکۍ تر منځه توپیر څه دی؟
[[ ۷:- هو هر نوم یې ځانته دی. لکه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ او هره یوه یې ځانته ځانګړې فلسفه لري.

( ځکه دا به ته هېڅ و نه منې، د دې له پاره یوه مثال درته وایم: یوه کس په امریکا کې پولیسو ونیوه او سیده یې ستا کور ته بوتلو نوم یې عزیز وو، تخلص یې تحریک وو، ستا د پلار هم نامی هم وو، خو هغه د فاریاب ولایت وو او د نیکه نوم یې خان باقر وو، ستا د کور دروازه یې وټکوله، له کوره ورته وریندار وویل چې څوک یې؟ هغه ورته و ویل زه عزیز یم، تخلص مې تحریک دی. خو وریندار له اواز نه وپیژنده چې دا بل څوک دی او دواړو ته یې و ویل تاسو ځای غلط کړي دی.

د دې تن ډېري ځانګړنې به له تا سره برابري وي خو هغه خو ته نه شي کېدلی. که دننه ورشي خدایږو چې سر خو ورته مات کړي.

هم داسې ځانګړي فلسفه چې مصرۍ، لنډۍ، ټپې او ټیکۍ له خپل نوم سره یې لري. ترې معلومېږي او پېژندل کېږي. لکه: لنډۍ له لټکې څخه اخېستل شوي چې لټکه هغه دوه سره مار ته وایې چې ډېر کرندی او چټک وي. په چټکۍ سره خوله لړوي، دوې سره لري، په کال کې یوه وارې پوستکی اچوي، لټکې ته ځکه لنډۍ وایې چې د سیلا بونو له مخې لنډه او د مانا له پلوه ډېره اوږده او غښتلي وي. یا دا چې لومړی نیم بیتی یې د دوهیم نیم بیتی نه لنډ وي، لکه دا زما لاندې لنډۍ چې د بوست د فکیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند ,Roshan BTS site HLM ۰۳۰ ۲۹/ ۱۲ ۲۰۰۷ کښلي وه :..

وطـن تـم ټول کافران راغـلـه
ژر را پاڅېږه چې جـوړه جهاد له ځونـه ...،،
(صفی الله، ۱۳۸۸ ل ل کال، ۵۴ او ۲۲۶چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۲ د لنډۍ انځورونه:


دا لاندې د لنډۍیو انځورونه مې د جنوري په ۳ درېیم، ۲۰۱۱ زیږدي کال کښته کړي وو.




۱:- د لټکي یا دوې سره مار ( # ۱ انځور)



۲:- دوې سره مار ( # ۲ انځور)



٤:- د لټکي یا لنډۍ ( # ۴ انځور)



۳:- د لټکي یا دوې سره مار ( # ۳ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
ځېړنــــــــــــچوپړي ( ریســـــــــــــرچ پاڼې)



<u>٥</u>:- د تور دوې سره مار یا چورنیا د نړۍوالي ګنې ګڼه ۶۱۰۷۶ یا توره لټکه، یا توره لنډۍ <u>( # ۵ انځور )</u>



<u>٦</u>:- لنډۍ <u>( # ۶ انځور</u> )



<u>٧</u>:- د لنډۍ <u>( # ۷ انځور</u> )



<u>٨</u>:- د دوې سره مار، لټکه یا لنډۍ
( <u># ۸ انځور</u> )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**

ځېرنــــــــــــچوپړي ( ریســـــــــــرچ پاڼې)




۹:- لنډۍ ( # ۹ انځور )



۱۰ :- لنډۍ خپل خواړه خوري ( # ۱۰ انځور )



۱۱:- د لنډۍ ایکسري ( # ۱۱ انځور )



۱۲:- لنډۍ په ډېر دمه ده او خوب کوي ( # ۱۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**
ځېرنــــــــــــچوپړي ( ريســــــــــرچ پاڼې)



۱۳:- لنډۍ خپل لوري ته بدلون ورکوي، چې په کومه لاره سېخه شي، زموږ لرغونو پښتنو نيکونو لټکه له يوه بڼه پېيلې يا شعر سره تشبع کړی دی.
( # ۱۳ انځور )



۱٤:- ښکلې او خوږه لټکه، لنډۍ يا دوې سره مار، لنډۍ چمتو ده، ځارنې کوي. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د لنډيو له پاره، کټ مټ يې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نيکونو لټکه له يوه بڼه شعر سره تشبع کړی دی. چې ورته لنډۍ وايي او ټولې ځنګېرنې يې سره ورته دي.
( # ۱۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ .۶ د لنډۍ تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، لنډۍ د یوه توري یا سکالو تشریح کول.)

له پورتنیو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۶ سرلیک وایي او پیله یې ساده برابروي داسې:

**لنډۍ**

په لغات کې لنډۍ هغه دوې سرې شعر ته وایي چې د لټکي سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس (ولوله) او واند یا تخیل ډک شعر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

لنډۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د لنډۍ توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، ګرانه، وروره، په کربانه! کنه او داسې نور) د قافیې کلمې یا غوندلې نه لري.
خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړ وي.
هره لنډۍ باید د ه ( زموږ خپله ,,ه،، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرتولو لنډیو، باندې یوه ربښت (قانون) د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته او دوېیمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.
د هرې لنډۍ، د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېیمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. لکه:

▲ ای! ګـنو ژنـو ميـرڅمـنو
څـنې له څـنډو سـازوی خندا راځينه

د پورتنۍ لنډۍ څپيز ( څپه، سېلاب، هجا ,, سيليبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - خجيز ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسيقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چي د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، اوږدوالی، څه رنګوالی يا کيفيت ښه يي،: ټينګه , لهجه،: تاکيد: ښلوونکي نښه: د وينا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

## ۶. ۴ د لنډۍ څپيزې او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

ای! – ګه – نو- **ژه** + نو- مير – څه- **مه** + نو
څه – نې – له - **څن** + ډو- سا – زه – **وی** + خن - دا – را- **ځي** + نه
۱- ۲- ۳- **۴-** ۵- ۶- ۷- ۸- ۹
۱۰- ۱۱- ۱۲- **۱۳-** ۱۴- ۱۵- ۱۶- **۱۷-** ۱۸- ۱۹- ۲۰- **۲۱-** ۲۲

## ۶. ۵ د لنډۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې (هندسي) رغښت يې داسې دی:

الف. ____________
____________

ب. ____________ ________________

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۶. ۶ د لنډۍ سپړنه

د هیواد سرغندوی تکړه هښنده انقلابي سندرغاړی عبدالله مقری وایي:

د دې لنډۍ سپړنه
لومړۍ مسره ۹+ ۲ =۱۱څپې چې ,,او،، او ه دفتنګونه دي په لومړۍ مسره کې.
دوېیمه مسره ۱۳+۲ = ۱۵ څپې چې ,, نو،، او ,, جان،، دفتنګونه دي. دلته ټوله لنډۍ ۲۶ سیلابه یا څپې شوې ده او ولس کې دفتنګونه لرغن دود دي.

١. لومړۍ مسره
٢. دوېیمه مسره
٣. ١. او٢ . یوه لنډۍ
٤. دفتنګونه او، ه، نو،جان
٥. ګڼ تورڅکی شین رنګ یې د رنګ ښکاروندی دی.
٦. څپې( سیلابونه)
1 . مسره ۹ + ۲
2 . مسره ۱۳+ ۲
٧. زورنه (خجنه) **بولډ**
٨. د اوازټیوالی او لوړوالی خطونه
٩. نرانو ته منسوبې (اړوند)



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۷ د لنډۍ بېلوونکې نخښې

له پورتنۍیو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۶ سرلیک وایي او پیله یې ساده برابر وي داسي:

**اې (ا). لنډۍ**

نو د دې له پاره زما ځېرنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله ( پېیږن، شېر، شعر یا اشلوک) یې د لنډۍ نوم باندې نوملې وه، چې دې پښتو دوې سرى شېر یا پېیلې له لټکي سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړني لرلې. لکه:

۱. ښه ډول لري
۲. بند، بند دي
۳. ګړندۍ حمله کوي
٤. تېز زهر لري
٥. تېز زورور زهر شیندي
٦. اوږد عمر لري
٧. ښه غږ یا ښکارى کوي
٨. په حیراونکي ښه دې خوښ راځي چې وې ویني
٩. د لیدلو تلوسه پیدا کوي
١٠. سالم بچیان راوړي، ګڼه یې ډېرېږي
١١. هر سر یې ښه فکر کوي او د بل اوز اوري
١٢. دوې د لېندۍ ژبې پر دوښمن وېره اچوي
١٣. د تنې ځلور سترګې وي ( هر څه رانه ویني )
١٤. چالباز وېشتونکې د زهرو سر یې پېل کبرې د دې چې سیالي کوي د هر ډول جګړې له پاره چې پاییښت و کړې
١٥. عجیبه احساساتي (ولولیز)

موږ ته یې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې ښه یې پوښ کې کړي.
هرې ټپې، ټیکى او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړني و درلودلې نو هغو ته لنډۍ وایي. تاسو لنډۍیو، ټپو، ټیکیو او مصرۍیو ته ښه غوږ ورته و نیسئ!! پام ورته و کړئ! نوبیا یې پېژنى چې دا لنډۍ دي چې د لټکي خصوصیات لري. ټپې، ټیکى او مصرۍ دا پورته ١٥ ځانګېړنې نه لرې او ټپې، ټیکى او مصرۍ نه دي، بېلوالى یې پر همدې کې دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷. بې (ب): ټپه

ټپه له ټپ څخه اخېستل شوې، او ټپ دی چې درد پيدا کوي. د انسان په تن کې چې درد وي، نو بيا سم د کار نه وي، خوښي يې ځي، خفګان يې ډېرېږي. په هېڅ څه پام نه راوړي، چې درد په کې پېدا شي بيا ورته رنځور وايي، رنځور تن ته الله ج خپل ځان په ياد راولي، ولس يې پوښتنې ته راځي، له درده د لرې کېدو دعا ورته کوي. ټپه له ټپ يا زخم څخه اخېستل شوي ده. چې سړي ته ټپ ورکوي، په دردونو يې اړوي دا هم يوه د تسميې وجهه لري.

هغه دا چې د ټپې تاثير د سړي په زړه ټپ جوړه وي .
ياني که توري او ټوپکي ښکاره ټپونه جوړه وي، نو ټپه بيا پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړولی شي، چې يوازې احساس يې کېږي، خو ليدل کېږي نه.

د رسول الله ص ځرګندول چې رونوي، د درد کتنه داسې. ،، جندب رض وايي چې رسول الله ص ګوته په يوه جنګ کې وينې شوي وه، وي ويل : ته يوه ګوته يې چې ويني شوي يې – تاته دا درد , تکليف، د الله په لار کې رسېدلی دی.،،
( فرهاد، ۲۰۰۳ زېږدی، ۱۴ چوړی).

د دې زده کړه داسې ښه يې چې دردونه وځغمئ، د الله عظيم په حق لار کې تاسو ته رسېدلي دردونه وزغمئ، بدله او ثواب يې هغه لوی، قوي حکمت لرونکي، الله ج درکوي.

که په ژويو کې الله ج درد نه وی پيداکړی نو بل ژوی به يې څنګه پيدا کوه؛ همدا درد دی چې انسان له انسانه څخه زوکړه کېږي، که پام مو کړی وي چې يوه مېرمن اميدواره وي، د درد ضد درمل ورته رنځورپوهان نه ورکوي، ترې لرې يې ساتې، داسې هم شونې ده چې که داسې و نه کړئ، نو نس به مو په چاړه غوځ شي او ټول عمر به عيبي ګرځئ ( داسې هم شونې ده چې ډېری روغتونونه د پېسو مندلو په خاطر پرې کونې کوي چې د پرې کونې ډېرې پيسې واخلي، د طبعي يا پنځي زېږون په خلاف)، له دردونو سره يې اموخته کوي،

او د ۲۴ نی يا شپږمياشتينی اميدواری څخه پرې دردونه د الله په حکمت پيل کوي، چې څومره نهومياشتو ته نږدې کېږي چې زېږون پای وي. په همغه کچې دردونه هم درانه کېږي. مېرمنې يې د مرګ په سرحدونو سره غاړه په غاړه کړې وي، ښه مېرمن همغه وې چې دا سخت دردونه چپه او پټه خوله و زغمي؛ په زړه کې الحمد الله وايي او له يو الله ج څخه د اسانی مرسته وار په وار و غواړي؛ په همدغو دردمندو شېبو کې مېرمنو ټپې ويلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پلټنه داسې په ډاګه کوی شي یا دا ځېړنه داسې ښودل شوې.
,, د ستاسو ویجینا ( د خاوند زردکې پوښ) چې خلاص کړل شي یا کله چې ډېر خلاصېږي ښېځې ډېره ورته ښه لري، لکه د شونډو ګونځې چې پوښلې وي. سره اېلیزیبث ناټالي،،. (ماک فاډن چې خپله ځېړنه یې د ویجینا د اندازو له پاره کړې وه په سانتي باندې)

,, چې د لیتفټ لابیا لږ تر لږه منځنی حد یې داسې وو، له دې اندازې سره ۲.۱ سانتي اوږ، له ۰.۴ – ۶.۴ پورې ټوټوونې (قطر) اندازې ، سمه اندازه یې بیا له دې اندازې سره ۱.۹ سانتي اوږ، له ۰.۳ – ۷.۰ پورې رینج، اندازې دي. او د هغې اوږدوالی څومره وو؟ چې د لیطفټ لابیا لږ تر لږه منځنی حد اوږدوالی یې ۲.۱ سانتي (د ماشوم د زردکي په اندازه)، له ۱.۲ – ۷.۵ پورې اندازې کچې وه، سمه اندازه یې ۳.۵ سانتي اوږده او رنج یې له ۰.۸ -۸.۰ سانتي پورې دی.

بروک ماک فاډن، ایم. ډي.، د پروفیسور مرستیال، د مېرمنو د جراحۍ او کون غپ د رملو ( پیلویک درملو) په برخه کې، د دوباره عملیاتونو ماهر یا جراح د اوهایو سټیټ پوهنتون کې وه.

په ۲۰۰۵ کال کې د اېنګلېستان ژورنال د قابله ګۍ یوه زېږنتون کې یې د ۵۰ مېرمنو شخصي غړو کې کړې وه؛ خو بروک ماک فاډن ۱۶۸ مېرمنو چې عمر کچې یې ۵۷ کاله وه کړي ده. ۹.۶ نارمال رنج ۶.۵ – ۱۲.۵ د ټوټوونې (قطر) اندازه د ویجینا له پاره : ۲.۱ – ۳.۵ سانتي پورې.

ځېړونکو دا تر څونه ده موندلې چې له ځاني اخېستل شویو انځورو نو دې ګټه پورته کړل شوي وي.

,, داسې کومه لاسته راغلې ډاټا په لاس نه ده راغلې، نو ځکه دا یوه ډېر ټېټ او بې بنسټه سرلیک دی.،، مک فاډن ویلي دي. ( زهرا بارنیس، ۲۰۱۴) د یوې مېرمنې د ځانګړی برخې نارمال کچې بروک ماک فاډن په وینا تر ۵۰ – تر ۵۳ اوږد ماشوم چې له ۲.۷ څخه تر ۴.۱ کېلو ګرامه په تول ماشوم چې د سر اندازه یې ۳۳ څخه تر ۳۵ سانتي مېترو پورې وي راوځي، دا ټول د درد زور دی چې الله یې نوی ماشوم پېځوي. ( اصزیف، غوره اندازه ګېږي د نوي زوکړه شویو، څخه زما ژباړه. ۲۰۱۴ م کال ، ۲ چوپړې).

د نر لمن ۳.۸۱ سانتي ټوټووني، ۱۴.۲ نارمال ختل، دوباره ګرځېدنه یې ۱۲.۱۹، د ۱۵٪ له سلو یې ۱۷.۷۸ او د ۳ سلو یې ۲۰.۳۲ سانتي کښلی دی. ( لېزېټې، د سلامتۍ ژوند، له طبي ورځ پاڼې زما ژباړه. ۲۰۱۴، ۲ سرلیک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
ځېړنـــــــــچوپړي ( ریســـــــــــرچ پاڼې)

په ټوله کې به دا ټوله کړم چې، د خاوند زردکې پوښ ۳.۵ سانتي ټوټوونې له ۳.۸۱ سانتي ټوټوونې زردکې سره په درد کې وې، نو چې ۳۵ سانتي ټوټوونې د نوي ماشوم سر خاوند زردکې پوښ ۳.۵ سانتي ټوټوونې ځخه راوځي نو دا اسانه خبره نه ده، همدا درد دی چې دا راوباسي.

,, که چېرې تاسوته الله ج له لورې ځه درد یا تکلیف یا غم وي، یا د کوم، د ادم ع د ازامنو ځخه درته درد یا تکلیف یا غم رسېدلی وي، هغه دې دا ایت لولي ,, سلم علیکم بما صبر تم فنعم عقبی الدار،، ( ربنتیا ویلي الله عظیم) انشا الله چې د هغه له پاره به په دین او په دنیا کې د بریاوو ورونه خلاص وي.
(قاري فضل، ۳۱ چوپړی ).

د دې ژباړه بیا سید عبدالسلام داسې کړې ده،
,, ( وایي به ) سلام دې وي په تاسو باندې په سبب د صبر کولو ستاسو نو ښه انجام د کور د اخیرت دی.،، ( سید عبدالسلام، ۱۳۹۲ لمریز لیږدی، ۵ ټوک، ۲۸۲ چوپړی).

او سلطان عزیز بیا داسې ژباړه کړې ده، ,, ( او ورته به وایي چې) په تاسو باندې د دې کبله سلام ( سلامتیا ) وي چې تاسو ( په دنیا کې ) صبر کړی وو، نو په ( دې اخروي) کور کې ډېره ښه نتیجه ده ( چې تاسو ته جنتونه درکړی شوي).،، ( سلطان عزیز. ۱۳۹۱ لېږدی، ۶ ټوک، ۱۳ سپاره، ۱۳ سورت، الرعد، ۲۴ ایت ۴۱۲ چوپړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سری شعر یې د ټپه په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو شعر له ټپ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه:

## ۱.۷ د ټپې ځانګړې ځانګېړنې

۱ :- درد پیدا کوي، ۲:- د انسان په تن کې چې درد وي، نو بیا سم د کار نه وي، ۳:- خوښې له منځه وړي، ۴:- خفګان ډېره وي، ۵:- په هېڅ څه پام نه راوړي، ۶:- انسان په دردونو اړوي، ۷:- تاثیر یې د انسان په زړه ټپ جوړه وي، ۸:- پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړ وي چې یوازې احساس یې کېږي، خو لیدل کېږي نه، ۹:- بې واکه کړنې په انسان کوي، بېواکه خوښحالي څرګندوي چک چک کوي، ۱۰:- تاثیر یې د انسان رنګ پړک زېړ اړوي،۱۱:- غم ډېر وي، ۱۲:- د انسان سپیني تختوې، ۱۳:- ولس پرې خبرېږي، رسوایي کوي، ۱۵:- کړو زیاتوي، ۱۶:- د ټپ باندنی برخه کوچنی وي او د ټپ دننی برخې رېښه اوږده وي، ۱۷:- انسان رنځور وي.

موږ ته یې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بنه یې پوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټیکۍ او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې؛ بنه غوږ ورته و نیسۍ؛ پام ورته و کړئ؛ نوبیا یې پېژنئ.

دا ټپې دې چې د ټپ یا زخم خصوصیات لري. لنډۍ، ټیکۍ او مصرۍ نه دې، بېلوالی یې پرهمدې ځانګړیو ځانګېړنو کې دی.

لکه دا لا ندې زما ټپه چې د ملا باکي غونډۍ په سر، د موسی کلا ولسوالی، هېلمند ۲۰۰۷ / ۰۱ /۱٦, ۰۱۲ Roshan BTS site HLM د روشن ۰۱۲ نمبر بنادې ساحه کې کښلې وه.

,, دا سترګې ما وژنې جانانه
چې ترمې اوښکې یې سهار کې و وینمه ,,
(صفی الله، ۱۳۸۸ ل ل کال، ۲۲۸ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷. ۲ د ټپې انځورونه:

دا لاندې د ټپو انځورونه مې د جنورې په ۳ دربیم، ۲۰۱۱ زیږدي کال کښته کړي وو.




۱۷:- د رنځور یار ټپ
( # ۱۷ انځور)



۱۵:- وران ټپ۱۴۷۱-
۲۴۷۴-۸-۱۰۰-۱۴
( # ۱۵ انځور)



۱٦:- ۶۸۸۲۹ وونډس، ټپ،
(٦٨٨٢٩ wounds).
( # ۱۶ انځور)

ټپ. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د ټپو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو ټپ له یوه بنه شعر سره تشبع کړی دی. چې ورته ټپه وایي، او ټولې ځنګېرنې یې سره ورته دي. ( # ۱۷ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۷ د ټپې تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، ټپې د یوه توري یا سکالو تشریح کول.)

له پورتنیو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۷ سرلیک وایي او پیله یې ساده برابروي داسې:

**بې (ب). ټپه**

د وی یا ویکیي له پامه ( په لغات کې) ټپه هغه دوې سرې پیېلې ( پېیړن، اشلوک، شېړ یا شعر) ته وایي چې د ټپ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړني، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډک شېر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ،، ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېداینت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بنې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټپې د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. (دفتنګونه د ټپې توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، وروره، یه الکه، یه پښتونه، یه کربانه، کنه او داسې نور... .)،
د پښېلې یا قافیې کلمې یا غوندلې نه لري. خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټپه باید د ه ( زموږ خپله ،،ه،، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ،هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودي، ،ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په اول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، ټپه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

په نورو ژبو کې د دې ډول پیېله (البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټپې په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرټولو ټپو، باندې یوه ربښت (دودی یا قانون) د تطبیق وړ دی، یانې داچې د هرې ټپې لومړی مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېیمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې ټپې، د لومړی څلورمه او اتهمه څپه؛ د دوېیمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي؛ ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسیږي له سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ییزو غړو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتې کېږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري. لکه:

- یـــار په ولاړه کـړیکه و کـړه
  تېر شـوی عمر په ډالرو نه راځینه

د پورتنۍ ټپې څپیز ( څپه، سپلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable‹‹ د ابېڅو شمېرلو) - خجیز ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، او ږدوالی، څه رنګوالی یا کیفیت ښیي،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بېلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ‹‹) جوړښت په دې ډول دی:

## ۷. ۴ د ټپې څپیزې او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

یار – په – وه- **لا** + ړه- کړې – که- **وک** + ړه
تېر – شه – وی - **عو** + مر- په – ډا – **لا** + رو - نه – را- **ځي** + نه

۱- ۲- ۳- **۴-** ۵- ۶- ۷- ۸- ۹

۱۰- ۱۱- ۱۲- **۱۳-** ۱۴- ۱۵- ۱۶- **۱۷-** ۱۸- ۱۹- ۲۰- **۲۱-** ۲۲

## ۷. ۵ د ټپې څمککچپوهنې (هندسې) رغښت

څمککچپوهنې (هندسي) رغښت یې داسې دی:

الف. ______________
______________

ب. ______________ ______________

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۷. ۶ د ټپې سپړنه

اپنځری اوستاد ( د هیواد تکړه هیښنده بنجوماری او سندرغاړی ) وایي:

د دې ټپې سپړنه
لومړی مسره ۱+ ۹= ۱۰ څپې چې ,, وه!،، دفتنګونه دی په لومړی مسره کې.
دوېیمه مسره ۱۳ = ۱۳ څپې ده. دلته ټوله ټپه ۲۳ سیلابه یا څپې شوې ده، او ولس کې دفتنګونه لرغن دود دي.

۱. لومړی مسره
۲. دوېیمه مسره
۳. ۱.او۲ . یوه ټپه
٤. دفتنګونه ,, وه!،،
٥. ځیګري رنګ یې د رنګ ښکاروندی دی.
٦. څپې ( سیلابونه)
1 . مسره ۹ + ۱
2 . مسره ۱۳
۷. زورنه (ځجنه) **بولډ**
۸. د اوازټیوالی او لوړوالی خطونه
۹. نرانو ته منسوبي (اړوند)



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷.۷ د ټپې بېلوونکې نخښې

له پورتنيو بېلوالو څخه لکه ځنګه چې ۷ سرليک وايي او پيله يې ساده برابروي داسې:

نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نيکونو خپل د ژبې يوه دوې سرى شعر يې د ټپه په نوم باندې نوموليې وه، چې دې پښتو شېر يا پېيلې له ټپ سره ډېر ورته ځانګړې ځانګېرنې لرلې. لکه:

١. درد پيدا کوي
٢. د انسان په تن کې چې درد وي، نو بيا سم د کار نه وي
٣. خوښي له منځه وړي
٤. خفګان ډېره وي
٥. په هېڅ څه پام نه راوړي
٦. انسان په دردونو اړوي
٧. تاثير يې د انسان په زړه ټپ جوړه وي
٨. پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړوي چې يوازې احساس يې
٩. کېږي، خو ليدل کېږي نه
١٠. بې واکه کړنې په انسان کوي، بېواکه خوښحالي ځرګندوي چک،
١١. چک کوي
١٢. تاثير يې د انسان رنګ پړک زېړ اړوي
١٣. غم ډېر وي
١٤. د انسان سپيني تختوي
١٥. ولس پرې خبرېږي، رسوايي کوي
١٦. کړو زياتوي
١٧. د ټپ باندنى برخه کوشنۍ وي او د ټپ دننى برخې رېښه اوږده وي
١٨. انسان رنځور وي

موږ ته يې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بڼه يې يوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټيکۍ او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېرنې و درلودلې؛ ښه غوږ ورته و نيسئ؛ پام ورته و کړئ؛ نوبيا يې پېژنئ. چې دا ټپې دي چې د ټپ يا زخم خصوصيات لري. لنډۍ، ټيکۍ او مصرۍ نه دي، بېلوالی يې پرهمدې ځانګړيو ځانګېرنو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸. پې (پ): ټیکۍ

رونې بوړوم چې داسې مې کښلې وو، د ټیکۍ له پاره، ټیکۍ ښه برابر، سم پوره، ټیک، سم سیي ته وایي چې یوازې د ناوې ستاینه په کې و شي، پلار د کور د ناویتوب په شپه، او یا د خاوند، ساتونکي، مېره، د ژوند ملګري د کور د ناویتوب په شپه یې ټولې پېغلې یا ځوانان، زاړه او واړه، زړې او وړې ښه برابر شعرونه چې برابر وي، د ناوې ستاینه په کې و کړي.

دا چې له لرغوني پېر څخه د یوې پېغلې تر ټول غوره، په ټول ژوند کې د خوښۍ شېبې د واده شپه وي، ټول وګړې او وګړي یې درناوی کوي، د دې د باچایي ورځ یې بولي، تازه ګلونه یې په سر کړۍ، ګردۍ او نیمۍ کوي. غوره ختې په تن کوي، هر څه د ناوي برابر وي، ښه سینګار یې شوی وي، ټولې ملګرې یې څنګ کې شتون لري، د دې له پاره چې هر څه یې ښه باربر وي د ناوې، نو مېرمنې ترې چارچارپیره دوره وي، ټولې راغلو مېرمنو باندې د ناوې ټول برابر شیان ډېر تاثیر اچوي، د ابولبشر زوزات ټول یوازې د ناوې ستاینه په کې کوي. پاتې شونې دې نه وي چې د پېغلو په دوره کې یوازې کوژده شوې او مېروښه پېغلې وي. انجونې، بې مېروښه او سترې مېرمنې په کې ګډون نه کوي.

کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو ټیکۍ له یوه ښه پېیلې سره تشبع کړی دی. چې ورته ټیکۍ وایي، سم برابر، د ټولو پام د ناوي ناویتوب درناوي ته چې په همغه شېبه کې ویل کېږي نومولې دي او ټولې ځنګېړنې یې د ښادۍ د دې شېبو سره ورته وي.

له ببولالو یې تو پیر په سم برابروالي او کوشنیوالي د پېیلي یا شعر کې دی.
،، هغه شی چې ښه برابر وي؛ یا سم برابر ته وایي؛ چې ډېرې یې مېرمنې په ښادۍیو کې وایي؛ چې ناوې ودروي او چارپېره ترې پېغلې ولاړې وي؛ یوه یوه ټیکۍ ورته وایي؛ د ناوې تعریف په کې کوي او د همغې دایرې د وینا برابرې وي.،،
(صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی کال، ۵۷ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله یې د ټیکی په نوم باندې نومولې وه، چې د پښتو شعر ټیک، رتې رمتې یا سم برابر سره تشبع کړی دی. چې ورته ټیکی وایي، د ټولو پام د ناوې ناویتوب درناوي ته چې په همغه شپېو او چارپېریال کې ویل کېږي نومولې دي. ټولې ځنګېرنې یې د ښادی د دې شپېو سره ورته وي؛ هر څه د ناوې برابر وي، سم برابر، یوازې د ناوې ستاینه په کې کوي همدغه چارپېریال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. لکه:

## ۸ .۱ د ټیکی ځانګړې ځانګېرنې

۱:- ناوې د ناوېتوب درناوي په کې وي، ۲:- د ټولو پام د ناوې سپېڅلتیا ته اړوي، ۳:- رتې رمتې وي، ۴:- خوښې ډېره وي، ۵:- ډېر خوږ تاثیر لرې، ۶:- ډېر پام د خلکو ورته اوړي، ۷:- تر ډېره ستایل کېږي، ۸:- تاثیر یې ټینګ وي، ۹:- مېرمنې یې ډېرې وایي، ۱۰:- په ودونو کې ډېرې اورول کېږي او یادول کېږي، ۱۱:- د پال په بڼه یې پېغلې وایي، ۱۲:- په ګډه یې وایي سره، ۱۳:- پېغلو لاسونه سره یوه تر بلې ورکړي وي، ناوې یې په منځ کې وي، د لاسو نو په ټال سره په خوږو اوزو ناوې په ټال زنګوي، ۱۵:- ناوې پرې ډېره خوشحالېږي،۱۶:- د ناوې ستاینه په کې وي.
موږ ته یې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بڼه یې پوښ کې کړي.
هرې لنډی، ټپې او مصری چې دغه پورته ځانګېرنې و درلودلې؛ ښه غوږ ورته و نیسئ؛ پام ورته و کړئ؛ نوبیا یې پیژنئ. چې دا ټیکی دي؛ چې سمې برابر وي، د ناوې ستاینه په کې شوې وي او د واده د شپې چارپېریال زوکړې خصوصیات لري. لنډی، ټپې او مصری نه دي، بېلوالی یې پر همدې ځانګړیو ځانګېرنې کې دی.
لکه دا لا ندې زما ټیکی چې په مهترلام، لغمان کې مې په خپل کور کې په ۲۰۰۷ زېږدي کال کې کښلې وه. دا زما خپله ټیکی ده، زه نر یم، خو ډېرو مېږو، مېرمنو به ویلې وي او دي. لکه یوه زړه مېرمنه په ښادی کې ولاړه ده د ناوې ننداره کوي، د ناوې ښې اړخ ته یوه پېغله ولاړه ده، ډېره ښکلې هم ده، هغه پېغله یې ډېره خوښه راغلې ده، له وړاندې ځایه څخه ټیکی اچوي، په دې ټیکی سره ناوې هم خوشحالېږي، چې د ملګرې ستاینه یې هم و شوه او د واده پېرودونکي یې هم پیدا شوه. نورې مېرمنې پرې ډېرې خوشحالېږي او بیا یې له واده ورسته هم وایي، چې هغې پلانکی مېرمنې ښه ټیکی د بیستانکی له پاره هم و ویشته، لکه څې خپل کوم زوی، مسې، وراره او خوریه ته یې په ګوته کړه. دا ټیکی د ناوې د شپې د چارپېریال زوکړه ده او وایي لکه لاندې ټیکی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يې بوغان راباندې پلوري
زه پيرودونکي د ابۍ د ګسټ ګل يمه ،،
(صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی کال، ۵۷ او ۲۲۹چوپړی).

## ۸. ۲ د ټیکۍ د چارپېریال انځورونه:

دا لاندې د ټیکۍ چارپېريال انځور لړ استازيتوب کوي، د لغمان مخکېنۍ ولسوالۍ نورستان انځور دی. زموږ د ټیکۍ یو سم برابر محیط انځور په لاس راکوي.



۱۸:- د نورستانی مېرمنو د واده انځور دی، چې د ټیکۍ چارپېریال انځور وي. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د ټېکۍ يو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نيکونو ټيک له يوه بڼه پېيلې شعر سره تشبع کړی دی. چې ورته ټیکۍ وايي، او ټولې ځنګېرنې يې سره ورته دي. ( # ۱۸ انځور)

کانتيوا او د نورستانۍ مېرمنو د ګډې نڅا انځور ,, پيرو مرنډي، ايټالياوۍ دره ګرځندوی په کافرستان کې، د انسان پېژندنې دوره او د توکم پېژندنې موزيم ټولونه، ۱۰ ځېره، د نڅا تيارول ،، (پيرو مرنډي، ۱۹۶۸ زېږدی، ۱۴۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۸ د ټیکۍ تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، ټیکۍ د یوه توري یا سکالو تشریح کول.)

له پورتنۍیو ښېلوالو څخه لکه څنګه چې ۸ سرلیک وایي او پیله یې ساده برابروي داسې:

**پې (پ): ټیکۍ**

د وۍ له پامه ټیکۍ هغه دوې سرې ښېیلې ته وایي چې د ټیک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه ښېیله ده چې زموږ لرغونو ښتنتو نیکونو او نیاګانو د ښتنو ژبې د ابېڅو ،، ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د ښتنو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. ښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټیکۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د ټیکۍ توکي دي لکه: وۍ، او، نو وۍ!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وۍ!، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، وروره!، یه ښتونه!، یه کربانه، کنه ... .،)، د ښېېلې (قافیې) کلمې یا غونډلې نه لري. خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټیکۍ باید د ه ( زموږ خپله ،،ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ،هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ،ه، وایو) چې د ښتنو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. ټیکۍ د ښتنو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول ښېیله ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټیکۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرتولو ټیکۍیو، باندې یوه رښت د تطبیق وړ دی، یانې داچې د هرې ټیکۍ لومړۍ مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېیمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې ټیکۍ د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېیمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي. له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتې کېږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوی رو، رو کدم اخله
د ولس پېغلې په کتار درسره ځینه

د پورتنی ټیکۍ څپیز ( څپه، سېلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - خجیز ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، اوږدوالی، څه رنګوالی یا کیفیت ښهیي،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بېلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

## ۸. ۴ د ټیکۍ څپیزې او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

نا – وی – رو- **رو** + که- دم – ا- **خه** + له
د – و – لس - **پېغ** + لې- په – که – **تا** ر + در - سه-ره- **ځې** + نه

۱_ ۲_ ۳_ ۴_ ۵_ ۶_ ۷_ ۸_ ۹
۱۰_ ۱۱_ ۱۲_ ۱۳_ ۱۴_ ۱۵_ ۱۶_ ۱۷_ ۱۸_ ۱۹_ ۲۰_ ۲۱_ ۲۲

## ۸. ۵ د ټیکۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې داسې دی:

الف. ______________
______________

ب. ______________ ____________________


(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٨. ۶ د ټیکی سپړنه

د دې ټیکی سپړنه
لومړی مسره ٩ =٩ ښپې چې دفتنګونه نه لري، په لومړی مسره کې.
دوېمه مسره ١٣ = ١٣ ښپې دلته ټوله ټیکی ٢٢ سیلابه یا ښپې شوې ده،

١. لومړی مسره
٢. دوېیمه مسره
٣. ١.او٢ . یوه ټیکی
٤. دفتنګونه نه لري
٥. بادامي رنګ يې د رنګ ښکاروندی دی.
٦. ښپې ( سیلابونه)
   1 . مسره ٩
   2 . مسره ١٣
٧. زورنه (ځجنه) **بولډ**
٨. د اوازټیوالی او لوړوالی خطونه
٩. ښځو ته منسوبې (اړوند)



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸. ۷ د ټيکۍ بېلوونکي نخښې

له پورتنۍيو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۸ سرليک وايي او پيله يې ساده برابروي داسې:

نو د دې له پاره زما ځېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نيکونو خپل د ژبې يوه دوې سرې پېيله يې د ټيکۍ په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو شعر يا پېيله ټيک، رټ رمټ يا سم برابر سره تشبع کړی دی. چې ورته ټيکۍ وايي، د ټولو پام د ناوې ناوېتوب درناوي ته چې په همغه شېبو او چارپېريال کې ويل کېږي نومولې دي. ټولې ځنګېړنې يې د ښادۍ د دې شېبو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي، سم برابر، يوازې د ناوې ستاينه په کې کوي او همدغه چارپېريال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. لکه:

١. ناوې د ناوېتوب درناوي په کې وي
٢. د ټولو پام د ناوې سپېڅلتيا ته اړوي
٣. رټې رمټې وي
٤. خوښې ډېره وي
٥. ډېر خوږ تاثير لرې
٦. ډېر پام د وګړيو (خلکو) ورته اوړي
٧. تر ډېره ستايل کېږي
٨. تاثير يې ټينګ وي
٩. مېرمنې يې ډېرې وايي
١٠. په ودونو کې ډېرې ليکل کېږي، اورول کېږي او يادول کېږي
١١. د پال په بڼه يې پېغلې وايي
١٢. په ګډه يې وايي سره
١٣. پېغلو لاسونه سره يوې تر بلې ورکړي وي ناوې يې په منځ کې وي، د لاسو نو په ټال سره په خوږو اوزو ناوې په ټال زنګوي
١٤. ناوې پرې ډېره خوشحالېږي
١٥. د ناوې ستاينه په کې وي

موږ ته يې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بڼه يې پوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټپې او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې؛ ښه غوږ ورته و نيسئ؛ پام ورته و کړئ؛ نوبيا يې پېژنئ. چې دا ټيکۍ دي؛ چې سمې برابر وي، د ناوې ستاينه په کې شوې وي او د واده د شپې چارپېريال زوکړې خصوصيات لري. لنډۍ، ټپې او مصرۍ نه دي، بېلوالی يې پر همدې ځانګړيو ځانګېړنې کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. تې (ت): مصرۍ

مصرۍ یا مصره، د مصرۍ تورې سره تشبېه ده. د ادم ع ځامنو جوړې کړي، په خپله ګټه یې په هرڅه کې کاروي. له ټولو نه وړاندې د مصرۍ پیله ساده برابره وي دا چې الله ج ادم ع ته ډاډ ګېرنه ورکړه، چې د ځمکې د خلافت له پاره ما پیدا کړی یې. د دې له پاره نه چې په جنت کې تل مدام و وسي، و خورې او و څښې او ارام کېښنې په جنت کې.

همدغه یوه ستر اړخ او وصیله وه چې الله ج داسې و کړه. یوه څه شیان یې ورته هم ورکړه چې په ځمکه کې ژوند و کړي، چې هغه دغه نهه داني وو؛ چې ادم ع له اسمان څخه ځمکې ته راوړه، ,, ۱:- توره تېږه یا حجر اسود د کوزولو په وخت کې له واورې هم ډېره ځلېده او اوس د سعدي په مکه کې د کعبې په کونج کې اېښې ده، په منځ کې سوری لري۲:- جنت د ګلونو یا ونو پاڼې ۳:- ټوکان یا آمسا چې د جنت د آس له ونې څخه جوړه وه ۴:- بېلچې ۵:-کلنګه یا کوداله ۶:- د جنغوزې او څېړۍ ونه ۷:- سندان یا یوه درنه اوسپنه چې لاندې پرته وي ۸:- تبر یا څټک ۹:- چمټا یا چې د ګرم شیانو نیولوله پاره پکارېږي ،، ( برهان دین، ۲۰۰۶م کال، ۴۷چوپړی).

د دې له پاره چې ژوند و کړي په نوموړي اسابو باندې او په هره بڼه په هر ځانګېړنو ترې ګټه واخلې. لکه څنګه چې د ادم ع زوزات د عمر به تېرېدو سره، تورې ته هم په ژوند کې اړتیا پیدا شوه چې څه پرې، پرې کړي، دا اړتیا لومړی مصریانو پوره کړه، د تن زرې، ډال، توره یا سوارډ یې جوړ کړه، داسې نور جنګې زربېي اساب یې ساز کړي دي، زموږ یې تورې یا مصرۍ سره کار دی، چې په پیل کې دوی له تېزې برخې چې دواړو خواوې یې تېرې او په پای کې لرګېنه برخه درلودله، لومړی له میسو، چې بیا له جستو یا ژېړو، څخه جوړه کړي وې، چې هم ګرانه وه، نو اړتیا یې و مونده چې سختې او ارزانې جوړې کړي، له اوسپنې څخه یې جوړه کړه چې د مصریانو ۱۹ کورنۍ پورې اړه درلوده. ,, د خیفیش یا د خوفیش( *khepesh or khopesh* ) په نامه مصر کې جوړېږي؛ د لومړي نوي سلطانت کې د بحر په غاړه کښتۍ کې هم وه، چې ۷۵ سانتې اوږده وه چې ۱۳ پېړۍ له میلاده (نن څخه وړاندې ۳,۷۱۷ کاله) وړاندې، همدغه لومړی د اوسپنو د جوړولو تخنیک و، چې له مصره اروپاته هم تللی دی او له دې وړانې اسیا ته هم ،، (ژۍ لرونکې وسلې، ۲۰۰۹ م کال).

,, د اسلام دین لومړۍ توره چې کلکه، دواړو خواو ته تېره، چې په دې بڼه په ټوله نړۍ کې تر درېوو پورې ایله شتون ولري، چې ویل کېږي، زموږ د پیغمبر حبیب الله، محمد رسول الله ص ده، بیا هر خلیف د اسلام شوې وه، چې لوټ شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مملوک څخه د کټګي یا عثماني خلافت د ۱۵۱۷ م کال په جنګ کې، د ژوندې پاتېکودو هغه اودا او په ډالۍ کې ورکړه،

,, مبارکه توره یا سیف المبارک ،، چې په مصر کې جوړه شوې او ۱۳- ۱۵ عیسوي پېړۍ کې د لندن په ملي میوزیم کې خوندې ده، په هغه وخت کې ۶۰۰,۰۰۰ څخه تر ۷۰۰,۰۰۰ اېنګلپسي پونډه بیبه درلوده، ۹۵ ساتې اوږدوالی لري. د بولۍ نېغه بیبه یې یا د پېرودونکو په تبر پرې کړې بیبه: ۱۲۱,۲۵۰ اېنګلپسي پونډه پېروده. د اسلامي نړۍ رسامۍ، د لیلام ګڼه: ایل ۰۹۷۲۱، ځای: لندن، بولۍ پېخلیک، لومړیوار، دونۍ، د اپریل میاشت، لومړۍ ورځ، ۲۰۰۹ میلادې کال، لس نیمې بجې. ،، (مملوک توره...)، ( ایلوګاډ، ۱۹۷۹ م کال، ۲۰۳ چوپړی) او ( عمانې، ۱۵۱بولۍ، ۲۰۰۷ م کال، ۷۹ چوپړی).

مصرۍ توره د حضرت ابو داود المزاني رض هم وه، هغه وایي چې : د بدر په لویه غزا کې ما مشرکان په خپله توره وهل، چې سر به یې غوص شو او پر ځمکه به ولویده؛ خو په وینه به ککړه شوې هم نه وه، ما به تورې ته و کتل چې زه یې دومره په تېزه وهم، یا زما توره دومره تېره ده چې د مشرکانو سر پرې کوي او دا په وینو کېږي هم نه. چې ورسته رسول الله ص دا ایت موږ ته و ویل : ,, زه مو په ۱۰۰۰ ملاییکو باندې ملاتړ کوم. چې په تاسو پسې به وي.،، (القران الکریم، انفال سورت، ۹ ایت).

دا کېسه موږ ته لسم ټولګي کې په ۱۹۹۷ زېږدي کې، د پېښور شمشتو د کډوالو کمپ کې مولوي شاه محمد کړې وه، خو په الرحیق المختوم کې داسې دي:- ,, ابو داود المزاني وایي: ما د یوه مشرک پسې هڅه و کړه چې و یې وهم خو د هغه سر زما له تورې له ورسیدو وړاندې غوځ شو. نو پوه شم چې له ما پرته بل چا و واژه.،، (جانباز، ۲۰۱۳ م کال، ۳۱۶ چوپړی ).

لکه زموږ د پښت کرونده ګر، چې د ګرونده ګرو په ورځ، کې بېلچې، رمبې، سپاره، ښاښۍ، کلنګه، باد دکۍ، غالبېل، چجج، ژغونډۍ، اوبه تېټې، نندارې ته وړاندې کوي، د وګړو په وړاندې یې ننداره چیانو ته ښه یې. په ورته بڼه په مصر کې په هره ملي مصرۍ ورځ کې، مصرۍ پېغلې، مصرۍ تورو سره نڅا کوي، ننداره چیانو ته یې وړاندې کوي. د سر له پاسه یې ابښې وې په تېرو، د اړخ په لېکه د لوخ نس او ملا ترمنځ د اړخ په لېکه په تېرو برخې د تورې باندې نڅا کوي، تورې به یې په تېرو یا په سر او یا په ځان وي، د وجود غړې به داسې ډېر لړځوي.

لکه: کله چې څوک د برېښنایي چاپي کولو څوکۍ کې لړځېږې او د انسان ټاکلي غړې لړځېږي. دوی بې کچې سپینې، ښایسته ژېړوېښتانو لرونکې هم وي، د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايست خو يوسف ع، سارا بي بي، د ايوب ع مېرمن دوی خو هم مصريان وو، بې کچې ښايسته دي، په ټوله دنيا کې، داسې ښايسته اوس هم په کې شته چې انسان ورته ګوته په غاښ کېږي، چې الله ج دوی څومره ښايسته پيدا کړي دي، چې خپله به و وايئ چې دا د الله ج ملاييکې به څومره ښايسته وي.

په لومړي وار سره مصريانو د هرمو اندازې و کړې (تر ننه پورې د مصر هرمو جوړونکي نه دي معلوم) په پړو باندې، اټکلي غوټو باندې واټن پوره معلوم کړه، ۹۰ درجه زاويه يې هم وپېژندله، ۶,۰۱۷ کاله نن څخه وړاندې يې مسو څخه ګټه پورته کړې وه. ۷،۶۰۱ کاله وړاندې ابوالبشر حضرت ادم صفی الله د سرنديف په غره راښکته شوی دی.

دامې کره لاندې زما څېړنې داسې سپينې ته باستلي و، لکه څنګه چې پيټري وايي ,, تاريخ ليکونکی وايي په نږدو لرغونو جګړو کې چې، مصريانو په ميديترانې د جګړو لړی پيل کړې، ډېره تکتيکي جګړې يې کولې او جګړه يې له کيروس او کرو يسوس (*Cyrus and Croesus*) سره کوله، ... ، هېنديانو ويل، هند ته د بحر له لارې ۱،۲۰۰،۰۰۰.۰۰ تنه داسې انسانان وو، چې تورې يې تر پښو رسېدې، تر اږخو به يې تړلې وې، اوسپنېزې د تن زرې يې اغوستې وي او لکه د دوی مذهبي ورځ چې وي يا د دود تر سره کولو ورځ يې وي... ،، ( پيټري، د مصريانو تاريخ، ۱۵۵ چوپړی).

لکه څنګه چې دا له خپل زوړ کښلې ليکي څخه راواخلم.

,, مصری ته مصره هم وايي، دا ځکه چې په پخوا زمانو کې د تورې او ډال جنګونه وو، د هغو جنګونو په پېر د جنګ ښه او پياوړې توره به په مصر کې جوړيدله. نو د مصری تورې شهرت ډېر زيات وو، هغه به ډېره تېره او ځلانده هم وه، ډېرې لنډې ښې يې هم لرلې، نو د مصری تا ثير او ښکلا يې د مصری تورې سره تشبيه کړي.،، (صفی الله، ۱۳۸۸ ل ل کال، ۵۶ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نيكونو خپل د ژبې يوه دوې سرى پيېله ( پيړان، اشلوک، شېر يا شعر) يې د مصرى په نوم باندې نومولي وه، چې دې پښتو دوې سرې پيېلې له مصرىٔ تورې او مصرى سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه:

## ۹. ۱ د مصرىٔ ځانګړې ځانګېړنې

۱:- ډېرې ښايسته وي، ۲:- ښه نادره توازن لري. ( چې لومړى د لاستي برخه يې لنډه او دوېيمه برخه يې چې تېره وي اوږده، د مېچې منځه ( ثكل مركز) يې د مصرىٔ دواړو مسرو ته ورته وي.)، ۳:- ډېر ژر تاثير كوي، ۴:- انسان په يوه وار له منځه وړي، ۵:- يوه وار يې سړي ته بس دى، ۶:- بېلابېلې بڼې لري، ۷:- درې خواوې يې سړى پرې كوي، ۸:- په پام او ناپامىٔ كې انسان نه كړېكې باسي، ۹:- ډېرې لرغونې دي، ۱۰:- لرغونې اندازه كړل شوي، ۱۱:- لرغونې څېړل شوي، ۱۲:- د مصر هرمو غوندې جوړونكى يې معلوم نه دى، ۱۳:- لكه هرم پوره برابر شكل لرې چې د الله كوم مخلوق رغولې دي، ۱۵:- زوروري دي، ۱۶:- په هر ځاى كې ترې ګټه اخېستل كيږي، ۱۷:- د ننداړو شيان دي، ۱۸:- وهم لري، ۱۹:- زور دى، ۲۰:- په مينه ساتل كيږي، ۲۱:- تل انسان سره وي، ۲۲:- مكارې وي لكه لنډې مصرىٔ تورې، ۲۳:- د مېړمنو د مستىٔ او د سړو د سرلوړىٔ توكي دي، ۲۴:- درندې دي، ۲۵:- سختې دي، ۲۶:- جوړول يې ګران دى، ۲۷:- ډېر ارزښت لري، ۲۸:- نندار چيانو ته يوه ابلاغ وي، ۲۹:- مينه ناكې وي، انسان مينه پرې راځي، ۳۰:- په ډېره باريكىٔ او مينه جوړېږي، ۳۱:- په خپل ځاى كې كارول كيږي، ۳۲:- ډېرې لنډې دي.
موږ ته يې دا همداسې را پربښې دي او په همدې بنه يې پوښ كې كړې.

هرې لنډىٔ، ټپې، ټيكىٔ چې دغه پورته ۳۲ ځانګېړنې و درلودلې. ښه غوږ ورته و نيسئ، پام ورته و كړئ، نو بيا يې پېژنئ. چې دا مصرىٔ دي چې د مصرىٔ تورو او مصرىٔ خصوصيات لري. لنډىٔ، ټپې، ټيكىٔ نه دي، بېلوالى يې پر همدې ځانګړو ځانګېړنو كې دى.
,, لكه دا لاندې زما مصرىٔ چې د كابل پولي تخنيك پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړي پوړ، دوېيمه كوټه كې د لېږدي كال ,۱۰:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ E۱۰۲ كې كښلې وه:

په سپينه ږيره سودايي يې
جومات كې كې نه عبادت و كړه ږبنه ،،
(صفى الله، ۱۳۸۸ ل ل كال، ۲۲۸ چوپړى).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې مصرۍ تاثير همدومره ډېر دی. چې سړی يې پرې غوږ کړی هم وي، خو توره لا په وينو نه وي شوې. خو دی وروسته پرې پوهېږي، چې ترې وينې ځي، دی خبر هم نه وي. د دې مصرۍ به ايله لس کاله کېږي، چې زما له پښتنه پېښت جنتيک زهن زوکړه وي، خو پورتنۍ ټولي ځاګېرنې د مصرۍ لري، نو ځکه ورته مصرۍ وايو او مصرۍ يې بولو. انسان چې زوړ شي بايد د هر څه نه د کورنۍ ژغورونکی وي، له تېرو سړو او تودو څه و لري، په دومره عمر ناوړې و نه کړي، له سپين ږيرې څخه الله ج حيا کوي، ځکه ټول عمر يې اسلام دين کې تېر کړی وي، په سپين ږيريتوب کې بايد ګناهو نه توبه و کړي، نور پرې کړ نه شي، د هر انسان د سرلوړۍ ځای مسجد دی، په مسجد کې ناسته د دنيا او اخيرت برياده، غوره ځی مسجد دی، په مسجد کې ناسته، صبر، انتظار د الله ج په ثنا کې په ټول مخلوق کې د مينې ارتباط پيدا کوي، يوازې عبادت په جومات کې خوند کوي، په نه کړو يې تن لېرجن، لاړجن، ناولی، چې له خولې يې لېږ ځي، همغه وي او ږبن وي.

## ۹. ۲ د مصرۍ انځورونه:

دا لاندې د مصرۍ يو انځورونه مې د جنوري په ۳ درېيم، ۲۰۱۱ زېږدي کال کښته کړي وو.



۱۹:- ډاګير - سره زرو- له يوآر څخه.- ۲۵۰۰ مخزېږدي. له نن څخه ۴,۵۱۷ کاله واړندېنې ده. ( # ۱۹ انځور)



۲۰:- لوريستان - اوسپنېزه- ژيرو- ډاګير- ۱۵۰۰ مخزېږدي. له نن څخه ۳,۵۱۷ کاله واړندېنې ده. نن د فيبروري، ۲۸، ۲۰۱۷ زېږدی دی. ( # ۲۰ انځور)



۲۱:- ويسيکس- رافيبار – ټيسټوډ - همفيشيري مصرۍ. ( # ۲۱ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۳:- خوندي شوی انځور د مصرۍ نڅاګرې له مصرۍ تورې سره. چې د انځور شاه سپین بګرونډ لري، ګڼه یې ۵۰۰۶۳۴۵۲ ( # ۲۳ انځور)



۲۴:- خوندي شوی انځور د مصرۍ نڅاګرې له مصرۍ تورې سره. چې د انځور شاه سپین بګرونډ لري، ګڼه یې ۶۳۲۷۱۱۲ ( # ۲۴ انځور)



۲۵:- مصرۍ سکیمیټارا ۲ ایل جي ( # ۲۵ انځور)



۲۲:- ماراکون سپینو زرو مصرۍ ۱ ایل جي. په ډانګ پیلي روڼ بوږم چې داسي مي و کښل د مصرۍ یو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو مصرۍ له یوه بنه پیلي ( پېږان، اشلوک، شېر یا شعر) سره تشبې کړی دی. چې ورته مصرۍ وایي، او ټولي ځنګېرني یې سره ورته دي. ( # ۲۲ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۶:- یو آر ـ سیمېټار ـ د- ډبلیو اي بي. مصرۍ ( # ۲۶ انځور)



۲۷:- ډاګیر ـ د هډوکي لاستي والا مصرۍ ( سپین موټي مصرۍ) ( # ۲۷ انځور)



۲۸:- مملوک ـ نېکمرغه ـ مصرۍ – د محمد رسول الله مصرۍ ( # ۲۸ انځور)



۲۹:- توره ـ املاش ـ دودیزه – زر مخزېږدي کالنه ( # ۲۹ انځور)



۳۰:- مې سینین ـ ډاګیر ـ د ځمریانو د ښکار مصرۍ ( # ۳۰ انځور)





۳۲:- د لیکاني یا کلم په بنه ځو خورې مصرۍ . ( # ۳۲ انځور)

۳۱:- د محمد رسول الله مصرۍ # ۳۱ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۹ د مصرۍ تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، مصرۍ د یوه توري یا سکالو تشریح کول.)

له پورتنۍیو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۹ سرلیک وايي او پيله يې ساده برابروي داسې:

**تې (ت): مصرۍ**

د وۍ یا ویيکي له پامه مصرۍ هغه دوې سرې پېيلې ته وايي چې د لرغون مصرۍ تورې، مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، د مصرۍ لرغون اهرمو غوندې چې ترننه یې نه جوړونکو او نه د هغوی نومونه معلوم نه دي څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت يې جوت کړي دي.
پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

مصرۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د مصرۍ توکي دي لکه: وۍ، او، نو وۍ!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وۍ!، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، نو، یه کربانه!، وروره!، کنه، ولې اواسې نور ... .)، د پښېلې (قافیې) غونډلي (کلمې) نه لري. خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره مصرۍ باید د ه ( زموږ خپله ,,ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده.

په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېیلې ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د مصرۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرتولو مصرۍ یو، باندې یوه ربښت (دودی یا قانون) د پلې (تطبیق) وړ دی، یانې دا چې د هرې مصرۍ لومړۍ مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېیمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې مصرۍ، د لومړۍ ځلورمه او اتهمه څپه؛ د دوېيمې مسرې ځلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي. ډېرى وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کيږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. لکه:

▲ په خپلـې ژمنـې ټينـګار و کړه

ولـس جرګـې به ننواتـې درلـېږمه

د پورتنۍ مصرۍ څپيز ( څپه، سپلاب، هجا ,, سيليبل Syllable‹‹ د ابېڅو شمېرلو) - خجيز ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسيقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټيټوالي زور، اوږدوالی، څه رنګوالی يا کيفيت ښه يي،: ټينګه , لهجه ،: تاکيد: بېلوونکي نښه: د وينا , ځانګړی، خاص او بېل، ډول. :Accent, Morphemel ‹‹) جوړښت په دې ډول دی:

## ۹. ۴ د مصرۍ څپيزې او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

په – خپ – لې- **ژ** مه+ نې- ټين – ګار- **و ک** + ړه
و – لس – جر - **ګې** + به- نه – نه – **وا** + تې - در – لې- **ږه** + مه

۱ـ ۲ـ ۳ـ ۴ـ ۵ـ ۶ـ ۷ـ ۸ـ ۹

۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲ـ ۱۳ـ ۱۴ـ ۱۵ـ ۱۶ـ ۱۷ـ ۱۸ـ ۱۹ـ ۲۰ـ ۲۱ـ ۲۲

## ۹. ۵ د مصرۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت يې داسې دی:

الف. ____________
____________

ب. ____________ ____________

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. ۶ د مصرۍ سپړنه

د مهترلام سرغندوی سندر غاړی عبدالحادي (قاري لغمانی) اوستاد او سید احمد اوستاد وایي:

د دې مصرۍ سپړنه
لومړۍ مسره ۱+ ۹= ۱۰ څپې چې ,, وه!،، دفتنګ دی په لومړۍ مسره کې.
دوېمه مسره ۱۳ = ۱۳ څپې دلته تولـه ټپه ۲۳ سیلابه یا څپې شوې ده، او ولس کې دفتنګونه لرغن دود دي.

۱. لومړۍ مسره
۲. دوېیمه مسره
۳. ۱.او۲ . یوه مصرۍ
٤. دفتنګونه ,, وه!،،
٥. تت نصواري یې د رنګ ښکاروندی دی.
٦. څپې ( سیلابونه)
1. مسره ۹ + ۱
2. مسره ۱۳
۷. زورنه (خجنه) **بولډ**
۸. د اوازتېوالي او لوړوالي خطونه
۹. نرانو ته منسوبې (اړوند)

وه!؛ له دې خواږه اواز د **زار شمه**
وایي خو **ته** خو مزه **ماته** راکوینه

الکه **تورې** جامې و **کړه**
تورې **جامې** درسره **ډېرې** خوند **کوینه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. ۷ د مصرۍ بېلوونکې نخښې

له پورتنۍیو بېلوالو څخه لکه څنګه چې ۹ سرلیک وایي او پیله یې ساده برابروي داسې:

نو د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله یې د مصرۍ په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو دوې سرې شعر یا پېیلې له مصرۍ تورې او مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لرلې. لکه:

۱. ډېرې ښایسته وي
۲. ښه نادره توازن لري. ( چې لومړۍ د لاستي برخه یې لنډه او دوېیمه برخه یې چې تېره وي اوږده، د مېچې منځه (ثقل مرکز) یې د مصرۍ دواړو مسرو ته ورته وي.)
۳. ډېر ژر تاثیر کوي
۴. انسان په یوه وار له منځه وړي
۵. یوه وار یې سړي ته بس دی
۶. بېلابېلې بنې لري
۷. درې خواوې یې سړی پرې کوي
۸. په پام او ناپامۍ کې انسان نه کړېکې باسي
۹. ډېرې لرغونې دي
۱۰. لرغونې اندازه کړل شوي
۱۱. لرغونې څېړل شوي
۱۲. د مصر هرمو غوندې جوړونکی یې معلوم نه دی
۱۳. لکه هرم پوره برابر شکل لرې چې د الله کوم مخلوق رغولې دي
۱۴. زوروري دي
۱۵. په هر ځای کې ترې ګټه اخېستل کېږي
۱۶. د ننداړو شیان دي
۱۷. وهم لري
۱۸. زور دی
۱۹. په مینه ساتل کېږي
۲۰. تل انسان سره وي
۲۱. مکارې وې لکه لنډې مصرۍ تورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲. د مېرمنو د مستۍ او د سړو د سرلوړۍ توکې دي
۲۳. درندې دي
۲٤. سختې دي
۲۵. جوړول یې ګران دي
۲٦. ډېر ارزښت لري
۲۷. نندار چیانو ته یوه ابلاغ وي
۲۸. مینه ناکې وي، انسان مینه پرې راځي
۲۹. په ډېره باریکۍ او مینه جوړول کیږي
۳۰. په خپل ځای کې کارول کیږي
۳۱. ډېرې لنډې دي

موږ ته یې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بڼه یې پوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ چې دغه پورته ۳۲ ځانګېرنې و درلودلې. ښه غور ورته و نیسئ، پام ورته و کړئ، نوبیا یې پېژنئ. دا مصرۍ دي چې د مصرۍ تورو او مصرۍ خصوصیات لري. لنډۍ، ټپې، ټیکۍ نه دي، بېلوالی یې پر همدې ځانګړیو ځانګېرنو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰. د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)

د دې له پاره چې پېیلو (پېړانو، اشلوکو، شېرونو، شعرونو) ته د رنګونو ښکاروندی جوړ کړم؛ دا یوه ډېر پیچلی او درونډ کار دی، ډېرې درنې، ستړې پوهې ځیرکتیا، غښتلتیا، سپېڅلتیا او بېلوالي د رنګونو ته اړتیا شته، ځکه چې د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ) په هر علمي ترانې کې دننۍ ځانګېړنې، موخې، منځپانګې، څرګندوالي، څه رنګوالي (کوالتي)، څرنګوالي ( کومه بڼه) ته اړتیا وي، چې په ټاکلي توکي یې د رنګونو ښکاروندی ټمبونی ګرځوي.
بېلګې:

۱. د برېښنا انجینېري په نړوال ښکاروندي کې یا ( IEC International Electrical Cod, BS British Standerds, NEC National (Cods Electrical

۱. ۱. اې (ا). سپین: د سوړ (منفي یا یخ ) رنګ دی؛ خوندي رنګ دی، د ودانۍیو دننه سپین برېښنایي پړې او سپینه رڼا لرونکي څراغونه او کلوبونه څخه ګټه اخېستل کېږي.

۱. ۲. بې (ب). سور: د وېرې؛ خبرداري؛ خطر او لومړي فاز رنګ دی ( لومړي ګرم پړی یا کیبل، لین، لیکې او کرښې رنګ دی، چې تر ۲۰۰۹ زېږدي کال پورې د لومړي فاز ښکاروندی وو، له ۲۰۰۹ زېږدي کال پیل ورسته یې بدلون و موند، لومړي فاز رنګ په ځیګري رنګ او برون و منل شو.)؛ د اوروژنې د ټولو توکو؛ د خبرداري د ټولو توکو رنګ دی.

۱. ۳. پې (پ). ژېړ: د پاملرنې؛ توجع؛ پام؛ ځېرتیا او دوېیم فاز رنګ دی (دوېیم ګرم پړی، یا کیبل، لین، لیکې او کرښې رنګ دی، چې تر ۲۰۰۹ زېږدي کال پورې د دوېیم فاز ښکاروندی وو، له ۲۰۰۹ زېږدي کال پیل ورسته یې بدلون و موند، دوېیم فاز رنګ په تور رنګ و منل شو.)؛ د توکو ښکته پورته کولو، د ټولو اسبابو او کرنیون؛ د خبرداري د ټولو توکو رنګ دی،؛ ژېړه رڼا لرونکي څراغونه د ودانۍیو نه باندې، په ازاده فضاء کې ترې ګټه اخېستل کېږي او اړینه ده چې ببېړني څراغونه ژېړه رڼا لرونکي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. ٤. تې (ت). اسماني: د نرانو؛ سپڅلی؛ لوی؛ پراخ؛ پلن؛ پېړ؛ نږدې او درېيم فاز رنګ دی (درېيم ګرم پړی يا کيبل، لين، ليکې او کرښې رنګ دی، چې تر ۲۰۰۹ زېږدي کال پورې د درېيم فاز ښکاروندی وو، له ۲۰۰۹ زېږدي کال پيل ورسته يې بدلون و موند، درېيم فاز رنګ په خورين رنګ او ګري و منل شو.).

۱. ۵. تې (ټ). تور: د سويې خوندي؛ ورسته پاتې؛ تياري؛ ګړنګ؛ سوري او سوري رنګ دی؛ ( د سوړ (منفي، نيوټرل يا يخ ) کيبل يا لين، ليکې او کرښې رنګ دی، چې تر ۲۰۰۹ زېږدي کال پورې د سوړ کيبل ښکاروندی وو، له ۲۰۰۹ زېږدي کال پيل ورسته يې بدلون و موند، د سوړ کيبل رنګ په اسماني رنګ و منل شو.)؛ تور رنګه برېښنايي پړي يا کيبلونه د ودانۍيو نه باندې يا د باندې د ګټې اخېستلو وي.

۱. ٦. جې (ج). شين: د تللو؛ وتلو؛ ارامتيا؛ هوساينې؛ دمې او ځمکن پړې رنګ دی ( ځمکن پړي يا کيبل شين - ژېړ رنګ هم لري. په شين رنګ کې ژېړې ليکې. لکه د زيبرا يا برګ افريکايي خره تورې او سپينې کرښې چې يوه له بله ټاکلی واټن لري.).

۱. ۷. نوټ: د دندې په ساحه کې د مزدورانو روغې سپينې خولې او ختو رنګ وي، د برېښنا د مزدورانو روغې سرې خولې او ختو رنګ وي، د ميخانيکي مزدورانو روغې اسماني خولې او ختو رنګ وي. د کيمياوي توکو د مزدورانو او د ژغورونکو خوديتوب ډلې د مزدورانو روغې ژړې خولې او ختو رنګ وي. د لوړو اينجينېرانو روغې سپينې خولې او ختو رنګ وي چې پرې پر سره رنګ د لوړ مديريت ټاپې او ليبلونه ټمبل شوي وي.

۲. د سړکونو په نږوال ښکاروندي کې، سپين: د خوندي؛ بې وېرې؛ بې خطره؛ سويې ډار رنګ دی.، ژېړ: د پاملرنې؛ توجع؛ پام؛ د ځېرتيا رنګ دی.، تور: د سويې خوندي؛ ورسته پاتې؛ تياري؛ ګړنګ؛ سوري او سورې رنګ دی.، سور: د وېرې؛ خبرداري؛ خطر رنګ دی.، شين: د تللو؛ وتلو؛ ارامتيا؛ او هوساينې، دمې رنګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د هنر او ادبیاتو، ټولنېزو علومو اووم هنر په رسامي او خطاطي کې راته ماهر ښوونکي مولوي محبوب الله محبوب د اووه ډوله لیکونه او رسامۍ هنر څلور کاله زده کوونکی پاتې شوی یم د برهان الدین رباني په باچاهي کې. د اته کلونو په عمر به وم. ,, د ادبیاتو اووم هنر یا رسامي او خطاطي مې څلور کاله شاګردي په لغمان کې له محبوب اوستاد څخه کړې وه. تر ټولو کوشنی شاګرد یې زه وم،، (صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی کال، ۴۸ چوپړی). نوموړي ښوونکي مې د رسامي او خطاطي لوړې زده کړې د انقلاب په دوران ایران کې کړې وې.

هغه ویل: د رسامۍ له ماهرۍ او پوهې څخه د رنګونو کارول په لاندې بڼه دي: ۱. سور رنګ: د عاشقي؛ مستوالي او خوښګنوکی رنګ دی. ۲. تور د غم؛ اندېښني؛ پېښماني رنګ دی. ۳. ژېړ: د بېلتانه؛ جلاتوب او لرې والي رنګ دی. ۴. سپین: او ۵. شین: د سپېځلتیا؛ زرغونتوب او ښتینولي رنګ دی. له دغو ټولو پېنځو رنګونو څخه ټول رنګونه چې دنیا کې دي ترې جوړېږي، دا پېنځه په ماهرت او تجربو سره ګډ کوه سره نو هر رنګ چې غواړې درته په لاس راځي.

٤. د زده کړیالۍ په دوران د کابل پولي تخنیک پوهنتون د برېښنا انجینېري د الکترونیکس ښوونکي الله بخښلې پوهنیار محمد رفیق میاخیل صیب. په ۲۰۰۳ زېږدي کال کې له خپل لوستلیکي څخه راته داسې ویلې وو.

زما په یادښت چوپړو کې شته دي. په ټولګي کې مې ورسره یوه نادره ټوکه و کړه د رنګونو په پېژندنه یا د رنګونو تشخیص کې و کړه، ټولو ټولګیوالو مو را برق وهل په کړسکړس په خندا شول.


کټ مټ د کابل پوهنتون اوستاد پوهنیار محمد رحمت الله تنها د دې سرلیک لاندې: موږ په بې رنګه نړۍ کې ژوند کوو.

له البډه بسنې سره د بي بي سي له پانې د خپرېدو وخت: ۲۱:۲۱ ګرینویچ - شنبه ۱۵ ډسمبر ۲۰۱۲ ـ ۲۵ لیندۍ ۱۳۹۱ لېږدي داسې خپور کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, موږ په بې رنګه نړۍ کې ژوند کوو.




۱۰. ۳ روښنايي یا رڼا د لنډې څپې او اوږدې څپې ترمنځ د رنګونو څرنګوالی

نور یا رڼا یوه ډول انرژي ده چې د بېلا بېلو فریکونسۍ لرونکو الکترو مقناطیسي څپو په بڼه څرګندیږي. اوږدې څپې ټیټې فریکونسۍ او لنډې څپې لوړې فریکونسوۍ لري. فریکونسي د څپې د تکرار کچې ته وايي. هر څومره چې فریکونسي زیاته شي په هماغه اندازه څپه قوي کیږي. د الکترومقناطیسي څپو طیف چې د څپو د اوږدوالي مقیاس دی له مثبت لایتنهایي څخه پیل او تر منفي لایتنهایي پورې رسیږي چې په دغه طیف کې د لیدو وړ نور د څپو اږودوالی له ۴۰۰۰ څخه تر ۸۰۰۰ مایکرو مېترو پورې رسیږي. د لیدلو وړ نور اووه رنګه لري چې له سره څخه پیل او په بنفش باندې ختمیږي.

هر شی په حقیقت کې بې رنګه دی خو کله چې د لیدلو وړ نور په مقابل کې واقع شي نو ځینې رنګونه جذبوي او ځینې هم منعکسوي چې د دې عملیې په ترڅ کې موږ شیان رنګین وینو. د نور هغه برخه چې جذب نه شي او بېرته منعکسه شي نو زموږ د سترګو کسي ته را رسیږي چې د نور دغه برخه یوه ځانګړی رنګ لري او موږ نوموړی شی هم په همدغه منعکس شوي رنګ کې وینو. د بېلګې په ډول نباتات رنګ نه لري خو کله چې د لیدو وړ نور ورباندې ولګیږي نو د نور د شین رنګې څپې په استثنا نور ټول رنګونه جذبوي او شین بېرته منعکس کوي چې دغه منعکس شوی نور زموږ سترګو ته را رسیږي او په پایله کې موږ ته نباتات شنه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز موږ فکر کوؤ چې تور شی تیاره دی او هیڅ رنګ نه لري، سپین شي ته یوه ځانګړی رنګ چې هېڅ په رښت کې موجود نه دی مانا سپین رنګ قایل یوه خو په حکیکت کې موضوع په بشپړ ډول معکوسه ده.

سپین رنګي شیان ټول اووه رنګونه په بشپړه توګه منعکس کوي، خو سترګې په یوه وخت دا ټول رنګونه نه شي تشخیص کولای او موږ شی بې رنګه وینو.

همدا راز تور رنګي شیان ټول رنګونه جذبوي او د منعکس کولو له پاره څه نه لري چې زموږ سترګو ته یې را و لېږي ځکه خو موږ ته تور ښکاري چې په حکیکت کې تور رنګ هم رښت کې وجود نه لري.

بله بېلګه یې دا ده چې لمر د سهار او مازدیګر له خوا سور ښکاري هغه ځکه چې سهار او مازدیګر لمر له موږ نه لرې وي او کله چې وړانګې له لمر څخه تر موږ پورې واټن وهي په لاره کې ځینې بڅرکي شته چې د لمر سور رنګ نه شي جذبولای او هغه منعکس کوي چې په پایله کې موږ ته لمر سور ښکاربېږي.

دا ټولې څرګندونې موږ ته ښه یې چې زموږ د لیدلو او یا هم نور حواس حکیکت نه بلکې مجاز احساس وي او موږ ته تل مجازي مالومات راکوي نه حکیکي مالومات نو پر همدې بنسټ ویلی شو چې نړۍ ټوله په اصل کې بې رنګه ده او یوازې سترګو ته را رسېدونکې منعکسه څپې دي چې هر شي ته رنګ ورکوي.

په دې رنګ ورکولو کې موږ انسانان او زموږ ټول حواس هېڅ رول نه لري. هر څه چې همدا څپې، خپله شیان د جذب او انعکاس په پایله کې موږ ته را لېږي نو زموږ حواس یې د یوه ځانګړي رنګینې پدیدې په شکل مني. ،،
( محمد رحمت الله، ۱۳۹۱ لیږدی، ۱ چوپړی.)

زموږ د الکترونیکس ښوونکي الله بخښلي پوهنیار محمد رفیق میاخیل صیب چې دا و ویل: زموږ د لیدلو او یا هم نور حواس حکیکت نه بلکې مجاز احساس وي او موږ ته تل مجازي مالومات راکوي نه حکیکي مالومات نو پر همدې بنسټ ویلی شو چې نړۍ ټوله په اصل کې بې رنګه ده او یوازې سترګو ته را رسېدونکې منعکسه څپې دي چې هر شي ته رنګ ورکوي. په دې رنګ ورکولو کې موږ انسانان او زموږ ټول حواس هېڅ رول نه لري او هر څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا څپې او خپله شيان د جذب او انعکاس په پايله کې موږ ته را لېږي نو زموږ حواس يې د يوه ځانګړي رنګينې پديدې په شکل مني. بله داچې په ټولو حيواناتو کې خر هغه حيوان دی چې د رنګونو تشخيص نه شي کولی.

نو ما ته بې له ځنډه په لغمان کې اووه اته خره د غلام محمد کرمي ماما چې هغه د کروندې د کرکېلي درندو کارو ته ساتل او ټوله ورځ به د نمبره اول ښوونځي په ډاګه کې څرېدل، راغلل چې زه يې څو وراړې غورځولی وم. ما پام و کړه چې ښه نو که داسې وي چې دوی خرو ته هر څه واچوي، که چېرې وچ هم وي لکه پرووړې، نو هغه به ورته د شنو شمخو، د شولو د تازه وښو غوندې ښکارېږي. نو ما اوستاد ته و ويل: چې د خرو سترګې خو غټې هم دي او سترګې يې ښې سترې عدسيې هم لري، چې په پټو، کرونده کې چېرې لرې ښځې له رنګه جامو سره و ويني نو خپل اوزونه او سامان راوباسي، دا خو هم حکيکت دی. که خره د رنګونو تشخيص نه شو کولی نو ولې، بيا داسې کار فطري کوي. دا خو سول (اکل يا عقل ) نه مني.!، په دې وخت کې ټولو ټولګيوالو پرک وهه.

۵. په اصل کې که ټوله دنيا بې رنګه ده، خو موږ د اسنتيا او د چټکي پوهېدنې له پاره د رنګونو ښکاروندي جوړ و. چې وګړو ته ژر پوهه په لاس کې ورکوي، رنګ يوه بې نومه او ګونګ شی دی، خو انسان ته دا ګونګ بې ژبې شی، د خبرو په نه کولو باندې هم پوهه راکوي. او له موږ سر غړېږي. بېلګه يې: کله چې پر کشونو يا سړکونو موټر بيا يو؛ په سړک کې د هرو شپږ مېټرو په واټن د سړک په داړو ښې او ګسې اوږې او منځ کې کوشنۍ نښې لګولې وي. زموږ په خپل لاس تلو لورې ته ژېړ رنګ وي، په منځ د سړک کې سپينې او د ګسې لورې ته سرې نښې ښکارېږي چې هر څومره ورباندې زموږ د موټر د څراغونو رڼا ډېره پرې وځې په همغه کچې نښې ډېرې رڼا منعکس کوي او نښه همغومره ډېره روښانه ښکارېږي.

زموږ د لاس نښې موږ سره غږېږي چې زېږه رڼا راښيي چې پام او توجو کوه، په منځ کې ليکې سپينه رڼا رالېږي چې بې خنده دی، خو پام به د سرک نورو ليکو ته کوو چې د هغو په وړاندې خپل پلان و لرو. او ور تېر لور يا بل لاس ته بيا سره رڼا را لېږي چې موږ ته وايي چې دې لورې ته خنډ دی، وېره ده، خطر دی، ځکه چې يا به بل موټر تېرېږي او يا دا د راتلونکو موټرو د ځغاستې ليکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله بېلګه یې: د ژوندۍ برېښنا په هر توکي او اسبابو باندې په ژېړ رنګ په سره پاڼه کې کښلې وي. چې ځان ترې لرې ساتئ. په ماضي لاس ور رسیدو مو په ۰.۰۳ سانیو کې ژوند اخلي. د دې له پاره د رنګونو ښکاروندی موږ ته په چټکۍ سره پوهه راکوي.

٦. ما د افغانستان په لس کلنه د انجینېري په خدمتي دوره کې، د هېواد دننیو او باندنیو سترو کمپنیو سره، له ۴۰۰ ډېرو د هېواد دننه او له تر ۲۰۰ له هېواد باندې د مخابراتي سایټونو کې، تر ۵۰ ډېرو امنیتي قوماندانیو، ۵ سرحدي لیواګانو، ۵ د ملي پوځ ستري لیواګانو، په پرتو ودانیو لکه: سړکونو، هوایي لیکې، او ډاکرونو، د چټلو اوبو د پاکول، لوی ویلو او د نښه وېشتونځی کې.

په ولاړو ودانیوکې لکه: په خونو، ودانیو، بارکونو، پارکونو، پخلنځیو، روغتونونو، سترو پخلنځیو، د اوروژنې ودانیو، ساتونکو څلیو، ساتونکو چوړګه مېنو، د چټک غبرګون ځواک د ودانیو، وریا (شاور) وو، چړچوبو (تشنابونو)، د اوبو زېرمو، د برېښنا زېرمو، د وسلو زېرمو، د موټرو زېرمو، د موټرو تمځیونو، د اسبابو زېرمو، سرپټولوبغالو او بېلابېلو برخو کې د رنګونو په غوروي او خوښونه کې د نوموړې برخو د مېرانو، لویانو اوباندنیو مشاورینو سره پرې د رنګونو په ټاکنه کې مصلحتونه کړي دي.

٧. د رنګونو په ټاکنه کې مې د لاندو ښکاروندو پخوا لوستلي وو، سه په منډه او څه په دمه. لکه دا لاندې.

٧. ١. په پينځه کلنه د ډیپلوم په انجینېري دوره کې ټول لوستلیکي.

٧. ٢. د افغانستان د شلو بېلا بېلو پوهانو کتابونه او د دوی لوستلیکي.

٧. ٣. د جمهوري اسلامي افغانستان د ملي سټندرډ اداري بېلابېل ښکاروندي چې ځینې یې کټ مټ له انګلیسي کاپي فسټ کړي دي، په زرو پاڼو کې د څېړکو او سرلیکو د افغانستان په ملي پښتو ژبه را ژباړلي نه دي؛ یوه ثانیه به یې هم پرې ځان ستړی کړی نه وي. لکه د تورکې هېواد د برېښنا د پړو، مزو، کېبلونو او لینونو ټول ښکاروندی به یې راخېستی وي او کټ مټ پرته له علمي څېړنې او شننې به یې په ملي سټندرډ کې د ښکاروندي غوندې روغ رمټ له پردۍ ژبې سره دننه کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. دغه ۴۰ لاندېني پېنې والو ښکاروندو ښه ښایسته له سلو ۶۳٪ زما د سر وېښتان رژولي دي، د لسو کلونو په موده کې، چې ټول چوپړي يې په مېليونو دي، په یوه شپه او ورځ کې په ډېریو ورځو او شپو د کال کې له زرو چوپړو ډېر لوستلي دي، څه په منده او څه په کراره. چې له خوبه به راوېښ شوم نو خپلو رژېدلو ۵ پېنځو یا ۶ شپږو وېښتانو به راته اسلام علیکم ویل.!؟

۸. ۱. My Acadmic studies Cods Soccer Field:

۸. ۲. National Institute of Building Sciences (NIBS);

۸. ۳. Air Force Civil Engineer Support Agency (AFCESA);

۸. ٤. Naval Facilities Engineering Command (NAVFAC);

۸. ٥. Unified Facilities Guide Specifications (UFGS) of

۸. ٦. the Corps of Engineers (USACE);

۸. ۷. American Water Works Association (AWWA);

۸. ۸. American Concrete Institute (ACI);

۸. ۹. International Building Code (IBC);

۸. ۱۰. National Fire Protection Association (NFPA);

۸. ۱۱. Unified Master Reference List (UMRL) (PDF version);

۸. ۱۲. American National Standards Institute/ Telecommunications Industry Association/Electronics Industry Association ( ANSI TIA/EIA);

۸. ۱۳. United States Department of Agriculture Rural Utilities Service ( RUS Bulletin);

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. ۱۴. USACE-AED Afghanistan Engineering District Design Requirements;

۸. ۱۵. Unified Facility Criteria (UFC);

۸. ۱۶. Underwriters' Laboratories (UL) Fire Protection Equipment Directory (۲۰۱۰);

۸. ۱۷. CMAA ۷۴ Specification for Top Running Bridge and Under Running Single Girder Electric Overhead Traveling Cranes Utilizing Under Running Trolley Hoist (Crane Manufacturer's Association of America);

۸. ۱۸. EIA ANSI/TIA/EIA-۶۰۷ (۱۹۹۴) Commercial Building Grounding /Bonding Requirement Standard;

۸. ۱۹. Factory Mutual (FM) Approval Guide-Fire Protection, latest edition;

۸. ۲۰. IBC International Building Codes, ۲۰۰۹ edition (including the Referenced Standards in Chapter ۳۵ or the latest editions of those Standards);

۸. ۲۱. IEEE C۲ National Electrical Safety Code (NESC), latest edition;

۸. ۲۲. IFGC International Fuel Gas Code, latest edition;

۸. ۲۳. IMC International Mechanical Code, latest edition;

۸. ۲۴. IPC International Plumbing Code, latest edition;

۸. ۲۵. Lighting Handbook IESNA, latest edition;

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. ۲٦. International Mine Action Standards latest edition;

۸. ۲۷. TM ٥-۸۰۲-۱ Economic Studies;

۸. ۲۸. TM ٥-۸۰٥-٤ Noise and Vibration;

۸. ۲۹. TM ٥-۸۱۱-۱ Electrical Power Supply and Distribution;
۲۸. A/E/C CAD Standards, V٤,۰

۸. ۳۰. ACI ۳۱۸ Building Code Requirements for Structural Concrete, American Concrete Institute;

۸. ۳۱. ACI ٥۳۰/ASCE ٥/TMS ٤۰۲ Building Code Requirements for Masonry Structures;

۸. ۳۲. AISC ۳٤۱ Seismic Provisions for Structural Steel Buildings including Suppliment No. ۱, American Institute of Steel Construction;

۸. ۳۳. AISC ۳٦۰ Specification for Structural Steel Buildings, American Institute of Steel Construction;

۸. ۳٤. ASCE ۷ Minimum Design Loads for Buildings and Other Structures;

۸. ۳٥. ASTM American Society for Testing and Materials;

۸. ۳٦. ASTM-D-۱٥۸٦ Standard Test Method for Standard Penetration Test;

۸. ۳۷. ASTM-D-٥۲۹۹ Standard Guide for Decommissioning Ground Water Wells;

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. ۳۸. AWS D۱،۱ Structural Welding Code – Steel, American Welding Society;

۸. ۳۹. BS۷٦۷۱ Requirements for Electrical Installations, Institution of Electrical Engineers (IEE), Wiring Regulations, Seventeenth Edition;

۸. ٤۰. CMAA ۷۰ Specification for Top Running Bridge and Gantry Type Multiple Girder Electric Overhead (Crane Manufacturer's Association Traveling Cranes of America);

۸. ٤۱. Specifications for UFGS :Specsintact Software are in SpecsIntact format. SpecsIntact is government to edit specifications for sponsored software used government contracts;

## ۱۰. ۱ پښتو پېیلو د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)

پورتنۍیو اته ګڼه لړونو په پام کې نیولو سره، ما د پښتو ژبې پېیلو ( شعرونو) ته د رنګونو ښکاروندي ( د شعرونو د رنګونو کوډ) چې د هر شعر له پاره ده وټاکه. ښایي چې په راتلونکي کې څه ورګډ شي په کې او څه په کې بدلون و مومي.

لکه د ایفون د کمپنۍ د نازکو توکو رنګونه، چې سور، سپین، سروزرو رنګی د مېرمنو له پاره. تور، څمکن او د سپینو زرو رنګی د نرانو له پاره ټاکي.

ورسره د تورکیې د ختو کمپنۍ رنګونه چې ټولې نړۍ ته ښې ختې تیار وي، چې د ختو رنګونه یې ښه درانده دي. د سړو له پاره، اسماني رنګ، د مېرمنو له پاره ګلابي رنګ تود هڅوځی لري. په هر علمي تراڼ کې دننۍ ځانګېړنې، موخې، منځپانګې، ځرګندوالي، څه رنګوالي او ځرنګوالي ته اړتیا وي، چې په ټاکلي توکي یې د رنګونو ښکاروندی ټمبونی ګرځوي. په لاندې ښه زما ځېړنه دا جوت رونوي داسې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ .۱۰ د پښتو پېیلو د رنګونو ځېره

لاندې د پښتو پېیلو پینځه ځلوېښتو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو پېیلو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ) مې په ۱۳۹۵لېږدي کې وندی بوږولی او په راتلونکي پېر کې د پښتو ژبې د ټولو پېیلو ربښت ځرګندونه کوي.

### ځېره ۱ . ۲ . ۱ پینځه ځلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)،۱۳۹۵لېږدیز لمریز کال



(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. ٤ ځېره ۱. ۲. ۱ پینځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)،۱۳۹۵لیږدیز لمریز کال

## ۱۰. ۳ لنډی د رنګ ښکاروندی

لنډي‌ یو د رنګونو ښکاروندی: ګڼ تورڅکی شین رنګ دی.
اسماني رنګی هرم یې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Color model: RGB, Red: ۲۲, Green: ۵٦, Blue:۸٦ | ګڼ تورڅکی شین | لنډی | ۲۶ |

▲ ای! ګـنو ژنـو میرڅمنو

ځـنې له ځـنډو سـازوی خندا راځینه

## ۱۰. ۴ ټپې د رنګ ښکاروندی

د ټپې د رنګونو ښکاروندی: ځیګري رنګ دی.
آسماني رنګی هرم یې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Color model: RGB, Red: ۱۱۲, Green: ۰, Blue:۰ | ځیګري | ټپې | ۲۷ |

▲ راځـه وصال ته غـاړه کېږدو

نور له هـجرانه تـوبـګاره شـوم مینه

## ۱۰. ۵ ټیکی د رنګ ښکاروندی

د ټیکی د رنګونو ښکاروندی: بادامي رنګ دی.
ګلابي رنګی هرم یې میرمنو ته د منسوبتیا نښه ده.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Color model: RGB, Red: ۲۵۱, Green: ۲۲۹, Blue:۲۱٤ | بادامي | ټیکی | ۲۸ |

▲ بدې ملګرې دې خوشحاله

واده د ستا دی ژړا دوی د دروغـو کړینـه

## ۱۰. ۶ مصری د رنګ ښکاروندی

د مصری د رنګونو ښکاروندی: تت نصواري رنګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسماني رنګی هرم یې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده.


| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۹ | مصری | تت نصواري | **Color model: RGB, Red: ۱۰۳, Green: ۱۰۹, Blue:٤۱** |

▲ د اسلام رنګـه دې کړه بـده
سـاډې سـوډې امامـه څه دې و ستایمه

## ۱۰. ۷ د پښتو پېیلو د رنګونو بوږولو کړنلارې

د رنګونو د جوړولو او ټاکلو له پاره له لاندېني د رنګونو ښکاروندي لښتیلیک (جدول) څخه ګټه پورته کړئ.

**رنګونو د ټاکلو کړنلارې:** لومړی لیک غوره کړئ یا سلیک کړئ، بیا د لیک رنګونو ته لاړ شئ چې د انګرېزی په لومړي ابېڅي اي ترې لاندې رنګ زېرمه وي؛ دننه شئ؛ نور رنګونو کېکاږئ ( more Colors)؛ د رنګونو دود کې ( Custom ) تولې ټاکلي سلنې کېنه و کښئ او وي غواړئ ( OK).



۳۳:- د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو، د رنګونو ښکاروندي جدول څخه ګټه پورته کولو، د رنګونو د ټاکلو کړنلارې انځور.
* زه څو سکرینو څخه په یوه محال ګټنې اخلم، زما د کمپیوټر د ښیښې انځور. ( # ۳۳ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰ . ۸ د پښتو پېیلو د رنګونو لښتیلیک

جدول ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو پېیلو ( پیرانو، اشلوکو شېرونو یا شعرونو) او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵لېږدیز لمریز کال

| ګڼه | د شعرونو نوم: | د رنګونو ښکاروندي | Color code: |
|---|---|---|---|
| ۱ | غزل او ډولونه يې | سور | Color model: RGB, Red: ۲۵۵, Green: ۰, Blue:۰ |
| ۲ | آزاد شعر او ډولونه يې | سپين | Color model: RGB, Red: ۲۵۵, Green:۲۵۵, Blue:۲۵۵ |
| ۳ | اډانه( انځور يا ادبی طرحه) | خړ | Color model: RGB, Red: ۵۱, Green: ۵۱, Blue:۵۱ |
| ۴ | آزاده منظومه | ټېټ خمکن | Color model: RGB, Red: ۲۴۲, Green: ۲۴۲, Blue:۲۴۲ |
| ۵ | قطعه | پېکه مالته يي | Color model: RGB, Red: ۲۵۵, Green:۱۱۶, Blue:۸۳ |
| ۶ | بولـله (قصيده) | تت پېکه مالته يي | Color model: RGB, Red: ۲۵۵, Green: ۱۷۷, Blue:۱۵۹ |
| ۷ | مستزاد | خړ | Color model: RGB, Red: ۱۱۸, Green: ۱۱۳, Blue:۱۱۳ |
| ۸ | ترجيع بند | ډېر خړ | Color model: RGB, Red: ۹۵, Green: ۵۶, Blue:۵۶ |
| ۹ | ترکيب بند | لږ خړ | Color model: RGB, Red: ۱۷۵, Green: ۱۷۱, Blue:۱۷۱ |
| ۱۰ | تول قافيز | تت پسته يي | Color model: RGB, Red: ۲۲۶, Green: ۲۴۰, Blue:۲۱۷ |
| ۱۱ | دويزه (مثنوي) | تت خړ | Color model: RGB, Red: ۲۰۸, Green: ۲۰۶, Blue:۲۰۶ |
| ۱۲ | يوييز (تک بيتونه) | تت خړ | Color model: RGB, Red: ۲۱۷, Green:۲۱۷, Blue:۲۱۷ |
| ۱۳ | دريز (مثلث) | لږ تت خړ | Color model: RGB, Red: ۱۹۱, Green:۱۹۱, Blue:۱۹۱ |
| ۱۴ | څلوريز (مربع) | لږ خړ | Color model: RGB, Red: ۱۲۷, Green: ۱۲۷, Blue:۱۲۷ |
| ۱۵ | پېنځه ييز (مخمس) | خړنګی | Color model: RGB, Red: ۸۹, Green:۸۹, Blue:۸۹ |
| ۱۶ | شپږيز (مسدس) | لږ خړنګی | Color model: RGB, Red: ٦٤, Green:٦٤, Blue:٦٤ |
| ۱۷ | اوه يز (مسبع) | ډېر خړنګی | Color model: RGB, Red: ۱۳, Green: ۱۳, Blue:۱۳ |
| ۱۸ | اته ييز (مثمن) | تور ته نږدې خړنګی | Color model: RGB, Red: ٤, Green: ٤, Blue:٤ |
| ۱۹ | لسيز (معشر) | خړڅکی | Color model: RGB, Red: ۲۳۰, Green:۲۳۰, Blue:۲۳۰ |
| ۲۰ | څلوريزه(رباعي ) | لږ تت پېکه مالته يي | Color model: RGB, Red: ۲۵۵, Green: ۱۹۸, Blue:۱۸۵ |
| ۲۱ | مقام | نيلي | Color model: RGB, Red: ۵۱, Green:۱۰۲, Blue:۲۵۵ |
| ۲۲ | چاربيته | پسته يي | Color model: RGB, Red:۱٤٦, Green: ۲۰۹, Blue:۸۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۳ | لوبه | تېز شپتلي شين | Color model: RGB, Red:٥١, Green: ١٠٢, Blue:٠ |
| ۲۴ | بدله | اناري | Color model: RGB, Red: ٢٠٤, Green: ٠, Blue:١٠٢ |
| ۲۵ | داستان | سپین څکی ژېړ | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green:٢٢٥, Blue:٢٠٤ |
| ۲۶ | لنډۍ | ګڼ تورڅکی شين | Color model: RGB, Red: ٢٢, Green: ٥٦, Blue:٨٦ |
| ۲۷ | ټپې | خيکري | Color model: RGB, Red: ١١٢, Green: ٠, Blue:٠ |
| ۲۸ | ټیکی | بادامي | Color model: RGB, Red: ٢٥١, Green: ٢٢٩, Blue:٢١٤ |
| ۲۹ | مصرۍ | تت نصواري | Color model: RGB, Red: ١٠٣, Green: ١٠٩, Blue:٤١ |
| ۳۰ | انګی ( چغیان) | فيروزه يي | Color model: RGB, Red: ٠, Green:٢٥٥, Blue:٢٥٥ |
| ۳۱ | بګتۍ | تېز نيلي | Color model: RGB, Red:٥١, Green: ٥١, Blue:٢٠٤ |
| ۳۲ | نیمکۍ (سروکی ، پام) | تت اسماني | Color model: RGB, Red: ١٥٧, Green:١٩٥, Blue:٢٣٠ |
| ۳۳ | پاړکۍ | پوخي | Color model: RGB, Red: ٠, Green:٦٢, Blue:٠ |
| ۳۴ | کاکړۍ | ژېړ | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green:٢١٦, Blue:٥١ |
| ۳۵ | کیسی (شبې) | بنجاني | Color model: RGB, Red: ٢٥٣, Green: ٥١, Blue:٢٥٥ |
| ۳۶ | ایزي | شپتلي | Color model: RGB, Red: ٠, Green: ١٥٣, Blue:٠ |
| ۳۷ | د ښادۍ ناري | تت غوځاني | Color model: RGB, Red: ١٩٧, Green:٩٠, Blue:١٧ |
| ۳۸ | د نکلونو غړونه | اوبښ رنګه | Color model: RGB, Red: ١٩١, Green: ١٤٤, Blue:٠ |
| ۳۹ | د آتڼ ناري | ابره يي | Color model: RGB, Red: ١٣٢, Green: ١٥١, Blue:١٧٦ |
| ۴۰ | بابولالي | ګلابي | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green: ١٠٢, Blue:٢٥٥ |
| ۴۱ | د وړومشاعرې | تېز ګلابي | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green: ٥١, Blue:١٥٣ |
| ۴۲ | منظوم فالونه | غوځاني | Color model: RGB, Red: ١٠٧, Green: ٧١, Blue:٣٥ |
| ۴۳ | تاريخي ناري | پیکه شپتلي شين | Color model: RGB, Red: ١٠٢, Green: ٢٥٥, Blue:١٠٢ |
| ۴۴ | دمروتو کسرونه | تېز ابره يي | Color model: RGB, Red: ١٠٢, Green: ١٠٢, Blue: ١٥٣ |
| ۴۵ | منظوم نکلونه | تت ژېړ | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green: ٢٢٥, Blue:٠ |
| ۴۶ | ۱۶۰ بېلا بېل نور شعرونه | شين | Color model: RGB, Red: ٢٥٥, Green: ٠, Blue:٤٤ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي

وړاندې له دې چې د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي ته ورشم، د مجاویر احمد، محمد اسماعیل او دوست محمد نظرونه به و ګرو چې د ځېړنې سپړنې سره ملتیا کوي. نېغ د دوی نظرونه به په لږ څه بدلون و مومئ، ما په پراخ بڼه څخه ورګډ کړي هغه و ګورئ او لکه څنګه چې دوی لاندې ویلي ,, د دوی لومړۍ مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چې د لنډۍ، ... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ پښېله یا قافیه نه لري، خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه یا ترنګتوک لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ باید د زور,, ه ،، په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي. پای کې دا زور ,, ه ،، رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي.

لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرتولو لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ باندې یوه قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ لومړۍ مسره باید ۹، او دوېیمه ۱۳ څپې وي. د هرې لنډۍ،... . ټپه، ټیکۍ او مصرۍ د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېیمې مسرې څلورمه اتهمه او دوولسمه څپه، خجنه وي لکه:

▲ امانتي مې ګور کې کېږدئ
که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

د دې لنډۍ څپیز- خجیز جوړښت په دې ډول دی:,, دلته یې – د څپو ځای او کچې په ډاګه کړي. چې په لومړۍ مسره کې دوې څپې دي، په دوېیمه مسره کې درې څپې شتون لري. ،،

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

د یوه منظم قانون له مخې د اهنګ لوړوالی او ټېټوالی او د ژبې له غږیز جوړښت سره بشپړ پیوستون، د پښتو ملي او ولسي شاعرۍ ډېره خوندوره کړې ده، له همدې کبله خو دا شاعري زموږ د ولس د موسیقۍ له څپو سره ډېره ښه اوډلتیا مومي او کله چې بیا دا دواړه ښکلي هنرونه سره یوه ځای شي، نو بیا د دردمنو زړونو زنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړې کړې. د پښتو ژبې د شعرونه د څپو د شمېر، د مسرو د څومره والي او څرنګوالي له پلوه یوه له بله بدلون مومي، خو بیا هم د څپیز خجیز جوړښت له مخې پرتولو یوه قانون تطبیقېږي. یانې تر هر دربوو څپو ورسته څلورمه څپه خج (فشار) اخلي.،، (محمد اسمعیل، ۱۳۷۷ ل ل کال، ۷چوپړی ).

,, پښتو لیکوالو بیا هم خوارې ورې هڅې کړې او ادبي فنون، روح ادب، ادب مناره، قافیه، خوږه شپېلۍ، بدیع و بیان، لیتکی، بدیع او د پښتو شعر، ادب په تاریخ کې قصیده، پښتو غزل... په څېنې اثار رامنځته کړل، چې دې هر اثر پر خپل وخت د ځانګړو صنایعو په پېژندنه او سپړنه کې په زړه پورې ونډه واخیسته؛ خو په خپله د پښتو د ولسي او فلکوري شاعرۍ د څانګو او څېلونو د پېژندلو اړتیا ته یې پام لمړنی لیکوال چې د یوې تخصصي او ځانګیزې ( مسلکي) اړتیا په توګه یې د پښتو شعر د رغښت او سکښت اړتیا وانګېرله، هغه د پښتو ژبپوهنې نوښتګر او زیارن اوستاد پوهان ډاکټر مجاور احمد زیار و، چې د شاعرانه او ژبنۍ‌یو ازمېښتونو په رڼا کې یې ,, پښتو شعر څنګه جوړېږي،، نومی اثر رامنځ ته کړ او د خپلې څېړنې، ازمېښتونو له کوچ او نچوړ یې دا را ویستل چې په پښتو شعر کې تر هرو دریو څپو وروسته څلورمه څپه خجنه ( فشاري ) راځي، یوازې په پښتو شعر کې نه، بلکې د ده دا سپړلی دود پر هغو شعري چوکاټونو هم سورې راځي، چې له عربي ژبې نه ورته راغلي دي.

د پوهان زیار دغه نوښتۍ هڅه رښتیا چې د پښتو شعر لرغونې پر موضع د یوه ځانګړي ازمېښت لرونکی اثرو، چې په علمي، څېړنیزه جامه کې پښتو شاعرانو او د شعر مینه والو ته وړاندې شو. تردوی ورسته که څه هم د اروانښاد اوستاد روهي ,, شعر پېژندنه ،، هم د شعر پر تیورۍ او منځپانګه باندې یوه ارزښتناک اثرو، چې د ژوندۍ شاعرۍ او ژمنې شاعرۍ ټک و برید په ګوته کوي. ( د یون د پوهنیارۍ د علمي ردبې لیکي باندې د محمد آصف صمیم د نمانځنې یادونې۱۳۷۷، ۱،۱لېږدی)،، (محمد اسمعیل، ۱۳۷۷ ل ل کال، ۷چوپړی ).

,, د لنډۍ‌یو، ... . ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو بل خصوصیت دا دی چې څلورم سیلابل یوه څپه ( د جملې اکسنټ ) راځي او په دې صورت په لومړۍ برخه کې په څلورم او اتم، په دوهیمه برخه کې په څلورم، اتم او دولسم سلابل څپه راځي.
څپه په خج لرونکي هجا واقع کېږي. له دغه ځایه د لنډۍ، ... . ټپې، ټیکی او مصرۍ لومړی او دوهیم پاړکی هېڅکله په خج لرونکې هجا پای ته نه رسېږي په دغه لنډۍ کې د سلابل او څپې ترسیم وړاندې کېږي:

- که – په – مې – **ونډ** + کې ـ شه – هید – **نه** + شوې
خدای – ږو– لا – **له** + یه – بې – نن – **ګۍ** + ته – دې – سا- **تي-** + نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په هغه صورت کې چې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ یوازې ویل کېږي او که له نیمکۍ سره یوه ځای شي په هغه صورت کې د نیمکۍ له خصوصیت سره سم د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو په څپو کې توپیر راځي او کله له داسي هم ویل کېږي چې کومه څپه په کې نه احساسېږي له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتي کېږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري،،
( دوست محمد ، ۲۰۰۶ زیږدی کال )

,, څپه د هجا یا سیلاب په مانا ده. کله که موږ د مورفیم څخه بحث کوو نو د څپې موضوع حتماً را منځ ته کېږي، ځکه چې څپه د مورفیم یوه جز دی. څپه یا سیلاب ژبنی واحد دی، چې یا یوه خپلواك وی او یا له یوه خپلواك او یوه یا څو بېواکو څخه جوړ وي او په یوه ځایي ډول له خولې څخه را و وځي. لکه : د ,,ابا،، کلمه چې دوې څپې لري، چې لومړی ,ا، یوه څپه یوه خپلواك غږدی او دوېیمه ,با، بله څپه ده، چې له یوه بېواك ,ب، اویوه خپلواك ,ا، څخه جوړه شوې ده او په ګډه سره دواړه یوه مورفیم جوړ وي. که چېرې تجزیه شي بې مانا غږونه یانې اوازونه لاس ته راځي.

خپلواك یا واول اواز د څپې په جوړښت کې رغنده او اساسي رول لري په دې مانا چې پرته له خپلواك اواز څخه څپه نه شي جوړېدی یانې خپلواك اواز د څپې زړی یانې (هسته، منځی) جوړه وي. څپه په دوه ډوله ده:

## ۱۱. ۱ اې (ا، الف). وازه څپه:

هغې څپې ته وایي، چې په خپلواك اواز پای ته رسېدلې وي.
لکه : ابا = άbά، زه = zə، ته = tə، بیا = byά... .

## ۱۱. ۲ بې (ب). تړلې څپه:

هغې څپې ته ویل کېږي، چې په یوه بېواك اواز پای ته رسېدلې وي.
لکه : مور= mor، خور= xor ، کټ = kαt، خپل = xpəl... .،، ( محمد اقا شېرزاد او جمشېد رشیدي ، ۱۳۸۵ل ل کال، ۹ چوپړي).

وازه څپه او تړلې څپه د پښتو ږپیلو د هرې مسرې ( بند، کړۍ یا بیت ) د څپې شمېرلو کې په اسانۍ تول ګڼه څپې په لاس را کوي او څپیز مېچې روغه سپینې ته را اوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱ . ۳ د اوازنو ټيټوالي او لوړوالي کې اوړمنګي شننه

ما ته په دې سپړنه کې تر ټولو ستره نادره او هېښونکي ابېڅې , ه ، په لاس راغله چې ( زموږ خپله ,,ه،، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. لاندې نادره ځانګېړنې لرې.

۱. په دې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصرۍيو انګړ د ريسرچ پانې ( د څېړنې چوپړي) کې د , ه ، ابېڅې ۸۰۴۳۷ وارې راغلې ده.

۲. د مېرمنو په نومونو کې ډېره , ه ، ابېڅې راغلې وي چې که پام و کړو د پښتون پښت اوس مهال ټول ټال ۶۰ مېلیونه تنه نفوس لري، چې له پينځوسو ډېره ګڼه يې د مېرمنو ده، چې تر ۳۰ مېلیونو پورې د میندو، خویندو په ښځینه نومونو کې د , ه ، ابېڅې راځي.

۳. د پښتو ژبې کې ډېر کارېدلی ابېڅی هم د , ه ، ابېڅې ده. چې که پښتو ژبه ۶۰۰۰۰۰ وۍ یا وییکي لرې. نو په ۳۰۰۰۰۰ درې سوه زرو کې چې ما لا له پام تېر کړي. د , ه ، ابېڅې شتون لري.

٤. تر ټولو ډېرې پیبلې (پیرانو، شېرونو، شعرونه یا اشلوک) د پښتو ژبې د , ه ، ابېڅې باندې پښېله (قافيبه) او لړ (رديف) شوي دي. که د , ه ، ابېڅې د هرې وییکي له بېل بېل ابېڅې و منو نو د , ه ، ابېڅی په کې لړ (رديف) راځي. لکه وینه، دینه، شینه، ځینه، بینه په د غو وییې پښېلې کې د , ه ، ابېڅې لړ ده. یا قافيي دي چې د ه رديف لري. لړ (رديف) داسي تعريف کوو چې هغه غونډلې، وییکي ( ویوکي یا وۍ) او ابېڅې چې په ټول او ټله برابر یا مقفي شعر په پای کې د ټولو قافيه والو مسرو په یوه بڼه او یوه مانا تکرار راځي ورته رديف وایو.

۵. د پښتو ژبې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ یوازې د , ه ، ابېڅی په پای کې وار په ورار ترښتې راځي. سندريزه، سازېينه، یا اهنګينه کلمه لري، چې د دوی ټولو غبر بشپړوي. چې ګڼه يې تر ۲۱۹،۱۵۷.۰۰ لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصرۍيو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د , ه ، ابېڅي غږ د انسان له نس د منځي یا ثقل مرکز نو دننه ګېډې نه پیل کېږي چې د ټول تن له رګونو او تشوځاینو یا واکیولونو څخه د سر پای، د پوندو له پیل څخه زور را اخلي او له خولې څخه باندې وزي، عملي بېه يې: تاسو په خپله د , ه ، ابېڅي و وایئ؟ پېنځه وارې , ه ، و وایئ. لکه : هې بیا يې و وایئ , ه ، هې

تاسو ځېر شوئ چې د نس مو راټول او ټول شو. او د , ه ، له پاره يې هوا را ټوله کړه ترڅو پورې هې , ه ، خپل غږ پوره را و باسي او له نورو ابېڅو سره يې تو پېر و شي. خود به په دې کوشنۍ هې , ه ، کې دومره بډایه توکې وي. چې د تن له ټولو غړو او غدو، رګونو، واکیولونو، زړه، ټټر او له ستوني خوږ راځي چې د بدن د ټولو غړو ملاتړ ورسره شتون لري، چې هر سومره مینه تاثیر په کې ور ګډ کړي. هغه د باندې را څرګند وي. د دې له پاره لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دومره سرغندوي، هېښنده، ګڼلې، خوږې، غښتلې، پیاوړې، سپېڅلې او څرګندې... . دي.

زموږ نیکونو ورته داسي غږېز ابېڅی سټه ټاکلې ده. چې په پای د هر یوې لنډې، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې راځې.

د دنیا په ټولو ژبو کې ځکه دومره خوږ او پیاوړي شعرونه شتون نه لري چې

په لنډو مانا وو، کې دې ډېرې ماناوې خوږ تاثیر د دې بڼه شعرو ته ورته په کې شتون و لري.

٦. د غږېز رغښت یا غږی يې روغ دی. لکه د
( امریکایانو ریم، Rhyme:* Rip,Sip,Lip. )

۷. په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې کوشنۍ , ه ، د دوبیمي مسرې یا نیم بیت پای کې، یا وروستاړی يې د څرکنده هې , ه ، لکه: غرمه، سترګه، پانه، ګوته، لښته، غونچه، درومه، پومبه، پوندانه، زره، دوره، هنداره، هېنډه، خېرمه... .
او زورکی , ه ، : چاړه، ویاله، خوله، تره، ترله؛ زړه، نیکه، پسه، لیوه، خوله، کولمه، پېنځه، اېنده... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستاړي غږ ډېر لږ دی، او روغ هم دمره نه راځي په کې.
که وي د هېڅ په ګڼه شتون لري. یوازې د هي , ه ، ابېځی په پای کې وار په وار ترېښتې راځي. سندرېېزه، سازېینه، یا اهنګینه کلمه لري غږلرونکې هي , ه ، راوړل کیږي. لکه:

۷. ۱. ونه - wanā: (څرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه.

۷. ۲. ینه - inā: ( څرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه.

۷. ۳. زوزکی - nā: (نون زور و لري یا رښتې پښېلې هې ,, ه ،، څخه مخکې ابېځه نې ,, ن ،، زور و لري) نه.

۷. ٤. زورکی مه – mā ( manā منه مجهوله هې) مه.

۷. ٥. زورکی , ه یا ــه ،: tralə, xwalə, maγolə, xpalə ( ترله، خوله، مغوله، خپله، اوربله، دړه، ) ډېرې لږې شتون لري.

۷. ٦. زورواله هې (زور) , ه یا ــه ،: baxtawarā, aṛ, arā, kaftarā, zargarā, konatawarā (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري.

۸. موږ هېڅ وخت کې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې کوشنی , ه ، د دوبیمې مسرې یا نیم بیت پای کې ، یا وروستاړی یې د څرکنده , ه ، په الف یا ا باندې نه شو اړولی. کره او خوږ غږی روغ نه راځي او داسې لوستل روغه نه ده. لکه: ونا، ینا، نا، ما، ترلا، مغولا، خپلا، خولا... .

۹. د اې ,الف یا ا، ټول غږ له تالو څخه راوځي، ټول په خوله کې رغیږي چې خوله ورسره خلاسیږي او هوا پاس په تالو رغیږي، لکه ا، آ، آـ آ . خو د , ه ، رغښت بیا له ګېډې یا نس څخه پیل کیږي. چې , ا، دومره ښه او روغ نه لوستل کیږي، ښه هم نه راځي. د الف غږ لوستل روغ کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې ځپه، سپلاب، هجا ( سیلیبل Syllable):
د ابېځو شمېرلو ته وایي، د آوازونو هغه ډلې ته وایي چې د ساه (تنفس) په یوه وار بندېز سره رغول کېږي. هر کله چې د یوې کلمې، غونډلې، جملې، وۍ د رغولو یا اداکولو په وخت کې ځنډ او پرېکړې راشي، دغو پرېکړو ګنې ته ځپه وایي.
ځپې د آوازونو د بندښت له مخې له یوه بل بېل پېژندل کېږي. په بله وینا د یوې کلمې د ځپو شمېر د هغې کلمې د غړونو په ګڼې پورې تړلې دي.
لکه :

۱۰. ۱. یوه ځپه یا هجا: زه، ته، چې، د، وو، دی، دي، شي، وي، و، لار، تار، مار، لښ... .

۱۰. ۲. دوې سیلابه: څلېر، دد، دود، ترېلی، کښل، کتمل، غوړګه، اوبړۍ، دنیا، نانا، ماما، کاکا، لالا، ملا، لیلا، نڅا، خندا، ژړا، پښت، منج، ډییک، بوږم، اوډون، شېر(شعر)، لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، مصرۍ... .

۱۰. ۳. درې ځپیزه یا درې سیلابیزه: غوړاسکی، میرځمن، ایللی ( سپین رنګه بوټی دی، چې دنیا (ګشنیز) ته ورته پاڼې کوي)، نارکبل، بارړه( با-ره-ړه)، سرګړی، سپېرکی، مړوندی، شاه خورک ( اوبه نه لري، او ۳۰ سانتي ونه لري)، ګنډیری، کرونده، خواریکښ، پوهنمل، مرستو، هېروون، فردوس، ځمکسمون، ځمکواکی، ټانټورۍ... .

۱۰. ٤. څلور سیلابیزه: د وزې ګېره ( د بوټي نوم دی)، ناناایللی ( شین رنګ بوټی دی په شړومبو کې یې هم ګډوې، ایللی بیا سپین رنګه بوټی دی، د دواړو توپیر همدا دی)، شړومبې، ترنجبېل، سیلابیزه، څلوریزه، لوستلیکی، لاسلیکول، مخبېلګه، ټولوژنه، ټولپوښتنه، ترینکوټ، لرغونتوکي، اکاخیله، تره خیل، جیجیونتې، ټبوټبوک، ځینګوړا، تورتېیلی، پانګواکي، اړیوییکي، کتنپلاوی، مېکاییل، میخاییل... .

۱۰. ٥. پېنځه سیلابیزه: وړاندېینه، وړاندوینه، ځړغېنځښت، وییپوهنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادمشر، ژبپوهنيز، ازبېکپستان، انترکتيکا، څوارلسمه، پينځه پنځوس، ويکيپېډيا، اکپککوونکې... .

۱۰. ۶. شپږ ځپيزه: څلورڅلوېښت، شپږسيلابيزه، ځمککچپوهنه... .

۱۱. زورنه، خج، اکسنټ [ لفظ، د موسيقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه ( چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، اوږدوالی، څه رنګوالی يا کيفيت ښه يي): ټينګه ( لهجه): تاکيد: بيلوونکی نښه: د وينا ( ځانګړی، خاص، بېل ډول. :Accent, Morphemel ]: د غږونو لنډې غوندې سلسلې ته وايي ) او د غږونو تسلسل بيا بيا تکراريږي خو ټول تکرارېدونکي تسلسلات مورفيم نه وي. په پښتو ژبه کې ځينې وخت په يوه نيم حرکت باندې د آوز ډېره زوزنه ( فشار) راځي، چې هغه ته زورنه وايي. د زورنې په راتلو د يوې کلمې مانا له بلې څخه توپير کوي لکه دا لاندې جملې:

۱۱. ۱. **ښ**ـکاري (څرګنديږي): زورنه په ښې ابېڅې باندې په لومړی ځپه کې.

۱۱. ۲. ښـکاري (ښکارکونکی): زورنه په رې ابېڅې باندې په پاينی ځپه کې.

۱۱. ۳. **و**اړه (ټول، ګرسره): زورنه په وې ابېڅې باندې په لومړی ځپه کې.

۱۱. ٤. واړ**ه** (کوشنيان، کوچنيان، زوزان، زوزات): زورنه په هې ابېڅې باندې په پاينی ځپه کې.

۱۱. ٥. تـېره (پخوا): زورنه په تې ابېڅې باندې په لومړی ځپه کې.

۱۱. ٦. تېر**ه** (تېز): زورنه په هې ابېڅې باندې په پاينی ځپه کې.

۱۱. ۷. **پ**ـرې (پرې د پښويې ترښتی دی. لکه : تاسو پرې پام کوئ): زورنه په پې ابېڅې باندې ده.

۱۱. ۸. پر**ې** (غوځ، جلا، اېسته. لکه : پياز دې پرې کړه.): زورنه په ې ابېڅې باندې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. زورنه (خج، فشار، اکسینټ) په لاندې غونډ (کلېمو) یا وییکیو کې ولولئ. چې زورنه په کومه څپه کې راځي هغه پیړ شوي ( ډبل شوي. «بولډ») دي او پاتې نور ابېڅې او څپې سپک یا کم، لږ، کښته، تنزیل آواز لري، schwa sound.

۱۲. ۱. هجـړا
۱۲. ۲. هډ**پوه**
۱۲. ۳. هډ**تړ** (اسکېټ)
۱۲. ٤. هـ**ړاند** (لالهاند)
۱۲. ٥. هړ**پی** (صندق، بکس)
۱۲. ٦. همـ**انـ**دی (هماندی، همفکره، ورته فکرلرونکی)
۱۲. ۷. همـ**بول**(همسندری)
۱۲. ۸. **همـ**پېړی (هممهالی، همدوره،همعصری معاصر)
۱۲. ۹. همځنـ**ګ** (همپوړی، انډیوال)
۱۲. ۱۰. هوا**وېـ**چې (هوایي لیکې)
۱۲. ۱۱. **هو**بله (وزله، وسیله، چاره)
۱۲. ۱۲. **هېـښـ**ـمې ( زما د نثرونو نابشپړ کتاب نوم دی، مانا یې د ناڅاپي تورې وربځې، هېښمه یې مفرده وی د چې ناڅاپي توره وربځ ته وایي پښتو ژبه کې.)
۱۲. ۱۳. هانـ**دو**هڅه
۱۲. ۱٤. همبنـ**دا**ړی (همبزمه، همجلسی)
۱۲. ۱٥. هـ**تو**ځی (بازار)
۱۲. ۱٦. **پیـ**از
۱۲. ۱۷. **چا**کلیټ
۱۲. ۱۸. **زر**دکه
۱۲. ۱۹. **لیـ**مو
۱۲. ۲۰. جا**نا**ن
۱۲. ۲۱. پـ**لار**
۱۲. ۲۲. **مور**
۱۲. ۲۳. هېـ**واد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. ۲٤. سرخ**ندنه**
۱۲. ۲۵. س**یا**ست

په پورتنۍیو ویوکییو کې ځرګنده شوه چې زورنه له هرې درې ځپو ځخه ورسته نه راځي، بېل بېل ځایونه کې راځي. د لوستلو په دوران یې توپر هم په غونډلو کې همداسې وي، په همدې سته لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ هره مېسره چې د پښتو د لرغونو آریایانو د سندرو وزن دی همداسې ساتي، تر اوسه پورې لنډۍیو، ټپو، ټېکیو او مصرۍیو همدغه ځانګړتیا ساتلې ده، یانې د شعر وزن د ځپې (فشار ـ اکسینټ) او د هجاوو (سیلابونو) په اساس بېلا بېل دي. د هرې وۍ چې په کومه بڼه لوستل کېږي په همغه بڼه کې لوستل کېږي.

په پښتو ژبه کې موږ دوې د اواز پورته والی او ښکته والی (په خبروکې)، تلحین یا د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي بېلګې لرو. ( په زوره ږغېدونکی)، د غږونو د لوړ والي او غږونو د لوړ والي غورځېدونکي.
لکه ازان او تکبیر چې ۱۴۰۰ کاله کېږي د دې پېیلو په اواز پل ګډ کړ، د دواړو ترمنځ په اوازونو کې بېلوالی شتون لري خوند او سور لري خو غونډلې یې ورته دي سره.
د پېیلو د منځپانګې ډولونه د ټاټوبي ټنګټکور او پېیلي کښلي کې و ګورۍ.
,, د پښتو ژبې ټول ګړنې او لیکني پېلې د سکالو له مخې په ۲۶ ډوله دي،،
( صفي الله، ۱۴۰۰ لیږدی، ۱۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. ۴ غبرونو د لوړوالي غورځېدونکي د اواز پورته والی او ښکته والی:

دا تر ټولو پراخه د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي ( په زوره رغېدونکی) په پښتو ژبه کې او په ساده څرګندولو غونډلو کې، د امر او پوښتنې باندې چې په ولي وی باندې راځي: لکه داسې نور، کوم وخت، کوم یوه او په کومه بڼه. ډېری وخت دغه د سپل په بڼه د فاعل د منلو له پاره کارول کېږي.

څرګند مصری و لي.

څرګند ټپې وایي؟

## ۱۱. ۵ غبرونو د لوړوالي د اواز پورته والی او ښکته والی:

دا تر ټولو پراخه په زوره رغېدونکی د پوښتنې هو او نه په ځواب کې راځي، او ځینې پېر د ورستاړي پوښتنې کې راځي. غبرونو د لوړ والي د اواز پورته والی او ښکته والی برخه کې
په بشپېره تو ګه د ګمان له عملي فاعل سره راځي.

د څرګند لنډی خوښېږي؟

## ۱۱. ۶ د اواز پورته والی او ښکته والی په لړ شویو غونډلو کې:

د اواز پورته والی اوښکته والی په هره غونډله کې پورته کېږي، تر هغو پورې چې په ورستی غونډله کې بیا اوز د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي د لوړوالي غورځېدونکي په بڼه کېږي.

په ښادیو کې، مېرمنې ټیکی ولـــي، ټیکی یادوي او د ناوې ستاینې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. ۷ د اواز پورته والی او ښکته والی په ورستاړي پوښتنو کې:

په ورستاړي پوښتنو کې ځیني پېر (وخت) د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي د غږونو د لوړ والي په بڼه کېږي؛

او کله د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي د لوړ والي غورځېدونکي په بڼه کېږي. چې د ډاډمنتیا پورې اړه لري. د اواز پورته والی او ښکته والی د غږونو د لوړ والي غورځېدونکي په برخه کې داسې څرګندېږي چې غږېدونکی ته معلومات وي خو مازې خپله پوښتنه تصویب کوي.

د اواز پورته والی او ښکته والی د غږونو لوړ والي په برخه کې داسې څرګندېږي چې غږېدونکی ته معلومات هېڅ نه وي او د پوښتنې په لټه کې وي.


څرګند د ټیکیو مینوال دی، ایا هغه نه دی؟


څرګند د ټیکیو مینوال دی، ایا هغه نه دی؟

## ۱۱. ۸ د اواز پورته والی او ښکته والی د خوښونې پوښتنو کې:

ځیني پوښتنو ته ځواب ورکول کېږي په ټاکلو کې، چې په منځ د دوې غونډلو کې راځي لکه ترښتي. د لومړۍ غونډلې پوښتنې، د اوازنو ټېټوالي او لوړوالي د غږونو د لوړ والي په بڼه کېږي چې پر هو نه ځوابېږي. د دوېیمې غونډلې پوښتنې کې د اواز پورته والی او ښکته والی د غږونو د لوړ والي غورځېدونکي په بڼه کېږي.

زده کړه داسې ښایي چې دا به وګړېیزه پایله رغوي. دلته ډېری په له هرو درېو څپو څخه ورسته څلورمه زورنه ( زور، فشار، خجنه) نه اخلي، ما دا د سندر غاړو له غږیو او غږونو د زورنې چې په غونډله کې مې ډبل کړی دی، لړ پېړ ښکارېږي ( بولډ کړی دی هغه ابېځی چې پرې زورنه راغلې، او سندرغاړو په کې زورنه کړې). چې دوی یې د څپې په زورنه (خج یا فشار) کې چې ډېر زور ورکړی دی. په لاندې بڼه دی.

دلته د لا ډېرې باریکي له پاره که د وییکو، وی کې ځېر شو چې په کومه برخه کې زورنه ورکول کېږي او راځي.: لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ**
ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

د هیواد سرغندوي تکړه هېښنده محلي سندرغاړي شاه ګل او ملاګی اوستاد د لغمان میوزیک بشیر رسټورانټ له خوا ښخه یې خپرې کړې.

▲ نصیب تقدیر ته ګناه نه شته

یه!؛ بخت چې کوته شي تندی سل ټکري خورینه

▲ منډې مې ډېرې پسې و کړې

ورځ د ازل کې جدایي لیکلې ونه

اینځری اوستاد ( د هیواد تکړه هېښنده بنجوماری او سندرغاړی )

▲ وی!؛ خلک د کال مړي ته جاړي

ما په ژوندي جانان کمر را و شکونه

شهریار کوچی

▲ زړګی مې دسې راته وایي

چې په دا ناستو خلکو و شینده ګلونه

د مهترلام سرغندوی (مخکښ) بنجو ماری

▲ د عشق اور به مې مړ نه شي

او!؛ که له جامو سره دریاب ته ودانګمه؛ نو وی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**

ځېرنــــــــــــــچوپیري ( ریســـــــــــرچ پاڼې)

▲ ځوانان **خو** هر ځای **کې** وسیږي

د **لمپاکا** په شان ځوانان به چېرته **وینه**

▲ ای!؛ ګـنو ژنـو میرخمنو

څنې له څـنډو سازوۍ خندا راځینه

ای – ګ – نو- **ژ** + نو- میر – خ- **م** + نو

څ – نې – له - **څن** + ډو- سا – ز – **وۍ** + خن - دا – را- **ځي** + نه

د مهترلام سرغندوی سندر غاړی قاري لغمانی اوستاد او سید احمد اوستاد

▲ له دې خوارې اواز د زار **شمه**

وایي خو **ته** خو **مزه** ماته را**کوینه**

▲ هلکه تورې جامې و کړه

تورې جامې درسره **ډېرې** خوند **کوینه**

بنګی او بریالی

▲ په زړه مې **خاورې** کوټنۍ شوې

اغزې پرې شنه **شو** اوس مې خوب **ته** نه پرېږ**دینه**

▲ **او**!؛ مبار**کې** راکړۍ **علمه**؛ وۍ

چې پرې مین **وم** ترې چارپېر **مې** کړه **لاسونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خوار دې پيدا کړم خوار **به** مړ **شم**
د ارمانو**نو** ډک زړګى **به** ګور ته وړ**مه**

▲ په مرګ **خو** مرم **نه** پاتې کېږم؛ **اشنا**
ګور ته **به** وبسم **ستا** رټلي جوا**بونه**

د هېواد سرغندوى تکړه هېبنده انقلابي سندرغاړى عبدالله مقرى

▲ څو**مره** په **مينـه** **او** کې **با**تور **يمه**
د **دار** په سر **مې** خېږوي **نو** تا **يا**دو**مه**، **جان**

د هېواد سرغندوى تکړه هېبنده د شرق الماس خوږغږي او خوږ سندرغاړى احمد ظاهر

▲ په کلا**ګى** کفتـرې ناستې
يوه يې وېشـ**تل** کړې بل **يې** غېشي ور **کوينه**

د هېواد سرغندوى تکړه هېبنده اوستاد د افغانستان راډيو تلويزيو ښاګلي نوموتي خوږغږي او خوږ سندرغاړى پينده محمد منګل

▲ ما سره **سمه** سيالي **مه** کړه
زه **لغمانى** يم خر په **ونه** خېږومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲. دفتنګونه

دفتنګونه ( الیده، اضافه، سرباري او اوسترباري) غونډلې یا کلمې دي چې سندره (اهنګ؛ ترنګتوک؛) یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه (غبرګغږونه یا واکه مرکب ) هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوځي د یوه غبرګغږ. لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه (غبرګغږونه) ناټروییکي، ټروییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای. نو، الله، او، کنه!، یه کربانه!، یه ښنتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې... .

په پورتنۍیو لنډۍیو، ټپو او مصرۍیو څخه څېړنه او سپړنه دا هم سپینې ته را باسې.

۱. په لومړۍ ټپه کې ,, یه ،، په دوېیمه ټپه کې ,, وۍ ،، او په پینځمه ټپه کې ,, اشنا،، دفتنګونه (پارنویکي... . ټول په لنډېیرې ښه په غبرګغږونو یادو) دي.
۲. په دوېیمه لنډۍ کې ,, او،، او ,, نو وۍ!!،، او په پینځمه لنډۍ کې ,, او،، او په شپېړمه لنډۍ کې د هېواد سرغندوی تکړه هېښنده انقلابي سندرغاړی عبدالله مقری هم د لومړۍ مسرې په منځ کې د ,, او،، او په دوېیمه مسره کې ,, جان،، دفتنګونه د ډېر خوږ والي له پاره ویلي دي. په لاندې دوې لنډۍیو کې هم راوړل شوي دي.

چې دا او دې ته ورته دفتنګونه میاروښان نه منل او اخوندرویزه منل. چې پردې اړه پخوا میر روښان یا پیر روښان (میا روښان، اخون روښان، بایزید روښان، انصاري روښان، مسکین، اورمړ، بایزید انصاري، بازید ) له مخزن اسلام لیکونکي سره کلک د نیتونو جګړي کړي دي، چې دا دفتنګونه میاروښان لري کړي او نه یې مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یا الله!؛ مسافرۍ ته خفه نه یم
خفه په دې یم چې مرګی غوټې وهینه

- وی!؛ که یارانه نه کړې جانانه
داسي خو مه وایه چې نه دې پېژنمه

په دې لنډۍ یو کې ,, یا الله!،، او په دوېیمه کې ,, وی ،، دفتنګونه دي، خو له لرغونو زمانو څخه دې برخې هم شتون لره، اوس هم همداسې پالل کېږي. ,, حالنامه د پیروښان کتاب کې د ده ځیني شعرونه، ژوند او د روښاني غورځنګ د غړو، د ده د کورنۍ او د مخالفینو له لورې چې پښتني شوي دي، د هغې ځوابونه او بشپړ معلومات شته دي، چې د کندهاري ابوبکر زوی علي محمد کنداري ترتیب کړی دی. له دې سربېره د رسم الخط پښتو: چې د پښتو ژبې ځانګړي تکي یې په پښتو لیکدود له پاره ټاکلي وو ،،
(شهسوار، ۱۳۹۱ ل ل کال، ۱۵۲چوپړی)

په همدې کتاب کې د افضل خان ختګ له خولې څخه چې د سید علي ترمزي ( پیربابا) مرید اخوند درویزه د مخزن اسلام یا مخزن اسرار کې کښلې دي او اخوندروېزه په لغمان کې ژوندګړ و او لوی شوی و، له دې ځایه پېښور ته تللی و، چې اخون هغه څوک و چې له پیر روښان سره یې د مغلو او سید علي ترمزي ( پیر بابا) په لمسون دښمني درلودله. په ۱۵۸۵ زېږدي یا ۱۰۰۴ لېږدي نه وړاندې.

زما یې له جګړو او نیتونو سره کار نه شته خو د یوې خبره چې له لغمان څخه اخوندروېزه هلته پېښور ته تللی و که اخون تورک یا مغول و،
خو په لغمان کې لوی شوی او ستر شوی و نو ځکه یې په دغو دفتنګونو چې پیروښان نه منل یوه نقد همدا کوه پري او د پښتو ژبې لغمانۍ یو په اړه یې بشپړه پوهه در لودله، ,, اخوند درویزه بابا په اصل کې تورک و (تذکرة الابرار والاشرار ۱۴۰ چوپړی)، د دوی نیکونه کې چې لومړی سړی د لغمان نه ننګرهار ته راغلی و، د هغه نوم جیون بن جنتی و، د پلار له ډډې تاجک تورک و او د مور له له اړخه د سلاطین بلخ سره تړلی و، په مهمندزو کې دېره شوه... .،،
(اخوند درویزه رحمة الله علیه، مخزن، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، د مطبوعاتو سلسلې ګڼه یې ۳۳، فیبروري ۱۹۴۹ زېږدی، چوپړی ب).

د افغانستان د علومو اکېډمي کتابتون کې یې ګڼه ۳۱۳ ده د مخزن او ټول ۲۱۶ چوپړي دی چې ما لوستلی دی، قلمي نخسه یې هم د علومو اکېډمي کتابتون کې شتون لري. د وخت حاکم ظاهېرالدین بابر ښې ډېرې اورېدیلي دي لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرۍ چې لغمانۍ يې هم په خپلو بابري حکمرانۍ ليکي کې ترې يادونه کړي ده. ( د تاريخ مرصع د افضل خان ختټک او شهسوار سنګروال همغه تارېخي څېړني، او د ظهېرالدين بابر بابري کتاب له بېلابېلو چوپړو څخه).
اخوند چې د پيروښان خيارالبيان کتاب,, يوه نخسه يې د جرمني په ټيوبنګن پوهنتون کې شته ده ،، يې په شر البيان ياد کړه او نقدونه يې پرې په ۹۸۷ لېږدي کلونو کې و کړه، پير تاريک يې بللی و. ,, مقفي يا مسجع نثرونه: هغه نثرونه دي چې ليکوال په کې وزن او مسجع لرونکي کلمې د شعر د قافيو په څېر کاروي.

چې په درې او فارسي ژبه کې بېلګې د خواجه عبدالله مناجاتونه او د شيخ سعدي د ګلستان حکايتونه دي. په پښتو ژبه کې يې ډېرې ښې بېلګې د بايدزيد روښان ,, خيارالبيان،، او د اخوند درويزه ,, مخزن اسلام،، بللی شو.،، (سيد محی الدين ۱۳۸۶ لېږدی، ۴۶چوپړی).

,, ... . لنډۍ يو بل مزيت هم لري، هغه دا دی چې مرجع يا په بل عبارت سره کسر يا سرور سره جوړه کړي او وروسته لنډۍ پسې ويل کېږي.
داسې لنډۍ اکثره پښتانه پر لارې يا په اتڼ کې وايي، همدغه لنډۍ او مرجع د پښتنو او پښتو د شعر په اقسامو کې خورا لوړ مقام لري، د لنډۍيو په وزن يا په بل عبارت په سيلابو کې د وزن د بدلېدو په وخت کې ځينې زياتي حروف لکه: وا، وا، واو، هی هی، هاهو، وی، واه او نور لوېږي ياني که څوک وغواړې چې لنډۍ پر خپله مخصوصه لهجه يا پر خپل مخصوص وزن و وايي، ياني د پښتنو د بلې ډلې پر وزن وايي پر دوه ډوله ويل کېدای شي.

يوه دا چې دغه پورته کليمات د لنډۍ د سېلابو په منځ کې ورواچوي، دوېيم دا چې د لنډۍ د لومړۍ مسرۍ يا د منځ يا د اورستۍ مسرۍ کلمې سره مکرري و وايي.
يوه رقم لنډۍ داسې ويل کېږي چې مرجع او کسر نه لري، فقط يوازې، يوازې د لنډۍ په سر سر کې يوه د , ها ، کلمه ورلوېږي او لومړۍ مسرۍ يوه وار او دوېيمه مسرۍ دوې وار ويله کېږي:

▲ ها!، تر تا دي غم لا وفادار دی
ته کله، کله غم دې تل، راسره وينه

بل قسم لنډۍ داسې ويل کېږي چې يوه مرجع لري او د , وا وا وا ، کلمات په کې ورلوېږي او ګډېږي. لومړۍ مسرۍ سره د دوېيمې مسرۍ نيمه برخه يوه ځای کېږي او ويل کېږي. د دوېيمې مسرۍ پاته نيمه برخه د مرجع سره يوه ځای يوه وار ويل کېږي لکه دا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ پر منځ د اسمان راغله، وا
بې یاره خوب، وا، نه شته که ما له نه راځینه

بل قسم دا ده چې کسرر او پوره مرجع وراچول کېږي او په سروز کې ویلی کېږي. اول د لنډۍ مسرۍ دوه واره وایي او , یاره، کلمه ورسره زیاتېږي. د دوېیمې مسرۍ سره د مرجع د لومړۍ مسرۍ سره یوه وار وایي او د مرجع دوېیمه مسرۍ د مرجع د لومړۍ مسرۍ سره یوه ځای ویله کېږي لکه دا:

که مې ته روغ لېونی نه کړې یاره
که مې ته روغ لېونی نه کړې یاره
نو مې د بنګو پیاله مه بوله مینه
مازیګری دی بنګــی زانګـي
چېته د خیاله زنګېده چې بنګی شوله
مازیګری دی بنګـــی زانګـــي ،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، د او هـ چوپړی)

یادونه: بلن غونډلې ( یا ندایه او ځوابیه غونډلې) لکه: یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، کنه، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې.
,, داسې نور وییکي او پوښتنو مځري هم نیمګړې یا لنډ کړ شوې غونډلې دي، هغه هم د خبرو اترو او ډیالوګ په بهېر کې لکه چې یوه و وایي: ته ناروغ یې؟ بل داسې ځواب و وایي: هو، نه، ولې، څنګه؟ او داسې نور ،، ( مجاویر احمد زیار، ۱۳۸۲ ، ۱۴۲ چوپړی)

پارنوییکي، بلن وییکي... . د نومونې پازه نه لري او بېلابېلو ځانګړو ننګېرنو څرګندونه کوي. پارنوییکي لکه: د خوښۍ ( واخ، وخ، اوخ... .) یا د خپګان، خواشینی یا اندېښنې او درد ( وای، وی، وي، وئ، وی، آه، اوه، وش، هئ شو، الا، هله ... .) او داسې نور هیېجاي چغې، سورې او اوزونه.

بلنوییکي د څارویو، ژویو او مرغانو د بلنې او هڅونې یا رټنې او شړنې له پاره راځي لکه: اوښه!، اخه!، کشې!، ټغه!، ډرې!، کچ کچ! کورې!، ورکیش!، پیش پیش!، خخخخ... خې!، څکڅک!، کورکور ( خرو ته)، ډیو ډیو ( کوکیو او غوییو ته)، نتخه نتخه... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر انګیوییکي یا انګینومونه لږو ډېر د نوموني پازه تر سره کوي، لکه : بغ، بم، بو، غر، ګر او داسې نور بې مانا اوازونه چې د طبیعي پېښو په بڼه له خولې راوځي، په دوي کې ځېنو د آرو ژبنیو توکونو ( ځیزمونو ) ارزښت هم پیدا کړی وي لکه: درز، غرز... ( د غورځېدو اوازونه)، درب، درب، ډب، ډوب... . ( د وهنې اوزونه) او داسې نور ( د ځیز نوم ډولونه دې هم وکتل شي). ( لودین، زېرى، ۴۳ ګڼه ۱۳۵۱ ل) ، ( زیار، ۱۳۸۲ ل، ۱۴۶ چوپړی)

د پښویې له پامه: ,, نو ،، یوه اړیکوییکي دي، Conjunction لکه: ځکه چې ناروغ وم، نو درمل مې و خوړل یا که ته راشې، نو زه به هم راشم. ( نو: اړیکوییکی دی چې د اړوتې غونډلې په سر کې د که په وړاندې هم راځې لکه: که شمال نه وي- نو ونه نه ښوري. یا که ته راشې – نو زه به درشم.) او په ورته بڼه په توسنې غبرګغونډله کې: لکه تا بللی وم، (نو) ځکه راغلم.
,, و،، او ,, او ،، تړوییکي: د عطف توري دي: لکه کاکا او ماما، خور او ورور، زه او ته، ترور او ترېله، اینګور او نږندې، ښه او بد. یا ( او، و : تړوییکي دي چې دوه توکونه ( ویي- غونډلې ) سره ملګرې کوي.) او په همدې بڼه چې، که، هم، او، و... یووستوي اړیکوییکي دي.
که او یا ناتړوییکي :

یا به دې زلفې کمر بند کړم
یا به مې سر د غرغرې شمال وهینه

,, په، ته، د او سره ،، ستربل دي. لکه: په کور کې، ته مخامخ، ته ورته، ته درناوړ . د ده، د پردو، د شپې، د غرمنۍ، د ورځې، تر لغمانه پورې، تر مېز لاندې، له ننګرهاره، په ګیدړ په سې، تر تا څخه زه ښه یم.
په لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کې چې لومړی مېسره یې نهه سیلابه ده او دوېیمه مېسره دیارلس سیلابه ده په دفتنګونو او پارنوییکړ باندې یې سپلابونه هم یوه، دوې، درې او یا ځلور سیلابه ډېرېږي، چې د سرغندوي سندرغړو په خپلو اوزونو کې ویلي دي، چې منل شوی اصلي بڼې په تول کې ډېر والی راولي، خو د دوی خوږوالی لاپیاوړی کوي او اوریدونکي پرته له تیندکه څخه دا تول منې. دا تول هم د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو توکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. لوړ د پلورلو وړ

لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ تر ټولو شعرونو لوړ د پلورلو وړ شعرونه دي، ځکه چې سندر غاړي ډېرى په دې شعرونو نوموتي شوي دي، کوښښ ډېر کوي چې په مينه او خوند دا سندرې و وايي. ځکه تر ډېره خوندورې دي، اوربېدونکو ته خوند ورکوي، په خواږه ساز او اوز سمبالېږي، د موسيقۍ رغول يې د هرې موسيقۍ د الې غږونکي زده وي، د دوى د کمپوز رغښت هم اسانه دى، د باندنيو هېوادونو او ډېرى ګاونډي همبول ( همسندرې)، تل له افغانو سندر غاړو په روسيه، جرمني، هند، امريکا، فرانسه، اېنګلېستان، پاکستان، تاجکستان، تورکيه، قزاقستان او ازبېکستان کې غوښتې او وړاندېزونه ورته شوي چې له دوى سره په غبرګو غږونو اوازونه سره جوړه کړي چې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ وايي سره.

په روانه عصري موسيقۍ په ډګر کې راته زما خپنوتې ( خپنې لنډې) خاوند اجمل اميد د محمدعثمان د زوى د ننګرهار د بهسودو ولسولۍ ويلې و، چې ماته دې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ راکړه زما له دوى سره ډېره مينه ده، ډېرې مې خوښېږي او تود بازار هم لري.

تر ډېره چې ما وګړي ليدلي او ماته څرګنده ده، ټول ځوانان چې په مجلسونو کې په لومړي ځل سندرې پيل کوي، نو هغه يا لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ وايي.
په پښتنو کې مجلسو نو کې لومړى په همدغو شعرونو باندې خلک همبول کېږي.

په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ باندې الګان نوم وتي شوي وي. او له شوکه يوه يا دوې له دوى څخه په مجلسونو کې ولې.

په دې دومره کچې نوموړو شعرونه چې ما د سندرغاړو او نورو وګړو راخپستې، ډېريو يې په لسو دانو ۱۰ لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو باندې ستر سندرغاړي جوړ شوي دي. په وار وار ترې تکراراً همدغه لس دانې چې هر يوه سندر غاړې ته خوښې وي، هغه ترې په هر بېل مجلس کې ويل کېږي، ځکه همغو خوښکړل شويو يې په زهن او خوله کې ځاى موندلى وي.

که چېره يوه تن ښه خوږ غږ و لري او په مينه باندې، هغه مينه چې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ يې ترې غواړي و وايي، نو غوره سندرغاړى ترې جوړېږي، د دې له پاره چې هر ډېرى کسانو ته په نوموړي ډګر کې همدغو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ پېيل ورښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**
ځېرنـــــــــچوپړي ( ريســــــــــرچ پاڼې)

تر ډېره پورې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کتابونو او د دوی په لټه کې هر وګړی وي چې وايي خلي، ښه غوره والی او ځه رنګوالی لري چې د غوښتنو، يادونو، نښه کونو ګڅې يې ډېره وي.

د خوږو لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو ټاکل او په لاس راوړل که ډېرې هم دي خو بيا هم ګران دي، په ۱۰ دانو کې به د ځينو کسانو هېڅ خوښ رانشي، چې لولي يې، او که له کوم تن يې واوري که يوه دانه هم وي بيا يې ډېره خوښېږي.
په پلازمينه کې مې اورېدلي دي چې فرهاد دريا د باران د موسقۍ ډلې غړي ويلي و، له جګړو وړاندې مې د افغانستان په راډيو تلويزيون په کتابتون کې ما په ۵۸۰ پينځه سوو او اتيا مصرۍيو کې د بابولالي ځار ناکرار کړم ليونی، وه په مين ګرانې پلو راټيټ کړه شين خالی نيم کې له پاره دا مصرۍ خوښه کړه. او دا ډېر درووند کار دی.

ستا د کټ کټ خندا دې زار شم
لکه ماشين چې په بخمل و چلوينه

په ورته وخت کې د هېواد سرغندوی تکړه هېښنده اوستاد د افغانستان راډيو تلويزيون ښاګلي نوموتي خوږغږي او خوږ سندرغاړی پينده محمد منګل مېرمنې او د هنر زده کوونکې اغلې ښاپيری نغمې له پاره په ۹۰۰ ټپو کې يوه ټپه د شاه لونګينه ياری... . نيمګی له پاره غوره کړې وه، هغه داسې ده.

زړه مې سوری باد کې لړېږي
غېښې د غم ترې تېر او بېر وتلې دينه

د دې له پاره چې غوره په غورو کې و مومې، د هندارو ، مجلسونو او ننداړو په وړاندې د ليدونکو او اورېدونکو د تود هر کلي سبب شي، په لاسته راوړ باندې چې پېرودلي يې وي، پرې وخت يې تېر کړی وي، مصرف يې پرې شوی وي، نور ته وړاندې کوي او خپله هم پرې هاميانی په لاس راوړي. ځکه ډېر پلورلو وړ دي له هر اړخه.

په ۲۰۱۱ ليږدي کال مې د کابل د شپه ميرو اکاډمۍ پخلنځی روغو، نو يوه هزاره سندر غاړی و، د محمد دواود هزارګي په نوم ويل يې زه د حيات ګرديزي شاګرد يم، په همدغو پښتو شعرونو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ زه د شپه ميرو په زړونو کې ځای کړی يم او په هر مجلس کې يوه وارې ځينې وخت څوواړې وايم، او زه هم پرې په اکاډمۍ کې پايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو انګړ**
ځېرنـــــــــــچوپړي ( ريســـــــــــرچ پانې)

لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ترټولو لوړ د پلورلو وړتيا په دې کې ده چې د پښتون پښت دود ته پايښت ورکوي. چې په دې سره ژبه بډايه او اوږ عمر کوي، دا بيا وګړو د پوهې او اوښياری کچې پورې اړه لري، چې په کومه بڼه يې د ژبې له احساس څخه ګټنې اخلې، په احساس يې پالي او بې احساسه وګړي نه شي کولی چې د دې ګټه يې و مومي. ځکه په دې سره د دښمنانو او د پردو له لورې ورپېښو خنډونو ته پام اړل کېږي، هغوی ته د دې له لارې تاونونه ور رسېږي، هغوی په ډېر مصرف باندې د دې له منځوړلو او ادبي برخې د يوې ژبې له هېڅ سره برابرول او خپل دود پرې ټومبل پرته له دې لارې ډېر ستونځمن کار وي.

مېځمنو د پېخليک په اوږدو کې دا چغات کړی دی، چې زموږ له وګړو څخه علم پوهه واخلې، ليک لوست پرې کم کړي. په پټو سترګو يادلو او حفظولو پرې علم پورته کړې، د ليکلو او پوهېدلو زدهکړې ترې واخستل شي. مېرمنې يې بېخې بې لوستلو کړي. لوړې د لاسته راوړنو او کشفولو ځانګې په کوشنۍ يو کوشنۍ يو برخو و وېشي، چې د لوړ خيال او برياوو خاوندان په هېڅ پېر کې و نه شي. د دې له پاره د خپل دود د وګړني پېيلو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ليکل او لوستل مو ژبه او کلتور ژوندی ساتي او ساه ور کوي.

چې په هره کچې چې د وګړو په منځ کې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ډېرې لوستل کېږي، په کچې يوه بل تن برداښت کوي هم سره، يوالی، پوهې، علم، ليک لوست، شونې او روزنې او سوکالۍ ته يې ملا راتړې، په زرګونو او مېليونو وګړو يووالي او هوساينه، د هغوی مشغولتيا او خوښول، په لوړه کچې د سياست د هاميانۍيو په مصرفولو پرته شونې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱٤. د کچې اندازې

کره بوږوم چې زما له کوشنیوالي څخه مینه له خپل ادب سره پیدا وه، دا نو په فطري ډول او د پښتنې مور او پلار، پښتنې نیا او نیکه د پښتون پښت چارپېریال ګړندی تاثیر چې سوری یې په لومړي ټولګي کې، د څلور کلونو په عمر د حضرت قیس بن سعد په ښوونځي کې، د کډوالۍ په دوران کې، په ۱۹۹۰ زېږدې کال کې، په پسرلي موسم کې، د ښوونځۍ نه په لاره تلو کې لوېدلي وو. لومړی مې دا لاندې لنډۍ اورېدلې وه، خو له دې وړاندې به مې د پښتنې مور او پښتنې نیا ډېرې لنډۍ، مصرۍ، ټپې او ټیکۍ اورېدلې وي. په لومړي وار مې دا لنډۍ یاده کړې وه.

مجاهدین د خدای دوستان دي
څکه سرونه د الله په رضا ګدینه

او په ورستي وار مې خپله دا لاندې ټپه کښلې وه، د خپل دې لیکي په پېخلیک د کب ۱۰، ۱۳۹۵ لیږدیز لمریز کال.

د عامر مینه بویه مینه
له اننګو کړی باسي اوښکې یې څینه

### ۱.۱۴ د دې موخې اړوند لومړی باید خپل ځاني پانګه، خپلې پلټنې په خپلو پانګو چې زما دي، کښلې مې دي، څرګ یې داسې دی او داسې په ډاګه کېږي.

۱. دولس۱۲ داني مصری ، ځای یې: بوست د پکیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند، *Roshan BTS site HLM 030, 01/01/2008* ۲۲۴ چوپړی.

۲. شیږ۶ داني لنډۍ، ځای یې: بوست د پکیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند، *Roshan BTS site HLM 030, 29/12/2007* ، ۲۲۶ چوپړی.

۳. داني ټپې ، ځای یې: د ملا باقي غونډۍ په سر، د موسی کلا ولسوالی، هېلمند، *Roshan BTS site HLM 012, 16/ 01 / 2007*، ۲۲۷ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. داني ټیکی، ځای یې: زموږ کور، مهترلام، لغمان، افغانستان،۲۲۹ چوپړی.

٥. داني ټپې، ځای یې: د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړیپوړ، دوېیمه کوټه E۱۰۲ ,۳:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸٥ لمریځ لیږدی کال، ۲۳۷ چوپړی.

٦. ۲۳ داني لنډی، ځای یې: د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړیپوړ، دو یېمه کوټه E۱۰۲ ,٥:۱٤ pm ۰۹ /۰۱/ ۱۳۸٥ لمریځ لیږدی کال،۲۴۰ چوپړی.

۷. ۹ داني مصری، ځای یې: د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوېیمه کوټه E۱۰۲ ,۱۰:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸٥ لمریځ لیږدی کال، ۲۴۹ چوپړی.

۸. ۱۰ داني د شپه مېرو ټپې، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړی پوړ، دوېیمه کوټه E۱۰۲ ,۱۱:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸٥ لمریځ لیږدی کال،۲٥۱ چوپړی . ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی کال ).

د دې بېلګه داسې ده، چې لنډۍ ۳۰ داني دي، مصرۍ ۲۳ داني دي، ټپې ۳۸ داني دي او ټیکۍ ۶ داني دي. د ۲۰۰۷ زیږدي ښخه مې کښلي دي. ۱.۱ ۲ ګڼه څېره بیا په نیمکۍ یو کې د لنډۍیو ګڼه ۱٥، مصرۍیو ګڼه ۲۱، ټپو ګڼه ۳۳، ټیکۍیو ګڼه ۸ ده، او په ایزې کې یا لنډۍ ایزې، ټپه ایزې، ټېکه ایزې او مصرۍ ایزې کې. د لنډۍیو ګڼه ۳، ټپو ګڼه ۳، ټېکۍیو ګڼه ۲ او مصرۍیو ګڼه ٥ ده. اوس د څېړاند په بڼه دانو داسې نه ورته نه شو ویلی چې، زما کښلي مخورې هم دي، ډېری وګړي یې پېژني هم، ما کښلي، زما دي، زه نریم، او ډېری اړخ به د ښځو د ځولۍ ځور کښلي بریخې، غټ او واړه، سړي او مېرمنې، زړې او وړې، زاړه او واړه، پېغلې او ځلمي یې وایي. زما دي او زما به نه وي!؟، د خپلو تېرو کښلو لیکونکی یم، د دې لیکي څېړاند او زېږندوی یا پنځګر یم، پېیونکی خپل پښتون پښت ته یم ترڅو یې په غاړو کې د ګلو پېیون ( امېل) شي.


الله ج که د دې لوروینه په تېر ولس زوزان باندې کړي و، پرما یې هم کړې ده، زه هم د دې پښت زوی یم، د دې ولس یم، د هغه منندویي خو ومنم، که د کلونو چورلیځ ته ځېر شئ، نو له هغه ټاکلي زېږدي نه ورسته مې هېڅ نه دي کښلي، د خپلو کښلو په ټولو لا ستړی وم، ځیني رانه تری تم شول، ځیني له بربېښنایي زېرمو څخه ړنګ شول، ټکرې یې و خوړي، د خپل علمي ډګر د اېنجینېري رېبځګر یم. نو تر اوسمهل مې ډېر لږ یوه، یوه دانه هېڅ کې شمېر دي نه دي کښلي او د لیکو په راټولو بښت

(c) ketabton.com: The Digital Library




يم؛ له ۱ . ۳ الف او ۱ . ۳ ب ګڼه ځېره وړاندپينه کوي، راتلونکي پښتون پښت ته مخبېلګه يې ګڼلی شو او ښودونکي کوی شي چې لوستليکي ( درسي کتاب) غونډې ترې ګټه پورته کړي.

**ځېره ۱ . ۳ الف زما د کتاب ځلېر کي د ددو دود څخه زما د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچه، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه يې په: داني)**




۱٤. ۵ ځېره ۱ . ۳ الف زما د کتاب ځلېر کي د ددو دود څخه زما د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه يې په: داني)

**ځېره ۱ . ۳ ب زما په نيمکيو او زما په ايزو کي د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچه، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه يې په: داني)**




۱٤. ٦ ځېره ۱ . ۳ ب زما په نيمکيو او زما په ايزو کي د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه يې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴. ۲ د کچې اندازې يې چې ما خپله ربېځ کړې ( جاروبکړې)، ربځ کړې ( برسکړې)، اورېدلي، لوستلي، ليدلي او ليکلي په لاندې بڼه دي:

۱. له خپل ليکي ,, څلېر کې د ددو دود،، څخه چې ۴۸ يې لنډۍ دي، ۷۴ يې ټپې دي، ۱۶ يې ټيکۍ دي او ۴۹ يې مصرۍ، چې ټولې سره ګډې ۱۸۷ کېږي. ,, له همدغو څخه په دې کچې په نيمکيو ، پام يا سروکو کې: ۱۵په کې لنډۍ دي، ۳۳ په کې ټپې دي، ۸ په کې ټيکۍ دي او ۲۱ په کې مصرۍ دي؛ له همدغو څخه په دې کچې: ۷ لنډۍ ايزې دي، ۸ ټپه ايزې دي، ۲ ټيکۍ ايزې دي او ۵ مصرۍ ايزې دي، ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ ليږدی کال ).

**څېره ۱ .۳ ب. ,, څلېر کې د ددو دود،، په نيمکيو او زما په د لنډيو، مصريو، ټپو او ټيکيو کچې، ۲۰۰۶ ـ ۱۷ ( ګڼه يې په: داني)**

| لنډۍ | ټپې | ټيکۍ | مصرۍ | ښځو ته منسوبې | سړو ته منسوبې | کړه شوې | خبرداری | کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Lánḍéy | Ṭapé | Ṭikéy | Mésréy | Related to women | Related to men | Action Req'ed | Caution | In control |
| ■ | ■ | ■ | ■ | ▲ | ▲ | ■ | ● | ✓ |
| ۴۸ | ۷۴ | ۱۶ | ۴۹ | | | ۵ | ۳ | تول |
| ۱۵ | ۳۳ | ۸ | ۲۱ | | | | | |

۱۴. ۱ لښتيليک څېره ۱ .۳ ب. ,, څلېر کې د ددو دود،، زما په ليکي کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۶ ـ ۱۷ ( ګڼه يې په: داني)

**څېره ۱ .۳ ت. زما ايزو کې د لنډيو، مصريو، ټپو او ټيکيو کچې، ۲۰۰۶ ــ ۱۷( ګڼه يې په: داني)**

| لنډۍ | ټپې | ټيکۍ | مصرۍ | ښځو ته منسوبې | سړو ته منسوبې | کړه شوې | خبرداری | کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Lánḍéy | Ṭapé | Ṭikéy | Mésréy | Related to women | Related to men | Action Req'ed | Caution | In control |
| ■ | ■ | ■ | ■ | ▲ | ▲ | ■ | ● | ✓ |
| ۷ | ۸ | ۲ | ۵ | | | ۱ | ۱ | تول |
| | | | | | | | | |

۱۴. ۲ لښتيليک:. څېره ۱ .۳ ت. زما ايزو کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۶ ــ ۱۷ ( ګڼه يې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د کابل علومو اکاډمي پښتو لنډۍ ۱۰۰،۰۰۰ سل زرو شا او خوا ټولې سره ګډې کېږي، چې له لاندې کتابونو څخه یې په بشپړولو کې کار اخېستل شوی دی.

۲. ۱. د پښتونخوا د شعر هار او بهار، جېمز ډارمستېټر (۱۲۶۵/۱/۱۸ لېږدي کې په ټولو پیل کړی یا په ۱۸۸۶/۴/۷ زېږدی) ، کابل پښتو ټولنې په ۱۳۵۶ لېږدي کې له چاپه تېره شوي.

۲. ۲. سپوږمیه کړنګ وهه راخېږه، له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۳. غوړشکه د لنډۍیو، پینده محمد زهیر خطي نسخه ملي ارشیف. ۱۳۱۰ لېږدی (۱۹۳۲ زېږدې) کې استقلال لېسه کې کښلې، او ۱۳۱۸ لېږدي کې پښتو ټولنې ته سپارلې. اوس یې د میندېدوکې پټه ۴/۵۲ پرله په سې ګڼه ۴۶۳۸.

۲. ٤. منتخبات لغات متفرقه پښتو، ټولوونکی نا معلوم، خطي نسخه ملي ارشیف. ۱۳۱۲ لېږدی (۱۹۳۴ زېږدې)، اوس یې د میندېدوکې پټه ۴/۸۲ پرله په سې ګڼه ۵۳۸۲.

۲. ٥. متلونه او لنډۍ یا ذخیرة الغات، ټولوونکی محمد عمر خطي نسخه ملي ارشیف. ۱۳۱۸ لېږدی (۱۹۴۰ زېږدې)، اوس یې د میندېدوکې پټه ۴/۸۲ پرله په سې ګڼه ۵۳۸۲.

۲. ٦. ملي سندرې، محمد ګل نوري په ۱۳۲۳ لېږدي کې پښتو ټولنې له چاپه تېره کړې ټولګه.

۲. ۷. پښتو سندرې، ګل باچا الفت د پښتو ټولنې مبصر، د صحافت او تالیف د څانګو امیر، په ۱۳۲۵ لېږدی(۱۹۴۶ زېږدی)، د پښتو ټولنې نشراتو نمبر ۹۵، د عمومي مطبعې له چاپه تېره شوي ټولګه، د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندني ګڼه ۱۲ ده، پښتو سندرې الفت، په کې ټولې سره ګډې ۱۱۶ داني دي. چې ۷۳ یې لنډۍ دي،۲۶ یې ټپې دي او ۱۷ یې مصرۍ دي، ۱۱۲ څخه تر ۱۱۹ چوپړي پورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. ۸. محمد دین ژواک د ادبیاتو د مدیریت کفیل، ۷۳۰۰ دانې، پښتنې سندرې په نوم باندې له چاپه سلامت تېر کړی دی، پښتو ټولنه، ۱۹۵۵لیږدی.

۲. ۹. لنډۍ چاپ کوونکی او فارسي مترجم عبدالروف بېنوا انګرېزي ژباړه یې محمد ابراهیم شریفي کړې، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لیږدي کې د کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه تېره شوې ټولګه ده، په عامه کتابتون کې یې د موندنې ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب دی.

۲. ۱۰. عبدالروف بېنوا د لنډیو مجموعه، پښتو ټولنه، ۱۳۵۸ لیږدي کې له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۱۱. د مینې جهان یا ملي موسیقي، د اتمان ټولونه قلمي نخسه لومړی ټوک.

۲. ۱۲. د مینې جهان یا ملي موسیقي، د اتمان ټولونه قلمي نخسه دوېیم ټوک، پښتو ټولنه.

۲. ۱۳. د مینې جهان یا ملي موسیقي، د اتمان ټولونه قلمي نخسه درېیم ټوک، پښتو ټولنه.

۲. ۱٤. د مینې جهان یا ملي موسیقي، د اتمان ټولونه قلمي نخسه څلورم ټوک، پښتو ټولنه.

۲. ۱۵. مشهوري ټپې، د سلیم خان له خوا په پېښور کې له چاپه تېرې شوي ټولګه.

۲. ۱٦. د مینې جهان یا ملي موسیقي، د اتمان ټولونه قلمي نخسه څلورم ټوک، پښتو ټولنه.

۲. ۱۷. سرود کهسار، محمد یونس، له چاپه تېر شوی اثار.

۲. ۱۸. د سید غلام ننګرهاري دیوان، قلمي نخسه، ملي ارشیف.

۲. ۱۹. د حسین دیوان، په پېښور کې له چاپه تېره شوي ټولګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. ۲۰. فولکلوري ګيډۍ، علي محمد منګل، پوښتو ټولنه، له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۲۱. غرنۍ سندرې، غروال، پوښتو ټولنه، له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۲۲. د خلکو سندرې، حبيب الله رفيع، پوښتو ټولنه، له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۲۳. د زړه قطرې، عبدالله جان اسير، په پېښور کې له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۲٤. ټپه او ژوند، محمد نواز طاهر، په پېښور کې له چاپه تېره شوي ټولګه.

۲. ۲۵. پښتو لنډۍ، د شفاهي ادب فولکلور د ډيپارټمنټ د علمي غړو د ۱۳۶۱ لېږديز لمريځ کال ګډه علمي پروژه، د لنډۍيو په باب تحليلي څېړنې، د سليمان لايق او مجاور احمد مومند په زيار، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز پښتو ټولنه ۱۳۶۳ لېږدی. ۱۱۱۵۸ دانې له خروار پاغوندونه يوه پوټۍ د بېلګو په بڼه پښتون پښت ته وړاندې کړي دي.

۳. پښتو لنډۍ له ابېڅو څخه ما له ا ب پ ټولې کړې وې. د الف يا ا چې پيل کېدلې ا ۲۴۵، ب ۲۴۵، پ ۶۳۰ چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! يې لنډۍ دي، !!! يې مصرۍ، !!! يې ټپې دي او !!! يې ټيکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۱،۱۲۰ کېږي. ( ۲:۲۱:۵۹ PMThursday, July ۵, ۲۰۱۲ )

٤. د ګل، پسرلي، باغ او غوټۍ په هکله: څېړلي، سپړلي، رېبځ کړي ( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! يې لنډۍ دي، !!! يې مصرۍ، !!! يې ټپې دي او !!! يې ټيکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۹۱ کېږي.

۵. د تورې، ننګ او مېړانې په هکله: څېړلي، سپړلي، رېبځ کړي ( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! يې لنډۍ دي، !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۴۰ کېږي.

٦. د بېلتون، هجران او جدایۍ په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۲۴۰ کېږي.

۷. د لیدو، کتو او دیدن په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۹۲ کېږي.

۸. د ګودر او منګي په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۲۲ کېږي.

۹. د مین، یار، اشنا، جانان ، عاشق او معشوقې په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي ( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۳۶۵ کېږي.

۱۰. د مسافري، پردېسي او جلا وطني په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي ( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۵۲ کېږي.

۱۱. د خط او خال، حسن او جمال، شونډو او پېزوان، سترګو او زلفو په هکله: ځېړلي، سپړلي، رېبځ کړي( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! یې لنډۍ دي، !!! یې مصرۍ، !!! یې ټپې دي او !!! یې ټیکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۱۶۸ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. رفع الله ستانيکزی ملګری مې چې په مخامخ کوټه مو و سره د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله کې، لوستليکي به يې هم راته راوړل او د پښتو لنډيو لومړی ټوک خو يې ماسره ځوشپې و، او زه به ډېری د لنډيو په اړه له افضل لالا او لړ د دمي وخت کي له دسره د کرارۍ په مجلس بوختوم په ۱۳۴۸ زېږدي کې. د لنډيو په اړه دده مقاله مې.: ځېړلي، سپړلي، ربېځ کړي( جاروبکړي)، ربخ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! يې لنډۍ دي، !!! يې مصرۍ، !!! يې ټپې دي او !!! يې ټيکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۱۷۰ کېږي.

۱۳. انګلېسي ژبې ته ژباړل شوې: ځېړلي، سپړلي، ربېځ کړي( جاروبکړي)، ربځ کړي ( برسکړي) دي. چې چې دا ټولې ګډې وډې چې !!!! يې لنډۍ دي، !!! يې مصرۍ، !!! يې ټپې دي او !!! يې ټيکۍ دي، چې ټولې سره ګډې ۵ کېږي.

۱٤. شمس خوستي هم خوږې لنډۍ، چې رومل ورته خيرې کړي وي، په انترنيټ کې، چې ټولې سره ګډې ۲۷۰ کېږي. په ۱۳/ ۵/ ۲۰۰۹ لېږدي کې خو ډېری يې له کتابه وې.

۱۵. د ډاکټرې سلما شاهين ليکي روهي سندري د ۱۵،۶۴۲ شا او خوا ټولې سره ګډې کېږي.

۱٦. پوهاند ډاکټر محمد رحيم الهام، لنډۍ ها ( پښتو لنډۍ او د هغو فارسي ژباړه،۴۰۷ شا او خوا ټولې سره ګډې دي، وطن ۲۶، پرديسي ۱۸، بېلتون ۲۲، ديدار ۲۲، پخلاينه ۱۴، مينه ۵۲، غېږ ۱۲ ، زلفې او اوربل ۱۰ ، زړه او سترګې ۴۲، خندا او خولګۍ ۵۲، وير ۱۳ ، تومت ۱۰، وفا ۷، ګلونه ۴۰ ، ګودر ۶، راز، راز ۶۱ )، د اريک سيار کتابتون اداره او مسلسله ګڼه يې ۴۳، د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۲/ ۳۹۸ ل ۳۸ الف، ۱۶. (۱۳۷۹ لېږدی).

۱۷. هېواد شېرزاد راټولې کړي له ا ابېڅې څخه تر ې پورې. ۲۷ چوپړي، په هر چوپړي کې ۳۵ کېږي او ټولې سره ګډې ۹۴۵ کېږي، د لېږدي نوي کال په په پيل کې هېواد شېرزاد راټولې کړې وې او هېواد افغانستان بريښناليک ته يې لېږلې وې. ,, Hewad Afghanistan, www.hewad.com په خپل ۲۰۰۹ نوي زېږدي پيل کې دا خپور کړې وو چې. له موږ سره ۱۰۰،۰۰۰ بېلا بېلې لنډۍ شته چې ۱۰۰۰ داني يې د دې نوې کال په لومړۍ ورځ ورپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي. په Sunday, ۲۸, ۲۰۱۰, PMNovember ۹:۱۱:۳۷ ، له هېواد ټکي کام څخه مې د هېواد شېرزاد ۹۵۶ کوزې کړي او پلټلي وې. ،،
(۲۰۱۰ www.hewad.com).

## ۳.۱۴ د پښتو لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو ټول ټال ټولې سره ګډې، د کچې ګڼه يې ۲۱۹،۵۶۴ دوې سوه او نولس زره او پينځه سوه او څلور شپېته دانې دي.

له پورتنيو څخه دا په لاس راځي او ښېلګه يې داسې ده چې څېړنه دا سپيني ته را اوباسي، چې ټولې لنډۍ، مصرۍ، ټپې او ټيکۍ، د پښتون پښت لرغوني بډاينه ده، چې د پورته نيو ۱۷ واړو ښېلا ښېلو ګڼه يې ۲۱۹،۵۶۴ دوې سوه او نولس زره او پينځه سوه او څلور شپېته دانې کېږي.

,, ما قلم خوځولی دی کله بند او کله روان د خپلې ژبې پېيلې آر له پاره، چې په نن ورځ کې زما ژبه ۳۱ يوه دېرشتمه ليکه کې دی. او د نړۍ په ټولو (۶،۵۰۰) ژبو کې يوه دېرشتم روڼ ځای لري، چې له دې ټولو ژبو څخه (۲،۰۰۰) ژبې داسې دي، چې له (۱،۰۰۰) څخه لږ کسان پرې خبرې کوي، دا هم په څرګنده ټول په علمي بنه د نړۍ ژبپوهانو څېړلي دي، چې په دغو کې هغه ژبه له منځه ځي او د ورکېدو په حالت کې دي، چې د وويونکو ګڼه يې له (۳۰،۰۰۰) څخه لږه وي، (۷۰،۰۰۰،۰۰۰) اوويا مېليونه پښتون پښت په پښتو ژبه خبرې کوي.

د نړۍ پر ټولو ژبو کې لومړۍ، بډايه او پرمختللي ژبه چې ځواک يې خپلو خپل ژبو په لاس کې دی، هغه د چين اساسي لهجه ده، چې (۱،۲۱۳،۰۰۰،۰۰۰) يوه بېليون او دوې سوه او ديارلس ميلونه تنه پرې خبرې کوي.

بله دا چې که اېنګلېسي ژبه (۱،۲۰۰،۰۰۰) يوه مېليون دوې سوه زره وييکي ( لغات) لري، عربي او روسي ژبه بيا (۹۰۰،۰۰۰) نهه سوه زره وييکي لري، پښتو ژبه (۶۰۰،۰۰۰) شپږ سوه زره وييکي لري، دري يا فارسي ژبه بيا(۴۰۰،۰۰۰) څلور سوه زره وييکي لري.

دلته په يوه نه يوه نوم داسې کسان شتون لري؛ چې د خپلې ژبې له وييوکو سرا تربګني لري؛ په کومو چې نه پوهېږي؛ هغه بيا ناګنلي ګڼي؛ په دې سره به لازمي وي؛ چې پښتو خپل کره وی له منځ لاړ شي. ما ايله (۴۰،۰۰۰) وييکي نه دي زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو دا د دې مانا نه لري، چې پښتو ژبه دې الله مه کړه نیمګړې وي. خو زه به په نورو پاتې (۵۶۰،۰۰۰) پښتو ویوکو نه پوهېږم.،، (صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی کال، ننه توزې (پیلیزه، سریزه، مخکې وینا، مقدمه )، ۷۲ چوپړی).

ځیني پوهان وایي چې هر پښتون فطرتاً شاعر دی او د خپلې ژبې په دغو شعرونو پوهېږي. لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ خو وایي، په خبرو کې او میرانه کې، اړې کې، مرسته کې، وفادارۍ کې، جرګه کې، جګړه کې، تړو کې، انشر کې، نغارو کې، ترېلو کې ، باڼدو کې، غرو کې، ټیټنګو کې، وټیزو کې، ځلېړو کې، تمځیو کې، لوستځیو کې، خادۍیو کې.

بل لور ته که د پښتون ټول پښت ۶۰ شپېته مېلیونه دی، په روانپېر کې، که ماحضې پام وکړو نو چې د هر پښتون یوه دانه یاده وي، نو ۶۰ شپېته مېلیونه دی، خو دا د منلو وړ نه ده هېڅ ځکه چې زموږ لوی کور افغانستان په کوچنۍیو، کوشنۍیو کورونو ویشل شوی دي او هر کور ترې وار په وار د دې پښت دښمنانو، زور، لوټمار، تالاګر، تاړاکګر، یرغلګر، بلوسګر، تېرو، اورګډي، زبېښاکګر، پټنه ګر، نیواکګر، جګړهمار او په یونه یوه بڼه د لوی افغانستان کورونه کوشني کړه، او کوشني کورنه یې ترې بېل کړه. له لوی ننګرهاره یې پېښور بېل کړه، له بلخ یې ثمرقند، بخارا او پجنده. سوات، بلوچستان او... چې کله به کوشني بېل شوي کورونه له خپل لوی کور سره یوه ځای شي.

د دې له پاره اړینه ده چې که د دې پښت یوهوالي کې هرڅه ته ګټه ده، چې ټول پښت او ژبه ورسره هم بډایه کېږي. که د دې پښت په ستر پوهنتونونو کې یوه پوستکالی ( سافټویر) ورغوي، چې ټولې چاپشوې، خوندي شوې، لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ زېرمه کړي؛ نوې ورتلونکې به په پوستکالي کې ځای و نیسي او خوندي شوې به پېژني، نه به پورته کېږي. پاتیشونې به مومې او خوندي کوي به یې.

لکه هر کمپوټر کې چې فولډر یا دوسیه جوړه کړې. نوی پوستکلي ډاټا خوندي کوي، چې بله هلته شتون و لري نو د دوباره خوندي کولو خبراوی درکوي.


په ورته ګړنه به زدهکړیالان ډېر څه و مومي، د برېښنالیکوي اړېکه به پیاوړې شي، د نړۍ برېښنایي نړۍ وال جال کې به سره ګډ وي.

نو ځکه زما څېړنه دا سپنې ته را اوباسي، چې پورتنۍ ۲۱۹،۵۶۴ کره خوندي شوې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره ګډې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ښېره ۱ . ۳ ټ  له دې ټولو ۱۱راډيوګانو څخه  د پښتو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ د دوی پر څپو  په ورځ کې يوه خپريږي.



Radio Stations

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| Bamyan Radio | Bamyan | 55k | 12hrs | 08/16/03 | 89.1Mhz |
| Istiqlal Radio Station | Logar | 59k | 02hrs | 01/08/04 | 89.6Mhz |
| Radio Sharq | Nangahar | 360k | 12hrs | 09/30/03 | 91.3Mhz |
| Kallid Radio Station | Kabul | 2.8mil | 24hrs | 08/01/03 | 88.0Mhz |
| Millie-Paygham Radio Station | Logar | 63k | 07hrs | 10/23/03 | 94.0Mhz |
| Taraj-Mir Radio Station | Baghlan | 150k | 15hrs | 10/15/03 | 91.3Mhz |
| Qura-Bagh Shura Radio Station | Kabul | ??? | 06hrs | 01/01/04 | 91.3Mhz |
| Sahar Radio | Herat | 300k | 1.5hrs | 10/25/03 | 88.7Mhz |
| Radio Azad Afghan | Kandahar | 585k | 04hrs | 12/06/03 | 88.0Mhz |
| New Bahari-Balkh | Balkh | 580k | 09hrs | 01/04/04 | 88.5Mhz |
| Suli-Paygham | Khost | 140.5k | 09hrs | 01/15/04 | 93.1Mhz |
| Rabia Balkhi | Balkh | ??? | ??? | 01/08/04 | ??? |
| ??? | Kundoz | ??? | ??? | 02/10/04 | ??? |
| Radio Chikh-Chiran | Ghore | ??? | ??? | End of JAN | ??? |

۱ . ۳ ټ ښېره له دې ټولو ۱۱راډيوګانو څخه  د پښتو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ د دوی پر څپو په ورځ کې يوه خپريږي.




لږ تر لږه په کال کې ۳،۹۶۰ لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ لوستل کيږي خو خوندي کيږي نه!

۷.۱٤ ښېره ۱ . ۳ ټ  له دې ټولو ۱۱راډيوګانو څخه  د پښتو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ د دوی پر څپو  په ورځ کې يوه خپريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۱۵. د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو سیمه ییزې پایلې

له ټولو نه وړاندې لومړنۍ سیمېزې پایلې چې د پښتو سندرو په اړوند شوې دي. هغه زما وطندار ګل باچا الفت کړې وې، چې د پښتو سندرې کتاب تر نوم لاندې په ۱۳۲۳ لېږدي له چاپه راوتې وې او د وخت د اقتصاد وزیر له لوري د مطبوعاتي جوایزو کې لومړی جایزه په پښتو تالفاتو کې اخېستې وه. چې د پښتو شعر تاریخ په لحاظ له ۱۳۹ لېږدي کال څخه نیولې تر ۱۳۰۰ لېږدي کال پورې له نظر لاندې نېولې وو، له منتخبو لنډیو او کاکړیو سره.

پښتو سندرې، ګل باچا الفت د پښتو ټولنې مبصر، د صحافت او تالیف د څانګو امیر، په ۱۳۲۵ لېږدي(۱۹۴۶ زېږدی)، د پښتو ټولنې نشراتو نمبر ۹۵، د عمومي مطبعې له چاپه تېره شوې ټولګه، افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۲ ده، پښتو سندرې الفت، ۱۱۶ دانې لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې سره ګډې ټولې شوي دي له ۱۱۲ تر ۱۱۹ چوپړي پورې.

چې ډېری یې زموږ د سیمې زوکړه ده او لږه برخه یې له ملي سندې اخېستل شوي. ځینې لنډۍ پرهېز او ښاغلي محمد علی لونګین ورکړې وې، چې د هغو یادونه یې هم په کې کړې او لیکی یې له ما سره شته دی.

زه دا ده دې له پاره کره بوږوم چې ښا زموږ د پښت ډېری داسې پام ونکړي چې موږ سره یې چاپي ثبوت د دې سندرو په لاس کې نه شته، یوه لنډۍ هم دومره زړه په ثبوت سره نه منې چې لیکل شوې دي وي. په لاندې انځور کې یې یوه چوپړی دی چې له نن څخه ۷۱ کاله وړاندې پښتو سندرې لیکی له چاپه رمټ تېر شوی دی، د بېلګې په بڼه دی، وې ګورئ.



لنډۍ

په پښتو سندرو کښې یو ډول اشعار شته چه لنډۍ ئې بولي ، دا لنډۍ لمړۍ مسره لنډه او دوهمه اوږده وی، دا ډول اشعار د پښتو په موسیقۍ کښې ډېره زیاته برخه لري ځکه چه د پښتو په هره خوا کښې په بیل وزن او بیل آهنګ ویل کېږي مګر هر آهنګ ئې جذاب او له سوزه ډک وی چه اوریدونکی ئې ارومرو له تاثیر لاندې راځي . په دغو ټولو اوزانو کښې چه د لنډۍ دپاره پیدا شوی دی تر اتی وزن ډېر شهرت موندلی او زیات مورد دی . لنډۍ علاوه په دې چه په یو مؤثر او سوزناک لحن ویل کېږي او د آهنګ په لحاظ زیات تاثیر لري د مضمون او مفهوم په اعتبار هم د پښتو په لوړ او عالی ادب کښې ښه ځای لري او د فصاحت او بلاغت زور او قوت پکښې لیدل شي اکثره لنډۍ داسې دي چه په پښتو کښې د متلونو په ډول ویل کېږي او (حکم وامثال) ورته ویلی شو، د هر مطلب شته چه د یوې لنډۍ په ویلو د کنایاتو په ډول ادا کېږي او له صراحت نه اولی بلل کېږي . په لنډیو کښې کله هم ځینې داسې وی چه د سوال و جواب په ډول د مین او مینې له خوا ویلی شوی وی او د مضمون تسلسل پکښې لیدل شی مګر عموما یوه لنډۍ له بلې نه په مضمون کښې جلا دی او په هره لنډۍ کښې یو خبره تمامه شوی وی . په لنډیو کښې ساده ګی او له عمومی ذهن او تخیل سره موافقت، اولسی تعبیرات او ځینی نور صفتونه موجود دی چه د لنډیو خوند ئې ډېر زیات کړیدی او په هر چا یانډې ئې لګېږي د متال په ډول دا یوه لنډۍ وګورۍ ! چه یوه مینه د خپلې مینې د زیاتوالی په اظهار کښې وائي :

د مینې ټول موسره و [illegible] زړه یو لوټه په یار زیاته وختمه


* * *

په دی لنډۍ کښې دغه ساده ، اولسی تعبیر چه یوه لوټه زیاته ختل دی دا لنډۍ خوږه کړي او ادبی ملاحت ئې پکښې پیدا کړیدی .

٣٤:-ګل باچا الفت د پښتو سندرې کتاب چې ۱۳۲۵ لېږدي (۱۹۴۶ زېږدي)، ۱۱۲ چوپړي انځور.* ما یې انځور باستلی دی، د پخښتې یې سورڅکی تت سور رنګ لري. ( # ۳۴ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۱۱۸)

خندا له تا سره جوړه ښځې
ماته پراته دي په څولی څولی غمونه

دازادۍ په لار کښې مړ شې
چه جنازه دې داسمان ملکې وړینه

مسلمانی په چا کښې نشته
مرور گرزم څوک مې نه بخلا کوینه

زما د گور مړی یا دېړی
ما گور گنتی کړی چه قبرونه لټومه

خاونده غېرت کړې بچی نی مړه کې
چه یو اشنا له بل اشنا نه بېلوینه

دتوتی هسی خو لگی سره ده
دباغ گلونه ټول بورا خوړلی دینه

سلام دې راغی ته رانغلې
وابه دې نخلم بی دیدنه سلامونه

دزړه کی حال ویلی نشم
لکه خوله پټی تنور بلی لمبې خورمه

د دلالانو بچی مړه کې
د گلو لښتی په موز بانو زړه وینه

دلاله فکر یکښې وکړه
چه شال شړی سره یوځای نکړی مینه

دابه له ما نه پوره نشی
چه هر ساعت دی په جرگو بخلا کومه

وربل دی جوړ په غنم لوکه
زه خوار به او کړم که به ستا ننداره کړمه

په گودر گډی ونې کښېژ ده
چه شا ابلا منگی په سپوری د کوینه

په دهقانی باندې زورو کړی
سینې یا پښی دزړو خلې ورانوینه

په صبر صبر پوره نشوه
سبا مې نیت دې بی صبری ته ملا تړمه

جنسی پخپله ښایسته ده
زر کره ستا په گانه اور یوری کوینه

جلی وړه د یاری نه ده
نابوهه مور نی ورته سترگی تور وینه

۳۵:-گل باچا الفت د پښتو سندرې کتاب چې ۱۳۲۵ لېږدي (۱۹۴۶ زېږدي)، ۱۱۸ چوپړي انځور. د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کي د موندني گڼه ۱۲ ده، ۱۱۶ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کي سره ګډې ټولې شوې دي. * ما یې انځور باستلی دی، له A٤ یې د چوپړو(مخونو) جوسه لږ اوږد دی. ( # ۳۵ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱ اې (الف). ګل باچا الفت داسې ليکلي دي لکه:

,, لنډۍ : په پښتو سندرو کې يوه ډول اشعار شته چې لنډۍ يې بولي، د لنډۍ لومړۍ مسره لنډه او دوهمه اوږده وي، دا ډول اشعار د پښتو په موسيقي کې ډېره زياته برخه لري. ځکه چې د پښتو په هره خوا کې په بېل وزن او بېل آهنګ ويل کېږي، مګر هر آهنګ يې جذاب او له سوزه ډک وي چې اورېدونکي يې ارو مرو له تاثير لاندې راځي.

په دغه ټولو اوازونو کې چې د لنډۍ له پاره پيدا شوي دي، تيرايي وزن ډېر شهرت موندلی او زيات موثر دی. لنډۍ علاوه په دې چې په يو موثر او سوزناک لحن ويل کېږي او د آهنګ په لحاظ زيات تاثير لري.

د مضمون او مفهوم په اعتبار هم د پښتو په لوړ او عالي ادب کې ښه ځای لري او د فصاحت او بلاغت زور او قوت په کې ليده شي. اکثره لنډۍ داسې دي چې په پښتو کې د متلونو په ډول ويل کېږي او ( حکم و امثال) ورته ويلی شو، ډېر مطالب شته چې د يوې لنډۍ په ويلو د کناياتو په ډول ادا کېږي له طراحت نه اولی بلل کېږي.

په لنډيو کې که څه هم ځينې داسې وي چې سوال او ځواب په ډول د مين او مينې له خوا ويلی شوي وي او د مضمون تسلسل په کې ليده شي. مګر عموماً يوه لنډۍ له بلې نه په مضمون کې جلا دی. په هر لنډۍ کې يوه خبره تمامه شوي وي.

په لنډيو کې ساده ګي او له عمومي ذهن او تخيل سره موافقت، اولسي تعبيرات او ځينې نور صفتونه موجود دي، چې لنډيو خوند يې ډېر زيات کړی دی او په هر چا باندې ښې لګېږي. د مثال په ډول دا يوه لنډۍ و ګورئ! چې يوه مينه د خپلې مينې د زياتوالي په اظهار کې وايي:

- د مينې تول مو سره و که
  زه يوه لوټه په يار زياته و ختمه

په دې لنډۍ کې دغه ساده. اولسي تعبير چې يوه لوټه زيات ختل دي، دا لنډۍ خوږه کړې او ادبي ملاحت يې په کې پيدا کړی دی.

يوه بل مين له يوې خوا د عشق جاذبه، د ليلا کشش او له بلې خوا د خلکو تهمتونه، خبرې وينې، په يوازې موقف کې دربرېږي چې نه وړاندې تلی شي او نه بېرته راګرزېدلی شي نو په ډېر ساده ډول وايي:

- که پسې ځم خلک پوهېږي
  که پسې نه ځم ليلا کړي اشارتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګېر**
ځېړنـــــــــــچوپړي ( ريســـــــــــرچ پاڼې) **١٠٨ چوپړی**

دا راز مضمون په دغسې ډول اداکول چې له دېنه زياته عام فهمي او ساده ګي په کې نوره نه ځايېږي، د لنډۍ جوړونکو کار دی او په نورو اشعارو کې يې په ډېر قدرت سره موندلی شو.
د دې له امله چې د پښتو لنډۍ په پښتوسندرو او پښتو ادب کې لوړ ځای لري او ملي ادب غوره والی په کې شته، يوه څه لنډۍ دلته له يوه ځای او بل ځای څخه د انتخاب په ډول را اخلم:

▲ راځئ، راځئ چې لنډۍ وايو
لنډۍ لا ښې دي د يار غم غلطوينه

**د معشوقو له خولې:**

▲ زما د لاس ګوتې د سروکه
زه به دې کور په سرو منګولو تولومه

▲ زما د زړه تسلي وکه
پس له هغه مې په سينه وهه لاسونه

▲ که دې وطن راسره پرېښود
په سرومنګولو به دې خپې چاپې کومه

▲ راشه قسم راسره و که
که ناز ولې مې ساتې در سره ځمه

▲ راځه چې و تښتو مينه
تر شا خبرې به سپين ږېرې سپينوينه

▲ قلم دې مات ګوتې دې پرې شي
زما خيالي اربل ته نه کړې تاويزونه

▲ زما اشنا نادان هلک دی
چې خولګۍ ورکړم په صحرا وايي حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ملا آذان ته بيره مه کړه
زه د اشنا په غېږ کې اوس ورولوېدمه

▲ مسلماني په چا کې نه شته
د لاس بنګړي مې خرڅوي ما ژړوينه

▲ مولا دې بله زېرمه و که
زما د غاړې اوږۍ مه کاږه مينه

▲ ما درته نه وې شرمېدمه
د سرې نتکۍ سره پېزوان مزه کوينه

▲ مبارکي را کړئ عالمه
له تهمتو سره خپل يار قبوله کړمه

▲ وار مې د تورو زلفو ټېر شو
اوس مې په تورو زلفو نه نښلي بازونه

▲ که مې خدای بنه ساتي که بده
راتول به نه کړم د سالو سره پلوونه

▲ د کوټې تېر راباندې پروت وی
راباندې نه وی د بې ننګ سړي لاسونه

▲ ښکه دې خواره کړمه خدايه
چې همسايه مې د خولګۍ تمه لرينه

▲ خلک جوړه جوړه ودېږي
زه کم نصيبه يار په خوب لا نه وينمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خدای به دې بیا راته مهتاج کې
که په لنډۍ زنه مې و وهل خالونه

▲ چې زه کور نه یم ته رامه شې
تا له به کور په بنو څوک جارو کوینه

▲ جبل وهه دنیا پرسته
زما د ناز خندا دې هېره شوه مینه

▲ تینګه مې مه نیسه په غېږ کې
سبا به بوی د لونګین درځنې ځینه

▲ له مانه ته ښه یې چلمه
چې جانان خوله دربانډې ږدي دواړه لاسونه

▲ په نصیب خپل همزولی را کړې
که نیستي راغله په خندا به یې تېرومه

▲ په متیز توب درسره نه ځم
په پاکه مینه درسره یم څو چې یمه

▲ په غم کې تانه کمه نه یم
کم عقله نه یم چې به کلی خبرومه

▲ پرېږده چې تور ښامار مې و خوري
په پاړو ګر جانان زه ډېره نازېدمه

▲ اشنا مې وړی را نه تللی
چې دسترخان لره ورځم ژړا راځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړګې مې تا ته تورولې
چې ته رانغلې په سرو اوښکو یې مینځمه

څوک به دې مړ کړي ښکلی یاره
پردۍ برستنې جګوي شمېرې خالونه

که مې د یار ګوتې په لاس وی
ما به له ټولو نجونو پورته وړه لاسونه

بنګړی مې ستا په لاس کې مات شوه
که مړنی یې اوس مې ډک کړه مړوندونه

په خوب ویده به دې راویښ کړم
یاره زما د لاس بنګړي راغلي دینه

که په سلام مې خوشحالیږې
زه به دا سرې منګولې تل په تندی ږدمه

زما هر وخت تاته سلام دی
چې در په یاد شوم زما اخله سلامونه

د جنازې بازو ومه نیسه
که سپینه خوله مې په راستۍ در کړې وینه

لالیه راشه چې خوله در کړم
زموږ په کلي کې مرګوده مره به شمه

پاس د اسمان ستورو ته ګوره
په تا مې دومره دي د سپینې خولې پوروونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
ځېرنــــــــــچوپړي ( ریســـــــــرچ پاڼې)

▲ که مې په خپل یار کې وفا وی
زه به د بل یارۍ ته ولې پخسېدمه

▲ د ورځې تورې سترګې ګرځم
د شپې په لپو، لپو اوښکې تویومه

▲ اوبه د کوز ګودر خوړې دي
زه د اشنا له پاره بر ګودر ته ځمه

▲ زما سالو کې ګرمي کېږي
په زړه ظالم اشنا مې اور ته کشوینه

▲ اختر د دواړو مبارک شه
زه به خپل سره لاسونه یار ته ورکومه

▲ خلک دې وایې تهمتونه
زه د اشنا په غېږ کې چا لیدلې یمه؟

▲ ریباره ورشه ورته وایه
که د بدۍیو زور لرې در سره ځمه

▲ بارایې چېرې وې یتیمه!
چې شا لیلا په سپینه خوله کړه خیراتونه

▲ په ځان مین یې په مانه یې
یارې په داسې مینو نه کېږې مینه

▲ تر مستانه یار خو مې جار کې
چې تش دیدن ته یې خېمې وهلې دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خاونده بیا دې ماسختن که
چې نارضا کټ ته مې ربړ دي اندامونه

▲ روکی چې سپور شي د خپل کور شي
لالی دې سپور شي چې سپره ورپسې ځمه

▲ زما جانان دې را سره وي
په ما دې تېرې له میرو را چلوینه

▲ امیره ستا نوکران ډېر دي
د سپینې خولې نوکر راپرېږده چې راځینه

▲ یار مې په سرو لاسو مین دی
ځکه نکریزې په خپل کور کې شنې کومه

▲ ګوتې بنګړي د دنیا دود دی
زه له نېستمنه یاره نه غواړم دودونه

▲ زه دې په دوه وو کې کړم خدایه
چې د پلار کور کړم که له یاره سره ځمه

▲ هغه ساعت به لوی قیامت وي
چې زوړ سړی په چټې واچوي لاسونه

▲ تر دې خر وړي سپي را تېر شه
تر دې ملالې خولې به زه در تېره شمه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
زه په ملاله خولګی نه پرېږدم لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ دا پېغلتوب مې دې غم دود کړې
خیالي ځوانان راپسې مري خونکاره شومه

▲ زړه دې زموږ له کوره وېسه
موږ کړه نه شته د مینو زړو ساتنه

▲ توره بلا یم نور څه نه یم
په یار مې خاورې اړوي هېڅ نه کېږمه

▲ ته د اختر په سهار راشه
زه به در اوزم تورې سترګې سره لاسونه

▲ هلکه مرې که پاته کیږې
دا مې دستور دی نرۍ سترګې تورومه

▲ سترګې کجکول کړه دیدن واخله
ملنګه یاره په بانه راغلې یمه

## د مینو له خوا:

▲ په ګودر څه بلا لګیږي؟
چې کشر ورور دې بدرګه درسره ځینه

▲ د شپې په خوب کې ګلان وینم
د لیلا مینه مې په ګلو ګرزوینه

▲ خال دې واهه خبر دې نه کړم
ناغه به راکړې د سرکو شونډو سرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که په صورت درنه جدا يم
اروا مې ستا په کټ منګولې لګوينه

▲ له پاسه سره لستوڼې راغله
د بام په سر ورته پيريانو و نيومه

▲ که ستا د سترګو اشارت وی
په موزيګې به درته سره کړم ديوالونه

▲ ستا په نتکۍ کې شيطان ناست دی
هره شپېه مې ستا خولګۍ ته لمسوينه

▲ په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما وی دې تورو اوبو اور واخست مينه

▲ ژړا مې نه ده په چا ګرانه
خوشې ګريوان په اوښکو ځله لمده ومه

▲ زړه مې د ستا سو کور کې پرېښود
مور ته دې وايه چې پرې نه کړي منتونه

▲ زړګی مې تاسو کړه هېر شه
خور به دې ځای جارو کوي مونده به يې کړينه

▲ اول دې لاپې د ياری کړې
اوس دې کټکی د مور له خنګه ګرزوينه

▲ که دنيايي شرمونه نه وی
تا به منګی وړه زه به تش درسره تلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هر راز لنډۍ

▲ خدايه بې دردو ته درد ورکړې
چې د دردمنو له احواله خبر شينه

▲ زما سلام په هغو وايه
چې د ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خورينه

▲ په خوله به جنګ درسره و کړم
د زړه کوڅې به درنه ولې بېلومه

▲ ټپس د باز په نرخ خر ځېږي
زه په دغه بازار سودا کله کومه

▲ خندا له تا سره جوړېږي
ماته پراته دي په ځولی، ځولی غمونه

▲ د ازادۍ په لار کې مړ شه
چې جنازه دې د اسمان ملکې وړينه

▲ مسلماني په چا کې نه شته
مرور ګرزم څوک مې نه په خلا کوينه

▲ زما د ګور مړی يادېږي
ما ګور ګټی کړې چې قبرونه لټومه

▲ خاونده غبرګ بچي يې مړه کې
چې يوه اشنا له بل اشنا نه بېلوينه

▲ د توتي هسې خولګۍ سره ده
د باغ ګلونه ټول بورا خوړلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**

ځېړنـــــــــچوپړي ( ريســـــــــرچ پانې)

▲ سلام دې راغی ته رانغلې
وا به دې نه خلم بې دينه سلامونه

▲ د زړګي حال ويلی نه شم
لکه خوله پټی تنور بلې لمبې خورمه

▲ د دلالانو بچې مړه کې
د ګلو لښتې په موزيانو زړه وينه

▲ دلاله فکر په کې و کړه
چې شال شړی سره يوه ځای نه کړې مينه

▲ دا به له مانه پوره نه شي
چې هر ساعت دې په جرګو په خولا کومه

▲ وربل دې جوړ په غنم لو که
زه خوار به لو کړم که به ستا ننداره کړمه

▲ په ګودر ګنې ونې کېږده
چې شا ليلا منګی په سيوري ږکوينه

▲ په دهقاني باندې زور و کړئ
سپينې پايڅې د زرو ځلې ورانوينه

▲ په صبر، صبر پوره نه شوه
سبا مې نيت دی بې صبری ته ملا ترمه

▲ جنی په خپله ښايسته ده
زرګره ستا په ګانه اور پورې کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ جلی وړه د یاری نه ده
ناپوهه مور يې ورته سترګې تورروینه

▲ څوک به يې ولې خاطر نه کړي
چې کور کې سره او سپین لري یا سپین مخونه

▲ چې په دنیا په ښه رانغلې
بيا مې د شناختو په سر مه وهه لاسونه

▲ مور يې په کلي شړومبی غواړي
لور يې چارک اوړی په غاړه ګرځوينه

▲ یا خو زما په زړه تیاره ده
يا د تمامې دنیا مړه دي مشالونه

▲ زما زړګی د کاوون غر دی
په نورو ګرد وي په ما واورې ورويته

▲ سوال به يې ولې نه قبلیږي
چې تور اوربل په زيارت ږدي سوالونه کړينه

▲ اوښانو بيا غاړې کږې کړي
چې پرې سپرې دي سپينې خولې زېړ پيزوانونه

▲ بې له ديدنه به روغ نه شم
که په بارو، بارو دي راشي کاغذونه

▲ په بل وطن مې نه لوريږي
که د ځلميو رسالې درېسي ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ولې به نه ژاړم تا لا شوم
اشنا زما دیدن یې نور خلک کوینه

▲ غمازه خوار شې مورړ دې خوار کړو
شړۍ دې لنګ شه چې شکوې پردي شالونه

▲ سر دې له هرې ونې لوړ دی
چناره ولې نه راوړې د خیال ګلونه

▲ عالم به تول په تا مین شي
که دې زما په سترګو و ویني مینه

▲ په یارانه کې زړه سندان که
په کې پیښیږي د پلکونو ګذارونه

▲ نجلۍ په سر دې منګی مات شه
چې دې اوبه شي د سینې د باغ ګلونه

▲ نصیبه و سوزې اېره شې
تندیه مات شې په تا څه لیکلي دینه ،،

( ګل باچا، ۱۳۲۵ لیږدی کال، ۱۱۲څخه تر ۱۱۹ چوپړی )

څېره ۲. الف ګل پاچا الفت ,, پښتو سندرې ،، لیکي کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۲۵ لیږدی (۱۹۴۶ زیږدی)، ( ګڼه یې په: دانې)

کڼه.: ۳ | راټولونکي / لیکوونکي نوم: ګل پاچا الفت | لیکی: پښتو سندرې | چاپ کال: ۱۳۲۵ لیږدی | ټول ټال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری: ۱۱۶

| Related منسوبي | Lándéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصری |
|---|---|---|---|---|
| | ۷۳ | ۲۶ | | ۱۷ |
| ▲ سرو ته منسوبي Related to men | ۲۱ | ۱۰ | | ۹ |
| ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | ۵۱ | ۱۴ | | ۸ |
| ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | ۲۰ | ۷ | | ۷ |
| ینه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملې، غوندلې سره راشي ) بینه. | ۲۵ | ۱۰ | | ۸ |
| زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | ۱ | | | |
| زورکی - mana - ( منه مجهوله هې * مه ) مه. | ۲۷ | ۹ | | ۲ |
| زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| ځرکنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | | | |

ورورستاړي غږ Suffix Voice

| ګره شوی Action Req'd ■ | خبرداری (Caution) ● | کنټرول کې (In control) ✓ |
|---|---|---|
| ۴۲۴ | ۱۰ | توول |


۱۵. ۳ لښتیلیک:. څېره ۲. الف ګل پاچا الفت ,, پښتو سندرې ،، لیکي کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۲۵ لیږدی (۱۹۴۶ زیږدی)، ( ګڼه یې په: دانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو انګړ**
ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

لاندې انځور مې پرې کړی او دلته ټمبلی دی چې له نن څخه ۶۲ کاله وړاندې په پښتنې سندرې لیکی کې صدیق الله ریښتن په ننتوزه کې کښلې دي.


(ج)

وروسته کښې ال دغزوې او دغز دراښکلو دیاره (نه، ه) راځي د پښتو لنډۍ دمېنې او ځګرې په دووسترو برخو وېشلې کېږي د پښتو لنډۍ په هر ځای کښې د متلو او په ځېر وېل کېږي او په یوه لنډۍ کښې دیوه غزل هومره معنې پرته وي.

د پښتو لنډۍ ځانله وېونکې نه لري بلکه ټول پښتانه ئې وايي او د پښتني اولس ګډه پانګه ده په ټېره هیرمند یکښې زیاته برخه اخستې ده او هر کله چه زیاتې دېنځو له خوا وېل کېږي او ځکه په زړونو باندې زیات پدل کوي او پښتانه ورځخه ډېر خوندونه اخلي. زه دلته یو څو لنډۍ دنمنې په توګه تاسې ته وړاندې کوم اوس به تاسې په خپله وګورئ چه ستاسې وینه په غورځنګ راولي او دزړه دیوالو له هر ځوځوي که نه؟ دادي وئې اولیء! توجه

د ګودر غاړه ورته نیسه * د لیلې خوی د مرغابۍ دي رابه شینه
د جینۍ خوی د غرڅنۍ دی * غرڅه چه خلې پرېکوي وطن څاړ ېنه
سبا به کاڼې بوڼۍ ژاړدی * چه یو آشنا له بل نه اخلی رخصتونه
ستړی ګی دي بیا د ګل غوټۍ کړي * باڼه دي پورته کړه چه وسپړي ګلونه
سورت مې زیړ یارمې زرګر دی * ما د هجران په امبو ځکه تو روینه
که اشارت کړي د بڼو کړه * دسپینو غاښو برښنا مکړه څوک به وینه
اشنا په ټوکو له په هېږی * ما به خورو زلفو وا هه مرو رشو نه
وارمې د تورو زلفو تېر شو * اوس مې په تورو زلفو نه نښلي بازونه
نېستی ببغو ر نه ده جانانه * زه به چرباڼګ هیچنه ستادیاره کړمه
یار مې په سین کښې لاهو راغی * ماتو ټکی کړي چه کښېږه وزه ورځمه
یار مې په ګلو کښې ویده دی * دسپینې خولې شبنم به زه پرې اوورومه
د اېمو شپو پوري را نغلي * سکروټې مړې شوې اوس اېرو ته ناسته یمه
یار په سفر ځي توښه غواړدی * کباب د زړه باداد دسترګو ور کومه

( صدیق الله رشتین د پښتو ټولنې مشر )

٣٦:- محمد دین ژواک د پښتني سندرې لومړۍ برخه ۱۳۳۴ لېږدی ج چوپړي انځور. د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۴ ده او سریل ګڼه یې ۱۲۵۹۴ ده، پرله پسې نمبر د پښتو ټولنې ۱۱۵ ده، چې ټولې په کې ۷۳۰۰ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې سره ګډې ټولې شوې دي. چې ۱۳ دانې لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې په ننتوزې کې صدیق الله ربښتین سره ګډې په کې کښلې دي. * ما یې انځور باستلی دی، له A٤ یې د چوپړو(مخونو) جوسه لړ اوړد دی. ( # ۳۶ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.۱۵ بې (ب). صديق الله رښتين د پښتو ټولنې مشر داسې ليکلي دي لکه:

... . ,, پښتو لنډۍ د پښتنې سندرو يوه ډېره غوره او زياته برخه ده چې لومړی مسره يې ۹ سيلابه او دوېيمه يې ۱۳ سيلابه وي.
دا سندرې جلا، جلا نومو باندې يادېږي، لکه لنډۍ، ټپه، ټيکی، ستاينه، مصره د لنډيو په ورسته کې تل د غږو يې او د غږ د راښکلو له پاره ( نه او هـ ، راځي.

د پښتو لنډۍ د مينې او جګړې په دوو سترو برخو وېشلی کېږي، لنډۍ په هر ځای کې د متلونو په ښېر ويل کېږي او په يوه لنډۍ کې د يوه غزل هومره مانا پرته وي.
د پښتو لنډۍ ځانله ويونکی نه لري بلکه ټول پښتانه يې وايي، د پښتنی اولس ګډه پانګه ده، په تېره مېرمنو په کې زياته برخه اخېستې ده، هر کله چې زياتې د ښځو له خوا ويل کېږي نو ځکه په زړونو باندې زيات پدل کوي او پښتانه ورڅخه ډېر خوندونه اخلي.

زه دلته يوه څو لنډۍ د ښېې په توګه تاسې ته وړاندې کوم اوس به تاسې په خپله و ګورئ چې ستاسې وينه په غورځنګ راولي او د زړه ديوالونه مو خوځوي که نه؟ دا دی و يې لولئ! توجوع

▲ د ګودر غاړه ورته نيسه
د ليلا خوی د مرغابی دی رابه شينه

▲ د جينۍ خوی د غرڅنی دی
غرڅه چې خلی پرېکوي وطن ښارينه

▲ سبا به کانې بوټې ژاړي
چې يوه اشنا له بل نه اخلي رخصتونه

▲ سترګې دې بيا د ګل غوټۍ کړې
بانه دې پورته کړه چې و سپېري ګلونه

▲ صورت مې زر يار مې زرګر دی
ما د هجران په لمبو ځکه توروينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که اشارت کړې د بڼو کړه
د سپینو غاښو برېښنا مه کړه ځوک به وینه

▲ اشنا په ټوکو نه پوهېږي
ما په خورو زلفو واهه مرور شونه

▲ وار مې د تورو زلفو تېر شو
اوس مې په تورو زلفو نه نښلي بازونه

▲ نښتي پیغور نه ده جانانه
زه به چړبانګ مېچنه ستا له پاره کړمه

▲ یار مې په سین کې لاهو راغی
ما توتکۍ کړې چې کړه وړه ورځمه

▲ یار مې په ګلو کې ویده دی
د سپینې خولې شبنم به زه پرې اورومه

▲ د نیمو شپو پورې رانغلې
سکروټې مړې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه

▲ یار په سفر ځي توښه غواړي
کباب د زړه بادام د سترګو ورکومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ج چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ
## ځېرنــــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

**ځېره ۲. ب محمد دین ژواک ,, پښتني سندرې ،، لومړی برخه لیکی، په ننتوزي د ج چوپړي کې د صدیق الله رښتین د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۳۴ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)**

| (In control) کنټرول کې ✓ | (Caution) خبرداری ● | Action Req'ed ګړه شوی ■ | Suffix Voice وروستاړي غږ | Related منسوبي | Mésréy مصری | Ţikéy ټیکی | Ţapé ټپې | Lánḍéy لنډی | ټول ټال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری | چاپ کال | لیکی | راټولونکی / لیکونکی نوم | ګڼه. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۳ | | ۲ | ۸ | ۱۳ | لیږدی ۱۳۳۴ | پښتني سندرې | صدیق الله رښتین | ۴ |
| | | | | ▲ Related to men سړو ته منسوبي | | | | ۵ | | | | | |
| | | | | ▲ Related to women ښځو ته منسوبي | ۳ | | ۲ | ۳ | | | | | |
| | | | | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | ۱ | ۳ | | | | | |
| | | | | ینه - ná: (څرګنده ي په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه. | ۱ | | | ۳ | | | | | |
| | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | | | | | | |
| | | | | زورکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | ۲ | | ۱ | ۲ | | | | | |
| | | | | زورکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خیله) دېرې لږې شتون لري. | | | | | | | | | |
| ټول | ۱۲ | ۵۵ | | څرګنده , ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | | | | | | | | |

۱۵ .٤ لښتیلیک:. ځېره ۲. ب محمد دین ژواک ,, پښتني سندرې ،، لومړی برخه لیکی، په ننتوزې د ج چوپړي کې د صدیق الله رښتین د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۳۴ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۱۵ بي – ۱. پښتو څېړنو د نړوال مرکز، نړوال سیمینار د مقالو مجموعه، ۱۳۵۴ لیږدی کې پوهاند صدیق الله ربښتین په اووه مه ګڼه مقاله پښتو پېژندنه کې کښلي دي.:

,, لنډۍ: لنډۍ د پښتو ژبې یوه ډېر لرغونی طبعي شعر دی. لنډۍ کوم معلوم ویونکی نه لري بلکه د ټول اولس یوه شریکه پانګه ده چې د پښتو د شفاهي ادب یوه غوره برخه ورته ویلی شو. د پښتو په هره لنډۍ کې د یوه پوره غزل مفهوم پروت وي. د لنډۍ اوله مسره له دوییمي نه لنډه وي نو ځکه ورته لنډۍ وايي.

لنډۍ ته ټپه او ټکۍ هم وايي. په پښتو لنډۍیو کې هر ډول مطالب ویل کې دی شي خو زیاتې لنډۍ عشقي او د مینې محبت په ګانه ښایسته دي. د ننګ او غیرت توري میراني لنډۍ هم ډېري دي. لنډۍ په هر ځای کې په جلا جلا اهنګ او تال ویل کېږي چې تیراوالي، شلګری او پېښوری په کې ډېر شهرت لري. ښاغلی بینوا په خپل اثر ,, چند اهنګ ،، پښتو کې د لنډۍیو ,, ۱۱،، اهنګونه ښودلي دي او وایي چې نور هم لري، پښتو لنډۍ تر اوسه پورې په کامل ډول نه دي راټولې شوي یوازې ۸۰۰۰ لنډۍ د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۴ لیږدیز کال کې خپرې شوي دي. دوه لنډۍ د نمونې په توګه رواوړل کېږي:

▲ اور چې بلېږي اخر مړ شي
زړه چې مین شي همېشه لمبې وهینه

▲ د اکبرخان غازي په توره
وطن رڼا شو دښمنان په ماتې ځینه ،،

( پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ لیږدی،۵۰ چوپړی)

څېره ۲. ب - ۱ پښتو ټولنه ,, پښتو څېړنې ،، د پوهاند صدیق الله ربښتین په اوومه ګڼه مقاله پښتو پېژندنه کې، ۵۰ چوپړي، کې د صدیق الله ربښتین د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۵۴ لیږدی، ( ګڼه یي په: داني)

| ګڼه. | راټولونکي / لیکوونکي نوم | لیکی | چاپ کال | ټول تال لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری | Lánḍéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصری | Related منسوبي | Suffix Voice وروستاړي غږ | Action Req'ed کره شوی | (Caution) خبرداری | (In control) کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | صدیق الله ربښتین | پښتو څېړنی | ۱۳۵۶ لیږدی | ۲ | ۱ | | | ۱ | | | | | |
| | | | | | ۱ | | | ۱ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | | | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | | | | | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | ۱ | ینه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېري لږي شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | ځرګنده , ه ،: ( کوناتوره، بختوره) ډېري لږي شتون لري. | | ۵۵ | ۵ | ټول |

۱۵. ۵ لښتیلیک:. څېره ۲. ب – ۱ پښتو ټولنه ,, پښتو څېړنې ،، د پوهاند صدیق الله ربښتین په اوومه ګڼه مقاله پښتو پېژندنه کې،۵۰ چوپړي، کې د صدیق الله ربښتین د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۵۴ لیږدی، ( ګڼه یي په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴.۱۵ پې (پ). پوهاند دوکتور سيد بهاء الدين مجروح نظريه داسې سپينې ته راباسې.

د پښتو ښېړنې ليکې کې په دې سرليک؛ لنډۍيو کې د پښتنې مېرمنې يوه خاصه ښېره په دې بڼه کاږې ,, ... . لنډۍ د ګرامرې جوړښت، فکرې او شعرې محتوى له لحاظ په دوې ډوله وېشل کې دى شې يا د ښځې له خوا ويل شوې وې او يا د نارينه له خوا. د نارينه له خوا ويل شوې لنډۍ هم په دوې ډوله دې:

هغه لنډۍ چې طالب، ملا يا ميرزا ويلې دې او هغه کې درې او عربې اصطلاح ګانې راغلې دې، دينې مفاهيم او د درې شعر تاثيرونه په کې ليدل کېږې، د دې لنډۍيو شعرې ارزښت ډېر لږ دى. مصنوعې او سستې دې، رښتينې شعرې قوې لنډۍ هغه دې چې بې سواده نارينه وو، ويلې دې. مګر ترټولو مهمې هغه لنډۍ دې چې د ښځو له خوا ويل شوې دې. ,, ( سيد بهاء الدين، ۱۴۶ چوپړى)

,, ... . **۱ـ په مينه کې:** د نارينتوب کوډ د ښځې مينه سانسور وې او منع کوې او دينې احساس د دې نهې ملاتړ کوې. پېغلې او ځلمې حق نه لرې په آزاده ټوګه سره کېنې پاڅې آزادانه د مينې اظهار و کړې، د مېړه او ښځې په توګه يوه بل سره خوښ کړې، مينه داسې يوه ګناه ده چې مرګ يې جزا ده. د مينې ګناهګاران وژل کېږې او د دښمنې سلسله نسلو نه نسلو ته دوام کوې.

پېغلې تبادله کېږې او يوازې د کورنۍ مشر د خپل د فاميلې او قبيلوې سياست په بنا د هغې سرنوشت ټاکې. نو ځکه د بېلتون سندره د لنډۍيو ډېره مهمه برخه ده، وجه يې دا ده، چې پښتنه پېغله تل خپل مين څخه جلا ده، ځلمى يا لرې وطنو ته غريبى پسې تللى او په کلې کې دى، خو پېغلې ته يې د ليدو اجازه نه شته. د ښځې له خوا د مينې اظهارولو په ګناه او لوى شر ښکارې دا پېغله د تل له پاره په بېلتون اخته په دوو بلاوو کېوزې:

مېړه يې يا سپين ږيرى وې يا يو کوشنى هلک. دا مېړه دى چې همېشه ورته د ( موزيګې) خطاب کوې. هېڅ داسې يوه لنډۍ به ونه مومو چې په هغې کې ښځه خپل مېړه ته د مينې يا د وفادارې اظهار و کړې.

▲ ولې به نه ژاړم عالمه
چې زوړ سړى مې د پالنګ تمه کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زما په برخه دې کمکی کړ
زه چې کمکی یار لویوم زړه به شمه

او مېړه سره ژوند ورته هره شپه عذاب دی:

▲ خاونده بیا دې ماخستن کړ
بیا مې په خوا کې موزيګی کوي خوبونه

▲ خاونده بیا د ماخستن کړ
چې نارضا کټ ته مې ربړ دي اندامونه

خپل خاوند موزيګي ښځه په سندره کې داسې انتقام اخلي.

▲ راځه، راځه پر کټ را خېږه
که بازو مات شو موزيګی به يې جوړوينه

▲ ستا په راتلو موزي قاربږي
زه به خولګۍ په دروازه کې درکومه

مګر دا نا رضایت په یوه بل شان ښه بنه په لنډۍيو کې بربښي. د مينې خبرې ممنوعې خبرې دي، دا خبرې په جګ اواز او په ډاګه ویل په خپله د نارينتوب کوډ بې اطاعتي ده. ښځه د عشق او مینې ښځه په ډېر صراحت او سخت ریالېسم خبرې کوي.

ته به وایې چې دا غوارې قصداً، ارادتاً نارينه و شرموي، نارينه په خپل نارينتوب کې خړ پړ کړي او کوم ټکی چې په دې عشق سندره کې لا نور د پاملرنې وړ دی هغه دا دی چې په دې عشقي بیان کې ښځه د زړه سوی او د ترحم احساس ښځه هېڅ کار نه اخلي.

▲ مینه یم منکره نه یم
که شنکی خال مې د څېرو په څوکو ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خوله مې د خولې د پاسه کېږده
ژبه مې پرېږده چې ګيلې درته کوينه

▲ بېګانۍ شپه به بيا را نه شي
چې درسته شپه د يار په غېږ کې شرېدمه

▲ راشه زما تر ځنګه کښېنه
که ته شر مېږي لاس به زه درواچومه

▲ خولګۍ مې خوره صرفه پرې مه کړه
شکره نه ده چې په تول به کمه شينه

▲ ټينګه مې و نيسه په غېږ کې
مخ مې راستون کړه ښکلوه شينکي خالونه

ځلمی خپل عشق ته رابولي. مګر دا بلنه په عذر او زارۍ نه کوي، ته په خپل ځان زړه سيزې او ته په خپل مين، په دې ميدان کې ښځه د نارينه ځخه زړه وره ده ځکه چې په دې بلنه کې له نارينه ځخه ښځې ته زيات خطر متوجې دی. ځکه چې نارينه خو له ځانه دفاع کولی شي، تښتېدی شي، بل وطن ته تلی شي، مګر ښځه تل وژل کېږي، دا کبرجنه زړه وره د خپل ځان خطر ته هېڅ اشاره نه کوي يوازې نارينه تشويقوي (لېيلي) چې لږ څه خطر خو قبول کړي:

▲ ديدن کوه مه ايسارېږه
که چا پرې مړ کړې ځوانان تل په مينه مرينه

▲ له سره تېر شه ديدن و کړه
چې سر ساتې خاورې به و کړي ديدنونه

▲ راځه چې باغ ته سره لاړ شو
يا به مين شو يا به غبرګې چړې خورونه ،،
( سيد بهاء الدين، ۱۵۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو انګړ
## څېړنــــــــچوپړي ( ريســـــــــــرچ پاڼې)

▲ ,, ته چې زما په غېږ کې رېږ دې
هلته په څه کړې چې د تورو بربېښنا وينه

▲ جانانه مې جنګ کې ماتې و کړه
په بېګانۍ ورکړې خوله پښيمانه شومه

▲ که له ميدان نه په شاه راغلې
کور دې ځای نه شه بل وطن ته ځه مينه

▲ مرچل ته ژر خېږه جانانه
ما دې په سر باندې ايښودې دې شرطونه ،،
( سيد بهاء الدين، ۱۵۳ چوپړی)

ځېره ۲. پ پښتو تولنه ,, پښتو ځېړني ،، د پوهاند دوکتور سيد بهاء الدين مجروح په مقاله لنډيو کې د پښتني مېرمني يوه خاصه ځېره، ۱۴۶ چوپړي، کې د لنډيو، مصرو، ټپو او ټيکيو کچه، ۱۳۵۴ ليږدی، ( ګنه يې په: دانې)

| کنه. | راټولونکی / ليکوونکی نوم | ليکی | چاپ کال | ټول ټال لنډی، ټپې، ټيکی او مصری | Lánḍéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټيکی | Mésréy مصری | Related منسوبي | ورروستاړي غږ Suffix Voice | ■ کړه شوی Action Req'ed | ● خبرداری (Caution) | ✓ کنترول کی (In control) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | پوهاند مجروح | پښتو ځېړنی | ليږدی ۱۳۵۶ | ۱۹ | ۱۱ | ۵ | | ۳ | | | | | |
| | | | | | | | | ۱ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۱۱ | ۵ | | ۲ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۳ | ۲ | | ۱ | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۵ | ۱ | | ۲ | ينه - ná: (ځرګنده ي په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) بينه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۳ | ۲ | | | زورکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لړې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | ځرګنده , ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لړې شتون لري. | | ۲۴۶ | ۷ | تول |

۱۵. ٦ لښتيليک:. ځېره ۲. پ پښتو تولنه ,, پښتو ځېړني ،، د پوهاند دوکتور سيد بهاء الدين مجروح په مقاله لنډۍ يو کې د پښتني مېرمني يوه خاصه ځېره، ۱۴۶ چوپړي، کې د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو کچې، ۱۳۵۴ ليږدی، ( ګنه يې په: دانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ . ۱۵ تې (ت). سليمان لايق د لنډيو په اړوند چې څه سپينې ته راباستلې. موږ ته يې په پوخ کې کړي دي، په دې بڼه بوږوي.

,, لنډۍ د پښتو د فلکلوري شعرونو په لړ کې د لنډيو برخه واقعاً د ټول بشريت د فلکلوري شعرونو د عظيمې شتمنۍ يوه مهمه برخه ده. د لنډيو يوه ستر اهميت دا دی چې د هغه سندريز خصوصيت او اهنګ روزونکي فطرت د نړۍ په ټولو فلکولوري شعرونو، سندرو کې ممتاز دی او سارۍ نه لري.

کله چې زه د لومړي ځل له پاره د لنډيو په دې خصوصيت باندې پو شوم او د نورو ملتونو مشابهو شعرونو مقايسه کې مې د لنډيو لس هاوو غاړو او آهنګونو موسيقي يوه څه مطالعه کړه ځان مې په داسې يوه لوی درياب کې وليد چې د هغه د څېړنې او مطالعې ستر کار چې ما يې نيت کړی و، وارخطا کړم. کوم ستر نړۍوال شاعران او ادب پوهان چې واقعاً د لنډيو په دې خصوصيات باندې پوه شي دغه اشعار به دومره و ستايي چې اوسنۍ متمدنه نړۍ به ورته ايرانه شي.

لنډيو د انسان د احساساتو، عواطفو، دردونو، رنځونو او انګېرنو ډېر عالی او دقيقه درجه بندي کړې ده. هغه يې د ډېر خواږه او ظريف بيان په موسيقۍ کې وړاندې کړي دي. زموږ په جغرافيايي سيمې په ټول فلکولوري قلمرو کې هېڅ سندره نه د خپل آهنګي خصوصيت، نه د خپلې تغزلي شتمنۍ، نه د خپل سموالي او هيجان له پلوه له لنډيو سره برابري کولی شي.

لنډۍ که څه د بکوا په دښتو کې زېږېدلې وي که څه د باميانو د بوتانو په لمريځه ناوه کې، څه د پکتيا په ګڼو او ګورو ځنګلونو کې، څه د آمو په غاړو او څه د هندوکش په څوړو کې ګډې او مشابه سيمې لري. ,, مينه، بېلتون، پرديسي، مرګی او حماسه،،:

▲ په زړه مې اور د ګرګو بل دی
د اوسلو په ځای سکروټې تويوينه

▲ غمونه غرونه شو درانه شوو
په ما راغلي د بېلتون دارنه غمونه

▲ تا وې نن ځم سبا به راشم
جانانه مياشتې دې شمېرم تېر شو کلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اوس که را درومې وخت تېر شوی
په تورو څنو مې خواره شوو سپين ګلونه

له دې نه چې د ملت ورک او بې نښانه شاعر توانيدلی دی، د بشر د احساساتي ژوند تر ټولو عالي شېبې په دوو نامتو ازنو مسراعو کې په ايجاز بيان او تصوير کړي انسان ايرانېږي. همدا اوس د شپنو، او ښبنو په آوازونو کې داسې لنډۍ اورو چې په هغوی کې تغزلي خوځندتوب هسې کمال ته رسېږي چې لا تر اوسه د هېڅ پښتو ژبې شاعران لاس هغه ته نه دی رسېدلی. لاندېنی لنډۍ د دې ادعا ژوندی سپرغی دي:

▲ باد يې پر مخ ځنې خورې کړې
په لمر راپرېواته د ورېځو تنابونه

▲ په دنيا سره وړانګه پرته ده
ليلا په څنو کې غاټول ټومبلي دينه

▲ خبرې کړې شونډې دې رېږدي
لکه سورګل چې د سهار شمال وهينه

▲ په زلفو ورو ږمنځ را کاږه
هلته زما د زړګي کور دی وران به شينه

▲ په لاره ځم ټوله شرنګېږم
ستا د تومت ځنځير په غاړه ګرځومه

دا شعرونه چا ويلي دي؟
کوم بې نښانه شاعر دغه مرغلرې د انساني پرګنو ناتاميدونکي سين ته ورشيندلي دي؟
ايا دا بې نومه شاعر په دې پوهېده چې ده د انسان د ګونګې تندې او هيجان څخه څنګه پرده پورته کړې ده؟
ايا دی پوهېده چې مين او غمجن بشريت به پېړی، پېړی د ده د ترانو په څپو کې خپلو اوږدو او ژورو غمونو، کړاوونو ته للو و وايي، د خپلو نا کامو او محرومو عواطفو سر کش سيلاوونه به پې راتم کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





په دې عاميانه مصراعو کې د انسان عواطف او احساسات دومره ساده، بربنډ مهذب، ښکلي او صادقانه بيان شوي دي چې تر هغه پور ته يې تصور نه شي کې دی.

په دې نا برابرو مسراعو کې چې د وطن ساده غرونو او دښتو زېږولي دي. د انسان د ژوند ميني او هستي ايرانوونکي ښکلا پرته ده. ساده، ښکلا، رښتينډويه ښکلا، سپېڅلي او ځلانده ښکلا، له تيارو او ګرنګونو نه خالي ښکلا، له کرکې او حسادت نه ازاده ښکلا، د عشق ښکلا، د ناويلو رازونو ښکلا او د انسان د مقدس لېونتوب ښکلا.،، (سليمان لايق ۱۳۶۱ لېږدی، څلورم چوپړی)

... . ،، په لنډۍيو کې د تغير او بدلون پروسه؛ ما څو واره د لنډۍيو تعميمي کرکټر او هغه عالي خصوصيت واضح کړی دی چې هغوی ته له راز، راز شرائطو سره د تطابق او پر له پسي نوښت امکان ورکوي.
د لنډۍيو مست او له شوره ډک سين تل د يوې ځپې ځای بلې ته، د بلې لا بلې ته ورسپاري. په دې توګه د لنډۍيو رنګين ګلستان، د هغوی غاړو ( اهنګونو) مهيجه او نڅونکي سنفو يې له مطلق خزانېدو، وچېدو او غلي کېدو څخه ساتي. د لنډۍيو د سين ځپو کې توحيد شوي ځاڅکي له خپلې چينې څخه تر يوه قانونمند دود لاندې د خپل سفر په ليکه لار وهي. هغوی د خپل سير په ښکلي نندارتون کې يوه لازمه زماني فاصله ډکوي، بيا د ننداري له سيمې څخه وزي مګر د ځاڅکو، ځپو په بدلېدو د سين عمومي شکل او منظر ته تاوان نه رسېږي.

سين بيا هم سين دی بهېږي، د هغه مستانه سرودونو او پياوړي ځپې د ژوند په پراخ بستر کې لار وهي، زموږ د تولني مبارزو ستومان انسان ته د عمل او حرکت د دوام په خاطر نوې دمه ورکوي، هر څومره چې زاړه غوږونه او زړې سترګې نويو ته ځای پرېږدي. هماغومره د لنډۍيو ځپې او ځاڅکي هم خپلو نويو افرادو ته ميدان ورکوي. له همدې کبله د نويو ذوقونو، نويو سامعو، ځوانو سترګو له رازېږېدو او څرګندېدو سره يوه ځای د لنډۍيو د لرغوني سين په ځاڅکو او ځپو کې هم بدلون او نوښت راځي.

د لنډۍيو هستي له ځيني جهاتو څخه د ځېړۍ وني ته ورته ورته ده چې پاڼې يې يوه ځای او يوه ځل نه توېږي بلکې تدريجي پر له پسي او نا محسوس خزان پرې تېرېږي.

لنډۍ کټ مټ د ځېړۍ پاڼو ته ورته ده چې له خپلې لويې ونې ( د خلکو له حافظي) څخه يوه، يوه او کراره، کراره د باندې وزي او پرځای يې يوه، دوې يا زياتې لنډۍ د اولس د ژوند پر دنډر باندې راټو کېږي، پاڼې د لنډۍيو د لويې ونې له لکونو پاڼو څخه ورځ تر ورځې، مياشت تر مياشتې او کال تر کاله يوه څو محدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې تر وخت تېرې پاڼې چې نور د تولنې د ضرورت او ذوق تنده نه شي ماتولی راتوېږي. د ژوند نوې پاڼې د دې لرغونې ونې پر څانګو باندې د ضرورت پر بنا د رژیدلو پاڼو ځای نیسي، په دې توګه په ونه کې پر له پسې د پاڼو د تدریجي راتوکېدو، ځوانېدو، رژېدو او مرګ پروسه دوام لري. له همدې کبله دا لرغونې ونه لا تر اوسه پورې هېڅ کله نه ده لوڅه شوې ښکلې او په پاڼو پټه پاتې شوې ده.

د لنډۍیو همېشنی شنه ونه چې پر له پسې د لنډۍیو زاړه افراد تویوي او نوي افراد زېږوي ( همېشه بهار) ونه ده. د هغې پاڼې ګلونه تر یوه قانون من بهیر لاندې بدلون وده او تکامل مومي. د دې تکامل په ترڅ کې د لنډۍیو افراد په دوام داره توګه نوي کېږي، زېږېږي، زاړه شوي یې مري مګر د رنځورو لنډۍیو ځګېروي، مرګ آواز هرڅوک نه اوري او نه یې شي اورېدلی.

د لنډۍیو د زېږېدو، مرګ چټکتیا او پراختیا اندازه د تولنې، د اجتماعي اقتصادي بدلون په سرعت او وسعت پورې اړه لري. هرڅومره چې اجتماعي اقتصادي وده ګړندۍ او انقلابي وي. هماغومره د نویو لنډۍیو د راپیدا کېدو او زړو لنډۍیو د مرګ او یا بدلون پروسه هم ګړندۍ کېږي.

مګر د دې خبرې مانا دا نه ده چې لنډۍ په مشخص تاریخي فورماسیون کې په یوه میزان او بې بدلونه پاتې کېږي. البته دا یوه اصلي، قانونمنده خبره ده چې کله یوه اجتماعي اقتصادي فورماسیون بل اجتماعي اقتصادي فورماسیون ته ځای پرېږدي، د تولنې په روبنایي قلمرو کې د ژورو انقلابي بدلونو نو او تغیراتو له پاره زمینه برابرېږي. خو دا حتمي نه ده چې په اجتماعي سیمه کې دې تول تغیرات حتا سطحي او جزوي تغیرات یوازې، یوازې هغه وخت منځ ته راشي چې یوه تاریخي مرحله بلې تاریخي مرحلې ته ځای پرېږدي.

زموږ تولنه د فیوډالي – اجتماعي اقتصادي فورماسیون په تاریخي مرحله کې له بودایي او زردشتي دینونو څخه د اسلام دین ته راوښتې ده. همدا راز د دري شعر په ساحه کې د فیوډالي مناسباتو په دوره کې خراساني سبک، عراقي ته او عراقي سبک هندي سبک ته خپل ځای پرې ښینی دی چې هریوه یې د شکلي خصوصیاتو په لحاظ له نورو سره توپیر لري. په همدې اجتماعي اقتصادي فورماسیون کې د مکتوبې ادبیاتو داسې کومه نوع او مکتب نه شته چې د دې مشخصې تاریخي مرحلې له پیل نه دې تر پایه ثابت او بې بدلونه پاتې شوی وي.

د فلکولور تولو برخو خصوصاً لنډۍیو په دې مشخص دوران کې د رازېږېدو له وخته بیا تر نن پورې د یوه روبنایي تابع او جز په حیث پرله پسې تغیر مندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مشخص فورمایسون کې ډېرې لنډۍ هست شوي او ډېرې نشت شوي دي.
نوي مضمونونه او بکر مفاهیم لنډۍیو ته ننوتي او ډېر زاړه اصطلاحات او لغات او ژبني علایم له لنډۍیو څخه لوېدلي دي. پر دې بر سیره هغه لنډۍ چې مدلول بهایې له منځه تللي، یا خلکو له نظره لوېدلي دي په خپله هم هېرې شوې او مړې شوې دي. په دې جریان کې د ځینو لنډۍیو د ساقطیدو پروسه اوږده شوې او تر قطعي مرګ پورې یې اوږده لاره وهلې ده.

په همدې ردیف کې په قوي احتمال هغه لنډۍ شاملې دي چې د لنډۍیو هستوونکو، یا د غاړو د ایجاد ګرانو اخلاقو د هغو په لومړۍ یا دوېیمه فقره کې تغیر راوستی دی او د اصلي لنډۍ یوه مهمه برخه یې غورځولې ده، مثلاً لاندې لنډۍ غبرګې لنډۍ به و ګورو چې وایي:

▲ زما د زړه صدف دې مات کړ
ځکه مې وینې په سینه وهي موجونه

▲ زما د زړه صدف دې مات کړ
زه به تر سترګو مرغلرې تویومه
(پښتنې سندرې- لومړۍ برخه، ۱۷۷ مخ - د چاپ کال ۱۳۳۴ کابل)

په دې دوو لنډۍیو کې چې واحده لومړۍ مسرۍ لري یوه خامخا ترېلې مخکې ویل شوې ده، دوېیمه لنډۍ خپله لومړۍ مسرۍ له هغې نه اقتباس کړې ده. دا احتمال ډېر کمزوری دی چې دواړه لنډۍ دې دوو بېلو شاعرانو په عین وخت کې ویلې وي، که چېرې دغه محال فرض د دې دوو لنډۍیو په باره کې ومنو نو دغه دوه لنډۍ خو په خپل نوع کې یوازېنۍ دوه جوړه شوې لنډۍ نه دي بلکې داسې لنډۍ ډېرې دي چې دوه، دوه؛ درې، درې او حتا څلور، څلور یا تر هغو لازیاتې په لومړۍ یا دوېیمه فقره کې سره یوه دي. لاندېني مثالونه به د دې مدعا د ثبوت له پاره و ګورو.
په دغو مثالونو کې د لنډۍیو څو جلا ګروپونه چې لومړۍ فقرې یې سره یوه ښودل شوې دي.

لومړی مثال:

▲ قلم به مات ګوتې به پرې کړم
کاغذه تا که اشنا ونه ژړاونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ قلم به مات ګوتې به پرې کړم
په وینو رنګ کاغذ به یار لره لیږمه
(پښتنې سندرې- لومړۍ برخه ۲۳۱مخ)

دوېیم مثال:

▲ که دنیایي شرمونه نه وی
تا به منګی وړی زه به تش درسره تلمه

▲ که دنیایي شرمونه نه وی
قسم دی یاره په جوپه درسره تلمه
(پښتنې سندرې ۲۴۳مخ)

درېیم مثال:

▲ که د یار غږ را باندې و شو
د لاس بنګړي به ورته زېری ورکومه

▲ که د یار غږ را باندې و شو
مال به خیرات کړم سر به زېری ورکومه
(پښتنې سندرې ۲۴۳مخ)

څلورم مثال:

▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
د نړېدلي پاڼې په سر و لاړه یمه

▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
د بېلتانه کاروان راځي قیامت به شینه

▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
پر مخ مې شال د بېلتانه و غوړېدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
ختې یې کړې کنډوونه بندوینه

▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
کښتې غرکېږي پر تخته ولاړه یمه

▲ که دیدن کړې تلوار پرې و کړه
دم کړې خاورې مې په سترګو دوړومه
(پښتنې سندرې ۲۴۴مخ)

پینځم مثال:

▲ ګلاب لا ګل نه دی غوټی ده
بورا پرې شپې سبا کوي چې ګل به شینه
▲ ګلاب لا ګل نه دی غوټی ده
بورا د صبر دروازې نیولې دینه
(پښتنې سندرې ۲۵۰مخ)

شپږم مثال:

▲ یوه ځلې بیا په دې لار راشه
پر پخوانو لارو دې پرېوتل ګردونه

▲ یوه ځلې بیا په دې لار راشه
زما جانانه چې دې و کړم دیدنونه
(پښتنې سندرې ۳۰۶مخ)

اووم مثال:

▲ تبی را واخلئ مخ را تور کړئ
ما د کم اصلو یاري کړه و شرمېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبی را واخلئ مخ را تور کړئ
د باچا لور وم پر طالب مینه شومه

تبی را واخلئ مخ را تور کړئ
چې په بې نیازو پسې تلم پښېمانه شومه
(پښتنې سندرې ٥١ مخ)

پر یادوشوو مثالونو بر سېره چې په لومړی مسری کې د لنډيو د ځینو ګروپونو یووالی ښه يې داسې لنډی هم شته چې دويمه مسری کې سره یوه شوې دي لکه لاندېنی نمونې.

لومړی نمونه:

سترګې دې دواړه رانږدې کړه
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه
(پښتنې سندرې ۳۲۳مخ)

تر خماري سترګو دې جار شم
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه
(افغانستان راډیو)

عالمه سترګو ته يې ګورئ
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه
(پښتنې سندرې ۲۲۲مخ)

دوېيمه نمونه:

که تومتونه چېرې نه وی
کسم دی یاره په جوپه درسره تلمه
(پښتنې سندرې ۲۴۱مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که دنیایي شرمونه نه وی
کسم دی یاره په جوپه درسره تلمه
(پښتنې سندرې ۲۴۳مخ)

درېيمه نمونه:

▲ له ملکه ځمه خولګی راکړه
مدام به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
( د پولخمري په والسوالۍ کې ثبت شوې ده)
▲ نامردي یوه ځلي خوله راکړه
مدام به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
(پښتنې سندرې ۲۸۰مخ)

څلورمه نمونه:

▲ خاورې به تاله خولګی در کړم
په ډال دي نه شته د مصرۍ تورې وارونه
(پښتنې سندرې ۸۹مخ)

▲ هلکه خدای که به خوله درکړم
په سر دې نه شته د مصرۍ تورې وارونه
(پښتنې سندرې ۲۷۹مخ)

پېنځمه نمونه:

▲ هره ناپسنده به دې یو سم
په یارانه کې دې شریک نه کبلومه
(پښتنې سندرې ۲۹۶مخ)

▲ هلکه هر ناز به دې یو سم
په یارانه کې دې شریک نه کبلومه
(پښتنې سندرې ۲۹۷مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږمه نمونه:

▲ یار مې سورېږي روانېږي
پرما اورېږي د سکروټو بارانونه

▲ یار مې په زېږ مازیګر درومي
پرما اورېږي د سکروټو بارانونه

▲ یار مې د اور ګاډي ته خېږي
په ما اورېږي د سکروټو بارانونه
(پښتني سندرې ۳۰۱مخ)

▲ یوه ځلې توره لنګۍ و کړه
بیا که شړۍ په سر کوې یاره دې یمه
(پښتني سندرې ۳۰۲مخ)

▲ یوه واري توره لنګۍ و که
بیا که شړۍ په سر کوي یاره دې یمه
(پښتني سندرې ۳۰۸مخ)

اوومه نمونه:

▲ یار مې د تلو څپلۍ په پښو کړې
زړګی مې رېږدي اوس به واخلي کدمونه
(پښتني سندرې ۳۰۶مخ)

▲ یار مې د کوچ نغاره و کړه
زړګی مې رېږدي اوس به واخلي کدمونه
(پښتني سندرې ۳۰۲مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثالونو زیاتوالی په خپله ښیي چې د دې فقرو یووالی یوه تصادفي شاعرانه توارد نه دی بلکې د دې راوړل شویو فقرو مانا دا ده چې د هر مثال او هرې نمونې د ګروپ په لنډیو کې یوه لنډۍ تر نورو پخوا ویل شوې، دوېیمه، درېیمه، څلورمه او نورې لنډۍ ورسته راپیدا شوې دي.

د ورستۍ یو لنډیو شاعرانو د لنډۍ لومړۍ برخه راخېستې ده، د لنډۍ دوېیمه برخه یې حذف کړې، په خپله یې له خپل ذوق، غوښتنې سره سمه هست کړې او ور اچولې ده. د دې تصرف له پاره ډېر علتونه اټکل کې دی شي، مثلاً د لنډۍ یو د هستوونکو د ذوق توپیر، د اجتماعي موقف توپیر، د دودونو او اجتماعي کوډونو توپیر، د زمان توپیر، د عمومي ټولنېز انکشاف توپیر، د کلي او کېږدۍ فقر او رفاه، د سویې او طبیعي محیط توپیر او داسې نور. د دې سبب شوی دی چې د لنډیو په دوېیمه مسرۍ کې لاس و وهل شي، د دې منل شوي علمي اصل په بنا چې انسان د خپل مادي محیط مخلوق، د هغو طبیعي او اجتماعي مظاهرو بیانوونکي دي چې دی یې راچاپیر کړی دی. په پخوانۍ لنډۍ کې لاس وهې، هغه د خپلې مشاهدې، تجربې او روحي غوښتنو د بیان چوپړ ته را کاږي.

په یوه مشخص اقتصادي، اجتماعي فورماسیون کې دننه هم د استثمارګرو او وهم د استثمار شو یو طبقاتو د مختلفو قشرونو خپل منځي فرعي تضادونو پر له پسې عمل کوي. د دایمي هنري او ادبي بدلونونو او نسبي ودې سبب ګرزي. نو ځکه د خلکو د شعور دغه ستره برخه هم ,, سره له دې چې لنډۍ په عمومي توګه د زیار ایستونکو شعر دی،، د طبقي د داخلي تضادونو د کشمکش یوه فعاله عرصه ده، د تکامل د ناموس، د عام اصل د متابعت سره، سره نسبت هر بل پښتو فلکلوري شعر ته د خوځندتوب او تحول تر ټولو فعال ډاینمیزم لاندې تغیر او رشد کوي. کولی یې شي، دا ځکه چې لس هاوو زرو کسانو د لنډیو په هستولو کې برخه اخېستې او د کوم چا فردي کلکسیون نه دی.

سره له دې چې ټول فلکلوریک ( عامیانه) اشعار دغه خصوصیت لري مګر د لنډیو لنډوالی، سهولت، رواني او زیات رواج د لنډیو شاعران ډېر زیات کړي دي. لنډۍ د عمومیت لمنه یې تر هر بل فلکلوري شعر زیاته پراخه کړې ده. ما هېڅ داسې پښتون نه دی لیدلی چې په پښتنې ټولنه کې لوی شوی، وسېدلی وي، څو لنډۍ یې نه وي زده او یا د لنډیو په غاړو باندې یې خوله نه وي خوځولې.

مګر داسې پښتانه ډېر دي چې چاربیتې، بابولالې او کوچیانۍ غاړې یې نه دي زده. د نړۍ هېڅ فلکلوري شعر د رواج او پراخوالي له کبله له لنډۍ سره نه شي مقایسه کې دی. لنډۍ یانې د پښتون ملت د مجموعي هیلو عواطفو، کرکو، ښېګنو او بدۍ یو تر ټولو غني باوري او اصیله پانګه ده. د لنډیو همدغه تعمیمي خصوصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې هر پښتون د هغې د ناپایه او غني پانګه په قلمرو کې ځان د واک، تصرف، ابتکار وړ او مستحق بولي. نو ځکه هماغه ټول کسان چې لنډۍ هستوي، د دې لارې د پراخ واټ مساپر دي، خپلې هېلې، هوسونه، عشکونه او ايډيالونه د لنډيو ځپو ته ور اچوي، د پخوانيو لنډيو په فقرو کې تصرف کوي مګر دا تصرف د ځېړنې د پانې منفرد خزان ته ورته دی چې بله پانه يې ځای نيسي. نه د نوي توليد، نه د زړې مرګ د چا جدي توجع وراوړي. دا د راتلو او تلو د زېږېدو، فنا کېدو دايمي جريان دی خو بې چيغو او ماندو خپل منزل ته ور درومي.

د لنډيو په لومړيو او دوييمو فقرو کې د خلکو د پرګنو دايمي تصرف، فعاليت د لنډيو د تاريخي تواطور او بدلون يوه منطقي، دايمي، ثابته پروسه ده چې د يوه ژوندي واقعيت په حيث د لنډيو د بدلون، رشد او تکامل يوه پروفيل ښه يي.
د بدلون تغير او تکامل تر قانون لاندې لنډيو پر له پسې خپله بنه اړولې ده، د جامعې د ضرورت او انګېرنو مطابق يې بدلون موندلی دی.

د لنډيو د ويونکو د اخلاقو له خوا د اسلافو په لنډيو کې لاس وهل د هغوی لومړی يا دوييمه فقره بدلول، يا په دې فقرو کې دننه يوه څه بدلون راوستل د يوې طبيعي استحالې جريان دی چې د لنډيو تدريجي بدليدل ښه يي. هغه مثالونه چې ما مخکې وړاندې کړل د هغو لاس وهل شويو لنډيو نمونې او مثالونه دي چې لا تر اوسه خپل استحالوي دوران تېر وي. خو په يکين سره داسې لنډۍ هم تېرو وختونو کې رواج وې چې د پر له پسې بدلون له کبله له منځه تللې دي.

په مشابهو لنډيو کې د توپير شته والی د دې مانا نه لري چې هغه به حتماً، خامخا د لنډيو د ظهور او افول د تاريخي قانونمندي دليل وي.

کله، کله په دې فقرو کې توپير او بدلون د محلي او قبايلي يا داسې نورو تو پيرونو، ملحوظاتو په رعايت منځ ته راځي او قانوني عمق نه لري مثلاً په دغو دوو لنډيو کې:

▲ يار مې د خوست زه د تيرا يم
خدايه خوست وران کړې چې جوړه تيرا له ځونه
(پښتني سندرې ۳۰۱مخ)

▲ يار مې د کوټ زه د تيرا يم
خدايه کوټ وران کړې چې جوړه تيرا ته ځونه
(پښتني سندرې ۳۰۱مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لنډۍيو کې يا (خوست) د (کوټ) ځای نېولی يا د دې په عکس. خو په دې راز او تصرف کې د لنډۍيو د هستوونکو محلې تمايلات داخل دي. د داسې ترميمونو په لړۍ کې د ناسخ او منسوخ د نوي او زاړه، د راتلونکي او تلونکي د تسلسل قانونيت نه شي مطالبه کې دی.
دا ډول لنډۍ ډېري دي چې خلکو د اصلي لنډۍ په اعلامو او نومونو کې بنا پر خپلو محلي تمايلاتو بدلون راوستی دی، دغه راز بدلون د لنډۍيو د مرګ، ترککېدو په چټکولو او حتمي کولو کې اغېزه نه لري. ځينې داسې لنډۍ هم شته دي چې سره ورته مضمون لري.

خو الفاظ او ترکيب يې توپير  ښه يي. ياني داسې تو پير چې په محلي قبايلي او اجتماعي مشخصاتو پورې اړه نه لري بلکې داسې ښکاري چې دا توپيرونه د لنډۍيو د شاعرانو د ذوق، ادبي سليقې او ذهني انګېرنو څخه را پيدا شوي دي. دا تغيرات او بدلون که څه هم د ښشپړې فقرې ( مسرۍ) تر بدلون محدود، جز وي او دي. مګر د لنډۍيو د تاريخي او نه دريدونکي تحول د پروسې يوه جلوه اټکل کې دی شي. لاندېني مثالونه د دغو لنډۍيو نمونې دي:

▲ ما به د تا کبر کړې خواره
چې سر دې يوه شملې دې دوه پرې ايښې دينه

▲ مولا دې دا کبر زوال کړه
پټکی دې يوه شملې دې دوې پرې ايښې دينه
(پښتنې سندرې ۳۲۷مخ)

دويم مثال:

▲ نه ښوريدی نه پريوتی شم
تاو کړي غشي مې د يار خوړلي دينه
(پښتنې سندرې ۲۸۷مخ)

▲ ولاړيدی نه شم عالمه
تاو کړي غشي يې په پښو ويشتلي يمه
(پښتنې سندرې ۲۹۳مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېيم مثال:

▲ نصيب تکدير ته ګناه نه شته

بخت چې کوته شي تندی تل ټکرې خورينه
(پښتنې سندرې ۲۸۲ مخ)

▲ عالمه ماته ګناه نه شته

بخت چې کوته شي باچاهان ټکرې خورينه
(پښتنې سندرې ۲۲۳ مخ)

څلورم مثال:

▲ صورت مې ټول ذرې، ذرې دی

ياره کدم راباندې ږده چې کوشير شمه

▲ صورت مې ټول کوبې، کوبې دی

ستا د بنو غشو وژلی يم مينه

▲ صورت مې ټول موږې، موږې دی
تا د بنو په اشارو وهلی يمه

▲ صورت مې ټول د زهرو ډک دی

زه منګرې موزي پر زړه خوړلي يمه

▲ صورت مې ټول په وينو رنګ دی

د زړه په سر مې کارګان ناست غوښې مې خورينه
(پښتنې سندرې ۲۱۷ مخ)

په لنډيو کې د ښکاره تغيراتو له مطالعې او مقايسې نه دا نتيجه لاس ته راځي چې لنډۍ د هر اړخيزو اجتماعي موثراتو د عمل په نتيجه کې خپل مضمون بدلوي او د پر له پسې تصور له کبله نوي کېږي.
د لنډيو تصور او بدلون مختلف عوامل لري، لکه اجتماعي – اقتصادي تحولات، لېږدونه او مها جرتونه، ايډيالوژيک عوامل، د همسايه ژبو اغېزه او د بېلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلو لهجو د اصطکاک پروسه، تجارتي روابط، د صنايعو انکشاف، د تخنيک ترويج او پر مختګ او په کلي توګه د اجتماعي خوځندتوب پروسه. په لنډيو کې د ژوند، پايښت زمان يوه برابر نه دی ځينې لنډۍ کم عمر لري او ځينې څه اوږد يا ډېر اوږد.

د لنډيو عمر اوږد والی په هغه مفاهيمو پورې اړه لري چې د لنډيو د هغوی رسالت او دعوت په غاړه اخيستی دی. مثلاً کله چې د کوچيتوب ژوند پای ته ورسېږي په باوري ډول به هغه لنډۍ چې د کوچيانو ژوند او غوښتني بيان وي په بې مدلوله قالبونو باندې بدل شي او په ناچارۍ به د مرګ او هېرې په لوري لاړې شي. تاسي داسې فرض کړئ چې کوچيتوب له سره وی نه، نو څنګه کې دی شول کوچيانی لنډۍ دې منځ ته راشي؟

کوچيتوب په خپله د کوچيانی لنډيو د ژوند واقعي سرچينه ده. کوچيتوب د لنډيو د پاره نه دی هست شوی بلکې دا لنډۍ دي چې د کوچيتوب د مظاهرو بيان له پاره هست شوې دي او داسې نور.

همدا راز په ځينو حقوقي کوډونو پورې مربوطي لنډۍ، د هماغو کوډونو له زاوال سره يوه ځای او يا څه وروسته نشت کېږي. مثلاً د ولور. د نجونو د بدلانه، د کونډو اجباري ودولو په دودونو پورې ويل شوې لنډۍ، د همدې دودونو، موسسو له زاوال او فنا کېدو سره پرله پسې د خلکو د پرګنو له غاړو او سندرو څخه هم لوېږي. په لاندې لنډۍ کې ويل کېږي:

زه به دې مور ته زاري و کړم
پلار دې ظالم دی د ولور تمه کوينه
(پښتني سندرې ۱۸٦ مخ)

په دې لنډۍ کې په ښکاره د پلار استبداد او د ولور بيان شوی دی. کله چې تولنه ولور منسوخ کړي، دومره مهذبه شي چې نجلۍ په خپل واک د مينې شريک وټاکلی شي، پورتنی لنډۍ بې مفهومه کېږي او هغه نسل چې د ولور، والدينو له فشار څخه آزاد شوی وي، زموږ د زمان د جبر تر فشار لاندې نه وي، د هغې په اوريدو به نه متهيج کېږي، هېڅ کله به لکه زموږ د پېړۍ وګړي په سندرو او غاړو کې دغه لنډۍ ونه بولي.

له هغه ځايه چې د لنډيو مضامين او مفاهيم مختلف دي. په طبيعي توګه هغه لنډۍ چې مضمون يې د ټولنې د قانونمندی پر بنياد اوږ عمر لري، په خپله لنډۍ هم اوږ عمر کوي، لري نه ده چې لس ګونه پېړۍ او زرګونه کاله ژوند و کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خپل باور دا دی چې د ليريکو لنډيو هغه برخه چې خالص عشقي عواطف بيانوي، د انسان د غريزې پر ډېرو ژورو جړو تکيه لري، تر نورو لنډيو زيات پايښت کوي او ښايي د انسان دهستي تر پايه لار و وهي مثلاً دغه لاندېنۍ لنډۍ:

▲ زما د زړه په بازار جنګ دی
زړګی مې ربړدي وار خطا ولاړه يمه
(پښتنې سندرې ۱۷۶ مخ)

يا دغه لنډۍ چې وايي:

▲ زما په زړه دې بانه خښ کړه
سترګې په ورو پورته کوه نامردې مرمه

البته دا امکان شته چې په لنډۍ کې د احساس او مينې مرکز له زړه څخه د ماغ ته ولېږ دي. يا په زړه باندې د بنو د خښېدو مفهوم خپله عاشقانه افاده يانې دغه اوسنۍ مروجه افاده بدله کړي.

مګر د دغو لنډيو عام مضمون به چې د نارينه او ښځې ذات البيني عاشقانه جاذبه بيان وي، ډېر لري مستقبل ته لاره وهي، همدا دليل پر بنياد په کلي توګه د هغو لنډيو عمر چې د انسان د غرايزو د انعکاس له بيان سره اړخ لګوي اوږد وي. په همدې وجه بايد حکم و شي چې دغه راز لنډيو په ماضي کې هم زيات عمر خوړلی، بايد تر ټولو لرغونې، پخوانۍ او لرغوني وي، ځکه چې لا تر اوسه د مينې او وصال، د بېلتون او مرګ چينه هماغسې لکه زرګونه کاله پخوا په زوړ او شور د انساني ژوند له ژور تل څخه راخوټېږي.

د هغې ټولنې انساني پرګنې به د طبقاتي تضاد له رنځ او عذاب څخه آزادې شوې پرګنې غنې نيکمرغه او د مطمئن وجدان لرونکې پرګنې وي.

زړه زېربنا او له هغې نه رازېږېدلي زاړه مناسبات په نشت شوي، د خلکو له ژوند او وجدان نه رټل شوي وي. مينې او ښکلا به نوي بڼه نوي تعبير او نوي لوري پيدا کړي وي. د خلکو د شعر په وينه باندې به داسې رنګين او وړانګين ګلان زرغونه شي چې عطر او موسيقي به يې بشريت د واقعي ښايست پړاو ته ورسوي. د وروړګلوۍ صداقت او سرېتوب واقعي روح به انسان د طبقاتي ټولنه له کرکو دښمنيو او خود خواهۍ يو څخه خلاص کړي. د دايمي سولې، نه زواليدونکې مينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرړې د انسان په پلو او رګونو کې و ځغلوي، د دغسې مستقبل له زېرې سره زموږ ( غمجن نسل ) وظیفه لاهم درېږي، موږ ماموریت لرو چې غمجن بشریت د دوران دردونو، رنځونو صادقانه انعکاس هغو بریالیو، نیکمرغو نسلونو ته ور ورسوو چې د غم رنځ، محرومیت له انګازې، موزیک سره به نه وي اشنا، له تېر دوران سره به د بېګانه کېدو او قطعې جلا کېدو تر خطر لاندې وي. ... .،،
( سلیمان لایق، ۱۳٦۱ لېږدی، پېنځه دېرشتم چوپړی)

ځېره ۲. ت پښتو تولنه ,, پښتو ځېړني ،، د سلیمان لایق په مقاله لنډۍ سرلیک او په لنډیو کې د تغیر او بدلون پروسه،ځلورم او پېنځه دېرشتم چوپړي، کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳٦۱ لېږدی، ( کنه یې په: داني)

| ګڼه. | راټولونکی / لیکوونکی نوم | لیکې | چاپ کال | ټول تال لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ | Lánḍéy لنډۍ | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکۍ | Mésréy مصرۍ | Related منسوبي | Suffix Voice ورووستاړي غږ | ■ Action Req'ed ګره شوی | ● (Caution) خبرداری | ✓ (In control) کنترول کی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | سلیمان لایق | پښتو لنډۍ | ۱۳۶۲ لېږدی | ۶۴ | ۳۴ | ۱۶ | | ۱۴ | | | ۱۵۳۹ | ۱۵ | ټول |
| | | | | | ۱۶ | ۴ | | ۲ | ▲ سرو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۱۸ | ۱۲ | | ۱۲ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۸ | ۸ | | ۲ | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۱۵ | ۳ | | ۲ | ېنه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) ېنه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۱۰ | ۵ | | ۱۰ | زوزکی - mana - (منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی ه , ه: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لرې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | ځرګنده ه , ه: ( کوناټوره، بختوره) ډېرې لرې شتون لري. | | | | |

۱۵ . ۷ لښتیلیک:. ځېره ۲. ت پښتو ټولنه ,, پښتو ځېړني ،، د سلیمان لایق په مقاله لنډۍ سرلیک او په لنډۍ یو کې د تغیر او بدلون پروسه، ځلورم او پېنځه دېرشتم چوپړي کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳٦۱ لېږدی، ( کڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۶ ټي – ۱. سليمان لايق کښلې او ويلې په قلم ټولنه کې چې لايق په لنډيو باندې کنفرانس ورکوي، زما د ادبي بهېر د ۱۳۸۳ ليږدي اشنا د بازمحمد عابد ثبت او کښلی متن، ۱۳۸۷ليږدی.

،، دا سمه ده چې ما يوه څه وخت په سياست کې تېر کړی دی، مګر ما ډېر عمر په انشايي ادبياتو. لکه شعر او نثر کې هم تېر کړی دی. د پښتو په ځېړنيزو ادبياتو کې زما کار ډېر نوی دی. تقريباً ديارلس، څوارلس کاله له هېواده لرې د مهاجرت په ديار کې مې ځېړنيز کار ته مخه کړې ده. ما په وروستيو وختونو کې خپل وخت دې دوو برخو ته ورکړی. په لنډيو اساسي ځېړنه او په فارسي ژبه مې يوه رومان تر لاس لاندې دی چې نوم مې ورته (مردی از کوهستان) ايښی دی.

دا کتاب د انقلاب د دوران ټوله ماجرا په ځان کې رانغاړي، تکميل شوی نه دی تر اوسه لا دوام لري. ما دغه منظوم رومان په ۱۳۵۹ ل کال کې شروع کړی دی. تشويش لرم چې زما په ژوند کې به زه په دې قادر نه شم چې دا منظوم رومان پوره کړم. په هر حال که په دې دوران کې په ما پسې عزرائيل راغی، نو داسې څوک به پيدا شي چې دغه رومان پای ته ورسوي؟ صلاحي صاحب په خپلو خبرو کې زه له يوه مشکل سره مخ کړم. هغه دا چې لايق په لنډيو باندې کنفرانس ورکوي. لنډۍ هغه بې پايانه بيان دی چې په يوه، دوه يا دريو بيانونو کې سر ته نه شي رسيدی.

ما د دنيا د فلکلورونو سره يوه څه بلديت پيدا کړی دی. د دې له پاره نه چې د پښتانه هر څه راته بهتره ښکاري. پښتانه د انتقاد له پلوه هم ډېر موارد لري، کمبوتات لري، ليکن د پښتانه فلکلور او په خاصه توګه لنډۍ يوه بې نظيره شی دی. زما په فکر موږ کولی شو چې د لنډيو په زمانت دنياوالو ته و وايو چې موږ هم فلکلور لرو. لنډۍ يوه عجيبه خصوصيت لري. په يوه لنډۍ کې ټول ژوند رانغښتلی شي. په فلکلوري شعرونو کې معمولاً طنزيه افکار روزل شوي دي. ولې په لنډيو کې د لنډۍ مفکورې، د لنډۍ احساسات، د لنډۍ تصويرونه رزمي برخې ته وراوړدېږي او لنډۍ په دې برخه کې ډېرې غني دي. په لنډيو کې د انسان د احساساتو درجه بندي دومره دقيقه ده، چې د پښتو په نوره شاعرۍ کې يې ما ساری نه دی ليدلی. سالونکا د اسپانيې يوه ډېر لوی وطنپال شاعر تېر شوی دی چې په ټول جهان کې مشهور دی، هغه وايي چې د فلکلورونو او مکتوبي ادب دومره فرق دی لکه د يوه طبيعي ګل او کاغذي ګل تر منځ چې فرق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته هغه د اسپانیی په پونتوجوندو نوم باندې چې لنډۍیو ته ورته یوه شی دی په هغه باندې خبرې کوي. څه وخت زه د پونتوجوندو په ترجمو لوستلو مصرۍیو پو شوم. خو زه تاسې ته په ویاړ وایم چې لنډۍ په پونتوجوندو هم وسیع او پراخه دي. یوه عاشق وایي:

▲ خدای دې زما کړه غونډې مونډې
لنډۍ کچر به چلوم تا به ساتهمه

تاسې و ګورئ چې په دغه فقره کې زموږ د هېواد یوه فکیر او غریب ځرنګه په خپل چوکاټ کې داسې یوه خبره کوي، چې که موږ دا لنډۍ واورو کولی شو چې ټول ژوند یې تکسیر کړو. نو دا غني فلکلور چې زه امیداواره یم د کلم ټولنه او نور فرهنګي سازمانونه چې د افغانستان ادبیاتو له پاره کار کوي، پښتو برخه هم پالي، نو د پښتو لنډۍیو له پاره خپل پام واړوي او په لنډۍیو کار پیل کړي. ما په ۱۳۵٤ ل کال خپل لومړنی کار په لنډۍیو باندې شروع کړ. هغه هم ډېر تصادفي کار و. یوه فرهنګي سړي، یوه زیارایستونکي ادیب، یوه اوستاد چې اوس د هغه وخت ځلمی نه دی.

شهرت یې پیدا کړی، یاني ځلمی هېوادمل چې هغه وخت په مطبوعاتي کارونو بوخت و، ماته راغی او و یې ویل چې ته باید د زیرې جریدې ته په هره ګڼه کې یوه مقاله ولیکې. ما ورته ویلي وو چې سمه ده. دا چې و وت نو زما دغه لنډۍ په یاد وه چې:

▲ خدای دې زما کړه غونډې مونډې
لنډۍ کچر به چلوم تا به ساتهمه

بس له همدې ځایه مې شروع و کړه. ما په هغه کال ۲۷ مقالې په لنډۍیو و لیکلې. خو هغه وخت ما لنډۍ په هنري جامه کې رانغاړلې وې، لکه شعر. خلکو هم زما د لیکنو نه خوند اخېسته او زه یې تشویقولم چې ډېر عجیب شي ته دې پام شوی دی. خو زه هماغه وخت پوهېدم چې زما لیکنې ناقصې دي. دا کار علمي پوښتنو ته ځواب نه شي ورکولی. په مهاجرت کې ما په لنډۍیو باندې دوباره کار پیل کړ، خو اکاډیمک، ژور او علمي کار.

شاید ژبه به یې هغسې شاعرانه، عاطفي او احساساتي نه وي چې ما په هغه ۲۷ مقالو کې کاروله. لیکن ژورو مطالبو ته تر تله پورې لاړم. په دغه کار تر اوسه پورې ما ۱۲٦۰ پاڼې تورې کړې دي. ما غوښتل چې دا د کتاب په بڼه چاپ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**
ځېړنـــــــچوپړي ( ريســــــــــرچ پاڼې)

ما ته ډېرو دوستانو مشوره راکړه چې دا کتاب چاپ کړم، خو ما ورسره ځکه دا خبره ونه منله چې ما غوښتل چې دا کتاب زه د مقالو په بڼه خپور کړم. د دې له پاره چې له دوستانو او نقادانو نه پرې انتقادي او تاييدې نظر واخلم. نو چې زه کتاب چاپوم نواقص به يې کم وي. ځکه چې دا کار لومړنی کار دی او طبيعي ده چې له نواقصو نه به خالي نه وي.

دا خبره زه په دې خاطر نه کوم چې تاسې به دې کتاب ته په کوم نظر و ګورئ، کوم کار چې ما کړی دی، زه ورته تشويش نه لرم، ځکه چې په ډېر شوق او امانتدارۍ مې دا کار کړی دی. ليکن کېدی شي چې ډېر ايرادونه او انتقادات پرې وارد شي. په دې ملک کې يو بدبختي دا ده چې چا ته و وايې چې دا غلته ده، يا دا ضعيفه ده، يا دا ريفرنس نه لري، هغه خپه کېږي. ياني د انتقاد تحمل زموږ په خلکو کې نه شته.

خو زه تاسې ته وايم چې دلته ما يوه تنکی ځوان د هارون حکيمي په نوم وليد، د ده غزلې مې واورېدې؛ رښتيا درته وايم چې زما له پاره ډېر د تعجب ځای و. که دغه هارون پورته شي او زما په شعرونو کې ماته زما کمبوتات را وښيي، زه به هيڅکله خپه نه شم.

البته په لنډيو کنفرانس ورکول ممکن دي، خو بايد سړی ورته ډېر وخت و لري. له سره يې مطالعه کړي. د دې کار له پاره زما ژوند داسې دی چې زه ډېر امکانات دلته نه لرم. خو د کلم ټولنې له مانه غوښتنه کړې وه چې زه به تاسې ته په لنډيو يوه لکچر درکوم. ما د خپلو ليکنو نه يوه برخه غوره کړې ده چې زه يې تاسې ته اوروم. يوه خبره بايد تاسې له ما سره ومنئ چې لنډۍ د ښځو شعر دی. ښځې چې په ټولنه کې د نارينه وو له خوامحکومې دي، په لنډيو کې يې د خپل محروميت اواز پورته کړی دی او نارينه يې سم په خپل ځای کېنولی دی. په دې مقاله کې ما هغه برخه را اخيستې ده چې په ښځو پورې اړه لري.
ځکه چې ښځې زموږ ميندې دي، ښځې زموږ خويندې دي او ښځې زموږ معشوقې دي. نو زه ترجح ورکوم چې د دغې نيمې بدنې، د ژوند په باره کې به زه خبرې راټولې کړم. د دې نه وړاندې غواړم چې د لنډيو په تاريخي اصالت باندې يوه څه و غږېږم.

زما په عقيده لنډۍ داسې شی نه دی چې پېنځه سوه، اته سوه او يا هم د اسلام تر راتګه وروسته يې تشکل پيدا کړی وي. زما په نظر لنډۍ د اريايانو د وخت نه راپاتې يوه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره ډېر دلیلونه شته. زه په همدې بنیاد ځېړنه کوم او اوس دغې ځای ته رارسیدلی یم چې د هندستان د شمال د برخې فلکلورونه ځېړم او د لنډیو سره یې مقایسه کوم. له بده مرغه په افغانستان کې تر اوسه دا کار چا نه دی کړی، همیشه د لنډیو په باره کې ډېر سطحي کار شوی.

ځینې خلک هغه لنډۍ یاداشت کړي، چې د هغه خوښې وي او بیا په دې اکتفا کوي چې له سندرغاړو نه یې واوري او خوند ترې واخلي. مګر لنډۍ په اجتماعي برخه کې ډېرې ژورې دي. موږ کولی شو چې د خپلو اجدادو خاطرې، عقاید، غږونه او تمایلات په لنډیو کې پیدا کړو او جامعې ته یې وړاندې کړو. نو په دې برخه کې چې ما ادعا وکړه چې دا ډېرې پخوانۍ دي نو ما د هند د شمال د برخې فلکلور ځېړلی دی. په هغو کې د پنجابۍ ژبې یوه سندره ده چې (ماهېیا) ورته وایي.

ماهېیا هغه شپانه ته وایي چې له اوزو، مېښو او غواګانو سره ژوند تېروي. ډېره عجیبه خو یې دا ده چې د دغه شپانه په ادرس باندې په دې سرود کې داسې افختارات او داسې لوی القاب او داسې مفکورې افاده شوې دي چې سړی حیرانوي. د ماهېیا شباهت له لنډیو سره دا دی چې هغه هم د ښځو شعر دی. ښځو ویلی او ښځو شپون د خپل قهرمان په حیث منلی دی. په جوړښت کې زموږ له لنډیو سره دا فرق لري چې اوله فقره یې اتته ده او دوېیمه یې شپاړس ده. او د لنډۍ اوله فقره نهه ده او دوېیمه یې دیارلس ده.

د ماهېیا په باره کې ما خپل بحث بشپړ کړی دی.. د علومو اکاډمي مجلې ته مې سپارلی دی، تمه ده چې هغوی به یې چاپ کړي. له تاسې ټولو نه هیله کوم چې هر هغه څوک چې د پښتو د فلکلوري ادبیاتو سره علاقه لري، دغې مجلې ته مراجعه و کړي، که کوم نظر لري، په همدې مجلې کې یې خپور کړي، نو زه به د خپل کار په لا بشپړولو کې ستاسې له نظرونو او انتقادونو څخه استفاده و کړم.

یوه سرلیک (پیراګراپ) به زه د لنډۍ د تاریخې پېژنګلوی په باره کې تاسې ته و لولم ، بیا په لنډیو کې زه د ښځو مسلو ته راځم. ځکه چې د لنډیو په بحث کې د اوج نقطه د ښځو د مسایلو تصویرګیري ده. یوه پښتنه ښځه په لنډیو کې څنګه عنکاس لري؟، ښځو په لنډیو کې کوم نقش لوبولی دی؟ زه به هغه تاسې ته عرض کړم. په اول کې د لنډیو پېژندګلوي.

افغاني فلکلوریستان باور لري چې پښتو لنډۍ د عامیانه ادبیاتو د شتمنۍ یوه برخه ده. او کېدی شي چې په لوړ سبک هغه د افغاني فرهنګ د تجمو او میراثونو په توګه معاصرې نړۍ ته وړاندې شي. د دې خبرې منلو سره چې فلکلور د لرغونو ټولنو د ژوند د اسطورو او حکمت داسې یوه شی دی چې د خپل چوکاټ د ساتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


باوجود، د خپلو د لومړنیو سپېدو څخه د ژبو او لهجو د تکامل له راز، راز قوې څخه تېر شوی او د مذهب له اغېزې سره یوه ځای زموږ تر مهاله رارسېدلی دی. د پښتو د فلکلور او په تېره بیا د لنډۍ داسې تصور ته رسېږو چې دا منظومې غاړې داسې فرهنګي میراث دی، چې د اکسوس او اندوس د ناوو تر منځ د استوګنو آریاني ټپو او د ګندهارا د اوسیدونکو څخه اوسنیو پښتنو ته په میراث پاتې دی.

د ګندهارا د اریایانو او د هند د شمال د اریایانو تر منځ فرهنګي اشتراکونه، د پښتو او سانسکریت د ژبنیو اصطلاحاتو تداخل ښهيي چې د افغاني فلکلورونو او د هغې له جملې څخه د تاریخي او اجتماعي منځپانګې د سرچینو د څېړلو، پیدا کولو له پاره د زاړه هندي فرهنګ په تېره د ویدي سرودونو ژوره مطالعه او د پښتو سره د سانسکریت پرتله ییزه څېړنه یوازینۍ اړتیا ده.

داسې یوه کوښښ که په خپله د افغاني عالمانو له لوري سر ته ورسېږي، له یوې خوا به د افغاني فرهنګ په پېژندګلوی کې مرسته و کړي، له بل پلوه به د غربي ختېز پېژندونکو د څېړنو موقعیت مطابقت سره چې په ختېزو څېړنو کې تېروتنې کوي، څه نا څه مصون شي. که څه هم موږ د زړو آریاني ژبو، د خپل لرغوني تاریخ په ژغورنې، څېړنې کې د غربي پوهانو د زحمت او زیار منونکي یو خو دا حقیقت هم له پامه نه غورځوو چې هېڅوک په پردي کور کې د کور د خاوند په اندازه نه وي بلد.

په همدې موخه که د ځینو باندېنیو سیاسي پوهانو هغه تمایلات چې په علمي پلټنو سیوری غوړوي، له نظره وغورځول هغوې یې له ختیزو هېوادونو سره د خپلو محیطي، رواني ځانګړتیاوو د تباین په وجه زموږ د هېواد او سیمې د حقایقو په کشف او درک کې زموږ تر عالمانو وړ نه دي. خو تر دې دمه د علمي افغاني ماهرانو د لنډون په وجه د افغاني، هندي او فارسي اریایانو د ژبې، ادبیاتو او عمومي فرهنګ څېړنه، په تېره د هغه پرتله ییزه مطالعه زموږ د علمي او امکاني لوښي تر ضرفیت اوښتي ده. د کوشانیانو په باب د اتیایمو کلونو په یوه سیمینار کې د هندستان د جواهر لال نهرو پوهنتون د یوه اوستاد رام راهول سره د پښتو د فلکلورونو په باب په بحث واوښتم. هغه دا نظر درلود چې بې د سانسکریت د عمیق تحقیق نه او په هغې باندې له ورود نه پرته دا ناممکنه ده چې د پښتو د فلکلوریکو سرچینو او همدا راز د پښتنو د آریاني اصالت په باره کې هغسې چې وړ ده داسې تحقیقات دې وشي. نو ضروري ده چې سانسکریت ته مراجعه وشي.

پوهاند صدیق الله رښتین اروا دې ښاده وي، لیکي:

د اکسوس او اندلوس تر منځ پرته سیمه چې د کشمیر او پامیر څخه د هند تر سمندرګي پورې سور لري، د پښت د ټپو پیدا کېدو او د استوګنې ځمکه پاتې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د دې ټپې نور آرياني ورونه دوه درې زره کاله پخوا له دوی سره یوه ځای اوسیدل. خو کله چې د دوې یوه برخه د اندلوس پورې غاړه د ختیز پلو ته لاړل او بلې برخې یې د لویدیز په لورې مخه وکړه. په درېیو څانګو سره جلا شول. یانې په ختیزې. لویدیزې او مرکزي څانګې. د دوې ګډې ژبې هم د درېیو جلا ژبو په توګه وده ومونده. یاني په ختیز کې سانسکریت، په لویدیز کې اویستا او د دوې تر منځ پښتو رامنځ ته شوه. د دې عالم په نظر پښتو د هغو اریایانو ژبه ده، چې د رګویدا په سرودونو کې د پګهت په نامه یاده شوې ده.

رښتین صیب د پښتو لنډۍیو د تاریخي پیژندګلوی په باره کې عقیده لري، چې د سانسکریت سرودونه هغه دي چې په څلورګونو ویدونو کې ثبت شوي دي. کوم سرودونه چې تر هغو وړاندې ویل شوي دي په هغو سرودونو کې شامل دي چې اوس له لاسه وتلي دي. د پښتو سرودونه هم په دوو برخو وېشل کېږي. لیکل شوي سرودونه او شفاهي سرودونه. د دغو له منځه لنډۍ په شفاهي سرود پورې اړه لري او د تېرو زمانو څخه په موږ پورې سینه په سینه رارسیدلي دي.

پروفیسر محمد نواز طاهر د پېښور د پښتو اکاډمۍ پخوانی رییس په دې عقیده دی چې پښتو لنډۍ د اویستا له ګاټونو سره چې یوه راز مناجاتي سرودونه دي، تاریخي قرابت لري. دی د نورو محقیقانو په حواله لیکي چې ګاټونه او رګویدا له لنډۍیو سره ورته والی لري.

دی وایي چې تر کومه ځایه چې لنډۍ له ګاټونو سره په یوه ماحول کې پالل شوي دي، بعیده نه ده چې د ګاټونو ژبه له هغې لرغونې پښتو سره شباهت و لري، کومه چې شپنو او د ګلو خاوندانو په لنډۍیو کې استعمالوله. زما په نظر که څه هم دغه دوه عالمان حقیقت ته نېږدې شوي دي، خو ورسیدلي نه دي. د دې خبرې مانا دا ده چې دغې دوو د مغربي محقیقانو نظریات او اټکلونه په دې باره کې منلي خو پخپله یې څېړنه او ازموینه نه ده کړې. د دوی نقلونه او څرګندونې نقلي ماهیت لري.

او له هغو طالبعلمانو سره مرسته نه شي کولای چې د څېړنې د علمي میتودولوژۍ او فاکټونو په اساس مشخصو نتایجو ته رسیدل غواړي. د پښتو فلکلورونو د څېړنې له پاره د پښتو اویستا او سانسکریت په باره کې چې د هند اروپایي ژبو چې د یوې کورنۍ خویندې دي، د مقایسوي ژبپوهنې په اساس یوه څه څېړنه په کار ده. او تر دې هاغه خوا د لنډۍیو د هغو منسوخو شویو ټولنیزو عنعنو څېړنه په کار ده چې په لنډۍیو کې د تېرو تاریخي، فرهنګي بهیرونو په وچ شوي خړوب کې د پوسیلونو په توګه موجود دي. لکه د (ستي) کلمه او د هغې پراخ مفهوم. ستي چې په سانسکریت کې د محترمې، پاکې لمنې، سپېڅلې او هغې ښځې له پاره کارول کېږي، چې ځان د خپل مړ خاوند سره یوه ځای سوز وي. ستي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سون په مانا په لنډیو کې په سلهاوو ځلې کارول شوې ده. د ستي په ځېر داسې نورې کلمې هم شته چې د خویندو ژبو د انشعاب د زیات قدامت با وجود د هغوی د پاتې شویو مشترکو اړیکو د کشف او ځېړنو په دندو کې کارول کېدی شي. موږ د لنډیو په باب د اټکلونو پر ځای علمي پلټنو ته ورتېږوي.

د ساري په توګه د سانسکریت د (دېس ) کلمه د هېواد په مانا او د ګر کلمه د غر په مانا په پښتو کې کټ مټ د سانسکریت په توګه کارول کېږي. او هماغه مانا ورکوي.

د دېس کلمه په پردېس کې د وطن په مانا او د ګر کلمه غین ته د ګ د بدلون او ز ته د س ر اوښتون له کبله په ګردېس یانې د غرونو په وطن کې چې په ګردېس کې ځان ښکاروي ځرګنده ده. چونغر د چینو غر او غرجستان د غرونو سیمه. په دواړو ژبو کې په یوه مانا کارول شوي دي. په سانسکریت کې د همالیه غرونو ته ګراج هم ویلی شوي دي.

چې مانا یې د غرونو باچا ده. په دې ترکیبي نوم کې د ګر مانا هم هماغه ده چې د افغانستان کې په زړې فارسي او زړې پښتو کې مستعمله ده. او اوس هم لکه د ګردېز او ځینو نورو نومونو په په تانیسته کې ځان ښیي. د غره په نامه غین ته د ګاف د بلیدو په وجه د ګرچې، ګرستان، چونګر کلمې چونغر ته اوښتي دي. په سانسکریت کې بنګال ته انګدېس ویل شوي دي. چې اوس سین ته د شین په استبدال او د بنګال په اضافه کولو بنګله دېس شوی دی. په هند کې د اتراپردېش او د افغانستان په کندهار کې د دیشو نومونه د همدې ریښې څخه اخېستل شوي دي.

د سانسکریت په لرغونې حماسه ( راماین ) کې د ګندهاروا دېس په نامه یوه داسې وطن یادوي چې په هغه کې ګندرواهانو ژوند کاوو. دا هماغه سیمه چې د ننګرهار د ناوې په شمول د پېښور ناوه تر سوات پورې رانیسي. په دې نامه کې د دېس کلمه په هماغه لرغونې بڼه پاتې شوې ده.
د زیاتو مالوماتو له پاره زما هغې مقالې ته مراجعه و کړئ چې د لنډیو په ژبه مې لیکلې ده.

په لنډیو کې د تاریخي ریښو او رابطود پلټلو اوپیدا کولو تر ټولو لنډه او ګټوره لاره دا ده چې خپله په لنډیو کې ځېړنه ژوره شي. د دغو اصطلاحاتو علمي پلټنه لکه ستانه، انغری، سپیلنی، ګودر، جرګه، هوډ او نور چې په لنډیو کې لا د زړو اجتماعي انستوتونو د پاتې شویو سمبولونو په توګه کارول کېږي، د لنډیو د تاریخي او فرهنګي پېژندګلوی سره ډېره مرسته کولی شي. دا مصطلاحات هغه پلونه دي چې موږ ته امکان راکوي په هغه رول چې زمان زموږ او زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اجدادو تر منځ راښکلی دی، تېر شو او د لنډيو سرچينو ته په رسيدو کې ګټه ترې واخلو.

د لنډۍ يوه بل خصوصيت د هغه غاړه ييز فطرت دی. چې ډېرې ستونزې د لسګونو غاړو او ميلوډي ګانو په قالب کې کېني. د ساز او اواز هنرمندانو ته امکان ورکوي چې د بېلابېلو غاړو هستوونکو سرکو سره د هغوو د ترکيب کولو له لارې غږونه هسک کاندي.

او دا د لنډيو جاوداني خصوصيت دی. د لنډۍ دغه فطرت د انسان د ژورو غمونو او سر اخيستو خوښيو او ارماني خوندونو د هغې ورکې بيان دی کوم چې انسان په خپل جبلت کې په هغه اخته شوی دی. ياني هغه روحي ګرفتاری چې په الفاظو کې د بيان وړ نه دي او ژبه لا تر اوسه د هغه د تصويرولو صلاحيت نه لري، په صوتي سندريزو غاړو کې بيا پيدا کوي.

او په همدې توګه لنډۍ پخوا تر دې چې د شعر په توګه زيات مقبوليت و لري، د غاړو او غږونو په توزه د خلکو په زړونو کې زيات مقبوليت لري. فاروق افندي د افغانستان تورک اصله موسيقي پېژندونکی متقد و چې زموږ د سيمې په جغرافيوي قلمرو کې هېڅ فلکلوريک شعر او ترانه د لنډيو غوندې د غاړو د پاللو تغزلي غنا او د خپلې د رښتيندويه او هيجان هستونکي ژبې له پلوه دومره اوچت اولوت ځای نه لري.

کله چې زه د لومړي ځل له پاره د لنډۍ د دې غږنی ځانګړتيا سره اشنا شوم او هغه مې د سيمې د ورته فلکلوري آثارو سره مقاسه کړه، زه يې دې قناعت ته ورسولم چې لنډۍ په واقعي مانا د خلکو د هستونو او نبوغ يوه شهکار دی. دغه دوه پوړيز جادوګر اوازونه چې د هر پښتانه په ژبه جاري دي، بې اختياره د هغه په مرۍ کې په سندرېزو غاړو بدلېږي، د انسان د عواطفو، د روانو، ستونزو، انګېزنو، دکيکه درجه بندي کړې ده او سړی د خپل حکيکت د بربنډولو ميدان ته راکاږي. دغه د لنډيو د تاريخي ريښې او د لنډيو پېژندګلوي. لومړۍ برخه وه چې خلاصه شوه.

په لنډۍ کې د ښځې تصويرلنډۍ په رښتيا سره د پښتنې ښځې شعر دی. ښځې يوازې په لنډيو کې خپل واقيعت ځرګندوي. هېنداره ښځه ښيي، خو په ظاهري ښه او سينګار کې. نقاش نقاش او سيکه توږونکی ښځه تصويروي، توږي خو د موادو او رنګونو له ترکيب ځخه. هغسې چې ته يې غواړې. نه هغسې چې دا ښځه په خپله ده ياني له روح او احساس سره. شاعر ښځه ستايي خو ايډياله ښځه. داسې ښځه چې د خيال په بلوري مانيو کې د پاشلو ځنو تر معطر چتر لاندې د سرو شرابو شيشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس پرانیستي ګرېوان د ده راتلو ته سترګې په لار ده. لکه د دري ژبې ستر غزلبول حافظ شیرازي چې وایي:

زلف اشفته و خوی کرده و خندان لب و مست
پیرهن چاک و غزلخوان و صراحی در دست

د ښځې دا ننداره ینه د شاعر د جنسي غریضې د طبعي احساس نتیجه ده چې د ده د هنري نبوغ په وړي احساس کې پالل شوې ده. د ښځې ښکلا، لېوالتیا او لېونۍ مینه درواغ نه ده. د هغې د جلوو او کرشمو انځورول او ستاینه د هنري انځورګرانو، هنرمندانو د تل پاتې شهکارونو د هستولو اساسي منځپانګه ده. خو ښځمنتوب او د نارینه له پاره د هغې جنسي جاذبیت د ښځې د اصلي څرخ یوه اړخ دی. ښځه په خپل شعر یاني لنډۍیو کې خپل واقعیت څرګند وي. لنډۍ د پښتنې ښځې هغه اعجاز لرونکې هینداره ده چې د پښتانه په ټول تاریخ کې د هغې د ظاهر او باطن، شعور او لاشعور بشپړ تصویر وړاندې کوي. ځکه چې ښځه خپله د هغې د د هستیدو، سېنګار (نقش و نګار) او ننداربنه کې خضور لري.

د لنډۍیو د ځانګړنو څخه داسې اټکل کېږي چې د ډېرو لنډۍیو شعري سپرغۍیو، د تاریخ د ډېرو بدلونونو باوجود په خپل اوږده مسیر کې د لرغونو فرهنګونو د پرله پسې څپو هغه پاتې شونې چې په لنډ مهال کې ترسد نه کوي، لا تر اوسه په ځان کې ساتلي دي. له همدغه کبله دغه لنډکې فلکلوري شعرونه د پښتنو د ټولنیزو روابطو او فرهنګ د څېړلو له پاره هغه عمیق ارزښت لري. کوم چې پوسیلونه یې د ژوند د تاریخ د مطالعې له پاره لري.

لنډۍ د ښځو د ځانګړي شعر په توګه د پښتنې ښځې د دریځ څېړنه او پلټنه کې بې ساري او موثق مدرک دی. ښځه په دې روښانه کړکۍ کې د خپل تاریخي وضیعت او اوسني اجتماعي موقف بشپړ رښتینی تصویر وړاندې کوي. که څه هم لنډۍ تلپاتې پدیده نه ده، قانونمند تولد مرګ او ژوند لري. خو یوه ځایي او ډله ییز زوال نه مومي. یوه، یوه په تدریجي توګه د یوې قانونمندۍ قاعدې له مخې رژېږي او ځای یې نوي افوات نیسي. لیکن په هغوی کې دا فلکلوري ځانګړنه خورا پیاوړې ده چې د هغوی مخکېني نسلونه، لکه د ژیوو او نباتاتو په څېر خپلو وروستنۍیو ته د اجدادو عمده خصوصیات نقلوي او له مبدا سره اړېکې نه پرې کوي. د همدې ځانګړنې په وجه لنډۍ د یوه باوري څرک او مدرک په توګه د لرغوني تاریخ، د پښتنو د پخوانۍیو اجتماعي مناسباتو په پلټنه کې اغېزمنه مرسته کولی شي.

په لنډۍیو کې ښځه تر نارینه زیات غبرګون لري، ځکه خو د ښځې د تاریخي وضعیت د څرنګوالي د څېړنې له پاره چې د ځانګړو تاریخي عوارضو له کبله له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره غورځول شوې ده خاص اهمیت لري. د ټولنې دوېیم نابرابر دریځ ته د ښځو د پوهولو تاریخي عوامل هر څه وي، خو د هغه ټولنیز پای یانې د نارینه په مقابل کې د ښځې تابع دریځ مشخص او روښانه دی.

په دې ټولنیز دریځ کې ډېر څه، د دې جملې څخه د طبعي انتخاب او فطري غوښتنود اظهار، د بیان آزادي حتا د نارینه د تېري او تادا پر ضد د اعتراض حق له لاسه ورکړی دی. ښځو ته په مذهي مشرتابه او اقتصادي ډګر کې د فعالیت مناسب میدان او امکان نه شته. د هغې دیني ارشاد نه منل کېږي.

او د فرهنګي بهیر په اساسي برخو کې لکه شعر، نقاشي، معماري او ځینې نورې سیمې مخصوصه ونډه نه لري. خو افغاني ښځې په مجموعو کې او پښتنې ښځې په ځانګړې توګه د ځان ، ټولنې، ژوند په باره کې په تېره د خپل ژوند د نا انډول ملګري نارینه په باره کې خپلې خاصې طریقې او وسیلې پیدا کړي دي. د دغو وسیلو په منځ کې نقلونه، فلکلوري نظمونه، متلونه او د عامیانه فرهنګ فلکلوري برخې ټول ادبي ژانرونه د یادېدو وړ دي. خو لنډۍ د دغې ژانرونو هغه شتمنه او د عواطفو له شور څخه ډکه برخه ده چې ښځې یې تر هر شي زیات استعمالوي. پښتنه ښځه په خپل ټول واقیعت سره په لنډیو کې نارې وهي، ټول انسانیت، حتا لمر، باد باران، غرونه او هر څه چې د هغې مخې ته راځي په خطاب کې راولي. د خپلې دنیا، د هغې غمونو دردونو او ښکلاوو سره یې اشنا کوي.

په دې توګه پښتنې ښځې هغه ناموسي پګل چې نارینه د ښځې په تغزل لګولی دی، د شفاهي ادب پر ټول قلمرو خصوصاً په لنډیو کې مات کړی دی. د تغزل د شوره داسې ډکه مانۍ یې ودانې کړې دي چې په هېڅ لیکلي غنایي شعر کې د هغې د یرغلیزې جاذبې زور او شور نه شته.

لنډۍ نه یوازې د پښتنې ښځې، بلکې د افغانستان د ټولو ښځمنو نوړی یا جنس له لوري چې د خپل هنري نبوغ د ځلولو د حق څخه محرومه شوې ده، د آزادۍ له پاره د مبارزې چلنج دی. ښځې په خپل ټولې ښکلا د خپل بشپړ لیوالتیا او د جنسي تبعیض د ټول درد او حسرت سره په لنډۍ کې علول کړی، هغه یې په خپله وینه او مینه کې رنګولې ده. دې رنځونو ژبه ورکړې ده. د عاطفې د جلال او جمال په بڼۍ کې یې پخه کړې او د نارینه په رښتیندویه انځورونو کې یې د برهان قاطعې په توګه کارولې ده.

زه په دې خاطر له تاسې ډېره عفوه غواړم چې خپلې خبرې راټولوم. ځکه چې تاسې به هم له لیرو ځایونو څخه راغلي یاست. په ښار کې نظم هم سم نه دی او موټرې هم پس له ماښامه نه وي. خو زما له تاسې ټولو دا هیله ده چې د لنډیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولو او د هغې د تصنيفولو په چارو کې مرسته و کړئ. دغه لنډۍ چې موږ او تاسې يې د پښتو ټولنې په ټولګو کې ګورو او يا هم په پېښور کې د لنډيو چاپ شوي کتابونه، دا علمي بيناد نه لري.

زه ډېر افسوس کوم چې زما په لاس کې داسې مشخص وخت نه شته چې سبا په غرب کې، په روسيه کې، په امريکه کې او يا هم په جاپان کې يې ځوک ولولي او زه ريفرنس ورکړم چې ما دا لنډۍ له هغه ځايه اخېستي او دا يې ومني.

هغه شک کوي چې شايد دا لنډۍ به ما پخپله جوړې کړي وي. شايد دا لنډۍ اسالت ونه لري. ممکن دا لنډۍ اوس زيږېدلي وي او تاسې پرې د اريايانو د وخت ټاپه لګوئ.

يوه سړی د چې ارنولډسن په نوم يادېده، چې هغه په پيښور کې په لنډيو باندې کار کړی وو او يوه کوشنۍ رساله يې پرې هم خپره کړې وه.

زه فکر کوم چې هغه لنډۍ پيژندلې وې. هغه په يوه لنډۍ حکم کړی دی چې دا لنډۍ د هغه وخت لنډۍ ده چې جونو به د سوات د غرونو ته د سوما د ګلونو له د راټولولو له پاره تللې. خو دا لنډۍ بيا ما وروسته د يوه افغان دوست په خپاره شوي کليکسيون کې و ليده چې ده د خپلو لنډيو په نامه باندې چاپ کړې وه.

دا کتاب د انولډسن له کتاب نه شل کاله وروسته چاپ شوی دی. ما هغه سړي ته وليکل چې دا څه فاجعه کوئ؟ بل شعر نه شته چې تاسې لنډۍ ليکئ؟ دا لنډۍ ولې جوټه کوئ؟ او ته ولې دې لنډۍ ته خپله لنډۍ وايې؟ دا خو انولډسن په خپل کتاب کې شل کاله مخکې ليکلې ده او که هغه اوس په لنډيو ځېړنه کوله، ستا کتاب لاس ته ورغلی و، هغه به څه فکر کاوه. هغه به ضرور متردد و او له ځانه سره به يې ويل چې دا څه حال دی.

نو ويلی شو چې لنډۍ ډېر لوی بحث دی چې څرنګه کولی شي چې له تاريخ سره مرسته و کړي، له انسان پېژندنې سره مرسته و کړي، له علمو سره او له سوسالوژې سره مرسته و کړي.

زه د ټولو پښتنو شاعرانو او ليکوالو څخه هيله کوم چې د لنډۍ په ليکلو دې خپل وخت نه ضايع کوي، ځکه چې نوی جوړې شوې لنډۍ اصيلي لنډۍ بې پته کوي. او بې اعتباره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د علومو اکاډمۍ او نورو پښتو نهادونو څخه دا هیله لرم چې ولایاتو ته د اصیلو لنډیو د راټولو له پاره ټیمونه ولیږي. د لنډیو شرایط بیخي معین دي. هغه سړی چې ده ته دا لنډۍ ورکوي، دا یې باید په کسټ کې هم ثبت کړي. په لیکلې بڼه یې یې ثبت کړي.

د هغه سړي نوم، د پلار نوم، د هغه عمر، سیمه او د لنډیو د ثبت وضعه. دا ټول باید ولیکل شي چې دا ټول بیا د اکاډیمی یو مخزنونو ته رسول کېږي چې بیا د مختلفو علومو له پاره ترې کار اخېستل کېږي چې دا لنډۍ بیا په علمي کچې د اعتبار وړ کېدی شي. ستاسې د پاملرنې څخه ډېره مننه چې ما ښېچاره ته مو تر ډېره غوږ ونیو. زه یوه هیله لرم چې راځئ چې په ګډه کار و کړو او دا د پښتو اورغلی توږ کړو.

ګرانو مشرانو، همزولو او کشرانو! زه له یوه شي نه ډېر تشویش لرم. په دې افغانستان کې په فرهنګي ساحه کې هېڅکله داسې وضعه نه وه لکه دا نن چې یې موږ او تاسي وینو.

زه د یوه سپین ږیري په حیث له بحث نه وتلې یو، دوه درې کلیمې تاسې ته عرض کوم او دا خپله وظیفه بولم. هغه دا چې د فارسي او پښتو جنګ زموږ جنګ نه دی.

دا دښمن زموږ هېواد ته راننه ایستی دی. دا دواړه زموږ ژبې دي. دري زموږ ژبه ده. دا فارسي د عربو په وخت کې په ایران کې مړه شوې وه. همدې خراسانیانو چې اوسنی نوم افغانستان دی بېرته یې ایرانیانو ته ورزده کړه. یانې دغه هېواد چې اوس ځان ته ایران وایي او اصلي نوم یې فارس دی، دا نوم تقریباً په ۱۹۳۵م کې له موږ نه ایرانیانو غلا کړ.

او زموږ د هغه وخت حاکمانو چې ډېر بې غیرته خلک وو، دا کوشش یې ونه کړ چې هغوی ته و وایي چې دا یوه مشترک نوم دی، دا نوم تاسې په ځان مه ږدئ او ځان ته بل نوم پیدا کړئ. اوس زموږ ټول افتخارات د ایران په نامه باندې ثبتیږي.
,, حکیم سنایي شاعر بزرګ ایران ‹‹
کله چې دا کتاب ما ولید دومره غوسه راغله چې کتاب مې راپورته کړ او په دیوال مې و ویشتو. دا وراشه یا ښې خبرې نه دي موږ نه خوشحاله کوي. موږ هم یوه ملت یو، موږ هم حیثیت لرو. موږ هم فرهنګ لرو.

زموږ د بلخ تاریخ او د پښتو او دري ژبو تاریخ ډېر لرغوني دی، تر هغه تاریخه چې په غربي ایران یانې فارس کې یې خلک د فارسي ژبې له پاره پیشنهاد وي.،،
( سلیمان، د بازمحمد ثبت، ۲۰۰۸ لیږدی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ
## ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســـــــــــرچ پاڼې)

خېره ۲.ت - ۱ قلم تولنه ,, چې لایق په لنډیو باندي کنفرانس ورکوي ،، د بازمحمد عابد ثبت او کښلی متن، ۱۳۸۷ لیږدی، ټول چوپړي، کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۶۱ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

| ګڼه. | راټولونکي / لیکوونکي نوم | لیکي | چاپ کال / نا چاپ | ټول تال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری | Lánḍéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصری | Related منسوبي | Suffix Voice وروستاړي غږ | ■ Action Req'ed کړه شوی | ● (Caution) خبرداری | ✓ (In control) کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | سلیمان لایق | لنډیو باندي کنفرانس | لیږدی ۱۳۸۷ | ۱ | ۱ | | | | | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | | | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | | | | | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | | | | | ینه - ná: (څرګنده ی په غږ جملې، غوندلې سره راشي ) یینه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | زورکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرګنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | ۱۱۳ | ۵ | تول |

۱۵ .۸ لښتیلیک:. ځېره ۲. ت – ۱ قلم تولنه ,, چې لایق په لنډۍ یو باندې کنفرانس ورکوي ،، د بازمحمد عابد ثبت او کښلی متن، ۱۳۸۷ لیږدی، تول چوپړي، کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۶۱ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷.۱۵ تې (ټ). پوهيالی محمد اسماعيل يون په دې بڼه کښلي دي او روڼ وي داسې.

,, لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې ترټولو کوشنی شعري کالب يا فورم دی، خو د مانا د څواک او لېږد له پلوه نه يوازې په پښتو شاعرۍ بلکې په نړۍيواله شاعرۍ کې يې سارۍ ليدل شوی نه دی. د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعاً په ۲۲ څپو يا دوو مسرو کې درونډ مانيز بار او ښکلا لېږدوي.

د دوی لومړۍ مسرې په پای کې يوه اهنګينه کلمه لري، چې د لنډۍ قافيه نه لري، خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي.
هره لنډۍ بايد د زور(ه) په واول يا غږن اواز پای ته رسېدلې وي. پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ يې نيمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.
په نورو ژبو کې د دې ډول شعر ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرټولو لنډۍ باندې يوه قانون د تطبيق وړ دی، ياني داچې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره بايد ۹ او دوېيمه ۱۳ څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د دوېيمې مسرې څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي لکه:

▲ امانتي مې ګور کې کېږدۍ
که يار خبر شي ما به خپل وطن ته وړينه

د دې مصرۍ څپيز- خجيز جوړښت په دې ډول دی:

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

له مانيز پلوه لنډۍ پر بېلا بېلو ډولونو وېشل شوې دي. د پښتني ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورنه په کې کېدی شي او شوي هم ده، خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا يوه ټاکلې شکل او قانون لري.
دلته به يوه څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

▲ يوه وعده راسره و که
چې د صراط په پله به يوه ځای سره ځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا به واده زما به مرګ وي
ستا به ډولی زما به کټ خاورو ته وړينه

ولې دې بد را سره و کړه
زما همدغه هيله وه چې يار لرمه

ځرنګه چې په لنډۍ کې د وروستۍ مسرې ورستۍ کلمه اهنګينه وي، د وروستۍ ځپې اهنګ يې لوړ او تر هغې دمخه ځپې اهنګ يې لوېدلی شان وي (  ) نو دلته کېدی شي د لنډۍ ځمککچپوهنې (هندسي) جوړښت داسي ترسيم شي:

لنډيو ته ( ټيکۍ)، (مصرۍ) او ( ټپې) هم وايي، چې دا هريو نوم خپل ځانګړی تعبير او لهجه يې استعمال لري، خو د دې ډول شعر عام اومنل شوی نوم همدا ( لنډۍ) دی.

د نوموړي شعر د هرې برخې له پاره او رکن د افادې له پاره بېلا بېلې نښې نښانې او علايم وټاکل شول: لکه د قافيې افادې له پاره ( a ) نښه، د رديف له پاره ( = ) نښه او د مسرې له پاره کرښه (ـــــ)، د بېلابېلو قافيو له پاره که په کوم شعر کې وي په (b,c او d ).

همدغه نښې د يوه شعر ځمککچپوهنې (هندسي) رغښت په لاس راوړی شي.

د يوه منظم قانون له مخې د اهنګ لوړوالی او ټيټوالی او د ژبې له غړيز جوړښت سره بشپړ پيوستون، د پښتو ملي او ولسي شاعرۍ ډېره خوندوره کړې ده، له همدې کبله خو دا شاعري زموږ د ولس د موسيقۍ له ځپو سره ډېره ښه اوډلتيا مومي او کله چې بيا دا دواړه ښکلې هنرونه سره يوه ځای شي، نو بيا د دردمنو زړونو زنګ لرې کړي.

د پښتو ژبې د شعرونه د ځپو د شمېر، د مسرو د ځومره والي او ځرنګوالي له پلوه يوه له بله بدلون مومي، خو بيا هم د ځپيز ځجيز جوړښت له مخې پرټولو يوه قانون تطبيقېږي. ياني تر هر دريپو ځپو ورسته ځلورمه ځپه ځج (فشار) اخلي.،، (محمد اسمعيل، ۱۳۷۷ ل ل کال، ۷چوپړی ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ
## څېړنـــــــــچوپړي ( ریســـــــــــرچ پاڼې)



څېره ۲. ټ ,, د پښتو شعر هندسي جوړښت ،، محمد محمد اسمعیل یون، ۷ او ۱۳۸ چوپړي، کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۷۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

| کنترول کې (In control) ✓ | خبرداری (Caution) ● | کړه شوی Action Req'd ■ | وروستاړي غږ Suffix Voice | منسوبي Related | مصری Mésréy | ټیکی Ţikéy | ټپې Ţapé | لنډی Lánḍéy | ټول ټال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری | چاپ کال | لیکنی | راټولونکي / لیکوونکي نوم | ګڼه. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | ۴ | | ۴ | ۱۳۷۷ لیږدي | د پښتو شعر هندسي جوړښت | محمد اسمعیل | ۹ |
| | | | | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | | | | | | |
| | | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | ۴ | | | | | | |
| | | | | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | ۱ | | | | | | |
| | | | | ینه - ná: (څرګنده ي په غږ جملي، غوندلي سره راشي ) یینه. | | | ۲ | | | | | | |
| | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | | | | | | |
| | | | | زورکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | ۱ | | | | | | |
| | | | | زورکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | | | | | | |
| تول | ۳ | ۱۳ | | څرګنده , ه ،: ( کوناټوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | | | | | | | | |

۱۵. ۹ لښتیلیک:. څېره ۲. ټ ,, د پښتو شعر څمککچپوهني (هندسي) جوړښت ،، محمد محمد اسمعیل یون، ۷ او ۱۳۸ چوپړي، کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۷۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸ .۱۵ جې (ج). څېړنوال دوست محمد دوست شینواری رونوي داسې.

,, لنډۍ د پښتو د ولسي ادب يوه بې سارې بډاینه پانګه ده، زموږ د ټولني د ژوند او آیډیا هېڅ خوا نه شته چې په لنډیو کې یې انعکاس نه وي موندلی.

مینه، ښکلا، وصال، بېلتون، خوښي، خوشحالي، تېرۍ، عدالت، سرښندنه، وطن پالنه، هرډول رزمي او بزمي آیډیا په لنډیو کې ځای شوې ده، دپښتنو د ولسي ادب، روحیاتي ، د ژوند شرایطو، کولتور او دود، د پېژندلو له پاره لنډۍ د یوه دایرة المعارف یا وېکیپیډیا حیثت لري.

لنډۍ ( چې د ټپې، مصرۍ، ټیکۍ په نوم هم یادېږي) د پښتو په هره سیمه، هر کلي، هر کور کې د ولس ادب یوه مهمه برخه ده؛ خو په هر سیمه کې په خاصو غږونو او ټاکلي ډول ویل کېږي چې مشهور یې د چارباغی، ننګرهار،تیرا، وردګو. شلګر، کندهار او د نورو دي. هر ځای یې غږ او کمپوز د سیمې تر اغېز لاندې وي او د هر ډول موسیقۍ په کالب کې ځایېږي.

لنډۍ کله په ځانګړي او کله په ډله ییز ډول، کله یوازې او کله له سروکو سره یوه ځای ویل کېږي.

د لنډیو فورم:

لنډۍ همېشه له دوو برخو جوړې وي چې لومړۍ برخه یې ۹، او دوېیمه یې ۱۳ سپلابه وي.

د لنډیو دوېیمه مصرع همېشعه په ( ونه - ´UNA ) – ( څرګند واو )، (ینه، NA ) څرګنده ې )، ( زوزکی + ana )، ( زورکی + منه، مجهوله یې * مه ) پای ته رسېږي لکه:

▲ په لوړو غرو د خدای نظر دی
په سر یې واورې ورو ي چارپېر ګلونه

▲ که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زما په رنځ جانان خبر دی
دارو خو نه کړي تش مې نه کوي پوښتنه

▲ په خندا شنه، په ملا شوې ماته
د جنت حورې! په ګولۍ دې و ويشتمه

▲ زما په دې وطن کې څه دي
ملالو سترګو د اشنا بند کړی يمه

له دغه فرمولې وتلي لنډۍ له ادبي معياره وتلې او بېخي کمې دي.
ما د پښتو لنډيو د لومړی ټوک د ( الف، ز، ی ) لنډۍ ولټولې چې ټولې ( ۴۸۶) لنډۍ کېږي په هغو کې يوازې يوه لنډۍ په ( زور + نه ana ) پای رسېدلې وه او ( ۱۸) په ( ana - زورکې + نه).

▲ ارمان، ارمان خپله وطنه
د خپل وطن جامې مې ولوېدې له تنه

او په دغو ټول کتاب کې يوازې يوه لنډۍ په (له) پای ته رسېدلې.

▲ اصيله وم کم اصله يووړم
کم اصله! داسې مې ساتې لکه مغوله؟

,, دا لنډۍ د ختيځ اکاډمي ننګرهار، فلکلور پېژندنې لاربنود کې، محمد داود وفا هم په ۴۳ چوپړې کې کښلې ده،، (محمد داود، ۱۳۳۴لېږدی، ۴۳ چوپړی)

دغه لنډۍ په فني لحاظ اعتبار نه لري او د لنډيو له اصلي فورم سره اړخ نه لګوي او حتی لنډۍ ورته نه شو ويلی.
د لنډۍ بل خصوصيت دا دی چې څلورم سيلابل يوه څپه ( د جملې اکسنټ ) راځي، په دې صورت په لومړی برخه کې په څلورم او اتتم، په دوييمه برخه کې په څلورم، اتتم او دوولسم سلابل څپه راځي.

څپه په خج لرونکي هجا واقع کېږي. له دغه ځايه د لنډيو لومړی او دوييم پاړکی هېڅکله په خج لرونکي هجا پای ته نه رسيږي په دغه لنډۍ کې د سلابل او څپې ترسيم وړاندې کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که – په – می – **وند** + کې ـ ش – هید – **نه** + **شوې**

خدای – ږ.و – لا – **له** + یه – بې – نن – **ګی** + ته – دې – سا- **تي-** + **نه**

دا په هغه صورت کې چې لنډۍ یوازې ویل کیږي او که له نیمګۍ سره یوه ځای شي په هغه صورت کې د نیمګۍ له خصوصیت سره سم د لنډیو په څپو کې توپیر راځي. کله له داسې هم ویل کیږي چې کومه څپه په کې نه احساسیږي، له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتې کیږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري چې دا څېړنه بېله موضع ده بېل تحقیق غواړي.

<u>په لنډیو کې د ښځو ونډه:</u>

د ښتو ولسي ادب کې عموماً او په لنډیو کې خصوصاً د ښځو ونډه ډېره زیاته ده. همدغه لنډۍ دي چې په ویرونو، ودونو، د غم او خوښۍ یو په وختونو کې یې وایي. د لنډیو جوړونکې هم غالباً ښځې دي. زیاتې لنډۍ د زړه د ژورو تاثراتو، خواشینو او خپګان انعکاس دی.

له نیمايي نه زیاتې لنډۍ د غم، خپګان، دردېدلي زړه زګېروی دی، د دوی د غم خپلې سینې آه دی چې د نارینه و مخ د دوی تېریو، بد سلوک او ناوړه دودونو خواته اړوي. کله د بنې له غمه ژاړي:

▲ د بنې غږ راباندې و شو
لکه ډوډۍ په تناره کې وریته شومه

او کله د مېړه له بد سلوکه:

▲ نېستي د خدای له لوري راغله
موزي په ما مینت کوي چې خوار دې کړمه

د جبر او زور واده غم بولي او داسې مېړه ته موزي وایي:

▲ موزي په مینه څه پوهیږي
په نس یې موړ کړه تر سبا کوي خوبونه

▲ خاونده بیا دې ماخوستن کړ
د نارضا کټ نه مې ربړدي اندامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله له بې وسۍ او بې واکۍ له لاسه مرګ غواړي:

▲ صورت زما واک یې د بل دی
خدایه نور واخلې دا بې واکه صورتونه

په هر صورت لنډۍ زموږ د ټولنې نالوستو او بې سواده خلکو جوړې کړې، په ساده او روانه ژبه ویل شوې دي. ځینې لنډۍ داسې هم دي چې په څرګند ډول میرزایانو، ملایانو جوړې کړې دي، داسې لغات او تعبیرات په کې وي، چې عام خلک پرې نه پوهېږي لکه:

▲ شفق یې مه بولۍ عالمه
اسمان زما په ژړا اوښکې تویوینه

▲ علم دریاب طالب اوباز دی
یابه ځان ډوب کړي یا به باسي ګوهرونه

▲ عقل د سر فکر د زړه و
دیدار د سترګو، د خولې ښې خبرې وینه

په دغسې لنډۍیو کې هغه ژور احساس، هغه خوند، هغه کیفیت هېڅ نه وي لکه څومره چې د نالوستو خلکو له خوا په ساده او روانه ژبه ویل شوې وي، دومره تو پیر لري لکه طبیعي او د کاغذ ګل.،، ( دوست محمد ، ۲۰۰۶ زیږدی کال )

| کڼه | راټولونکي / لیکوونکي نوم | لیکنې | چاپ کال | ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ | Lánḍéy لنډۍ | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکۍ | Mésréy مصرۍ | Related منسوبي | Suffix Voice وروستاړي غږ | ■ Action Req'd کړه شوی | ● (Caution) خبرداری | ✓ (In control) کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | دوست محمد | د پښتو د ولسي ادب لارې | ۱۳۸۵ لیږدی | ۱۶ | ۹ | ۶ | | ۱ | | | | | |
| | | | | | ۴ | ۱ | | ۱ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۵ | ۵ | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۳ | ۲ | | | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۳ | ۱ | | | ینه - ná: (څرګنده ي په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) ېینه. | | | | |
| | | | | | ۱ | ۱ | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۱ | ۲ | | ۱ | زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | زوزکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرګنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) ډېرې لږې شتون لري. | | ۶ | ۲ | تول |

خېره ۲. ج ،، د پښتو د ولسي ادب لارې ،، څېړنوال دوست محمد دوست شینواری، لنډۍ سرلیک کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

۱۵. ۱۰ لښتیلیک:. څېره ۲. ج ،، د پښتو د ولسي ادب لارې ،، څېړنوال دوست محمد دوست شینواری، لنډۍ سرلیک کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹.۱۵ چې (چ). جانان د پښتو لنډیو کې د محرومیت پر موضوع کښلي دي.

,, د پښتو ادب په لمن کې پښتو لنډۍ ځانګړی ځای لري، ځکه چې په لنډه او ساده ژبه ټول هغه تعریفونه په ځان کې رانغاړي چې د منظوم کلام له پاره اړین دي. درد، عاطفه، پیغام، اهنګ او رواني د پښتو ژبې په هره لنډۍ کې لیدل کېږي، ځیني بهرني لیکوال چې پښتو لنډۍ یې لوستي زیاترو په خپلو نظرونو کې پښتو لنډۍ د دغې ژبې منظوم شهکارونه بللي.

اوسمهال هم د نورو ژبو ځیني لیکوال او شاعران په دې قانع دي چې د پښتو ژبې له هرې لنډۍ څخه د یوه بشپړ شعر الهام اخیستل کېږي. د بېلګې په توګه د اردو ژبې مشهور شاعر احمد فراز چې د پښتو ژبې لنډۍ لوستي په یوه نه یوه بڼه یې د هغو لنډیو پیغام او مفهوم په خپلو شعرونو کې ځای کړی او یوه نوی رنګ یې ورکړی.

دا چې پښتو لنډۍ له کومه ځایه سرچینه اخلي، دا به یوه تکراري بحث وي، خو د دغې خبرې څېړنه ضروري ده چې پښتو لنډۍ پښتون پنځولي که پښتنې. که چېرې د پښتو لومړنی لنډۍ ولولو نو له ورایه په کې د پښتنې احساساتو څرګندونه کېږي او دا په ثبات رسېږي چې پیل به یې پښتنې کړې وي.

▲ سپوږمیه سر وهه راخیږه
یار مې د ګلو کر کوي ګوتې ریبینه

کېدی شي زما له نظر سره ډېر خلک موافق نه وي، خو کومې لنډۍ چې کلاسیکې دي او له ډېرې پخوا زماني څخه سینه په سینه تر موږ را رسېدلي زیاتره د ښځینه احساساتو او ښځینه محرومیتونو څرګندونه کوي.

یاني دا چې پښتنې کله د خپلو کورونو د څلورو دیوالونو شاته ډېر ځورېدلي او یا یې لږه خوښي په برخه شوې، نو په لنډیو کې یې د خپلو احساساتو څرګندونه کړې ده. خو هغه لنډۍ چې د ښځینه وو له خوا ویل شوي د محرومیت تله په کې درنه ښکاري، راځئ په پښتو لنډیو کې د ښځینه محرومیتونو یوه څو بېلګې و ګورو.

په ډېرو پښتنې سیمو کې دا دود دی، چې د خپلو لوڼو د ودولو پر وخت ترې پوښتنه نه کوي او دا خبره یوه شرم ګڼي، که څه هم د اسلام په مقدس دین کې د هلک او نجلۍ خوښه شرط ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو انګړ**
ځېړنــــــــــچوپړي ( ريســـــــــــرچ پاڼې)

خو په پښتنو سيمو کې د غيرت تر نامه لاندې د اسلام دغه اصل تر پښو لاندې کېږي، د نارينه وو چې چا ته خوښه وي، خپله لور، خور ورته ودوي، پښتنې پېغلې چې کله له داسې حالت سره مخ شوي نو پرته له دې چې له سوزه خپل احساسات په لنډۍ کې راونغاړي نور يې هېڅ له وسه نه دي پوره شوي. په لاندې لنډۍيو کې د دغه دود او د پښتنو نجونو محروميت له ورايه ښکاري:

▲ تر شمل پورې دې واده کړم
تر شمل پورې څوک غوايه نه ورکوينه

▲ تورې تيرا نه دې کړم تېره
ما به مې خپلې مور ته څوک ورسوينه

▲ ترلې تربور دې مېړه مه شه
په لښتو غنو دې وهي بيا دې شړينه

زياتره وخت داسې هم شوي چې پښتنې نجونې د پلار کور کې زړې شوې، ځکه په پښتنو کې اوس هم دا دود شته چې هر چا ته خور لور نه ورکوي، کله داسې شي چې د نجلۍ پلار او مور هر چا ته زړه نه ښه کوي، د نجلۍ سر په کور سپين شي، کله بيا د پلار او يا کورنۍ د کړنو له امله  څوک زړه نه ښه کوي چې نجلۍ وغواړي، په داسې حالاتو کې نجلۍ له شرمه هېڅ نه شي ويلی خو کله چې يې د پېغلتوب غوښتنې او احساسات ډېر وځپې نو له ځان سره داسې يوه لنډۍ زمزمه کړي:

▲ ټولې همزولې مې واده شوې
زه بدقسمته د پلار کور کې ناسته يمه

▲ سر مې د پلار په کور کې سپين شو
لکه ډوډۍ په تناره وسوم مينه

که چېرې د پورتنۍيو  لنډۍيو شاعرانه اړخونو ته وکتل شي، هره نيم بيتي او يا پوره لنډۍ دلوستونکي او يا اورېدونکي په ذهن کې يوه ذهني انځورجوړوي لکه ( په تناره کې د ډوډۍ سوزېدل) چې هم ذهني انځور جوړوي او هم يوه دردوونکی پيغام اورېدونکو او لوستونکو ته وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو ښځو يوه بل محروميت دا دی چې د مېړه په کور کې ورسره سم چلند نه کېږي، د اسلام په مقدس دين کې ښځې او نارينه يوه ډول حقوق لري خو په زياترو پښتني کورنۍيو کې ښځې ډېر بې ارزښته ساتل کېږي، نه يې غوښتنو ته پاملرنه کېږي او نه هم ښځېنه خواهشاتو ته، تر دې چې د خوابښې او يا د کور د ځينو نورو غړو له خوا پوزې ته راشي. کله، کله داسې هم نه وي. د ميرې مور، ورور او يا نورو له خوا هم رټل کېږي او د ځوانۍ هغه مسته دوره چې بايد په خوشحالۍ تېره شي په غمونو کې تېرېږي. په لاندې لنډۍيو کې د دغو پېښو او واقعاتو انځورونه له ورايه برېښي:

▲ ټېل مې وهه بنګړي مې مات شول
مور مې ميره ده ما په کور کې نه پرېږدينه

▲ ځان به په ډک سيند کې لاهو کړم
ستا د سپېره کور به ونه کړم ارمانونه

▲ د غرونو ترخې مې خوراک وی
خوراک مې نه وی د موزي د کور غمونه

▲ د بنې ترس راباندې تېر شو
زه د دوزخ د لمبو څه پروا لرمه

▲ کور دې د غم بنديخانه ده
د خوشحالۍ باران په کال کې نه راځينه

▲ بنګړي د ټولې دنيا دود دي
زه له نيستمن جانانه نه غواړم دودونه

▲ توتان پاخه ممانه توري
زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه

▲ قربان، قربان د دادا کوره
له ډکه شکوره به يوازې تاويدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ باهو مې و په لاس مې نه کړل
د موزيګي په کور کې اوسم تش لاسونه

پورتنۍ لنډۍ داسې انځورونه لېږدوي چې هره يوه يې دپښتنې سيمې يوه شهکار دی، د بېلګې په توګه د توتانو او ممانو د پخېدو انځور چې پښتنې نجونې او يا هم مېرمنې په غرنۍيو سيمو کې ځانګې په خپلو ټيکريو کې څنډي او بيا يې د يخو چينو او يا هم ګودر په غړه په مزه، مزه خوري. رښتيا هم چې د فطرت د داسې يوې خوړې لوېنيې په وخت کې به څوک د چا د ډودوۍ څه پروا کوي او بيا هغه ډودۍ چې د اوښکو په بدرګه خوړل کېږي.

يوه بله خبره چې پښتنې ښځې ډېرې ځوروي، هغه د پښتنو غريبي ده. زياتره پښتانه خپله روزي په نورو هېوادونو کې لاسته راوړي که پخوا پښتنو هند او يا هم نورو سيمو ته سفر کاوه، اوس هم ډېرو بهرنۍيو هېوادونو کې د مسافرت شپې سبا کوي، پښتنې مېرمنې يې په کورونو کې لارې څاري. داسې هم شوي دي چې تر واده شل ورځې او يا لس ورځې وروسته نارينه مسافري ته تللي او بيا څو کاله بېرته نه دي راستانه شوي، پښتنې مېرمنې چې کله دغسې حالاتو سره مخ شوې نو د خپل زړه بړاس يې په لنډۍيو کې وېستلی او د زړه خبرې يې په نا اګاهانه ډول داسې اهنګين له زړونو راوتلې چې په يوه شرنګ د اورېدونکو يا لوستونکو پر زړونو پرېوځي. دا پيغام لېږدوي چې د مېړونو په نه شتوالي کې پښتنې مېرمنې څومره ځورېږي.

▲ مساپري دې ډېره و کړه
راځه، راځه روزي به خدای را رسوينه

▲ دا ستا ديدن زما اختر دی
ته مساپر يې زه به څه کړم اخترونه

▲ پالنګ مې جوړ کړ ته رانغلې
لکه منګور په کې يوازې تاوېدمه

دغسې ډېرې لنډې په پښتو ژبه کې ليدل کېږي چې هره يوه يې يوه محروميت، يوه پيغام او يوه درد لېږدوي. زما له دې مطلب نه دا موخه نه ده چې خدای مه کړه د پښتنو کولتور مې غندلی وي په هره ژبه او هر قوم کې ځنې ,,دلته د , ځنې، :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځخه، ورځخه، ترې په مانا دی چې د ځینې ، بعضې، ځخه یې توپیرول په کار دي،،(مجاور احمد، ۱۳۸۵ لیږدی، ۵۱ چوپړی).

منفي دودونه شته، همداسې مثبت اړخونه هم لري، که د پښتو ژبې مثبت اړخونه و ځېړو نو پښتنې همدومره قدر او قیمت چې په پښتنې کولتور کې لري په نورو کولتورونو کې یې ښایي ونه لري. خو ما دلته یوازې د پښتو لنډۍیو کې د محرومیت پر موضوع دا لیکنه کړې وه، هیله ده لوستونکې راځخه خوابدي نه شي،، (جانان، ۲۰۰۶ زیږدی)

ځېره ۲. چ جانان ,, پښتو لنډیو کې محرومیت ،، په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

| ګڼه. | راټولونکی / لیکوونکی نوم | لیکنې / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول تال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | جانان | پښتو لنډیو کې محرومیت | لیږدی ۱۳۸۵ | ۱۸ |

| منسوبي Related | لندی Lánḍéy | ټپې Ṭapé | ټیکی Ṭikéy | مصری Mésréy |
|---|---|---|---|---|
| | ۴ | ۶ | | ۸ |
| ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | ۴ | ۶ | | ۸ |
| ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | ۲ | | ۳ |
| ینه - ná: (څرګنده ی په غږ جملې، غوندلې سره راشي ) بینه. | ۲ | ۴ | | ۲ |
| زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| زورکی - mana - (منه مجهوله هي * مه ) مه. | ۲ | | | ۳ |
| زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| څرکنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | | | |

| وروستاړي غږ Suffix Voice | ■ ګره شوی Action Req'ed | ● خبرداری (Caution) | ✓ کنترول کی (In control) |
|---|---|---|---|
| | ۱۳ | ۱۰ | تول |

۱۵. ۱۱ لښتیلیک:. ځېره ۲. چ جانان ,, پښتو لنډۍیو کې محرومیت ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۰ ځې (ځ). فیاض علي شاه اخونزاده له پام سره لږ څه ګډوم.

,, د اکثرو محکیکینو دا خیال دی چې ټپه د پښتو ایجاد دی، د پښتو ژبې نه دغه صنف پنجابي او هندکو ژبو خپل کړی دی. خو سره د اختصاره خومره جامعیت د پښتو په ټپه کې دی هغه په پنجابي کې نه شته.

د پښتو شاعري ابتدا د ټپې نه شوې ده. د یوه پوه وینا ده چې پښتانه فطرطاً ټول شاعران دي، ځکه چې هر پښتون ښځه او نر ټپې جوړولی شي.

کله بوډاګان او سپین ږیري د دین، اخرت په حکله ټپې وايي، نوي ځوانان په کې د خپلې مینې محبت ارمانونه رڅوي. که کرونده ګر د پټو، اوبو، خاورو، اړه ټپې وايي نو پیغلې د ګودر په غاړه د پیغلتوب، کالو په حکله په کې خیالات څرګندوي، په ودونو ښادۍیو کې خپل خپلوان او د واده ځلمي ستايي.

ټپه د جزباتو هینداره ده. ځکه خو ډېر مقبول صنف دی. پښتنو چې کله اسلام نه وو راوړې او لمر پرست وو، نو هم د دوی په ژبه کې معیاري ټپې موجودې وې. لکه:

▲ د مازیګر زېړیه لمره
ته لا ولاړ يې په ما پرېوتل ګردونه

پښتون یوه ازاد پسند قوم دی نه چاته محکوم شوی. خو چې څوک یې په کلاری او امن اوسیدو ته نه پرېږدي نو په جنګ کولو مجبوره شوی دی.
په خپلو ټپو کې یې هم د جنګ نه نفرت او وینې بهیدلو نه کرکه ښکاري.

▲ د لښکرو ملک ته وایه
په مړو موړ شوې که نور هم غواړې جنګونه
یا
▲ د لښکرو ملک ته وایه
ډېرې دې کونډې کړې خېرې درته کوینه

د تاریخ جنګونو زکر هم پښتو ټپه کې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پیر روښان د مغولو خلاف توره اوچته کړه نو په دې ټپه کې داسې وستایل شو:

▲ د مغول ظلم به نسکور شي
چې پیر روښان توره په لاس جنګ له ورځینه

د پېرنګیانو خلاف د پښتنو جنګونه هم په پښتو ټپه کې ستایل شوي دي.

د ملاکنډ په جنګ کې چې کله هارون د پېرنګیانو خلاف ډال شو نو دا ټپه و ویل شوه:

▲ په ملاکنډ توره تیاره شوه
هارونه! توره ځلوه چې رڼا شینه

کله چې پښتنو د کشمیر په غزا کې په تش لاس د مېړانې مظاهره وکړه نو دا ټپه مشهوره شوه:

▲ زما په پاک الله باور دی
ځکه به تش لاس د کشمیر غزا له ځمه

د ازادۍ په جنګونو کې داسې نورې ټپې مشهور شوې دی چې د پښتنو د جزباتو راپارولو د پاره ویل شوې دي.

▲ جانان به ولې توره نه کړې
تر نیمایي سنګره زه ورسره ځمه

▲ که تور اوربل مې میراتېږي
په پښتو ننګ دی جانان نه منع کومه

▲ په هېندستان دې ځلی جوړ شه
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مېینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ چې توره نه کړي نور به څه کړي
چې يې شوده د پښتني رودلي دينه

▲ ستا د بوړي توپکه ځار شم
په اوږه ستا وي کړه زه د خياله ځمه

په ټپه کې چې د ژوند د ټولو اړخونو عکاسي شوې ده، دومره زياته په هېڅ يوه صنف کې نه ده شوې او نه کېدی شي.

حجره چې ورته په پښتو معاشره کې يوه اهم حيثيت حاصل دی، په پښتو ټپه کې ستايلي شوې ده لکه:

▲ حجره د کام کلي د سره
د نيمو شپو منګي زما لالی وهينه

▲ ستا د حجرې درشل کاږه شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې وينه

چيلم چې د حجره ښکلا ګڼلی شي په پښتو ټپه کې په دې ډول ستايل شوی دی:

▲ چيلمه خديږو چې دې مات کړم
مين په ما دی غم په تا غلتوينه

▲ د حجرې ګټ دربانډې پرېوځه
چې د چيلم نچه دې خله کې پاتې شينه

جماعت د پښتنو ديندارۍ لکه د نمر څرګنده ده.
په ټپو کې هم د جماعت ډېر زکر رغلی دی.

▲ د مين زړه جماعت خانه ده
که مسلمان يې وران يې نه کړې ديوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په مولوي مې سلام وايه
زما جانان ته کتاب خلاص کړه چې راځينه

ګودر هم د پښتنو په ولسي ژوند کې ډېر اهميت لري.
د پښتو ټپه کې د ګودر د مازيګر ډېره زياته ستاينه شوې ده:

▲ ګودر ته ځم راپسې راشه
منګي مې دوې دي نرۍ ملا مې ماتوينه

▲ چې مازيګر پرې ښائسته کېږي
هغې جينۍ له مور منګی نه ورکوينه

د سفر او مسافرۍ په حکله هم ډېرې ټپې مشهورې دي.

▲ په سفر ځه مه خفه کېږه
زه پښتنه به ستا په پټ کې ناسته يمه

▲ هېندستانی شه روپۍ راوړه
په کورنو روپو مې مور نه درکوينه

په پښتو ټپه کې لکه د نورو ژبو پشان متلونه هم راغلي دي:

▲ فکيره دوې ګټې دې وکړې
يوه دې خير تول کړه بل دې وکړه ديدنونه

▲ چې اوږه نه خوري بوی ترې نه ځي
چې ياري نه کړي ځوک پرې نه وی تهمتونه

لنډه دا چې ټپې ته په پښتو اولسي شاعرۍ کې هغه لوړ مقام حاصل دی چې بل يوه صنف ته هم نه دی حاصل شوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ
## ځېړنــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

▲ بس دی په دې به يې فيصله کړو
ډېرې ټپې د سړي عمر کموينه،،
(فياض علي شاه، ۲۰۰۷ زيږدی)

| کڼه. | راتولونکي / ليکونکي نوم | ليکې / ليکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول ټال لنډی، ټپې، ټيکی او مصری | Lánḍéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭíkéy ټيکی | Mésréy مصری | Related منسوبې | Suffix Voice وروستاړي ږغ | Action Req'ed کړه شوی ■ | (Caution) خبرداری ● | (In control) کنټرول کی ✓ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | فياض علی شاه | د پښتو اولسي شاعري کې د ټپې اهميت | ۱۳۸۶ لیږدی | ۲۴ | ۵ | ۷ | | ۱۲ | | | ۱۲۵ | ۱۰ | ټول |
| | | | | | ۲ | ۲ | | ۵ | ▲ سړو ته منسوبې Related to men | | | | |
| | | | | | ۳ | ۵ | | ۷ | ▲ ښځو ته منسوبې Related to women | | | | |
| | | | | | ۳ | ۱ | | ۱ | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۱ | ۶ | | ۷ | ینه - ná: (څرګنده ی په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) بينه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | ۴ | زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرکنده , ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | | | |

۱۵. ۱۲ لښتيليک:. ځېره ۲. ځ ,, د پښتو اولسي شاعري کې د ټپې اهميت ،، فياض علي شاه اخونزاده ، ليکنه کي د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۶ لیږدی، ( ګڼه يې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۱ ځې (ځ). محمد حامد حليمي لنډۍ د ګلونو په سمندر کې تر خپل پام لاندې راوستې دي.

,, ګل زما له پامه په ټوله نړۍ کې ښځينه لور ته منسوب وي، په اسيا کې ګل د مېرمنو په نومونو کې راځي، د نرانو په نومونو کې ګل نه کاروي. بېلګه يې؛ نساء ګل، ضيا ګل، مخرې ګل، بي بي ګل، ګل ببو، نصرت ګل، کندې ګل، زيباګل، ګل خانم، بانوګل، شيرين ګل، زرغون ګل، خانم ګل... . او زموږ ډېرى کوچيان يې د نرانو نومونو کې راولي او د نرانو لور ته يې منسوب وي،،

,,

▲ ګلونه ډېر درسره راوړه
زه د اوربل د پاسه چتر جوړومه

لنډۍ د پښتو د اولسي ادبياتو هغه غوره او په زړه پورې برخه ده، چې د اولس بې نومه شاعرانو په کې د بشر د ژوند تر ټولو عالي شېبې په دوو نا متوازنو بيتونو کې په ايجاز بيان کړي دي. , ۱ ، د لنډيو په وېره لمن کې بېلابېلې لنډۍ راټولې او ډول، ډول فلکلوري ارزښتونه يې په ځان کې نغښتي دي. په هره لنډۍ کې ځانګړې ښکلا ځلېږي، د انسان ژوندانه له هرې برخې څخه په کې ښکلې شاعرانه او اديبانه انځور کاږل شوي دي. د مضمون له پلوه لنډۍ عشقي، حماسي، رزمي، ټولنيز، تاريخي او د نورو مضامينو لرونکي ده.

لنډۍ په پښتو ژبه کې يوه لنډه سندره ده چې هره لنډۍ له دوه وو , دوې ، برخو څخه جوړه ده، لومړۍ برخه يې نهه سيلابه او دوېيمه برخه يې ديارلس سيلابه لري. لنډۍ که څه هم کوم ځانګړی او معلوم ويناوال , شاعر، نه لري. په عادي بڼه په پښتني اولس کې د وخت د غوښتنو سره سمې منځ ته راغلي او خوله په خوله، سينه په سينه له يوه نسل څخه بل نسل ته راليږدول شوي دي.

خو بيا هم نړدې ټولې لنډۍ د جوړښت له مخې سره يوه شان او سيلابونه يې سره برابر دي. , ۲ ، د لنډيو يوه ستر ارزښت دا دي چې د هغه سندريزه ځانګړتيا او آهنګ روزنکي فطرت د نړۍ په ټولو فولکلوري شعرونو، سندرو کې ممتاز دي او ساري نه لري. زموږ جغرافيايي سيمې په فولکلوري قلمرو کې هېڅ سندره نه د خپل آهنګي ځانګړتيا، نه د خپلې تغزلي شتمنۍ، نه د سموالي او هيجان له پلوه له لنډيو سره برابري کولي شي. , ۳ ، د لنډيو د نورو بېلابېلو ځانګړتياوو تر څنګ يوه هم داده چې لنډۍ په ډېر خوارږه، ساده الفاظو ويل شوي، هر ډول مضامين او په عامه اصطلاح د هر ذوق وړ مطالب په کې موندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډۍ د دې ترخنګ چې د انسانانو له خوا د ژوندانه په حساسو شېبو کې د عام ولس له خوا زمزمه کېږي، د ټنګ ټکور، ساز او سرود په بڼه هم د هنرمندانو او سندرغاړو غږونو ته ښکلا وربښي.

په لنډيو کې د نورو ښکلاوو تر څنګ ډېر ښکلي او هنرمندانه تشبيهات هم کار ول شوي دي د بېلګې په توګه:

▲ زما دې زړه داسې کترې کړ
لکه د ګل غوټۍ چې پانې، پانې شينه

▲ سورخي د مخ دې شغلې و کړې
لکه سورخي د ماښام سره کا وطنونه

▲ کميس دې تور متې دې سپينې
لکه ښامار چې تر چنډر تاوشوي وينه

لکه څرنګه چې وينو په پورتنيو لنډيو کې زړه له ګل او کترې يې د ګل له پاڼو سره، د مخ سوروالی د ماښام له سوروالي، کميس له ښامار او متې له چنډر سره تشبيه شوي دي.

په لنډيو کې ځينې داسې ښکلي او نادر تشبيهات هم په کار وړل شوي دي، چې د شعر او نظم په نورو فورمونو کې يا په بشړه توګه نه شته او که وي هم په ډېره لږه کچې تر سترګو کېږي لکه:

▲ سترګې دې بې اثره نه دي
لکه د کوډو مرۍ برګې، برګې دينه

▲ زلفې دې بيا پرمخ خورې کړې
لکه شپانه چې رمې و شړي په غرونه

▲ دا ستا د مور غټې خبرې
لکه چکړې د کوڅو ترې ځان ساتهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴ ، د دغه تشبيهاتو په لړ کې يوه هم ګلونه دي چې په ډېره ماهرانه، هنرمندانه توګه د بدن له ښلاښلو برخو، د طبيعت، چاپېريال طبيعي ښکلاوو او نورو سره تشبې کړل شوي دي.

ګلونه که له يوې خوا ځخه ښکلي ځېرې او بڼې لري. په طبيعي توګه د انسانانو پام ځان ته ور اړوي، راز، راز ګلونه ښلاښل رازونه او حکمتونه لري. له بلې خوا ځخه بشر ګلونو ته ښېګڼې، نيکمرغۍ د سمبول په توګه ګوري. د هغې د نامه له يادولو او کارولو، کرلو، سيل او ليدلو ځخه يوه ځانګړې خوند تر لاسه کوي.

په رښتيا هم د ګل نوم په يادولو سره انسان ته د ګلاپ ښکلي ځېره، د لاله د زړه داغ، د لونګو د غاړې هار، د کشمالو رپيدنه، د اېنځر د ديدن ورک والی او ارمان سترګو ته درېږي. انسانان له ګلونو ځخه ډول، ډول انګېرنې او عقايد لري. د بېلګې په توګه زېړګل د جدايي علامه، سور ګل د مينتوب او وصال علامه او سمبول ګڼي.

د خپل زخمي زړه داغ د لاله د زړه له داغ سره مقايسه کوي، د جانان ديدن د اېنځر له ګل، همدا راز خپله خوښي د بلبل په بڼه د ګلو په ديدن او له ګل سره په همدمۍ کې لټوي.

که ځه هم کې دې شي د ګلونو شمېر له سلګونو ځخه واوړي خو ځينې يې د خلکو تر منځ ډېر مشهور دي. له همدې امله ګلونه د لنډۍيو په فورم کې ګلونو ځانګړي ځې خپل کړي دي، د بېلګې په توګه له ځينو ځخه يې په لاندې ډول يادونه کو:

د ګلاپ ګل د لنډۍيو په سمندر کې ګلاپ د نورو ګلانو په پرتله ډېر ياد شوي او ځانګړی ځای لري. کې دی شي د ګلاپ بې شمېره ښېګڼې او رازونه د دې لامل ګرځېدلی وي تر څو په لنډۍيو کې يې نوم له نورو ګلونو ځخه په لومړي کتار کې ځی خپل کړی وي.

په لنډۍيو کې د ګلاپ د ګل اصيلتوب، سره ښکلي زړه راښکونکې ځېره، د مينې او ناخوالو په وړاندې د هغې حساسيت، له شبنم او بلبل سره د هغه نږدې اړيکې، ډېرې ستايل شوي او ياد شوي دي. هم د ښکلو تشبيهاتو په رامنځ ته کولو کې ورځينې کار اخېستل شوی دی، لکه:

▲ اصيل ګلاپ چې په کې نه وي
په نورو ګلو مې تسل نه شي مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اصیل ګلاپ را څخه ورک دی
کم اصل ګل که بویوم ډک دي باغونه

▲ په ګورستان کې خاورې مه شې
ګل د ګلاپ شې چې دې خاورې بویوینه

▲ په وینو سور لکه ګلاپ شه
پښتني ناوې دې په تور اوربل کې ږدینه

▲ خولګۍ دې سره لکه ګلاپ ده
ځکه یې واړه بلبلان ثنا کوینه

▲ د نجلۍ مړاوې، مړاوې سترګې
لکه ګلاپ چې د دوې نیمو ورځو وینه

▲ ګلاپه دا کدر دې بس دی
چې جینکۍ دې په اوربل کې ګرزوینه

▲ مخ دې ګلاپ سترګې دې شمعه
زه نه پوهېږم چې پتنګ که بورا شمه

لونګ: لونګ نرډې تول پېژني، په ورځنیو چارو کې په ځانګړي توګه په کلیو، بانډو کې د کلیوالو ښځو، نجونو له خوا ترې امېلونه جوړېږي او په غاړه کې اچول کېږي. ځینې واړه ځونډي هم ترېنه برابرېږي، د کوژدي د نښې په د ستمال، هم په جامو کې د کمیس په لمن او ګریوان کې ګنډل کېږي.

هغه څه چې موږ د لونګ په نامه پېژنو او ښکلی بوي لري. د لونګ د بوټي، د ګلونو واړه ډنډر دي چې له راټولولو څخه وروسته و چېږي او بیا ورڅخه کار اخېستل کېږي. په لنډیو کې له لونګ څه د ښه بوي، ښکلي بوټي په توګه په ځانګړي توګه د ښځو له پاره ور ځینې یادونه شوي ده او د ګلاپ له ګل څخه وروسته لونګ په لنډیو کې خاص ځاي لري. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اشنا مې نوی سوداګر دی
په سر باري کې به لونګ راته راوړينه

▲ که چا لونګ ليدلي نه وي
جلۍ خولې کړه د لونګو بوی ترې ځينه

▲ په لويو غرو د باران شور شو
ښکته لانده شول د لونګو درمندونه

▲ چې ته راځې ما به خبر کړې
چې پر پالنګ لاچي لونګ و غوړومه

▲ دا بند په بند به شم در ماته
په بند ماتېږي د لاچي او لونګ ونه

▲ د باغ دې هر بوټې لونګ دي
پرې لګېدلي دي د چتو پلونه

کشمالي: کشمالي هغه ښکلي ګلان دي چې د نازبو ګلونه هم ورته ويل کېږي. , ۵ ، د کشمالي ګلونه که څه هم د ظاهري بڼې له پلوه دومره زړه راښکون په کې نه شته خو د کشمالو ښکلی بوي د هر کس پام ځانته وراړوي.

کشمالي توربخني پاڼې او ګلونه لري. په لنډۍيو کې د کشمالو له ښکلو او په زړه پورې عطرو څخه د نورو ځانګړتياوو په پرتله ډېره يادونه شوې ده، د بېلګې په توګه:

▲ جينکو نوی دود جاري کړ
د کشمالو باغچې په بام کې جوړوينه

▲ د جلی کور راته معلوم دی
د بام په سر يې کشمالي کرلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د کشمالو به دې باغوان شم
چې هر سهار یې په وړیا دیدن کومه

▲ ګلان دې ټول له تا کربان شي
ته کشمالی یې نور سلام درته کوینه

▲ یا دې په خوله کې کشمالي دي
یا دې د عطرو په چینه لمبلي دینه

غاټول: غاټول یا لاله هغه ښایسته او ښکلي ګلونه دي چې سور رنګ لري، خو تور سوي داغونه یې په زړه تل د زخمي زړه زخمیتوب څرګندونه کوي.
د پسرلي په موسم کې د غرونو په لمنو او د ښتو کې د غاټول ښکلي ګلونه تر سترګو کېږي. په لنډیو کې د ښکلو تشبیهاتو په ترڅ کې تر ډېره بریده د زړه داغ، د لاله د زړه له داغ سره او سرو شنډو سوروالي د لاله یا غاټول له سره رنګ سره تشبې کړل شوي دي لکه په لاندې لنډیو کې:

▲ زما په زړه کې مستي داغ دی
لکه لاله چې تور داغ په زړه لرینه

▲ که مې سرې شونډې در په یاد شوې
ګل د غاټول په لاس کې ونیسه مینه

▲ غاټول به ټول امېل به جوړ کړم
د یار د پاره به یې په غاړه ګرځومه

▲ یا د لاله په ګل شبنم دی
یا دې د مخ په ستارو خولې راځینه

نرګس: نرګس لکه څرنګه چې د نوم په یادولو سره یې هر کس ته دیار سترګې وریادېږي، یوه بوټی دی چې له عطرو څخه ډک ګلونه لري، په ګلونو کې یې سپینې پاڼې داسې چاپېره شوي دي چې په منځنۍ برخه کې یې زېړ رنګه جوړښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نرګس یو ډول ګلونه چې ډېر لږ پیدا کېږي داسې بڼه لري چې پاڼې یې سپینې دي او منځنی جوړښت یې تور رنګه رنګ لري، چې په بشپړه توګه او کټ مټ لکه سترګه داسې ښکارېږي. نو له همدې کبله ده چې په ډېرشمېر نظمونو او په ځانګړي توګه په لنډۍیو کې سترګې له نرګس سره تشبې کړل شوي دي.

د دې ترخنګ کله چې د شبنم څاڅکي د نرګس په ګل کې راټول شي نو هغه ده چې دغه رنګینې د نرګس د اوښکې په بڼه تعبیر کېږي او ښکلي ادبي انځور ترینه اخېستل کېږي. لکه په لاندې لنډۍیو کې:

▲ جانانه ستا جفا چې ګورم
لکه نرګس د فکر ټال مې زنګوینه

▲ صورت یې سپېن کمیس یې شین دی
لکه نرګس چې شین یې نار سپین یې ګلونه

▲ مخ دې ګلاپ سترګې نرګس دي
دا تورو زلفو دې سنبل و شرماونه

▲ شبنم له ګل کره مېلمه دی
نرګس له شرمه سترګې نه پورته کوینه

رامبېل او چامبېل: د رامبېل او چامبېل ګلونه هم د هغو ګلونو له ډلې څخه دي چې شعر په بېلابېلو فورمونو کې، په ځانګړي توګه په لنډۍیو کې ډېر یاد شوي او ستایل شوي دي. د رامبېل ګلونه سپین رنګ لري او زړه خوښونکی بوی لري.

د چامبېل ګلونه هم د پورتنۍیو اوصافو لرونکي دي.

خو یوازې رنګ یې زېړ دی. دا ګلونه تر ډېره د پسرلي په موسم کې پیدا کېږي. په لنډۍیو کې درامبېل او چامبېل خوشبویي او دهار په بڼه تشبیه کړل شوي دي لکه:

▲ زما جانان ګل د رامبېل دی
د سرو امېل دی زه یې په غاړه ګرځومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ګلاپ له اصله شهزاده دی
رامبېل چامبېل یې نوکران نیولي دینه

▲ ګوره چې ځانته غوره نه شې
که ته چامبېل یې زه رامبېله خوشبو یمه

همدا راز د لنډیو له سمندر څخه یوه شمېر نور ګلونه هم راټولولی شو لکه د ریحان ګل، د سوسن ګل، د کوکنار ګل، د ریدي ګل او داسې نور...
چې په لنډه توګه یې یوازې د لنډیو په راوړلو سره بسنه کو.

▲ خوشې عبث مې عمر تېر شو
لکه ربدي په بیابان ورژېدمه

▲ چې ناوې پېغله شونډې سرې کا
لکه د ډاک ربدي چې و سپېرې ګلونه

▲ زما جانان ګل د کوکنار دی
نصیب مې خوار دی چې مې لرې ګرزوینه

▲ زما جانان ګل د ریحان دی
پاس په اسمان دی ملایکې یې بویه وینه

▲ خوشې خواري راپسې مه کړه
د اېنځر ګل یم په لاس نه درځم مینه

د لنډیو سمندر دومره ژور او ښپاند دی، چې که هرڅومره غوټې په کې و وهل شي او هرڅومره ارزښتونه ورڅخه راټول کړل شي، بیاهم کم دي. خو دلته یوازې له دغه سمندر څخه د یوه شمېر ګلونو په راټولونه بسنه کو او د دې لیکنې لمن په لاندې لنډۍ همدلته رانغاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ
## ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســـــــــــــــــــــر چ پانې)

▲ ستا د بنایست ګلونه ډېر دي
ځولی مې تنګه زه به کوم، کوم ټولومه ،،
( محمد حامد، ۲۰۰۷ زیږدی )

| ګڼه | راټولونکی / لیکوونکی نوم | لیکی / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ | Lánḍéy لنډۍ | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصرۍ | Related منسوبي | Suffix Voice وروستاړي غږ | Action Req'ed کره شوی | (Caution) خبرداری | (In control) کنټرول کی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ځېره ۲. ځ محمد حامد حلیمي,, لنډۍ د ګلونو په سمندر کې ،، په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۶ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني) | | | | | | | | | | | | | |
| ۱۵ | محمد حامد حلیمي | لنډۍ د ګلونو په سمندر کې | ۱۳۸۶ لیږدی | ۴۳ | ۱۳ | ۷ | | ۲۳ | | | ■ | ● | ✓ |
| | | | | | ۷ | ۴ | | ۱۶ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۶ | ۳ | | ۷ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۱ | ۱ | | ۷ | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۷ | ۵ | | ۱۲ | ینه - ná: (ځرګنده ي په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۵ | ۱ | | ۳ | زورکی - mana - ( منه مجهوله هې * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | ځرګنده ، ه ،: ( کوناټوره، بختوره) ډېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | | | ۳۳۶ | ۱۶ | ټول |

۱۵. ۱۳ لښتیلیک:. ځېره ۲. ځ محمد حامد حلیمي,, لنډۍ د ګلونو په سمندر کې ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۶ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۲ خې (خ). ولایت خان ځدراڼ د پښتو لنډۍیو په اړه یوه څو خبرې.

د سویډن پښتو اینټرنېټ پاڼې ته په لاندې بڼه پورته کړي دي. ,, ګرانو لوستونکو لنډۍ د پښتو ژبې او پښتو ادب هغه ارزښتمنه شتمنۍ ده چې د نړۍ یوه ټولنه یې هم نه لري، د پښــتنو په سیمه کې د ډېر پخوا څخه ټپې ویل کېږي.

دا چې ټپې یا لنډۍ ځانګړۍ شاعر نه لري، هر چا په هر وخت کې هر رنګ لنډۍ ویلې دي نو همدا لامل دۍ چې د ویلو او جوړېدو نېټه یې ښکاره نه ده. خو ځینې داسې لنډۍ هم شته چې په هر ځل ویلو سره یې لومړیویونکۍ په سترګو کې انځورېږي، د بېلګې په ډول د افغاني تاریخ ځلانده څېره او د میوند د جنګ فاتحه ملالۍ هغه لنډۍ یادولۍ شو چې.

- که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

کله چې دا لنډۍ دغازیانو ترغوږو ورسیده لکه غوسه شوي زمریان له هرې خوا په دښمن را توئ شول او دښمن ته یې د شرمه ډکه ماته ورکړه. لنډۍ لکه څنګه یې چې نوم دۍ داسې د دوې لنډو کرښونه جوړه چې لومړۍ کرښه یې تر ۹ سیلابو، دوییمه کرښه یې اوږده او د تر ۱۳ سیلابو اوږده وي، دا دوې کرښې د مانا او مفهوم له اړخه پوره دي خو د وزن او قافیې له پلوه نیم ګړي دي. په لومړۍ کرښه کې د موضوع پیل او په دوییمه کرښه کې یې پایله یا هدف معلوم وي.

د پلټونکو په حواله د لنډۍ ډېره برخه د ښځو له خوا ویل شوي , کله چې په کلیو او بانډو کې د وادونو او نورو ښادۍیو پېښې جوړې شي نو ښځې څو شپې پرلپسې تر سهاره ناستې وي سندرې او ټپې ولې. دوې ۲ یا څو ډلې جوړې شي، د یوه بل سره مقابله کوي، هره ډله هڅه کوي چې زر او ښه ځواب و وایي دا سیالي د سوال او ځواب په شکل او یا هم د رنګکا رنګ مصرۍ په ویلو سره تر سره کېږي. لاندې څو بېلګې را اخلو:

سـَــوال

- د دې مصرۍ ځواب مې راکړه
کور مې د سیند په غاړه دۍ له تندې مرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــواب

▲ د دې مصرۍ ځواب د دا دی
څوک چې مين شي اوبه خوند نه ورکوينه

ســــوال

▲ د دې مصرۍ ځواب مې راکړه
ګولۍ يوه مرغۍ مې دوې ويشتلې دينه

ځــــواب

▲ د دې مصرۍ ځواب د دا دی
جينۍ يوه ياران يې دوې نيولې دينه
او

▲ جانانه راشه چې په پخولا شو
عمر د ژمي مازديګر دی تېر به شينه

▲ پيزوان مې ستا په بريت کې ښخ و
تر دروازې پورې جوړه در سره تلمه

▲ تر مشدۍ لونګۍ د ځار شم
په سر د ستا ده مزه ما ته راکوينه

په همدې ډول دا لړۍ تر هغه راوانه وي تر څو چې يوه ډله پړه ومني او يا خو د سحر لمر را و خيږي.

کله چې په وادونو کې سندرې ويل کېږي، ويونکې ډېر وخت کوښښ کوي چې د هغو کسانو نومونه په لنډۍ کې ياد کړي کوم چې دوی يې د ښادی په مراسو کې ګډون کړی. لکه لاندې مصرۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ دا نن ښادي د اکبر خان ده
سبا ښادي به د ګلاب غېږې ته ورېمه

▲ د اکبر خان خوښی له پاره
زه به سندرې تر سبا پورې کومه

▲ دا نن واده د اکبر خان دی
مبارکي به یې مور او پلار ته ورکومه

په لرو پرتو کلیو او بانډو کې ځوانان په حجرو کې سره راټولېږي، سیباتونه او مېلې جوړه وي او د ټپو په ویلو سره د ژمي اوږدې شپې رڼې کوي. هغوی هم دا د لنډۍیو سیالي تر سره کوي، پره ډله د بل وار راټولیدو مصارف په غاړه اخلي او د یوه یا دوې چرګانو او یا خو د لاندي غواښې په پخېدو سره د لنډۍیو سیالی ته لار جوړه وي ( له بده مرغه اوس دا ډول ناستې ډېرې کمې تر سترګو کېږي)

په ځینو سیمو کې د غم په ورځ هم د ویر ټپې ویل کېږي هغه داسې چې کله ځوک مړ شي نو د کورنۍ غړي یې او نور خواخوږي یې په ژړا کې د غمجنو مصرۍ په ویلو سره د زړه بړاس وباسي. لاندې مصرۍ ته ځیر شئ:

▲ ما د اوږدې لارې شمېرلې
زه دې د لنډو لارو څه خبره ومه

▲ ما د کیامت تمه لرله
ظالم مرګي را نه جدا په دنیا کړېنه

لنډۍ په لیکونو کې هم غټه ونډه لري دوستان، اشنایان، خپل خپلوان، مسافر او عاشقان یوه بل ته په خطونو کې په زړه پورې مصرۍ لېږي، دوستان د خپلې دوستۍ اظهار کوي، اشنایان، خپلوان د یوه بل په پېژند ګلوي او خپلوي فخر کوي.

مسافر د خپلې روغتیا، کار او راتګ حال بیانوي. عاشقان خپلې ګیلې، غمونه، ناخوالې، کړاونه، د کلیوالو، غمازانو ظلمونه او د ریبار د دوې رنګۍ څخه سر ټکونه د لنډۍ په ژبه کې لیکي. دلته یې څو مثالونه را اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ دوستانو یوه تر بل ځارېږئ
ما د مجلس یاران لیدل چې خاورې شوونه

▲ دوستانو ما ته دعا و کړئ
چې مې په خپل وطن کې و شي نصیبونه

▲ زما خوارو، خوارو دوستانو
له تاسو بېل یمه ژوند خواند نه راکوینه

▲ کاغذه لاړ شه په هوا شه
په مسافر اشنا مې وایه سلامونه

▲ سالو به حاله خپل په سر کړم
چې د اشنا وطن کې کېږدم کدمونه

▲ په بسم الله به د اشنا کړم
په کلیمه به د یارۍ ته راضا کړمه

▲ اشنا زما نه مرور دی
په څه خبره به په خولا راسره شینه

▲ خدایه ته ما ګل د ګلاب کړې
چې د اشنا په غېږ کې پاڼې، پاڼې شمه

▲ وطن د زېړو ګلو باغ دی
د مسافرو په کې نه شته نصیبونه

▲ مسافري مې کړې نه وی
ځان مې د سیند په اوبو وړی وی مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ روژه به تېره په سفر کړم
اختر ته کلي ته درځم خوشاله یمه

▲ چې خط مې درشي ور ته ژاړه
ما چې لیکه ورته مې ډېر ژاړلي دینه

▲ تا ته یوه کړي ما ته بله
رویبار د خپلې یارۍ دم په کې ترینه

▲ کلمه زر، زر پری چلېږه
خط مې د یار په لوري ځي ناوخته شونه

▲ چې خط مې در شي اور په بل کړه
چې زما مینه په کې شنه لوخړه شینه

▲ سلام د راغی ته را نه غلې
په کار مې نه دي بې دیدنه سلامونه

▲ کاغذه بخت کې تر ما ښه یې
زما سلام دی ته به وکړې دیدنونه

▲ خدایه دا پورې کلی وران کړې
د دوې مینو یې ناغې ترلي دینه

▲ تر مونږه ښکته پنجاب ښه دی
په دوې مینو باندې نه شته بندیزونه

همداسې د ساز او تنګ تکور په برخه کې مصرۍ ځانګړی ځای او خوند لري.
د پښتو ژبې ډېرو سندرغاړو په خپلو کښتونو او سي ډي ګانو کې په بېلابېلو طرزونو
او کمپوزونو کې ټپې ویلي دي، ځینې سندرغاړي مستې ټپې د مست ساز سره ځینې
د اتنیز ساز او ځینې بیا غمګینې ټپې په داسې انداز سره ویلي چې نبغ په نبغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوریدونکي په زړه اثر کوي، په سترګو کې د اوښکو چینې تاندې کوي او د ګریوان دښتې خړوبه وي.
لکه څنګه مو چې و ویل ډېرو سندرغاړو ټپې ویلي دي خو د پښتو ژبې خوږ غږي سندربول هارون باچا ټپو ته نوی رنګ او ښکلا ورکړه هغه دا

▲ اول په کله، کله غم وو
اوس مې پټې شو کاروندې په کې کرمه

په ویلو سره په لنډۍیو کې نوي ساه را ژوندۍ کړه وروسته د ټولو د مینې وړ سندرغاړی رحیم شاه دا ساه پسې اوږده او څانګې، څانګې خوارې کړې او په همدې کمپوز یې په اُردو کې چې:

(پهلې تو کبې، کبې غم تا *** ابي هر پل مې تېرې یاد ستاتې هی)

د یو ښکلي موزیک سره ټپې و ویلې چې دا وخت ټپو خپل وزرونه تر هندستان, ایران او تاجکستان پورې وغړول، د هند نامتو سندرغاړي اُلتاف راجا هم ټپې زمزمه کړې او نورو دري او فارسي ژبو سندرغاړو هم د اوس له پاره همدومره...

▲ چې پښـــــتانه په کې اوسېږي
زړګی مې غواړي چې پرې وشېندم ګلونه

▲ دا اخیري مصرۍ د دا وي
اخیر یې مه کړې د ځوانانو مجلسونه،،
(ولایت خان، ۲۰۰۸ زیږدی)

ځېره ۲. خ ولایت خان ځدراڼ ,, د پښتو لنډیو په اړه یوه څو خبرې،، په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

| ✓ کنترول کی (In control) | ● خبرداری (Caution) | ■ کره شوی Action Req'd | وروستاړي غږ Suffix Voice | Related منسوبي | Mésréy مصری | Ṭikéy ټیکی | Ṭapé ټپې | Lánḍéy لنډی | توول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکي او مصرۍ | چاپ ټال / نا چاپ | لیکی / لیکنه | راټولونکی / لیکوونکی نوم | ګڼه. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۱۵ | | ۱۲ | ۸ | | | | | ۱۶ |
| | | | | ▲ سرو ته منسوبي Related to men | ۱۳ | | ۷ | ۵ | | | | | |
| | | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | ۲ | | ۵ | ۳ | | | | | |
| | | | | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | ۳ | | ۳ | ۵ | | | | | |
| | | | | ښه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملې، غوندلي سره راشي ) ښنه. | ۶ | | ۶ | ۲ | | | | | |
| | | | | زوزګی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | | | لیږدی ۱۳۸۷ | د پښتو لنډیو په اړه یوه څو خبری | ولایت خان ځدران | |
| | | | | زورګی - mana - ( منه مجهوله هې * مه ) مه. | ۶ | | ۳ | ۱ | | | | | |
| | | | | زورګی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېری لږی شتون لري. | | | | | ۳۵ | | | | |
| تول | ۲۰ | ۱۲۶ | | ځرګنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) ډېری لږی شتون لري. | | | | | | | | | |

۱۵. ۱٤ لښتیلیک:. ځېره ۲. خ ولایت خان ځدراڼ ,, د پښتو لنډۍیو په اړه یوه څو خبرې،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۳ دې (د). حبيب الله رفيع د المان ږغ راډيو ته د مرکې له پاره داسې کښلي و.

,, په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ د لنډۍ چينې د پښتو په غرونو او رغونو، کليو او بانډو، باغونو او بڼونو ټولو کې راوخوټکې دې او د دوی د ژوند ټول اړخونه يې په خپلو خوږو لفظونو کې انځور کړل.

▲ په لويو غرو د خدای نظر وي
په سر يې واورې په لمن يې زېړ ګلونه

سندرو او افسانو زموږ د لرغوني هيواد د ادبي او کلتوري ژوند خښته کېښوده. د ليک تر پيداينښت وړاندې يې زموږ د فکري يون کرښې وټاکلې او پښتو اولسي سندرو هم د همدې ويدي او اوستايي سندرو تر څنګ سترګې پرانېستې.

د پښتو اولسي ادب په ښيرازه ګلبڼ کې د لنډۍ په نامه يوه داسې ګلبوټۍ هم رازرغون شو چې هره پاڼه يې بېل رنګ او د هرې څانګې خوځښت يې بېل آهنګ درلود. لنډۍ په ټوله پښتونخوا کې خورې او هرې پښتنې او پښتون ته ورسېدې، هر چا چې و ويلې د ټولو مال شوې، د ټولو د حال او چاپېريال څرګندويي او ښکارندويي يې و کړه. لنډۍ د پښتني ټولنې ټول رازونه په خپله غېږه کې خوندي کړل، د پښتو د ژوند ښې او بدې، خوږې او ترخې ټولې پېښې او خاطرې يې په خپله لمن کې راونغښتلې. لنډۍيو هم د پښتنو د ودونو او ښادۍيو دوراګانو ملتيا و کړه او هم يې د دوی د جنازو او تابوتونو ويرونه و کړل.

د لنډيۍ چينې د پښتو په غرونو او رغونو، کليو او بانډو، باغونو او بڼونو ټولو کې راوخوټکېدې. د دوی د ژوند ټول اړخونه يې په خپلو خوږو لفظونو کې انځور کړل. لنډۍ سيلابي او څپه ييز جوړښت لري، لکه له نامه څخه يې چې ښکاري يوه لنډ بيت دی چې دوې مسرۍ په کې دي، يوه لنډه ۹ ، سېلابي او بله اوږده ديارلس سيلابي، د دې ۲۲ سېلابونو په غېږه کې د لوی نه لوی مطلب په ډېر اعجاز او ايجاز خوندي کېږي او ادبي کېږي. د ژوند هره موضوع د لنډۍ موضوع ده او د پښتني ژوند هره برخه د لنډۍ د ګلونو خوشبويه عطر جوړولی شي.

د ميني نغمې او د حالاتو تغمې دواړه د لنډۍ په پستو اننګو کې ښکاري، دا کمال په کې شته چې په بشپړ فصاحت او بلاغت يې ادا کړي. د نمونې په توګه پښتونولي يوه قانون دی، په دې قانون کې که دښمن هم د چا په کور کې پناه واخلي، مضمون دی، د همدې اصل له مخې مين بېلتون ته هرکلی کوي او ډاډ ورکوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ بېلتونه راشه سترې مه شي
زړه مي پښتون دی مېلمه نه خپه کوینه

ګودر د پښتني ټولنې یوه ټولنیزه مؤسسه ده، په هر کلي او ټپه کې یوه ګودر موجود وي، د کلي پېغلې نجونې ګودر ته راځي، اوبه هم ځني وړي، مرکې او مجلسونه هم سره کوي او کله – کله د دوو مینو دیدن هم په ګودر یا د ګودر په لاره کې کېږي، نجونې ګودر ته په ښو او نظرراښکونکو جامو کې ځي او د سرو سالوګانو سیالۍ کېږي، یوه لنډۍ دا منظر داسې انځوروي:

▲ په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما ویل په تورو اوبو اور ولګېدنه

مینه او وفا د پښتني دنیا یوه زرین او متین اصل دی چې ژمنه یې و کړه بیا ماتېدی نه شي، چې قول یې وکړ بیا بدلېدی نه شي، د همدې اصل له مخې مین مینې ته د مینې په دنیا کې د وفا ډاډ په دې الفاظو ورکوي:

▲ د زلفو تار نښاني راکړه
که په کیامت یې رانه غواړې دربی کړمه

غربت او بېوزلي د پښتني ټولنې یوه سپوره برخه ده خو د کورنۍ مینه او ګرانښت (صمیمیت)، لورېينه او یوه پر بل پېرزوینه هم یوه زرین اصل دی، یوه پښتنه مېرمن له خپل مېړه سره د مینې او لورېينې ژوند لري. یوه ورځ داسې راځي چې په کور کې د خوړو څه نه شته، ځښتن مجبورېږي وړۍ له کوره راځي چې په کور کې د خوړو څه نه شته، ځښتن مجبورېږي وړۍ له کوره وزي او په خوارۍ مزدورۍ پسې ځي. کله چې مېرمن د خوړلو څه مومي او د سترخوان ته کښېني نو وړۍ تللی ځښتن یې وریادېږي، مړۍ یې په ستوني کې نښلي، د ګرانښت (صمیمیت) او لورېينې داسې ازموینه ترسره کوي:

▲ اشنا مي وړی رانه تللی
چې دسترخوان لره ورځم ژړا راځینه

په پښتني ټولنه کې د مینې کولو لارې ډېرې اغزنې دي او ډېرې له ستونزو ډکې، که د غلا مینه رسوا شي نو بیا د مرګ استازی رارسېږي او د مینې انتقام اخلي. مین په همداسې اغزنو حالاتو کې مینې ته زړه ښه کوي او له مړینې وېره نه کوي خو له مینې نه هم د ثبات او وفا دارۍ غوښتنه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ سبا مې ستا په تومت وژني
ځاى د راستى دى چې منکر نه شې مينه

يا هم

▲ سبا مې ستا په تومت وژني
غولى جارو کړه چې په شرق مې وينې ځينه

پښتني دنيا د ښو او غوره اصولو ترڅنګ ځينې ناوړې او نارواوې هم لري له دې ځخه يوه هم د مېړونو له خوا د مېرمنو وهل هم دي، مېرمن مقابله نه شي کولى، خو لنډى نه ديوه مليح او مظلومانه احتجاج په توګه کار اخلي او خپل څښتن د لنډى په خوږه ژبه خپلې ناروا ته داسې متوجه کوي:

▲ برخان د ګلو لښته ناخلي
پر ما دې تېر کړل د کوتکو ګوزارونه

په پښتني ټولنه کې ودونه د اولادونو د پيداکېدلو او د وګړو د ډېرېدلو له پاره کېږي. هره مېرمن له ودوزن سره سم هيله لري چې ماشوم و لري او په کور کې يې زانګو وزنګوي، يوه مېرمن چې ډېر وخت د اولاد په انتظار ده خو په کور کې يې د ماشوم د ژړاغږ نه راپورته کېږي نو خپل خاوند ته د لنډى په خوږه او پسته ژبه په طنزيه لهجه داسې وايي:

▲ جانانه ستا مزکى نه شته
زما همځولي زانګو ګانې زنګوينه

لنډى يوه سرتړلى زنځير دى، يوه موضوع په کې بشپړېږي خو کله، کله د سوال او ځواب په بڼه يوه لنډى له بلې سره نښلي او د يوه خوارږه ډيالوګ په توګه دوام کوي.

ننى ناسته په همداسې يوه خوارږه سوال او ځواب سرته رسوو چې د مينې راز او نياز په کې شوى او د ټولنې بنديزونو ته په کې ټکان ورکړل شوى دى:

▲ په سپينه خوله مې دې پرار وکړ
زه به بخيلې مور ته څه ځواب کوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مور ته دې داسې ځواب وایه
زه له منګې سره ګودر ته ولوېدمه

مینه ځواب منطقي نه ګڼي:

▲ مور به مې داسې راته وايي
منګی دې روغ په خوله دې راوړل پرهارونه

مین منطقي ځواب جوړوي او وايي:

▲ بیا د مورکۍ ځواب دې دا دی
منګی په خته زه په ګټه ولوېدمه

ځواب چې منطقي کېږي دا ورته وايي:

▲ چې د مورکۍ ځواب دې جوړ کړ
پر دې ملاله خوله مې کېښکارېږه غابنونه،،

(حبیب الله مرکه د آلمان رړغ راډیو سره، ۲۰۱۰ زېږدی).

خېره ۲. د آلمان رړغ راډیو ,, په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ ،، حبیب الله رفیع د مرکي کښلی متن، لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

کڼه.: ۱۲ | راټولونکي / لیکوونکي نوم: حبیب الله رفیع | لیکې / لیکنه: په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ | چاپ کال / نا چاپ: لیږدی ۱۳۸۹ | ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکي او مصرۍ: ۱۴

| Lánḍéy لنډی | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصری | Related منسوبي |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۴ | | ۸ | |
| ۲ | ۴ | | ۴ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men |
| | | | ۴ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women |
| ۱ | | | ۳ | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. |
| | ۳ | | ۲ | ینه - ná: (څرګنده ې په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه. |
| | ۱ | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. |
| ۱ | | | ۳ | زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. |
| | | | | زورکی ,ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خېله) دېرې لږې شتون لري. |
| | | | | څرکنده ,ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. |

وروستاړي غږ Suffix Voice

| ګره شوی Action Req'ed ■ | خبرداری (Caution) ● | کنترول کی (In control) ✓ |
|---|---|---|
| ۴ | ۳ | ټول |

۱۵. ۱۵ لښتیلیک:. ځېره ۲. د آلمان رړغ راډیو ,, په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ ،، حبیب الله رفیع د مرکي کښلی متن، لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۴ د – ۱. حبيب الله رفيع د هارون حکيمي د مرکې د پوښتنو ځوابونو کې د پښتو لنډۍيو ژوند څلورنيمو زرو کلونو ته رسوي. په لاندې بڼه يې کښلي و.

,, پښتو هغه منظوم شعر دی چې تر اوسه يې په بله ژبه کې سارى نه دی ليدل شوی، پښتو لنډۍ يو ځانګړی جوړښت لري، چې لومړی بيت يې ۹ سپلابه او دوېيم ۱۳يي سپلابه دی، چې په ټوليز ډول ۲۲ سپلابه کېږي. د دې له پاره چې د پښتو لنډۍيو په اړه مو د مالوماتو کچې لوړه شي، نو په دې اړه مو له ښاغلي اوستاد حبيب الله رفيع سره مرکه کړې چې تاسې درنو لوستونکو ته يې د لوستلو له پاره وړاندې کوو.
حکيمي: که لومړی د لنډۍيو د نامه په اړه راته و واياست، په ځينو سيمو کې ورته لنډۍ وايي په ځينو کې مصرۍ او په ځينو سيمو کې ټپې وايي؟

اوستاد: دا چې لنډۍ د يوه لوی ملت، ګډه پانګه ده او دا ډېره ستره، کېمتي او ارزښتناکه پانګه ده، ما چې تر اوسه مطالعه کړې د نړۍ په ولسي ادب کې مې د لنډۍ جوړه نه ده پيداکړې.

له همدې امله پښتنو ته ګرانې دي او داسې پښتانه به ډېر لږ پيداشي چې يا يې نه وي زده او يايې جوړې نه کړي، له همدې امله په هر ځای کې پرې له شرايطو سره سم نومونه ايښودل شوي دي، البته دا د ولس نومونه دي، ځينو خلکو تعبيرونه ترې کړي لکه يوه تعبير يې دا دی چې لنډۍ يوه لنډ شعري ټولګی دی، ياني نهه سپلابه يې لومړۍ مصرۍ ده، ديارلس سپلابه يې دوېيمه مصرۍ ده او دا ټول دوه ويشت سپلابه کېږي، له همدې امله ورته لنډۍ وايي. بل تعبير يې دا کړی چې لنډۍ د مار يوه ډول دی او هغه ډېر زهرجن مار دی ياني ډېر اغېزمن دی او د چيچ زهر يې ډېر زر اغېز کوي.

دوی د لنډۍ دا مطلب او هغه ښکلي الفاظ دوی ډېر اغېزمن بولي، دومره موثر او اغېزمن يې بولي لکه لنډۍ چې په وجود ژر اغېز کوي، دا هم په احساساتو داسې اثر کوي او احساسات راپاروي، ويښوي او څپاند کوي يې، له همدې امله ورته لنډۍ وايي. او بل په لره پښتونخوا کې ورته ټپه وايي، د ټپې هم ډېر تعبيرونه شوي، دا چې له ټپ سره تړاو لري ياني داسې اغېز لري چې په سړي کې ټپ جوړوي، زخم جوړوي دا معنا هم لري.

مصرۍ هم ورته وايي ځکه دا دوې مصرۍ دي او سره راټولې شوې، دا يې يوه مانا ده او بل مصرۍ يوه توره ده چې هغه په مصر کې جوړېده او په پښتنو کې ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهوره ده، ... په ما دې کړي د مصرۍ تورې واورونه... دا هم د اغېز له امله ورته د مصرۍ نوم اخیستل کېږي چې دا هم ډېر اغېز لري.

په دې سربېره ځینې نور ولسي نومونه هم لري د بېلګې په توګه، غریبۍ، غریبۍ په هغه وخت کې چې یوه څوک مسافر شي، یا کوم غم پرې راشي، له ځانه سره ناست وي غمجن او لنډۍ وایي، دې ته غریبۍ وایي، غړنګې هم ورته وایي، ډېر نومونه یې نور هم شته چې ما اورېدلي دي. په هر حال دا ټول نومونه د لنډۍ له اغېز او تاثیر څخه اخیستل شوي. په ټولو کې دا نغښتي چې لنډۍ یوه ډېر اغېزمن شعر دی او په احساساتو او عواطفو ډېر ژور اغېز لري.

د شکل له نظره هم په ډېرو ښکلو الفاظو جوړ شوی، د موضوع له نظره یوه ژوندۍ موضوع په دې دوې مصرۍیو کې ځای کېږي، لکه یوه سر تړلی ځنځیر دی چې موضوع بل ځای ته نه ترې ځي، په دوې مسرۍیو کې یوه ښکلی مضمون ځایېږي او انسان ته یوه ښکلی مفهوم لېږدوي.

له همدې امله د لنډۍ اغېز هم د شکل او الفاظو له نظره هم د مانا له نظره ډېر زیات دی. ډېر اغېزمن دی، له همدې امله لنډۍ ته دوی زیات ارزښت ورکوي.

حکیمي: اوستاده! سړی دعوه کولی شي چې د تراژیدۍ ډک یوه ډول ژانر دی، ځکه چې له درېیو نومونو څخه مصرۍ، چې له مصرۍ تورې اخیستل شوې،

تاته به خاورې خولګۍ درکم
پر ډال دې نه شته د مصرۍ تورې واورونه

یا لنډۍ چې له ماره اخیستل شوې یا هم ټپه چې دا هم له ټپ څخه اخیستل شوی دی، سړی دعوه کولی شي چې لنډۍ یوازې یوه تراژیدي ډول شعر دی؟

اوستاد: تاسې پوهېږۍ چې تراژیدي یوازې دغه حالت ته نه وایي، کله، کله سړی ډېر خوشاله شي و ژاړي، یانې له دې څخه د لنډۍ اغېزمنتوب مطرح دی، ډېرې لنډۍ دي چې هغه تراژیدي نه دي خو ډېر اغېزمن او ښکلی تصویر لري:

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما ویل په تورو اوبو اور ولګېدنه

څومره لوی اغېزم په کې پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ بېلتونه راشه ستړی مه شي
زړه مې پښتون دی مېلمه نه خپه کوينه

د پښتونولي ټوله فلسفه په دې يوه لنډۍ کې راځای شوې ده.

▲ ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه

دا د غربت يوه لوی تصوير دی، د پښتنو د غربت خو په عين حال کې د ښکلي ذوق ښې ثليقې، ياني غريب هم کولی شي چې د ژوند په مسايلو کې هم له ذوقه کار واخلي، نو په دې اساس لنډۍ يوازې تراژيدي نه دي، بلکې زما نظر دا دی چې په لنډۍ کې د پښتني ټولنې هر هغه څه چې دوی ورسره سروکار لري شته او په کې نغښتل شوي دي. ياني دوی د پښتنو ټولو پوښتنو ته ځواب وايي، لنډۍ د پښتنو ټولې غوښتنې منعکسوي او په لنډيو کې د ژوند ټول حالات را نغښتل شوي دي.

حکيمي: تاسې يوه وخت ويل چې په لنډيو کې ډراماټيکي لنډۍ هم شته، چې په لنډيو کې خبرې اترې شوې، د يوې ډرامې بېلګه مو ورکوله، اوس مو په ذهن کې داسې کوم څه شته؟

اوستاد: هو بالکل ولې نه، ډېرې دي.

▲ په سپينه خوله مې د پرار وکړ
زه به بخيلې مور ته څه ځواب کومه

▲ مور ته دې داسې ځواب وايه
زه له منګي سره ګودر ته ولوېدمه

که مور دا وايي چې دا بې منطقه خبره ده، نو:

▲ مور به مې داسې راته وايي
منګی دې روغ په خوله دې راوړل پرهارونه

دی بيا وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د مورکۍ ځواب دې ديه داسې
منګۍ په خټه زه په زغه ولګېدمه

او بيا چې ځواب منطقي هم وي ورته وايي چې،

▲ د مورکۍ ځواب خودې اوس جوړ کړ
په دې ملاله خوله مې کېکاږه غابښونه

دا ډول دي لکه:

▲ زړه مې له سترګو ګيله من شو
چې ديدن ته کړې، عبث غم زه تېرومه

▲ سترګو له واره ځواب ورکړ
چې مين ته يې اوښکې بيا زه تويومه

دا ډول ډراماتيکې لنډۍ ډېرې زياتې دي، د ژوند ښکلې، ښکلې صحنې چې په ژوند کې پيښيږي، هغه په هر ډول په لنډيو کې ځای شوې دي، د بېلګې په توګه ما مخکې و ويل چې لنډۍ سرتړلې ځنځير دی، ليکن په پوښتنه او ځواب کې بيا سوال په يوه لنډۍ کې او ځواب په بله لنډۍ کې، بېرته يې هره يوه ځانګړی سرتړلی ځنځير دی.

حکيمي: د کاکړی غاړو سره که چېرې سرې لنډۍ پرتله کړي، کوم ډول به يې لوستونکي ته آسانه وي، کاکړۍ غاړې او که لنډۍ؟ د تصوير او موضوع له پلوه کوم ژانر په کې ځواکمن ښکاري؟

اوستاد: لنډۍ د ټولو پښتنو په ټوله پښتونخوا کې خپور ادبي ټولګی دی، نو داسې پښتون او پښتنه به پيدا نه کړې چې يا يې لنډۍ ويلې نه وي او يا يې لنډۍ زده نه وي، نو په همدې اساس د کاکړۍ يو يا د غاړو ساحه وړه ده، هغه په ټوله پښتونخوا کې خپرې نه دي، بل د کاکړۍ جوړښت ځانګړی دی، دا چې ته وايې چې لنډۍ دوې ويشت سېلابه ده او هغه يا څوارلس سېلابه دي يا شپاړس سېلابه دي هغه معمولا څوارلس او شپاړس سېلابه دي، مسرې يې يا اووه سېلابه دي يا اته، هغه بېله موضوع ده په آسانۍ کې رول نه لري، هغه خپله هماغه يوه ټولګی دی، خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالب او خپلې غوښتنې لري، هغه هم تقریبا د لنډیو په لار روان یوه ټولګی دی، د ژوند ټول مسایل په کې رانغښتل شوي، حماسي لنډۍ په کې شته، ټولنیزې لنډۍ په کې شته، حتا تر کومه چې ما مطالعه په کې کړې، په ځینو ځایونو کې له لنډۍ نه هم حساسې دي، په هغو کې د ژوند مسایل ډېر ژر، ژر منعکس کېږي، په لنډۍ کې مسایل ډېر ورو، ورو منعکس کېږي لکه:

▲ د ښو ټوپکو اوستادکاره
د ښو ځوانانو مرګ به ستا له لاسه وینه

دا د ټوپک د وخت لنډۍ ده لېکن اوس د توپ او مزایل لنډۍ ډېرې کمې پیدا کېږي، خو غاړې چې دي هغه بیا رواني دي د ژوند نوې پېښې ټولې په کې نغاړل کېږي لکه:

راځه چې دواړه توکل کړو، زما چارګل په سګرېټ ورکړو

دی وایي:

زما دې خاورې شي ځواني، چې ستا چارګل په سګرېټ ځي

نو په دې کې د سګرېټ، اورګاډي او نوي مسایل هم رانغاړل شوي دي، نوي مسایل چې راځي ډېر ژر په غاړو کې ځای شوي دي، په لنډیو کې لږ، په ځنډ هغه راځي تر کومه چې ما مطالعه کړې، لیکن په هر صورت، د لنډیو کړی لویه ده، او د کاکړیو وړه ده، نو په همدې اساس یې هېڅکله له لنډیو سره په پرتله کې نه شو اېښودلی.

حکیمي: تاسي د نوو خبرو یادونه و کړه چې په کاکړیو کې ځای شوې او په لنډیو کې تر اوسه نه دي ځای شوې، په لنډیو کې هم داسې بېلګې اوس شته، لکه یوه طنزیه لنډۍ وایي:

▲ کبر سوری کړه حال مې ګوره
چې مبایل مې اوس آنتن نه ورکوینه

یا بله یوه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ چې دې ياري په مسېجو شوه
له داسې مينې دې خپل ځان ډېلېټومه

د دغه ډول کلمو يا هم د نورو کلمو راوړل په لنډيو کې ځرنګه کار دی؟
اوستاد: لنډۍ د ولس مال دی، دا چې ځينې کسان لنډۍ جوړوي، هغه بېله خبر ده، ډېر کسان په دې کلونو کې د لنډيو په څنګ کې يې خپله لنډۍ جوړې کړې او مجموعې يې جوړې کړي. لېکن هغه لنډۍ شوې نه دي، هغه وخت لنډۍ کېږي چې د ولس سايکل يا دوره و وهي له هغې وروسته ولسي ادب کېږي او ولسي لنډۍ ترې جوړېږي، لکه په لنډيو کې زياتې لنډۍ شته چې د طالبانو، يا د عالمانو لنډۍ دي:

▲ کتاب تمام طالب روان شو
تر حجرې ګرده تاوېدم په لمبو سومه

يا نور ژور، ژور منطقي مسايل دي چې په لنډيو کې رانغښتل شوي دي، ليکن هغه عامې شوې نه دي، لا د ولس نه دي شوې او د ولس ادب ته نه دي ننوتې. ولسي لنډۍ هغه لنډۍ دي چې شاعر يې په ولس کې و وايي او شاعر يې په ولس کې ورک شي، لنډۍ په ولس کې خوره شي او بېرته يې مور د ولس له خولې راواخلو.
کله، کله داسې کېږي چې يوه لنډۍ يوه ځاې يوه ډول ويل کېږي خو بل ځاې په بل ډول، لکه :

▲ يار مې د خوست زه د تيرا يم
خدايه خوست وران کړې چې جوړه تيرا ته ځونه

خو دا لنډۍ بل ځاې داسې ويل کېږي چې:

▲ يار مې د کوټ زه د تيرا يم
خدايه کوټ وران کړې چې جوړه تيرا ته ځونه

حکيمي: د دې بدلون لامل ستاسې په نظر په څه کې دی؟

اوستاد: دا د ژوند د کولو له پاره، هر شی هڅه کوي ژوند و کړي، د هر څه مبارزه روانه ده، لنډۍ شفاهي شی دی، له يوې خولې بلې خولې ته ځي، له يوې سيمې بلې سيمې ته ځي، په دې لېږد کې داسې بدلونونه پيدا کوي چې غواړي په کې د خپل پايښت له پاره له هغو څخه کار واخلي، لکه دا لنډۍ چې يار مې د کوټ زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيرا يم دا لنډۍ که خوست ته ځي، دا لنډۍ که د کوټ او د تيرا وي پنځه ورځې وروسته يادېږي ځکه که له خپلې سيمې سره مينه لري، نو په همدې اساس دا منطقوي نومونه بدلېږي، سيمه ييز اتلان په کې بدلېږي، په يوه لنډۍ کې په يوه ځای کې يوه کس اتل وي خو هغه لنډۍ چې بل ځای ته ځي بل اتل مومي، د هغه ځای مشهور اتل ورسره اچول کېږي چې دا لنډۍ ژوند ورسره و کړي. حتا لنډۍ يوه بل کمال هم لري، لغتونه بدلوي، د لغتونو په بدليدلو سره ژوند کوي اوس دا لنډۍ د زرګونو کلونو لنډۍ ده:

▲ سپوږمیه سر وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

دا (جون زانولسونيو) يوه پښتو يوه ځېړونکی دی هغه وايي چې دا د هغه وخت لنډۍ ده چې آريايان به د شپې له خوا د سوما د بوټي د لو کولو له پاره غره ته تلل او بيا به انتظار وو ترڅو د ځوارلسمې سپوږمۍ راوخېږي، دوی د سوما بوټي لو کړي، ځکه که دا په لمر کې لو شوي وای شيره يې خرابېدله، نو دوی به د سپوږمۍ د شپې انتظار ويست او ټول به راټول وو. بيا به يې د دې بوټي لو کاوه او له هغه به يې شيره ايستله، له هغه به يې مشروب جوړول چې دوی ته ډېر مقدس وو او له هغه به يې استفاده کوله. دا لنډۍ يا له ځوارلسم وړاندې ويل شوې، يا په داسې ځای کې ويل شوې چې غرونه لوړ دي او سپوږمۍ ژر نه راخېږي يا هر څه چې دي د مينې له خوا دا لنډۍ ورته ويل شوې ده چې

▲ سپوږمیه سر وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

نو په دې لنډۍ کې چې کوم لغتونه دي دا په ژبه کې عادي دي، فکر کېږي چې دا لغتونه يې هم د وخت په تېرېدو بدل شوي ځکه که هغه زاړه لغتونه وی نو په هغه ځوک نه پوهېدل نو هغه يې همداسې پرې اېښي دي.
يا دا چې:

▲ مازديګرى دى ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه

دا د لمر پالنې د وخت لنډۍ ده، کله به چې لمر لوېده نو په دې وخت کې به لمر پالونکو عبادت کاوه، دوی باور درلود چې په دې وخت کې هره دعا کبلېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په همدې اساس ګوري چې مينه (معشوقه) ښېرې کوي او هلته مازيګر دی نو وايي چې:

▲ مازديګری دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه

دا د هغه وختونو لنډۍ دي خو کليمې يې نوې دي او ټولې بدلې شوې يوازې فکر يې را لېږدولی دی. ما و ويل، چې هغه يوه کس جوړوي، ليکن د کس په نامه ځکه نه وي چې هغه ټولنې ته ځي، ټولنه يې لکه شعر هسې نقد کوي، ټولنه پرې نقد کوي، ډېر شيان ترې توږي، خلک په کې ښکلي ښکلي لغتونه اچوي او خراب ترې باسي، نومونه په کې بدلېږي، ځايونه په کې بدلېږي په ټوله پښتونخوا ګرځي او ژوند کوي او ټول پښتانه ورسره بلدېږي.

حکيمي: تاسې د څو لرغونو لنډېيو يادونه و کړه د تاريخ له نظره څېړونکو دا خبره تر کومه ځايه رسولې چې لنډۍ له کوم مهال راهيسې ويل کېږي؟

اوستاد: د لنډېيو لرغونتوب د آرياني سندرو له لرغونتوب سره سم دی، علامه کهزاد دې خدای وبښي هغو د افغانستان په تاريخ کې يوه عجيب ابتکاري کار کړی هغه وايي چې په نړۍ کې د هېوادونو ژوند دوې برخې لري، يوه تر تاريخ وړاندې دوره ده او يوه هم تاريخي دوره ده، ليکن د افغانستان ژوند درې دورې لري، يوه تر تاريخ وړاندې دوره ده، يوه د سرودونو او داستانونو دوره ده. يوه هم تاريخي دوره ده، د سرودونو او سندرو دوره داسې مهال ده چې خط لا ندې رامنځته شوی، لېکن د ولس شعور د شعر په ژبه رامنځته شوي چې هغه لومړی ويدي سندرې دي، ويدي ورکې سندرې دي، د آريانا ويجه په خاوره کې کابو څلورنيم، پينځه زره کاله پخوا ويل شوې دي، بل د ريګويدا ده چې دا هغه مهال دی، چې کله له بلخ څخه لېږديدنې پيل شوې او آريايان له هندوکش څخه را واوښتل او پښتانه په موجوده پښتونخوا کې مېشت شول، يوه برخه آريايان پاس ته ولاړل يوه بله برخه هند ته لاړل په دې وخت کې د ريګويدا سرودونه ويل شوي چې په کې د پښتني سيمو د قبيلو، سيمو، سيندونو او ځايونو نومونه راغلي، په همدې دوره کې د پښتو ژبې کليمې هم ليدل کېږي. دا هغه وخت دی چې پښتو ژبې هم تشکل کړی، دغه ادبيات پښتو ژبې ته له آرياني ژبو څخه له ويدا او اوستا څخه رالېږديدلي دي، په دې اساس د پښتو لومړنۍ سندرې د ماشومانو او ميندو سندرې ورپسې لنډۍ دي، دا له همغو آرياني سندرو څخه ډايرکټ يا نېغ په نېغه رالېږديدلي دي، ځکه موږ د ماشومانو او ميندو په سندرو کې داسې مصرې لرو چې هغه سګنالونه دي او مانا نه لري. چې دا ترې ښکاري دا د هغه وخت د ژبې لغتونه دي چې مستقيما راغلي او په پښتو کې پاتې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکو بکو سرسیندکو... هیڅ معنا نلري، یا هم اللو لو...

بل د ویدي سرودونو یوه برخه داسې هم شته چې هغه دوه ویشت سپلابه دي، شمېر یې نه او دیارلس نه دی خو ټولګه یې دوه ویشت سپلابه ده، بل غاړې دي چې د هغو زیات وزنونه په اوستا کې شته، اوستایي سندرې دي چې د هغو زیاتره په اووه او اتو سپلابو کې ویل شوې دي، د ماشومانو او نورې ورته سندرې شته چې وروستني وزنونه یې په هغو ژبو کې هم لیدل کېږي.

نو په همدې اساس د پښتو د ولسي ادب ژوند د پښتو له پیدایښت سره سم دی کله چې پښتو د آریاني ژبو په کورنۍ کې سترګې غړولې ورسره سم پښتو ولسي ادب هم سترګې غړولې او ځینې شیان یې تیار له هغه ځایه را اخیستي او په ځپله ژبه کې یې حل کړي دي. ساتلي یې دي چې تر ننه پورې رارسېدلي دي، نو د لنډیو ژوند ډېرو لومړیو کلونو یانې ځلورو ځلورنیمو زرو کلونو ته رسولی شو.

حکیمي: کله مو د لنډیو په تاثر کې کوم شعر لیکلی دی او یا له لنډیو سره کومه خاطره لرئ، لکه الفت صیب چې په خپلو خاطرو کې یوه خاطره لیکلې،

▲ ,, تا چې پرمخ ځپیړه راکړه
د اوښکو ډکې سترګې چا ته واړومه ،، ؟

اوستاد: زه د ولسي سندرو او لنډیو په غېږ کې لوی شوی یم. زه تر لس کلنۍ او دولس کلنۍ پورې په کلي کې وم، زه بالکل د فلکوري او ولسي ادب په غېږکې را لوی شوی یم، ما په هغو محفلونو کې چې ښځو به په کې راز، راز سندرې ویلې یا به اتڼونه وو، زموږ کلی درې برخې دی، په منځ کې یوه ځای شګه ده، په دې شګه کې به د شپې اتڼ وو، دلته به یې په منځ کې اور بل شوی وو او شا او خوا به یې اتڼونه کول. ډولونه به وهل کېدل، د دغو خلکو ځېرې به د لوړو، لوړو کلاګانو باندې لویې، لویې ښکارېدې، زه به هم ورته په بام ناست وم او د دې خلکو هغه لویې، لویې ځېرې به مې لیدلې چې تر اوسه یې زما هغه تصویر په ذهن کې پاتې دی. نو ما په کلي کې ژوند کړی، له لنډیو سره مې ژوند کړی، د لومړي ځل له پاره چې ما د شعر په نامه کاغذونه تورول، ما لنډۍ، غاړې او نورې ولسي سندرې هم لیکلې، یوه لنډۍ چې هغه وخت ما لیکلې وه او بیا یې د ځینو خلکو له خولې اورم.

▲ بېلتون ټوپک شو را ته ډک شو
ناخاپه ټک شو په زړګي یې و ویشتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لنډۍ کابو پنځوس کاله وړاندې ما لیکلې وه، اوس یې د ځینو، ځینو له خولو اورم، نو زه ویلي شم چې زه د لنډۍیو په غېږه کې رالوی شوی یم او له لنډۍیو څخه ډېر خوند اخلم. زه فکر کوم چې لنډۍ ډېر موجز او موجز ادبي ټولګی دی، زه یې هېڅ ټولګی ساری نه وینم، زه یې د نړۍ په پرمختللي ادب کې هم ساری نه وینم، نه دا چې زه پښتون یم او پښتو لنډۍ مې اورېدلې، دا خبره د پښتو لنډۍیو د هغو اعجاز له امله کوم چې په دریویشتو سیلابونو کې یې سمندر را نغاړلی دی هغه په کوزه کې د سمندر کیسه ده، ځوانانو ته زما توصیه داده چې د لنډۍیو په ټولولو کې په ډېره امانتداری هڅه و کړي.

راټولې یې کړي او ویې لیکي ځکه یوه شمېر د لنډۍیو ټولګي چې خپرې شوې دي یوه څه مصنوعي لنډۍ په کې ټولې شوي، خو بیا هم د اصلي او مصنوعي لنډۍیو تر منځ توپیر شته، دا د ځوانو فولکلوریستانو دنده ده چې دې ته پوره پام و کړي، په لنډۍ هر اړخیزې څېړنې و کړي، لنډۍ د هره اړخه، د جوړښت، موضوع او صراحت له اړخه ورته کار و کړي، پښتو ټولنه دوديزه ده خو لنډۍ هغه هر څه په ډېر صراحت بیانولی شي:

▲ سبامې ستا په تومت وژنې
ځای دې راستی دی چې منکر نه شې مینه

▲ سبا مې ستا په تومت وژنې
غولی جارو کړه چې په شرک مې وینې ځینه

ډېر داسې مسایل دي چې ډېر په جرئت سره هر څوک، معشوقه او هر څوک خپلې خبرې بیانولی شي، دغه راز نور مسایل هم بې له وېرې او محدودیت پرته مطرح کېدلی شي.،، (حبیب الله رفیع، ۲۰۱۰ زیږدی، د هارون حکیمي مرکه)

څېره ۲. د - ۱ حبیب الله رفیع د هارون حکیمي د مرکې د پوښتنو ځوابونو کې ,, د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسوي ،، په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

| ګڼه | راټولوونکی / لیکوونکی نوم | لیکی / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ | Lánḍéy لنډۍ | Ṭapé ټپې | Ṭikéy ټیکی | Mésréy مصرۍ | Related منسوبي | Suffix Voice وروستاړي غږ | Action Req'ed کړه شوی | (Caution) خبرداری | (In control) کنټرول کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | حبیب الله رفیع | د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسیږي | ۱۳۸۹ لیږدی | ۲۵ | ۹ | ۵ | | ۱۱ | | | | | |
| | | | | | ۸ | ۳ | | ۶ | ▲ سرو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۱ | ۲ | | ۵ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۲ | | | ۳ | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۴ | ۱ | | ۵ | ينه - ná: (څرګنده ي په غږ جملې، غوندلې سره راشي ) يېنه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۲ | ۴ | | ۳ | زورکی - mana - (منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لرې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرګنده , ه ،: ( کوناټوره، بختوره) دېرې لرې شتون لري. | | ۱۷ | ۱۰ | تول |

۱۵. ۱٦ لښتیلیک:. څېره ۲. د – ۱ حبیب الله رفیع د هارون حکیمي د مرکې د پوښتنو ځوابونو کې ,, د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسوي ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵ . ۱۵ دې (ډ). محمود نظري په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي داسې په ډاګه کړي.

,, لنډۍ هغه ولسي شعرونه دي چې شاعر یې مالوم نه دی او د پښتني ژوند ډېرې خواوې په کې په واقعي او طبیعي بڼه انځور شوي دي. لنډه د مفرد مؤنث کلمه ده، لنډۍ د لنډه بڼه ده، د لنډۍ لمړنۍ برخه لنډه او دوېیمه برخه یې اوږده ده، له دې کبله ورته لنډۍ وایي.

▲ ته د ګودر غاړې ته راشه
ما په منګي کې پراټې راوړي دینه

لنډۍ هغه موزون، غیر متعارف، مستزاد، حکمي مقفي، غیر مصرع بیت دی چې لومړۍ برخه یې نهه ، ۹ ، څپې او دوېیمه برخه یې دیارلس ، ۱۳ ، څپې وي.

▲ په ګودر څه ټکه لوېدلې
چې کشره خور یې بدرګه ورسره ځینه

پښتنو په غرو او رغو کې، په کلیو او ښارو کې، په شنو درو او لویو دښتو کې، د ابشار ځنګ، د کېږدۍ اړخ ته، د چوپان په شپیلۍ او د بنوال په دروو کې په یوه شان خوند اخېستل کېږي. زاړه یې د ځوانۍ د خاطراتو په یاد وایي، ځلمیان او پېغلې یې د خپل ځلمیتوب شور او مستۍ په کې لټوي، مینانو ته د راز او نیاز رویبارې کوي، توریالې ورسره د تورو په میدان کې کډېږي او مسافر یې په مسافرۍ کې د خپل وطن تنده پرې ماتوي. د اشعارو نه چې څومره ساده، سلیس او روان دی هغومره د پردیو ژبو له اغېزې څخه پاک او سپېڅلی دی.

▲ ګودر ته راغلې برابره
یا خولګۍ راکړه یا منګی درماتومه

لنډۍ ځانګړې ښکلا لري او د هر پښتون تنده پرې ماتېږي. په ژوند کې مینه، ښکلا، مېړانه او ننګ په ښکاره توګه بیانوي.

▲ چم ته انګریز راغی عالمه
د پښتنو په ملک یې جال و غوړاونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لنډیو یوه ځانګړتیا دا ده چې زیاتره یې د ښځو او پېغلو له خوا چې د ټولنې محرومه برخه ده ویل شوې دي. نو یوه لویه برخه یې د ټولنې کرغېړنو دودونو ته ګوته نیول شوې او هغه یې په طنزي توګه ویلي او غندلي دي.

▲ د شین کېدو امید مې نه شته
اشنا په دښته د ملتان کرلې یمه

▲ پټې دې ګرو کړه ما واده کړه
که مې تر کاله زوی رانه ووړ ګرمه یمه

او د لنډیو یوه بله برخه چې د ځوانانو له خوا ویل شوي ډېر یې د ناوړه دودونو لکه د لوړ ولور، د انجلۍ خوا راضی کول او د ژوند نورو ناخوالو نه ګیله ده.

▲ که مور او پلار دې خدای رضا کړل
د ماما ګانو به دې زنې و نیسمه

▲ ځان خوبه ستا د پلار نوکر کړم
په نوکرۍ کې به دې تش دیدن کومه

لنډۍ یا ټپې هم لکه نور ټولنېز ادبیات د ټولنېزو ستونزو، فسادوتو یادونه او غندنه کوي او په ملنډو هغه یادوي.

▲ منګي یې ټول په ډنډ غوپه کړل
د شیطانۍ منګی په لپو ډکوینه

طنز چې د ټولنې او اخلاقي خوارۍیو، عیبونو او فسادونو برملا کولو ته وایي چې په رمز، کنایه او ناز ویل یا لیکل کېږي. یا په بله وینا: ویلی شو طنزد زورکونکو او زوروواکانو باندې نېوکې دي چې هغوی په مسخرو له پیښنو خبروي. لکه دا لاندی لنډۍ.

▲ ځوانانو ننګ راباندې و کړئ
پلار مې ظالم دی ما ښامار لره لېږینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ځوانانو ننګ راباندې و کړئ
په سور سالو کې مې بلا لره لېږينه

ښه طنز د يوې ټولنې د وګړو هنري تنده ښه خړوبولی شي او په رسا توګه يې د ټولنې له سياسي، مذهبي، کولتوري او اقتصادي حالاتو څخه خبروي. لکه دا لنډۍ:

▲ پر دنيا تول د سرو نه شته
تول د پيسو دی مصليان خانانوينه

▲ ځوانانو زور په بزګری کړئ
سپينې پايڅې د زرو څلي ورانوينه

▲ ځواني د زرو روپو آس دی
د بېلتانه پېټې چې وړي سوده به شينه

طنز پر ژوند عارفانه خندا ژړا ده. د ژوند د تضادو او ناخوالو لڅونه ده، چې ټولنېزي موخې لري لکه دا لنډۍ:

▲ پرما دې زر شيندلي نه دي
چې د څراغ په رڼا غواړې ديدنونه

طنز د پوهو خلکو له پاره ويل کېږي، يانې په خوشالۍ او ملنډو سره د هغه چا په رمز پوهول دي چې په رمز پوهېږي.

▲ څوک چې په سرو شونډو عادي شي
کند او شکرې تويوي چې ترخه دينه

يوازې پوه او هوښيار خلک له طنز نه خوند اخېستلی او پر پوهېدلی شي. ناپوه يې يوازې خندني اړخ ګوري خو د ټولنې تول خلک پوهان نه دي.

▲ په بسم الله کټ ته ورخېږه
د نجلۍ کټ د جنغوزي دی مات به شينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنز د هجو يوه ډول دی، خو د هجو توندي اوتېزي نه لري. يانې هجو مخامخ د چا عيبونه ورته وايي يا مخامخ له چا نه بې پردې پلپوت کوي او هغه چا ته ويل کېږي، چې په رمز نه پوهېږي.

▲ پر ځان د ګلو لښته نه اخلې
پر ما دې تېر کړل د کوتکو ګوزارونه

▲ جانانه دا دې څه عادت دی
چې پټه، پټه ياري کړې خورې کسمونه

▲ پرېږده چې لوی ښامار مې و خوري
په پاړوګر اشنامې ډېره نازېدمه

هجو ويونکی د خلکو بې خبري، ولس غولونه، تعصب خدای نا ډاره دونيا پالو له کړو نه پرده پورته کوي او مخامخ هغوی غندي.

▲ چې اوږه نه خورې بوی ترې نه ځي
چې ياري نه کړې ځوک پرې نه وئ تهمتونه

▲ ټال ته ختم بنګړي مې مات شول
ګناه دې يار ده چې کوي اشارتونه

هزل بيا هغه دی چې پر چا باندې بد وايي.

▲ چې پر زينه ختلی نه شې
نامردې ولې دې کيبی پرتوګ کاونه

هزل د وييپوهنې په اساس هغه شوخې ته وايي چې د جد ،پند، ضد وي.

▲ پيزوان مې ستا په بربت کې بند شو
تر دروازې پورې بندی درسره ځمه

دا د هزل بله مانا ده په شعر او نثر کې توندې لوڅې او بدې خبرې کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په مادې څه بلا ده کړې
په مخ مې غبرګې اوښکې ځي خوله درکومه

▲ پر ما دې کلی ګماني کړ
نامردې مه خوره تر منګي لاندې څرخونه

هزل په شعر او نثر کې هغو توکو ته هم وايي چې د هغه ويل د اخلاق او ادب خلاف وي:

▲ په مناسب دې نه پوهېږم
وايه په کوم بارخو دې خوله و لګومه

▲ په خپله خوله چې سوال و نه کړې
په هغه دغه خولګۍ کله درکومه

▲ اول دې لوبې راسره کړې
اوس د جستو پرڅوکو ځې چې پېغله يمه

▲ بيا به زه تورکميس و نه کړم
زما دسپينې سينې رنګ يې واړاونه

▲ ټينګه مې مه نيسه په غېږ کې
تې مې واړه دي سږنۍ بالغه يمه

▲ خوله به د خدای په رضا درکړم
منګی مې ولې ښوروې لنده دې کړمه

▲ جانان مې خوله کې ژبه غواړي
په خوند يې نه دی خپل کلنګ جاري کوينه

▲ څانګې راښکته شه خوله راکړه
که زه درپورته شم راماته به دې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هزل د عامو او منځنۍیو خلکو له پاره هم ویل کېږي چې موخه یې یوازې خندا اوساتیري ده:

▲ حلوا د شونډو راته کېږده
له پردېسی ځینې ستومان راغلی یمه

▲ ځوک به دې مړ کړي ښکلیه یاره
پردی برستنې جګوې شمارې خالونه

یا هغه لنډۍ چې په کې توکي شوي، موخه یې د جانان خوشالول او د هغه خندول دي لکه:

▲ تا چې کوځه کې توخې و کړ
زه په توده برستن کې نیغه کېنستمه

▲ جانانه راشه چې خوله درکړم
مابښام مې مړ په خوب لیدې و ویرېدمه

▲ ښنګه دې خواره کړم خاوند
چې همسایه مې د خولګۍ تمه لرینه

▲ حسن دې ورځ په ورځ زیاتېږي
زکات یې باسه چې نظر نه شې مینه،،

(محمود نظري، ۲۰۱۰ زېږدی)

ځېره ۲. د محمود نظري ,, په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي ،، په دې لیکنه کې
د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۹ لېږدی، ( کڼه یې په: داني)

| کڼه | راټولونکي / لیکونکي نوم | لیکی / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول کال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری | لنډی Lándéy | ټپې Tapé | ټیکی Tikéy | مصری Mésréy | منسوبي Related | وروستاړي غږ Suffix Voice | کړه شوی Action Req'ed ■ | خبرداری (Caution) ● | کنټرول کی (In control) ✓ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | محمود نظري | په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي | ۱۳۸۹ لېږدی | ۴۰ | ۱۰ | ۸ | | ۲۲ | | | | | |
| | | | | | ۷ | ۱ | | ۹ | ▲ سړو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | ۳ | ۷ | | ۱۳ | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۲ | ۳ | | ۵ | ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۴ | ۳ | | ۶ | ینه - ná: (ځرګنده ي په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) بینه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۴ | ۲ | | ۱۱ | زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | ځرګنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | ۱۷ | ۱۶ | ټول |

۱۵. ۱۷ لښتیلیک:. ځېره ۲. د محمود نظري ,, په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لېږدی، ( کڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۶ ربې (ر). سرباز خان ,, پښتو ادب کې د ټپې یا لنډۍ مقام ،، په دې ليکنه کې داسې کښلي دي.

,, ټپه، لنډۍ، مصره: ټول محققين په دې متفق دي چې د پښتو شعر ابتدا د ټپې یا لنډۍ نه و شوه. ,, نا کره ده دا زما څېړنه داسې سپينې ته را اوباسې چې د پښتو شعر ابتدا يا پيل په نثر شوی دی.،، ( صفی الله)
د ولسي سندرو د ټولو نه غوره ټولګی دی، لنډۍ په يوه نيمه يې مسره کې مکملېږي. ځکه د دې اولنۍ مسره لنډه وي، ځکه يې نوم لنډۍ شو. په اوله مسره کې يې نهه سپلابونه او په دويمه کې ديارلس سپلابونه وي.
۱. لنډۍ ته ټپه هم وايي. ښاغلی قاضي اثر پښتو ادب کې ليکي ,, چې ټپه ورته ځکه وايي چې په دې اواز ټپ کېږي. ځکه چې د لنډۍ ويلو دا قاعده ده چې په ډېر اوچت اواز سره ويل کېږي. نو څه وخت چې سړی په اوچت اواز سره يوه څو لنډۍ و وايي نو اواز يې ټپ شي او بيا نور نه پورته کېږي،،.

ښاغلی قلندر مومند يې پښتو لوک ګيت اردو مضمون کې دا وجه ښه يې چې:
ژباړه: ,, د دې د تسميې وجې اړوند دا قياس کېږي، چې ټپه پښتو ژبه کې , مهر، ټاپې، ته وايي او ځکه چې پښتانه په خبرو، خبرو، کې د متل په ښه کاروي، ځکه دې ته ټپه وايي او يا دا چې ټپه تاړي وهلو ته هم وايي ځکه د ټپې د وينا سره، سره، د دې په سر کې تاړي هم وهل کېږي، ځکه د دې ټولګي نوم ټپه اېښودل شوی. ټپه ټپولو ته هم وايي، ځکه چې دا خفه زړونو له پاره د ټپولو او قرارولو په ښه وي، ځکه ورته ټپه وايي ،،

۳. ټپې ته مصره هم وايي. ښاغلی قاضي اثر ليکي: ,, د پښتو ژبې مصرۍيو يوه اولنی جز، لنډ (۹ سپلابونه) او بل اوږد (۱۳ سپلابونه) دي او ټوله مصره يا لنډۍ د سر نه تر اخره پورې داسې مثال لري لکه د يوې مصرۍ. نو په دې خاطر ورته مصرۍ ويل کېږي. ولسي پښتانه يې دا مانا کوي، چې مصره ورته په دې وايي چې د دې مثال لکه د مصرۍ تورۍ په شان وي. دا هم کې دې شي چې مصرۍيو په شان خوږه وي ځکه مصره ورته ويل کېږي.

د ټپې تاريخ او غوره والی: د ټپې د پېخليک په اړه پرتو روهيله يوه اردو مضمون کې ليکي:

ژباړه ,, ټپې زرګونه کاله راهيسې سينه په سينه، د يوه نسل نه بل نسل ته رامنتقل کېږي. دا ولسي شاعري، د عام انساني ژوند د هرې زاويې ژاړه کوي. ځکه د مودو تېرېدو سرېبره هم دغو کې داسې تازګي ده لکه چې زمونږ د دور تصنيف

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. د ژوند کوم یوه داسې اړخ دی، چې په دغو کې ښکاره نه دی او د انساني جذبو او احساساتو مخ دی، چې په دې کې دي د هغو ژباړه شتون و نه لري.

تاریخي رښتینولي، جغرافیایي ځانګېرنې، د قومونو اندونه، سیمه ییز دودونه، د سرحدي بېلوالي بدلون، د پښتو ژوند او دود ټول رنګونه په دې شاعرۍ کې تازه ښایسته ښکارېږي،،

درانه پروفیسر نواز طاهر روهي ادب لومړي ټوک کې د ټپې په اړه لیکي:
,, ټپه د پښتو روح حکیکي انځور هنداره ده، غریب او امیر، رند او صوفي یا د کوز او پاس وړاندیز نه پرته دا د هر تن د زړه اواز دی او د هر تن د زړه په کچې هوساینه ورکوي.،،

د ټپې د ېېخلیک په اړه خورشید جهان تاریخ لیکونکي، شېر محمد خان ګنډاپور لیکي چې سلطان محمود غزنوي ٤٠٠ هـ لښکر کې ملک خانو نومي یوه سردار و.

چې د ګومل درې استوګن و. د هند د فتوحاتو په لړ کې چې د محمود لښکر د ګومل درې نه تېرېدو نو په داسې ټاکلي وخت د ملک خانو چنغلې ( ښځې، مېرمن) دا ټپه و کړه:

▲ چې د خانو لښکري راشي
زه به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه

درانه حبیبي ,, پټه خزانه،، کتاب ځېرنو په لړۍ کې، چې څه د سند په بڼه ویلي دي، هغه لږ تر لږه ټپه زرکاله پخوانۍ ګڼلې، ولې له دې نه هم زیاته زړه ده.
د بېلګې په بڼه د ټپو ځانګړې ځای:

۱ .حمدیه او نعتیه څو ټپې:

▲ مینه د خدای د رسول ښه ده
دا نورې مینې لباسې خاورې به شینه

▲ که تمام عمر عبادت کړم
ستا د احسان اجر به څنګه ادا کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د ګناه پېټی مې په سر دی
د مدینې سردار ته ځم چې کم يې کړینه

۲. سیاسي، حماسي او ملي ټپې:
ازادي:

▲ د ازادئ ناوې جوړېږي
هر يوه ځلمی ناري وهي زما دې شینه

په وطن ننګ:

▲ که د وطن په ننګ شهید شوې
په تار د زلفو به کفن درله ګنډمه

۳. لیکه يي ټپې:

▲ اباسین بیا په څپو راغی
په سر يې راوړل سپیني خلې سره پېزوانونه

٤. معاشرتي ټپې:
حجره:

▲ ستا د حجرې درشل کاره شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې ځینه

چیلم:

▲ چیلمه خدایرو چې دې مات کړم
مین په ما دی په تا غم غلتوینه

پښتانه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ پښتانه واړه ستر ځمريان دي
چې وخت يې راشي په سيالۍ سر ورکوينه

پښتني:

▲ په سپين ميدان به درسره يم
زه پښتنه له تورو نه تښتم مينه

واده:

▲ ځلميه ننګ راباندې و کړه
پلار مې ظالم دی ما په اور کې اچوينه

۵. تاريخي ټپې:

▲ که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدای رو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

▲ ما ورته وې شيګل ته مه ځه
ميرزمان خانه فرانسو ته دې تړينه

٦. طنزيه ټپې:

▲ له وېرې غږ کولی نه شم
د سوال ياري ده اوس به خاورې ايرې شينه

٧. فخريه ټپې:

▲ توره به نه کړو نور به څه کړو
چې مو شوده د پښتنې رودلي دينه

٨. عشقيه ټپې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ديدن د ګلو غنچه نه ده
چې د ريبار په لاس يې يار ته ولېږمه

▲ عاشق سړی نه غلتېږي
له رنګه زېړ وي سترګې توري ګرځوينه

۹. نړۍ واله ټپې:

▲ په دنيا غم کله ښادي وي
په ما همېش د غم جنډې ولاړې دينه

۱۰. دعايه ټپې:

▲ زما پېنځه وخته دعا ده
رب دې د غم د باده وساته مينه

۱۱ .متفرق موضوعات:

وطن:

▲ زه د وطن د باغ ماليار يم
په خپلو سرو وينو به يې تل اوبه کومه

ديدن:

▲ ديدن د سر په بدله دی
چې سر ساتې خاورې به و کړې ديدنونه

فراق:

▲ عاشقي وی جدايي نه وی
خدايه په در کې به دې څه کم شوي و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم:

▲ غم دې د ستا نه وفادار دی
ته کله، کله غم دې تل راسره وینه

قسمت:

▲ په مخ مې زېړ زړوکی خور کړئ
زه د تقدیر لېونو سپو خوړلې یمه

انتظار:

▲ که په شپېو باران وریږي
زما په خپل لالي باور دی رابه شینه

ارمان:

▲ په تور لحد کې به نارې کړم
زه د دنیا نه ارماني راغلی یمه

ښېرې:

▲ مازیګری دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې ربنتیا به شینه

ګیله:

▲ جانانه ستا نه ګیله نه کړم
زه ګیله من د خپل نصیب د لاسه یمه

یاد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که اشنا بد کړي زه به ښه کړم
که جدايي شي زما ښه به يادوينه

د جانان خندا:

▲ زما د يار داسې خندا ده
چې د عمرونو مرور په خولا کوينه

تعويذ:

▲ په تعويذونو پوره نه شوه
اوس به لمن په زيارتونو ګرځومه

تهمت:

▲ ستا په تهمت مې جامې رنګ شوې
زه به رنګ کړې جامې چرته ګرځومه

د سحر باد:

▲ باده د زړه مراد مې يوسه
چې دلسوزي د اشنا راشي و ژاړينه

ګل، ګلشن او خزان:

▲ ګلونه ډېر دي خدای دې ډېر کړي
زما د برخې ګل خزان وريژونه

توره:

▲ میین پرې یم منکر ترې نه یم
که جلاتان مې سر د تورو سره وړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافري:

▲ مسافري دې ډېره و کړه
رب دې سبب د خپل وطن و کړه مېینه

صبر:

▲ په صبر، صبر پوره نه شوه
سبا مې نیت دی بې صبرۍ ته ملا ترمه

د ښایست ستاینه:

▲ ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه زه به کوم، کوم ټولومه

مخ:

▲ مخ یې ګلاب سترګې یې شمعه
خدایه بورا شم که پتنګ وربانديږ شمه

سترګې:

▲ سترګې کچکول کړه دیدن واخله
ملنګه یاره په بانه راغلې یمه

لاسونه:

▲ سپین دې لاسونه سپینې لېچې
لکه چې توري په مېدان کې برېښ کوینه

غاښ:

▲ غاښ دې په خوله کې داسې زیب کا
لکه صدف چې په الوان ټومبلي وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانه:

▲ دا مخامخ په کوڅه راغله
کچک بانه يې په سالو ختلي ونه

غاړه:

▲ ستا د ايلۍ په شان غړۍ ده
زما شړۍ ده ستا به کله خوښه شينه

خال:

▲ خال دې په منځ د تندي ايښی
لکه سپوږمۍ چې نيمائي اسمان ته شينه

زلفې:

▲ زلفې مې مه لنډه وه موري
مار چې لنډی شي دوې ځلي خله لګوينه

پيزوان:

▲ پيزوان په لوړه پوزه خوند کړي
لکه په لوړ چنار کې واچوې ټالونه

ربيار:

▲ ربياره راشه چې دې بنکل کړم
تا به په دې ستركو جانان ليدلی وينه

غماز:

▲ د عاشقۍ علاج به و شي
خو د غماز علاج به څوک و کړي مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرور:

▲ جانان دې خدای مرور نه کړي
د ده په سر مې دښمنۍ اخېستې دینه

باز:

▲ باز مې د زړه په غوښو لوی کړ
اوس چې د ښکار شو نو د بل لاسو ته ځینه

مازیګر:

▲ جانانه راشه چې پخلا شو
عمر د ژمي مازیګر دی تېر به شینه

شپه:

▲ جانانه ستا په انتظار کې
ستورو ته ګورم شپه سبا راباندې شینه

سپوږمۍ:

▲ سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې مې جانان مجلس د چا سره کوینه

سپرلی یا پسرلی:

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
جینکو راوړو په اوربل کې زېړ ګلونه

اباسین:

▲ که اباسین راغلی نه وی
په ګنګو خړو کې به چا موندل تیکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګودر:

▲ که دې زما ديدن يادېږي
د ګودر غاړه اجاره واخله ميينه

د بې غيرتي غندنه:

▲ په هيندستان دې ځلی جوړ شه
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه ميينه

وفا:

▲ خاورې ايرې به دې راټول کړم
لکه کچکول به دې په غاړه ګرځومه

اختر:

▲ ما ته په ورځ د اختر راشه
زه به در وځم تورې سترګې سره لاسونه

عمر:

▲ زما دې ټول عمر په دار کړو
لکه هوسۍ په مېرتون شپې تېرومه

فنا:

▲ د دنيا دوې ورځې ژوندون دی
پرون راغلي نن دلي سبا به ځونه

غرور:

▲ ما يې له کبره سلام نه اخيست
اوس يې ژړا په تش ديدن پسې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختتامي:

▲ بس دې په دغه فیصله ده
ډېرې مصرۍ د سړي غم سیوا کوینه

سوال او ځواب ټپې:
سوال:

▲ ستا په دیدن مې مونځ قضا کړو
زه به محشر کې خدای ته څه ځواب کومه

ځواب:
▲ ستا په محشر کې ځواب دا دی
نوی عاشق وم په دیدن نه مړېدمه،،
( سرباز خان، ۲۰۱۰ زیږدی)

ځېره ۲. ر سرباز خان ,, پښتو ادب کښې د ټپې یا لنډۍ مقام ،، په دې لیکنه کې
د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

| Related منسوبي | لنډی Lánḍéy | ټپې Ṭapé | ټیکی Ṭikéy | مصری Mésréy |
|---|---|---|---|---|
| | ۳۴ | ۱۵ | | ۱۸ |
| ▲ سړو ته منسوبي Related to men | ۱۴ | ۸ | | ۹ |
| ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | ۲۰ | ۷ | | ۹ |
| ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمې سره راشي) ونه. | ۶ | ۳ | | ۱ |
| ښه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) ېښه. | ۱۸ | ۸ | | ۱۲ |
| زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| زورکی - mana - ( منه مجهوله هې * مه ) مه. | ۱۰ | ۴ | | ۵ |
| زورکی , ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خېله) دېږې لږې شتون لري. | | | | |
| ځرکنده , ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېږې لږې شتون لري. | | | | |

| ګڼه. | راټولونکی / لیکوونکی نوم | لیکنی / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول ټال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | سرباز خان | پښتو ادب کښې د ټپې یا لنډۍ مقام | ۱۳۸۹ لیږدی | ۶۷ |

| Suffix Voice وروستاړي غږ | ■ Action Req'ed کړه شوی | ● (Caution) خبرداری | ✓ (In control) کنټرول کی |
|---|---|---|---|
| | ۳۳۳ | ۴۰ | ټول |

۱۵. ۱۸ لښتیلیک:. ځېره ۲. ر سرباز خان ,, پښتو ادب کې د ټپې یا لنډۍ مقام ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵ .۱۷ ړې (ړ). پوهنمل سرفراز مومند څخه د ډيپلوم اينجينيرعبدالکادر مسعود غوښتنه.

,, زما ګران دوست ډيپلوم اينجينيرعبدالکادر مسعود ډېر ښکلی هنري ذوق لري، څو لنډۍ يې د انټرنېټ په يوه صفحه کې ډېر په زړه پورې انداز ځای په ځای کړي دي، زما په نظر يې يوه ابتکاري کار کړی دی، زما ډېرې خوښې شوې، ما ورته وويل چې دا ستا کار څکه د ستايلو وړ دی چې ته يوه اينجينېر يې او د ادبياتو سره دې دومره مينه ده چې په دې صفحه دې ډير زحمت ويستلی دی، زه مسعود صيب ته د اوږد عمر او روغتيا تر څنګ د نورو هنري ابتکاري کارونو ارزو لرم. د دغه ګران دوست په غوښتنه په داسې يوه موضوع چې ډېرې اوږدې تحقيقي ليکنې ته ضرورت لري، په څو لنډو کرښوبسنه کوم، هيله ده چې د کدر وړ لوستونکي مې د ډېر اختصار په وجه و بخښي.

کله چې د پښتو په ادبياتو خبرې کوو نو مجبور يو چې د پښتو ژبې په باره کې يوه څه و وايو، همدارنګه پښتو ژبه او پښتانه سره لازم او ملزوم دي. ياني ادبيات حتمي د يوې ژبې پورې اړه لري، هره ژبه به غير د انسانو څخه په هوا کې منځ ته نه شي راتللی. نو پښتانه، پښتو ژبه او پښتو ادبيات د يوه بل سره تړلي دي نو مونږ که د پښتو د ژبې په اصاليت خبرې کو نو په عين زمان کې به د پښتو په ادبياتو خبرې کو.

پښتو ژبه د تاريخ په مختلفو دوروکې محققينو څېړلې ده او هر چا د خپلې وسې پورې په کې څېړنې کړي دي. ځينو څېرونکو پښتو ژبه غير اريانې سامې ژبه بللې ده، هغه مستشرقين چې دا نظر لري عبارت دي له هنرې راورټي اېنګلېس، سرويلم جونز اېنګلېس، الکزانډر رنزاېنګلېس، چارليزميسن، برنس، ډاکټر بيلو او کرونسکي پولنډی. دوی د پښتو ژبې په څېړنه کې ډېر زحمت ويستلی خو نورو مطالعاتو ثابته کړه چې دا نظر افسانوي، عنعنوي دی او له رېښې يې رد کړی دی.

هغه ډله څېرونکي چې د دې نظر په مقابل کې وايي چې د پښتو ژبه يوه سو چه اريانې ژبه ده چې د هند او اروپايي ژبو د سترې کورنۍ پورې اړه لري، دا ډله هم په درې برخو وېشل کېږي. اوله ډله پښتو ژبه يوه اريانې ژبه بولي چې د اريانې ژبو په شرقی څانګه ) سنسکريت (پورې مربوطه ده .دويمه ډله پښتو ژبه يوه اريانې ژبه ګڼي چې د هندو ايرانې ياني غربي) اوستايي (څانګه پورې اړه لري.

دريمه ډله پښتو ژبه نه سانسيکرېټ او نه اوستايې پورې مربوطه ګڼي، بلکې وايي چې پښتو ژبه يوه مستقله اريانې ژبه ده چې د سنسيکرېټ او اوستايي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موازي لرغوني ژبه ده، يا په بل عبارت پښتو ژبه د سانسيکريټ او اوستايي تر منځ د اتصال کړی ده. د اولې ډلې ځېړونکي: کلډيټ پروډ، رابرټ ليچ، رودولف هورنل او پاټ الفنسټن دي. د دوېيمې ډلې ځېړونکي: جيمز ډار مسټر، ماکس ميولر او جورج مارګنسټرن دي. د درېيمې ډلې ځېړونکي: ډاکټر ټرومپ، شپلې ډيور، پروفيسور اډيلنګ، برنارډ ډورن، جان ملکم او اوستاد پوهاند عبدالحی حبيبي دي. پاسنۍيو ليکوالو د پښتو ژبې په اړوند د کدر وړ ځېړنې کړې دي، کتابونه يې ليکلي دي. چې مونږ د هر يوه کدر داني کوو، نومونه يې د ډېرو لويو ليکوالو او ځېړونکو په حيث په تاريخ کې ثبت دي. ما په دې خاطر چې د اصلي موضوع نه لرې نه شو نو په دې لنډو څو کرښو مې بسنه و کړه، د هر يوه کتابونه او نظريات او دلايل تشريح کول د ډېرې اوږ دې مقالې ايجاب کوي.

لنډۍ: په هر صورت لنډۍ د پښتو ژبې اصيل او په زړه پورې ولسي ادب يوه برخه ده، چې لمن يې ډېره پراخه ده، دومره پراخه چې په يوه بيت کې بحرونه رانغاړي او د ژوند مسلط شرايط په ډېره ښکلې بڼه انځوروي. د لنډۍ لومړينيم بيت ۹ او دوېيم نيم بيت ۱۳ سيلابونه لري، دا په پښتو کې د شعر يوه خاص فورم دی، لنډۍ فقط په پښتو ژبه کې وجود لري، د نړۍ په بله ژبه کې نه شته.

لنډۍ د زرونو کلونو راهيسې د ولسي شفاهي ادب په توګه خوله په خوله او سينه په سينه له يوه نسل نه بل نسل ته را رسيدلې دي، لنډۍ د انسان په احساس ډېر زور تاثير کوي او د پښتني ژوند ټولې برخې په کې ډېرې ژورې ليدلی شو، چې دا صفت په دومره زور د پښتو شعرونو په نورو ډولونو کې نه ليدل کېږي. لنډۍ د پښتو ادب هغه با ارزښته پانګه ده چې پښتانه پرې وياړي او په کې د انسان د احساساتو درجه بندي ډېره دکيکه شوي ده. د پښتنو د عواطفو، دردونو، ستونزو، انګېرونو ښکلې ترجماني کوي او د هر ذوق وړ مطالب په کې ليدل کېږي.

لنډۍ چې شاعر يې نه دی معلوم، شمېر يې نه دی معلوم، زمان يې نه دی معلوم، مکان يې نه دی معلوم، ياني هر چا ويلې، په هره موضوع ويل شوي، بې اندازې زيات ويل شوې دي. په هر وخت کې ويل شوي او د پښتني ټولنې په هر ځای کې ويل شوې دي، نو ځکه لنډۍ دا امتياز لري چې ټول پښتانه يې خوښوي، لنډۍ د فورم له پلوه ټولې يوه فورم لري. خو د مضمون له پلوه ډېرې متنوع دي او د پښتنو د اجتماعي ژوند ټولې برخې يې په هر زمان او مکان کې په ډېر ساده، روښانه او په زړه پورې طريقه په ځان کې ساتلې دي. په لنډۍيو کې د پښتو ادبياتو د ادبي فنونو ټولې نمونې په ډېر روښانه طريکه پيدا کولی شو. په لنډۍيو کې تشبيهات او استعارات ډېر ښکلي تطبيق شوي، زه د نمونې په ډول صرف دا يوه لنډۍ را اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ▲ ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ
## لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه

ګران لوستونکي به دا تشه په خپله و ګوري، چې په څومره قوت څومره ساده او ښکلې بڼه په دې لنډۍ کې ځای شوي ده. لکه (بحر په کوزه کې پيدا کولی شو) لنډۍ په پښتني مختلفو سیمو کې مختلف نومونه لري. لنډۍ، ټپه، مصرۍ، ټیکۍ، دا نومونه فقط د محیط په تغیر سره بدلېږي نور په فورم او په مضمون کې يې هېڅ فرق نه شته.

لنډۍ، که عشقي دي، که حماسي دي، که ټولنېزي دي، که تاريخي دي، ډېرې خوږې دي، ماته ګراني او ډېرې مې خوښېږي.

په لنډۍیو کې ډېرو د قدر وړ ليکوالو ليکلي دي، چا را ټولې کړې دي، ځینو په کې تقلب هم کړی، پخوانی تاريخي لنډۍ يې پخپل نوم ثبت کړي دي، په هر صورت تر اوسه په لنډۍیو يوه ژور اکاډمیک کار نه دی شوی. هیله ده چې دا نیم ګړتیا ډکه شي.

## ▲ دا اخري لنډۍ دې دا وي
## اخر يې مه کړې د يارانو مجلسونه،،
(سرفراز مومند، ۲۰۱۲ زیږدی).

ځېره ۲. ړ پوهنمل سرفراز مومند څخه ,, د ډیپلوم انجنیرعبدالقادر مسعودغوښتنه ،، په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه، ۱۳۹۱ لیږدی، ( ګڼه يې په: داني)

| ګڼه | راټولونکی / لیکونکی نوم | لیکی / لیکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول کال لنډی، ټپې، ټیکی او مصری | لنډی Lánḍéy | ټپې Ṭapé | ټیکی Ṭikéy | مصری Mésréy | منسوبي Related | وروستاړي ږغ Suffix Voice | ■ کړه شوی Action Req'd | ● څېرداری (Caution) | ✓ کنټرول کی (In control) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | سرفراز مومند | د ډیپلوم انجنیر عبدالقادر مسعود غوښتنه | ۱۳۹۱ لیږدی | ۲ | ۲ | | | | | | | | |
| | | | | | ۲ | | | | ▲ سرو ته منسوبي Related to men | | | | |
| | | | | | | | | | ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | ینه - ná: (څرګنده ي په غږ جملي، غونډلي سره راشي ) ینه. | | | | |
| | | | | | | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی - mana - (منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرکنده ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېرې لږې شتون لري. | | ۴۶۶ | ۱۳ | ټول |

۱۵. ۱۹ لښتیلیک:. ځېره ۲. ړ پوهنمل سرفراز مومند څخه ,, د ډیپلوم اېنجینیرعبدالکادر مسعود غوښتنه ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۹۱ لیږدی، ( ګڼه يې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۸ ز. پوهندوی لال باچا ازمون د لنډۍ او دوبیتي پرتله! کړې، ما ځنې لنډۍ او د پر ترښتی راخېستې، دوبیتې او تله یې پاتې.

,, لنډۍ د انساني ژوند او ځواک یوه هنري تفسیر دی چې په عاطفي، تغزلي، مترنمه ژبه په لوړه او کره بڼه د پښتني تولنې احساسات، توره، ننګ، مسافري، غوښتنې هیلې او کړه وړه وړاندې کوي. د ښځې او مېړه ترمنځ کورنی ژوند، پښتني دودونه او ځانګړي مراسم راخلي.

▲ رېباره ورشه ورته وایه
که دبدیو زور لرې درسره ځمه

▲ جانانه ویښ یې که ویده یې
ستا تر کوټې مې تېرلې لاس تېروینه

▲ په وینو رنګ توره دې راوړه
راشه په سرو شونډو یې زه درپاکومه

▲ که تور وربل مې میراتیږي
په پښتو ننګ دی جانان نه منع کومه

په لنډیو کې د ښځې دریځ او محرومیت یوه هنري تابلو وړاندې کوي، دا چې لنډۍ خوړه لګي یوه لامل یې هم دا دی چې د تولنې د یوې محرومې طبقې د زړه غږ را اخلي، د پښتني تور سرې او پېغلې د هیلو ترجماني کوي:

▲ د رنجو ګوډۍ مې ساتلې
د موزیګي په مرګ به سترګې تورومه

▲ پربېږده چې بند په بند مې پرې کړي
ما چې د ژنیو یاري کړه مرګ ته ورتلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خاونده پلار مې لېونی کړې
د اشنا غېږ پسې ړنده شبکوره شومه

▲ زما ادې دادا ته وایه
خوشاله نه یمه له ناکامه کور کومه

په لنډیو کې ربنتینې وینا، لوڅه او بربنډه ژبه او مسایل انځور شوي دي. دغه مسالي هم د محرومیت زېږنده دی.

▲ جانانه ستا مزګی نه شته
زما همزولې زانګو ګاني زنګوینه

▲ کاشکې چې زه د ملک لور وی
ما به پرتوګ د کوناټو په سر ترنه

▲ په سپینه خوله یې غلی پرېوزه
لکه بورا چې په ګل مړاوي کړي وزرونه

▲ تینګه مې مه نیسه په غېږ کې
تي مې له خامو شیدو ډک دي وبه چوینه

▲ جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله درنه کړم مرور ګرځې میینه

په لنډیو کې د نورو اړخونو ترڅنګ د مسافری بېلابېل انځورونه وړاندې شوي دي، مسافري د پښتو لنډیو یوه خاص باب دی.

▲ مسافري دې ډېره و کړه
راځه، راځه روضې به خدای رارسوینه

▲ ته مسافر شوې خواره زه شوم
خواره دې مور شه چې له غېږې دې شړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافری خوړلي یاره
قربان، قربان دې له خیرنو جامو شمه

چې علم وي عمل یې نه وي
لکه په خره باندې چې بار کړي کتابونه

زما دې علم په کار نه دی
د اباسین ځپې دې یوسه کتابونه

طالبه خدایږو به ملا شي
په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه

چې خدای قاضي رسول شفي شي
هلته به پېش کړم د عاشقو درخواستونه

په عاشق بد مه وایئ خلکو
عاشق خو خدای و محمد یې پیدا کنه

الف الله ج جبراییل دی
م محمد دی د الله سلام ته ځمه

زلفې مې مه لنډوه موري
مار چې لنډی شي دوې سره خوله لګوینه

دا یوه لنډی ده، په دې لنډۍ کې د زلفو ارزښت او ښکلا څرګنده شوې، نو لنډۍ هم په همدغه لنډ بحر کې یوه بېل ارزښت او ښکلا لري.
د لنډۍ نوم په خپله په لنډیو کې هم راغلی دی:

لنډی کوه او بیا یې لیکه
چې په ټولي کې شرمېنده نه شي مېینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصره: دا هم د لنډۍ یوه نوم دی، یوه روایت دا دی چې دا د یوې تورې له صفت څخه اخېستل شوی نوم دی، مصری توره یوه نوم دی، هغې تورې ته ویل کېږي چې تېره او برېښنده وي.

بل روایت دا دی چې مصره له مصرع څخه اخېستل شوې، همدارنګه دغه مصرع په مصرې اوښتې ده، مصره خواږه یا چیني ته وایي نو په لنډۍ کې خواږه زیات وي.

مصره د مصرې یا لنډۍ په ژبه:

▲ مصرې په هغه چا اثر کړې
چې یا مین وي یا خو ورک له ملکه شینه

▲ مصرې په هغه چا اثر کړي
چې یا مین وي یا يې پېغله ناسته وینه

▲ مصرې دې ډېرې څو به یې وایم
ترڅو یې وایم د زړه درد مې زیاتوینه

ټیکی: دا د لنډۍ بل نوم دی، ټیکی له ټیک اخېستل شوی دی، ټیک هغه ګاڼه ده چې پرتندي را ځړېږي. ښکلا یې د ټولو پام ځانته را اړوي، نو لنډۍ هم هغه ټیک دی چې په شعري فورمونو کې د خلکو زیات پام ځانته را اړوي او ښکلې ده.

ټیکی د ټیکی یا لنډۍ په ژبه داسې یاده شوې ده:

▲ ټیکی مې ډېرې درته و کړې
په لا اله الا الله یې ختمومه

ټپه: ټپه د ټپې په ژبه داسې یاده شوې ده:

▲ د ټپې وار راسره کې ده
ماته بې واره ټپې خوند نه راکوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ دا نیمه شپه ده ټپي خوند کړي
څوک به مین وي څوک به ورک له ملکه وینه

▲ دا نیمه شپه ده ټپي وایه
څوک به مین وي څوک به ورک وي له وطنه

▲ د ټپې وار دربانديې راغی
شفتل خورکي رنګ دې زېړ وتښتېدنه

ټپه له ټپ څخه اخیستل شوی نوم دی، ټپ د دوه لاسونو له لګېدو رامنځته کيږي، هم ټپ د یوه سخت ګوزا له امله رامنځته کیږي او هغه ځای شین اوړي. ټپ د هېرېدو نه وي، د پیغور ټپ خو بیا عمري وي، دغه ټپ چې د لاس له ټپېدو څخه اخیستل کیږي، دا هم د دوه لاسو له اوازه را وځي، لنډۍ هم د دوه مسرو یوه اهنګین غبرګون دی.

بل روایت دا دی چې سندرغاړي د دغه صنف، د ویلو پر مهال د زیات اغېز له امله یوه غوږ په یوه لاس ټپوي او له یه کربانه! وروسته ټپې ته ځان جوړوي.
دا هغه څرګندونې دي چې کوم علمي استدلال نه لري، خو فولکلوري روایتونه دي، کې دی شي دې ته ورته نور روایتونه هم موجود وي.

د لنډۍ جوړښت: لنډۍ ځانګړی موسیقیت یا ریتم لري، د پښتو څپيز خجيز وزن پالي، لومړۍ مسره يې نه څپې او دوېيمه يې دیارلس څپې ده. تونیک جوړښت يې داسې دی چې په لومړۍ مسره کې څلورمه او اتهمه مسره یې خجنه ده او په دوېیمه مسره کې یې څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه خجنه ده.

▲ توتان پاخه ممانې توري
زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه

تو ـ تان ـ پا ـ خه ـ مـ ـ ما ـ نې ـ تو ـ رې
زه ـ د ـ مو ـ زي ـ د ـ ډو ـ ډۍ ـ څه ـ پر ـ وا ـ ل ـ ر ـ مه

دوېيمه مسره يې په ( ونه، یینه، ئنه، نه، مه، ه) وروستاړو پای ته رسي، همدغو وروستاړو د دغې شاعرانه وینا موسیقیت او ښکلا زیاته کړې ده.

ونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په لوړو غرو د خدای نظر دی

په سر یې واورې وروي، چاپېر ګلونه

ینه:

▲ مازیګری دی ښېرې مه کړه

ته به د ناز ښېرې کوې، امین به شینه

نه:

▲ زما په رنځ جانان خبر دی

دارو خو نه کړي، تش مې نه کوي پوښتنه

مه:

▲ د یار مې پېغله خور په کور ده

نیستي د ورور ده، چې بدله ورسره شمه

د لنډۍ دوېیمه اوږده مسره مانا او انځور بشپړونکې مسره ده. که دا مسره ونه ویل شي نو لومړۍ مسره یوازې بشپړه مانا او مفهوم نه شي رسولی.

▲ زه به دې مور ته زاري و کړم

دا مسره په یوازې ځان انځور یا مفهوم نه بشپړوي خو چې دوېیمه مسره ورسره مله شي نو انځور او مفهوم بشپړ شي:

پلار دې ظالم دی د ولور تمه کوینه

لنډۍ په خپلې تنګې ۲۲ ځپیزې غېږکې لکه سین په کوزه کې ځایوي.

لنډۍ په همدې جوړښت کې بشپړه مانا او مفهوم رسوي، مشبوع شعر دی، نورې زیاتوني یا کموني نه مني، که پر لنډۍ‌یو ځوک څه ورزیاتوي، هغه د دې مانا لرې، لکه په یوه پاخه دېوال پورې چې ځوک ختې تپې. لنډۍ زیاتره مهال د ښځینه وو له خوا ویل کېږي، ځکه چې په پښتني ټولنه کې ښځه تر نارینه له محرومیت سره زیاته مخ وي، زما له نظره دا چې د لنډۍ ویناوالې زیاتره ښځې دي او ښځینه احساس هم په کې زیات انځور شوی دی. لامل یې دا دی چې په پښتني ټولنه کې ښځې د نارینه وو په پرتله له محرومیت سره زیاتې مخامخې وي، ښځې له نارینه وو سره په غربت او خوارۍ کې شریکې وي. درد یې دواړه ګالي خو د یوازیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



او محرومیت ځپېړې تر نارینه وو ښځې زیاتې پر مخ خوري، په پښتني ټولنه کې دعاشق او معشوقې د دیدنونو له پاره ځایونه او پلمې هم شته، لکه د رواخلې ګودر د لارې سر دلته جنۍ د خیر په غونډه نه کېني او نه د مړې خېټې پاړسي غړوي، بلکې زیاتره دردونه جنۍ ګالي. جنۍ د خپل لالي په مسافرۍ ژاړي او باران ته دسوال ځولۍ نیسي چې:

باړانه ورو، ورو پې وربېږه
په مسافر اشنا مې نه شته دالانونه

که باران اوري و دې اوري
واورې دې نه اوري چې لارې بندوينه

باران د ځمکې ابادي ده
شيرينه ياره زه په تا اباده يمه

هلک یا عاشق بیا باران ته په دې دعا یا غوښتنه دی:

بارانه ورو، ورو را وربېږه
ليلا سالو لرې کوي لمده به شينه

بل نارینه په غریبۍ او خوارۍ پسې ورک وي، جنۍ د پلار په شرطونو او ولور پوره کولو پسې پیسو پیدا کولو له پاره لرو، لرو وطنونو ته وځي:

د هېندستان په ميرو ورکه
تر ګل نازکه ياره خداى به دې ساتينه

د هېندستان په ميرو ورکه
راځه، راځه روزي به خداى را رسوينه

ځو چې دا شنه غنم لو کيږي
ما به لالی په ژړا سترېې، سترې کينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ یوه کال به نوره درته کېنم
زیارت خو نه یې چې جنډې به دې ساتهمه

▲ سورت یاسین را باندې وایه
په ما خولې د ځنکدن راغلې دینه

▲ خط مې لیکلو ته رایاد شوې
کلم مې مات شو کاغذ اوښکې تویوینه

▲ جدایي مه راولې خدایه
مرګ مې قبول دی جدایي نه کبلومه

▲ بېلتون په لوړه غونډه ناست دی
کلم په لاس دی دوه یاران جدا کوینه

لنډۍ:همدا احساس بیا په لنډۍ کې هم دښځینه له خولې را ځرګندېږي چې له خپل معشوق سره د مینې ځرګندونه کوي:

▲ په عسکرۍ دې خپه نه یم
خپه په دې یمه چې ګوشتې ته دې لېږینه

لنډۍ: د سپینو او تورو جامو ذکر بیا په لنډیو کې په دې احساس شوی دی:

▲ ښځګه په سپینو جامو ګرځي
رب دې عاشق که چې خیرن دې و وینمه

په لنډیو کې خوځنده یا حسي انځورونه چې د انساني ژوند اړخونه ځرګندوي ډېر ښکاري. په دغو هنري او شاعرانه انځورونو کې له باد، سپوږمۍ، لمر، کانو، بوټو، ګودر، منګي او په ټوله کې له ناشعوره ځېزونوسره خبرې کېږي.

▲ د مازیګر زېړیه لمره!
په روغو وایه د رنځورو سلامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې د خدای روی مې دروړی
چې خاورې نه کړې نازولي صورتونه

د دامان باده یار ته وایه
د ځنکدن سلګۍ وهم تا یادومه

سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې مې جانان مجلس له چا سره کوینه

سپوږمیه سر وهه راخېږه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې ربېینه

د هنري ارزښت له مخې موږ دوې ډوله لېندۍ لرو:

١: هغه لنډۍ چې په مصنوعي توګه رامنځته شوي یا بدیعي ښېګڼې یا ادبي صنعتونه یې مصنوعي وي.

خبرې کړې شونډې دې رېږدي
لکه سورګل چې د سبا شمال وهینه

کډ دې شمشاد زلفې دې پاڼې
دا نرۍ وروځې دې کوکنار کرلې دینه

خبرې لنډې، لنډې و که
د لارې سر دی ځوک به ځي ځوک به راځینه

اسطوره هم په ولسي ادب کې یوه ځانګړی ځای لري، اسطوریې کیسې زیاتره ولسي رنګ لري.

په لنډۍیو کې (د پیري، ښامار، دېب، سیمرغ او...) اسطورې ډېرې تکرار شوې دي، اسطوره هم د ولس د ذهنیت زېږنده ده، نو پر همدې بنسټ هغه څه چې د ولس له خوا رامنځته شوي وي او په ولس کې مشهور وي، هغه دولسي یا فولکلوري د ادب په بېلابېلو ژانرونو کې ځان راښیي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ همځولو ننګ راباندې و کړئ
پـه تور دېبي مې ودوي ژړا راځینه

▲ د تا په سترګو کې پیریان دي
چې پـه تا راشي جوتې ماته راکوینه

▲ د ښاپیرو پـه کلي راشه
چې پـه سورکو شونډو دې تنده ماته کړمه

▲ بدرۍ جمالي باکمالي
د ناز دلالي پـه خندا دې ستي کړمه

▲ ببلتون ښامار پـه لار کې پروت دی
د پاړوګر اشنا مې هېر شول منترونه

دې ته ورته پـه یوه شمېر نورو لنډیو کې هم دغه اسطورې پـه لنډیو کې انځور شوې دي. ،، (لال باچا، ۲۰۱۵ زیږدی).

ځېره ۲. ز پوهندوی لال پاچا ازمون ,, د لنډۍ او دوبیتي پرتله! ،، کړې. ما ځني لنډۍ او د پر ترښتی ځنې راخېستي، دوبیتي او تله یي پاتي په دې لیکنه کې د لنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو کچه،۱۳۹۴ لیږدی، ( ګنه یي په: داني)

| منسوبي Related | مصرۍ Mésréy | ټیکې Ṭikéy | ټپې Ṭapé | لنډۍ Lánḍéy |
|---|---|---|---|---|
| | ۱۰ | 1 | ۲۸ | ۲۶ |
| ▲ سړو ته منسوبي Related to men | ۵ | | ۸ | ۱۱ |
| ▲ ښځو ته منسوبي Related to women | ۵ | ۱ | ۱۸ | ۱۵ |
| ونه - uná: (ځرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | ۴ | ۶ |
| ینه - ná: (ځرګنده ی په غږ جملی، غوندلي سره راشي ) بینه. | ۸ | | ۱۳ | ۱۰ |
| زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | ۴ | ۱ |
| زوزکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | ۲ | ۱ | ۷ | ۹ |
| زورکی ه ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) دېري لږي شتون لري. | | | | |
| ځرګنده ه ، ه ،: ( کوناتوره، بختوره) دېري لږي شتون لري. | | | | |

کنه.: ۲۰
راټولونکی / لیکوونکي نوم: لال پاچا ازمون
لیکې / لیکنه: د لنډۍ او دوبیتي پرتله!
چاپ کال / نا چاپ: ۱۳۹۴ لیږدی
ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکې او مصرۍ: ۶۵
وروستاړي غږ Suffix Voice
■ کره شوی Action Req'ed: ۱۲۶
● خبرداری (Caution): ۱۵
✓ کنټرول کې (In control): ټول

۱۵. ۲۰ لښتیلیک:. ځېره ۲. ز پوهندوی لال پاچا ازمون ,, د لنډۍ او دوبیتي پرتله! ،، کړې. ما ځني لنډۍ او د پر ترښتی ځني راخېستي، دوبیتي او تله یي پاتي په دې لیکنه کې د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصرو کچې،۱۳۹۴ لیږدی، ( ګنه یي په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۱۹ ژېږ (ژ). عبدالباري جهاني یوه ځل بیا د لنډۍیو په باره کې تر سرلیک لانديې په مقاله کې په لاندې بڼه کښلي دي.

,, ما کال یوه نیم مخکې ,, د پښتو نظم ځینې توکي او اړخونه ،، تر عنوان لاندې یوه مضمون لیکلی و. په هغه کې مې د لنډۍیو په باره کې هم څه لیکلي وو.
زه خوشاله یم زما هغه مضمون د پښتو ژبې د پوهانو او منقدینو ترځنګ، لږ تر لږه، د یوه تکړه لیکوال او اوستاد ښاغلي آصف بهاند توجه ور واړوله. ښاغلی بهاند زما د لیکنې له دې اړخ سره چې لنډۍ مې، لږ تر لږه په پخوا زمانه کې، چې پښتنې مېرمنې د سواد له نعمت څخه بې برخې وې، د اکثریت او حتا (حتی) تولو پوهانو د نظر په خلاف، چې اکثریت لنډۍ د ښځو مال بولي، د نارینه وو مال بللی دی، مخالف دی.

ښاغلی بهاند وایي زه د جهاني له دې نظرسره چې پښتنې مېرمنې د سواد د نه لرلو له امله د لنډۍیو جوړولو وړ نه بولي مخالف یم او دا د یوې پښتنې له استعداده منکرېدل ګڼم او د ټولنې د یوه قشر پر استعداد باندې یې خاورې اړول ګڼم. د لنډۍیو په باب له پیل نه تر نن پورې ډېره سلنه فوکلوریستان په دې عقیده دي چې د لنډۍیو ډېرې سلنې تخلیقونکي، پښتنې پېغلې او مېرمنې دي چې د بند ټولنیز چاپیریال او په دې چاپیریال کې پر دوی باندې د شویو ظلمونو انعکاس او د خپل دردېدلي زړه غږ یې په کې اوچت کړی دی.

ښاغلی بهاند د خپلې ادعا د اثبات او زما د نظر د ردولو له پاره د ځینو لیکوالانو لکه حبیب الله رفیع، سلیمان لایق او محمد اعظم سیستاني نظرونه وړاندې کوي. په داسې حال کې چې یوازې د لیکوالانو، که څه هم ډېر مشهور او پوه کسان به وي، نظرونه د چا د نظر او عقیدې د ردولو له پاره کفایت نه کوي بلکه باید لازم شواهد، اسناد او نوې خبرې وړاندې شي.

لومړی خو ما، خدای مه کړه، د پښتنو ښځو او پېغلو له استعداد او پوهې څخه هېڅ وخت انکار نه دی کړی. دغه ګړی، په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې، داسې ځوانې نجونې او مېرمنې لرو چې نه یوازې په شعر او نثر کې له نارینه وو سره سیالي کولی شي بلکه د ډېرو نارینه لیکوالانو، شاعرانو او څېړونکو زور نه په رسېږي. خو زما خبره د نن څخه سل دوې سوه یا درې څلور سوه کاله مخکې زمانې ته متوجه ده. هغه زمان چې ښځو سواد نه درلود او په قفسونو کې ساتل کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يوازې يې سواد نه درلود بلکه د ټولنې ظالمانه حاکمو قوانينو د يوه پردي ځلمي سره د مينې د ځرګندولو په بدل کې د هغوی سرونه غوڅول. لرې به نه ځو، د يوه وېشتمې پېړۍ په شرايطو کې چې د لويو او پرمخ تللو ښارونو په منځ کې ځوانې نجلۍ ته د خپلې خوښې د ځلمي د انتخابولو حک (حق) نه ورکول کېږي او حتا له کوره اېستل کېږي او يا له ځلمي سره يوه ځای وژل کېږي. نو سل کاله مخکې تصور کول خو بيا ډېر ګران کار نه دی.

ښاغلی بهاند د خپل نظر د اثبات او زما د نظر د ردولو له پاره د ښاغلي سليمان لايق خبرې را اخلي چې د لنډيو په باب يوه ليکلي اثر په مقدمه کې يې د لنډيو ډېره زياته برخه د ښځو مال بللی دی، وايي چې ښځو د لنډيو په واسطه د ظالمانو اجتماعي رواجونو په مقابل کې ږغ او چټ کړی دی او د عدالت غوښتنه يې کړې ده. ښاغلی سليمان لايق يوه څو لنډۍ د مثال په توګه راوړي.

▲ پرېږده چې بند په بند مې پرې کړي
ما چې د ژنو ياري کړه مرګ ته ورتلمه

▲ پلاره کوډله دې ايره شه
سورکۍ منه دې په کارغانو و خورمه

ښاغلی آصف بهاند وروسته ليکي چې اوستاد اعظم سيستاني هم د لايق د نظر په څېر همداسې ګڼي چې د لنډيو پراخه برخه د ښځينه له خوا تخليق شوي دي. ښاغلی بهاند وروسته د زهير شينواري نظر راوړي چې هغه هم په دې عقيده دی چې د لنډيو ډېره زياته فيصدي د ښځو له خوا ليکل شوې دي.

لومړی خو زه د ټولو منقدينو، په تېره بيا د پښتو لنډيو د څېړونکو، توجه دې غلت مشهور ته را اړوم چې فکر کوي د پښتو اکثريت لنډۍ ښځو او نجونو ويلې دي.

په دې لنډيو کې يې د سوځنده مينې اظهار کړی دی، کله يې خپل ځلمي مينان د جنګ ميدانونو، تورې وهلو، مړانې ته تشويق کړي دي او کله يې د اجتماعي بې عدالتيو په مقابل کې بغاوت کړی دی.

په داسې حال کې چې خبره داسې نه ده بلکه په ثبت شويو لنډيو کې ( که چېرې ښځو ته منسوبې شوي لنډۍ رښتيا هم د ښځو وبولو) اوس هم د نارينه وو ونډه زياته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېښور د پښتو اکاډیمی مخکنۍ رییسې ډاکټرې سلما شاهین د پښتو لنډۍیو په راغونډولو ډېره خواري کړي او د روهي سندرې په نوم کتاب کې يې څه د پاسه پينځه لس زره لنډۍ راغونډې کړي دي. د کتاب په هر مخ کې درېويشت لنډۍ راغلي دي او ما په اټکلي ډول د کتاب دوې، دوې مخه را واړول. نتیجه د هغو څېړونکو مخالفه ده چې ګومان کوي د لنډۍیو له سلو ډېره زیاته د ښځو له خوا ویل شوي دي.

۳۴۰ـ ۳۴۱ مخونو په شپږ‌ځلوېښتو لنډۍیو کې یوولس ښځو ته منسوبې دي.
د ۴۶۲ـ۴۶۳ مخونو کې د شپږ‌ځلوېښتو لنډۍیو څخه یوازې څلور لنډۍ ښځو ته منسوبې دي. د ۱۴۲ـ ۱۴۳ مخونو د شپږ ځلوېښتو لنډۍیو څخه شپاړس لنډۍ، د ۲۰۸ ـ ۲۰۹ مخونو د شپږ ځلوېښتو لنډۍیو څخه ۱۴ لنډۍ، د ۲۶۰ ـ۲۶۱ مخونو د شپږ ځلوېښتو لنډۍیو څخه دیارلس لنډۍ، د ۴۷۸ـ ۴۷۹ مخونو د شپږ ځلوېښتو لنډۍیو څخه شپاړس لنډۍ او د ۹۸ـ ۹۹ مخونو د شپږ‌ځلوېښتو لنډۍیو څخه یوازې شپږ لنډۍ ښځو ته منسوبې دي.

زه د ټولو لیکوالانو، په تېره بیا د پښتني فوکلور د دې ارزښتمن ژانر په باب څېړونکو او لیکوالانو نظریاتو ته احترام لرم خو صرف دوی نه پوښتنه ورڅخه کوم چې دوی کله دا تصور کړی دی چې د یوه لوی خان یا غریب پښتانه په کور کې یوه ښایسته نجلۍ پر کوم ځوان باندې مینه وي، د مینې اظهار په شعرونو او سوځنده غلبلو کې و کړي. د هغې پېغلې ځای به چېرې وي؟

▲ جانانه راشه ځان اوبه که
پر سپین باړخو مې خولې دم ولاړې دینه

▲ دا پېغلتوب مې په غم زوړ که
خیالي ځوانان را باندې مري خونکاره شومه

تاسې فکر و کړئ؛ یوه پېغله په خپل کلي یا شا او خوا کې دونه مشهوره شوې ده چې د هغې سره د مینې په سیالي کې د رقیبو ځلمیو ترمنځ په جنګونو کې څو ځوانان وژل کېږي، دا پېغله لا بیا هم ژوندۍ ده، لا لنډۍ جوړ وي، په کور او محیط کې یې ښایي پلار او کاکا په جګ سر ګرځي. هېڅ نه ورته وایي!! او یا په وازه خوله نارې وهې، خپل یار د خپل سپین باړخو په خولو د اوبولو له پاره را بولي او ځوک څه ورته ویلی نه شي یا نه ورته وایي.

▲ ولې دې بد راسره و کړه
ما په همزولو کې ویل چې یار لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ د کلي په همزولو کې د یار نوم اخلي، د هغه په یاري ویاړي او لا پر اوږو باندې سر ورته پاته دی!

▲ سپوږمۍ د خدای روی مې دروړی
جانان مې مه رسوا کوه ماله راځینه

▲ سپینې سپوږمۍ ته مې خوله واخله
د کلا سیوري ته مې مه بیایه ډارنه

پېغله نجلۍ ته په شپه کې جانان راځي، دا د رسوایي له وېرې تروږمۍ ته ترجیح ورکوي، سپوږمۍ ته خواست کوي چې د دې جانان او د هغه سره دې پټه مینه رسوا نه کړي؛ خو په بله لنډۍ کې پېغله دونه زړه وره شوې ده چې خپل هغه جانان ته چې د شپې یې کلي ته ورغلی دی. دا د خولې د اخېستلو له پاره د کلا سیوري ته ګوښه کوي، د ډارن او بې غیرته خطاب کوي. آیا دا خبرې د منلو وړ دي؟

دلته یوازې یوه دلیل راوړلی شو او هغه دا چې د لنډیو ویونکي معلوم نه دي او نا معلومو پېغلو او مېرمنو ویلې دي. بیا به نو سزا چا کومې پېغلې ته ورکوله. آیا دا خبره موږ منلی شو چې پېغلو او ځوانو مېرمنو به عاشقانه لنډۍ ویلې، هغه به یې خپرولې او د دوی راز به پټ ساتل کې دئ؟ په تېره بیا چې خبره زرهاوو پېغلو او د سوونو کلونو زماني ته ورسېږي.

د طالب جان او ګل بشرې په فوکلوری داستان کې، د باچا لور پر طالب باندې مینه کېږي؛ مخکې له هغه چې له طالب سره نکاح و تړي او یا یې پلار په خبر شي، میاشتې او حتا کلونه له هغه سره پټه مینه کوي. د هغه حجرې ته ورځي او ساعتونه ورسره تېروي.

▲ سر له کتابه که را پور ته
ستا د کتاب تر حاشیو ډېر دي زما خالونه

▲ سر له کتابه که را پور ته
په سترګو ړوند شې پر کتاب در وختمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بده مرغه زموږ ځينو لويو محققينو دغه خيالي او د ناممکناتو مجموعې فوکلوري داستان، نورو دغه راز داستانونو ته د ربښتونو کيسو په سترګه کتلي او طالب جان او ګل بشره او نور فوکلوري قهرمانان يې د پښتو ژبې په شاعرانو کې شمېرلي دي. ما د پښتو فوکلوري نکلونو لنډ تحليل په نوم کتاب کې دې موضوعاتو ته نسبتا مفصله اشاره کړې ده. دلته به ټولې خبرې د يوه لنډ مضمون تر حوصلې وتلې کار وي.

پوهندوی آصف بهاند وروسته د پښتو لنډيو د لرغونتوب په برخه کې زما خبرې ته اشاره کړې ده او ليکي چې جهاني لکه څرنګه چې د پښتنو مېرمنو له لوري د لنډيو د تخليق په برخه کې شک ښودلی دی. داسې يې د لنډيو تاريخي قدامت ته هم د شک په سترګه کتلي دي. خو ښاغلي بهاند په دې برخه کې هم يوازې د څو تنو پوهانو او شاعرانو په ويناوو او ليکنو استناد کړی دی، چې زما په نظر يوازې د نظرياتو راوړل، په هغوی استناد کول د يوې عقيدې د ردولو او خپلې عقيدې د ثابتولو له پاره کافي نه دي.

ما هېڅ وخت د پښتني لنډيو د لرغونتوب څخه انکار نه دی کړی بلکه د يوه پښتانه شاعر په حيث د پښتنو د دې ښکلي فوکلور په افتخار کې ځان شريک ګڼم. خو زه وايم د لنډيو د څلورنيم يا پېنځه زره کلن لرغونتوب د اثبات له پاره يوازې د يوې لنډۍ مثال راوړل کافي نه دي.

زه وايم پښتنو د څلورو پېنځو زرو کلونو په جريان کې، د سيمې د نورو اوسېدونکو قومونو په څېر، نه يوازې د اوسېدلو سيمې بلکه کولتورونه او مذهبونه تبديل کړي دي نو بايد چې په خپلو لنډيو کې يې د ويدي سرودونو، مهابهارت، راماين او... نورو شهکارونو په څېر د سيمو، خدايانو، تاريخي پېښو او قهرمانانو يادونه کړې وی. او که يې يادونه نه وي کړې نو بيا موږ په څشي استناد کوو.

يوازې احساساتي کلمات کفايت نه کوي. د ښاغلي بهاند دا خبره کافي نه ده چې وايي زموږ پښتنو سواد نه درلود نو ځکه به يې د زرګونو کلونو زړې لنډۍ د خلکو له ياده وتلې او ثبت سوي نه وي. ويدي سرودونه او مهابهارت، چې بشر په خپل ټول ادبي تاريخ کې په دغه عظمت منظوم او پراخ شهکارونه ايجاد کړي نه دي او يوازې مهابهارت د ايلياد او اوديسه لس چنده ضخامت او اوږدوالی لري او د ۱،۸ ميليونو کلماتو څخه جوړ شوی دی؛ مخکې له هغه چې د کاغذ پر مخ وليکل شي څو سوه کلونه سينه پر سينه انتقال او په دې جريان کې کرار، کرار بشپړ شو. له بلې خوا که يوازې د سواد نه شته والی د لنډيو د نه ثبتېدلو علت وي نو دا اوس حاضر څه باندي سل زره ثبت شوي لنډۍ له کومه راغلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ د دریو ځلورو سوو کلونو د لنډۍیو د ثبتولو له پاره حافظه لرو نو زه یقین لرم چې د ځلور زره کاله مخکې لنډۍیو ځخه به، که نور هېڅ نه وی، لږ تر لږه سل دوې سوه راته پاتې وی. البته زما مطلب بیا هم د لنډۍیو له لرغونتوب او قدامت ځخه انکار نه دی بلکه وایم چې د یوه تحقیقاتي مضمون یا کتاب د لیکلو له پاره یوه ځه دقیق او مستند دلایل په کار دي او خپلو راتلونکو نسلونو ته باید په اټکلونو او غلط مشهور باندې قناعت ورنه کړو. په تاریخي، علمي، ادبي تحلیلونو او متونو کې له اټکل او قیاس ځخه کار اخېستل کېږي. خو داسې نه چې ټول استناد او تحلیل مو پر روایاتو او اټکلونو ولاړ وي.

د پښتو ژبې یوه لیکوال د یوې لنډۍ د تاریخي لرغونتوب د ثابتولو له پاره مجهول ته په مجهول جواب ورکوي. دی یوه لنډۍ د مثال په توګه راوړي:

▲ که د خالو لښکرې راغلې
زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

,, پورتنۍ لنډۍ ناکره ده، کره بڼه یې چې په تاریخ مرصع کې راغلې په لاندې بڼه ده:

▲ که د خانو لښکرې راغلې
زه به ګوملې ته د یار سلام ته ځمه

( افضل، ۱۸۸۵ زېږدی،۱۲۱ چوپړی) او ( شهسوار، ۱۳۹۱ ل ل کال، ۱۰چوپړی) ''

لیکوال ادعا کوي چې خانو( کره: ملک خانو، ناکره : ملک خالو) د سلطان محمود غزنوي سره د هېند د فتوحاتو په جګړو کې ملګری او د هغه یوه لوی قوماندان وو.

نو په دې حساب دا لنډۍ لږ تر لږه زر کاله پخوا ویل شوې ده. البته هېڅ تاریخي متن د سلطان محمود په لښکرو کې د خانو په نوم د کوم جنرال یا پښتانه قوماندان یادونه نه ده کړې.

که چېرې چا په دې اړه کومه کیسه کړې وي نو هغه یوازې فوکلوري ارزښت لري او د تاریخي پېښې په حیث استناد نه شو په کولی. موږ باید د خپلو ځوانو ځېړونکو او زده کونکو ماغزه په دغه راز بېځایه لیکنو مغشوش نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهندوی آصف بهاند، چې زه یې په زړه کې کدر لرم او د ده پوهه او استعداد مې پر خپل اولس باندې پېرزو دی، د لنډیو د لرغونتوب په برخه کې، بیا هم د ځینو لیکوالانو پر احساساتي کلماتو او اظهاراتو باندې استناد کوي او په دې لړ کې د ګران اسدالله غضنفر یوې مقالې ته اشاره کوي چې د شاعر پیرمحمد کاروان او شپون نظریات یې را اخیستي دي. غضنفر صیب وایي، ما له ښاغلي کاروان او وستاد شپون سره د لنډیو د لرغونتوب په باره کې مرکې لرلې چې ښاغلي کاروان د پښتو لنډۍ د پښتنو د ارواګانو همزولې وبللې چې ډېر خوند یې را کړ. اوستاد شپون هم د لنډیو په باب د لنډیو غوندې خوږې خبرې و کړې.

د ښاغلي کاروان خبره خو د هغه د شاعرانه مزاج محصول ده، د شعر او شاعرۍ په درد خوري خو شپون یوه څه په تفصیل رغبدلی دی او باید چې همداسې رغبدلی وی. شپون وایي زه له مارګن شتړن سره تګاب ته تللی وم. د ده، اووه څلوېښت ژبې زده وې. یوازې یې د پښتو ژبې اووه لهجې یادي وې. دی هغه وخت اتیا کلن وو. غره ته یې وکتل ویې ویل:

▲ په لویو غرو د خدای نظر وي
په سر یې واورې اوروي چاپېر ګلونه

او بیا یې مونږ ته و ویل ,, که افغانستان تکه، تکه شي. که یې غرونه ونړېږي او سیندونه یې وچ شي، پښتانه ټول محوه شي خو لنډۍ به پاتې وي. له دغو لنډیو به بېرته پښتانه را زرغونېږي او بېرته به افغانستان جوړ شي،،

لومړی خو، د شپون په خپله اصطلاح، د اووه څلوېښتو ژبو زده کړه د تأمل وړخبره ده. که سړی هرڅونه نابغه شي نو د یوې ژبې د زده کړې له پاره، هغه هم په داسې توګه چې یوازې د پښتو اووه لهجې یې زده وي، لږ تر لږه دوې کلونو وخت ته ضرورت لري چې په دې حساب باید ښاغلي مورګنستړن د خپل ژوند څلورنیوي کلونه د ژبو زده کړو ته ورکړي وي. نورو ژورو علمي تحقیقاتو ته به یې، چې له ده څخه یې د نړۍ په کچې مشهور مستشرق جوړ کړ، څنداني وخت نه وای پیدا کړی.

خو مورګنستړن له ۱۸۹۲ څخه تر ۱۹۷۸ پورې یانې شپږ اتیا کاله ژوند کړی دی. قسمت د اووه څلوېښتو ژبو د زده کولو له پاره کافي ژوند نه وو باندې پېرزو کړی. په دې کې هېڅ شک نه شته چې د مارګنستړن ډېرې ژبې زده وې. هغه په اته لس کلنۍ کې سانسیکریټ ژبه زده کړې وه. لاتیني ژبه یې لا مخکې زده کړې وه او وروسته یې انګریزي، پښتو، دري، اوزبکي او بلوچي ژبې زده کړې. په ټولو ژبو یې خبرې کولې خو د دې ټولو ژبو شمېر لسو ته هم نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته موږ به د شپون صاحب په احترام پينځه لس ژبې هم ورسره ومنو.

خو زه ګومان نه کوم چې د مارګنسټرن په سطح يوه لوی عالم او مستشرق به د لنډيو په باره کې، چې ساده او ښکلی فوکلوري ژانر دی، دونه بېځايه او احساساتي اظهارات کړي وي. نه غرونه نړيږي، نه سيندونه و چيږي او نه پښتانه له منځه ځي.

که دا نا ممکنې پېښې، خدای مه کړه، رښتيا شي نو بيا په تشو لنډيو کې د دونه لويو حوادثو د مخنيوي زور هم نه شته.

زه نه پوهېږم چې د غضنفر په څېړ يوه درانه ليکوال ته، چې زه يې مضامين معمولاً په ډېر شوق لولم، دومره احساساتي او بېځايه کلماتو، چې د نيمي خولې خندا ارزښت هم نه لري، په يوه ثانيه چورت وهلو نه ارزي، څرنګه دونه خوند ورکړی چې په خپله مقاله کې يې ځای ورکړی دی.
ګودر:

يوه موضوع چې په پښتني لنډيو کې ډېره زياته راغلې ده هغه ګودر دی. د ګودر څخه پېغلې منګي ډکوي او په لاره کې ځلمي ورته ولاړ دي. هر يوه د خپلې خوښې کړي ښکلې پېغلې سره پټه يارانه کوي. ډېرو خارجيانو به چې افغانستان يې يا نه دی ليدلی او يا يې پوره نه دی ليدلی. د دې لنډيو څخه داسې اخېسته کړې وي چې ګودر د پښتنو ځلميانو او نجونو د ديدن او ملاقات کولو ځای دی.

ډېر هغه پښتانه ځلمي به چې د فوکلوري ادب او رښتونو کيسو او پېښو په توپير نه پوهېږي هم په دې عقيده وي چې ګودر به يوه وخت د ځلميانو او ښايستو پېغلو د ملاقات ځای وو. په داسې حال کې چې د ګودر څخه د اوبو د وړلو په وخت کې د ګودر په دوې کيلوميتري کې د نارينه سيوری هم څوک نه شي ليدلی او چې اوزګړی هغه لوري ته ورشي سر يې غوڅيږي.

د ګودر په باره کې ويل شوي لنډۍ د ځلميانو تش خيال پلو او د زړه آرزو wishful thinking ده. د ګودر په باره کې ويل شوي لنډۍ خپل فوکلوريک ادبي ارزښت لري. ځينې يې ډېري ښايستې دي. يوه وخت به ګودر نه وي خو دا لنډۍ به سوونه کلونه ژوندۍ پاته وي او په مجلسونو کې به اورول کيږي.

▲ که ديدن کړې ګودر ته راشه
زه به منګی په لپو ورو، ورو ډکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ګودر ته ځم را پسې راشه
زه به له نورو نجونو وروسته پاتې شمه

▲ ګودر ته ځم را پسې راشه
ما په منګي کې پراتې راوړي دینه

▲ ګودر ته ځم راپسې راشه
منګي مې دوې دي نرۍ ملا مې ماتوینه

▲ چې ټول ګودر په ښایسته کیږي
هغې نجلۍ ته مور منګی نه ورکوینه

د ګودر او د ګودر سره نږدې، د ځوانو مینانو ترمنځ د ټپو ملاقاتونو په باب ډېري زیاتې لنډۍ ویلې شوي دي او د آدم خان او درخانۍ چې د نکلونو ډولونه یې ډېر زیات دي، په یوه نکل کې د دواړو ترمنځ لومړۍ لیدنه د ګودر سره نږدې شوې ده. زما له لومړۍ ځوانۍ، اته لس کلنۍ یا نولس کلنۍ، څخه د ګودر سره نږدې د یوه ځلمي او پېغلې ترمنځ د اوږدې مکالمې هغه برخه چې اورېدلې مې ده تر اوسه په یاد ده. زه ګومان کوم چې دا مکالمه به د لنډۍیو په کتابونو کې نه وي راغلې او دلته یې راوړل بې ګټې نه بولم.

▲ پر ګودر راغلې برابره
یا خولګۍ راکه یا منګی درماتومه

▲ زه چې و تاته خولګۍ درکم
زه به د بوري مورکۍ څه ځواب کومه

▲ مور ته دې داسې ځواب ورکه
چې له منګي سره پر مځکه و لوېدمه

▲ مور به مې داسې راته وایي
منګی دې روغ پر خوله دې راوړل پرهارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مور ته دې داسې خواب ورکه
منګی پر ختو زه پر کاڼو پرېوتمه

▲ زما د مورکۍ خواب دې و کړ
اوس مې پر سپېنه خولګۍ کښېکاږه غاښونه

▲ خولګۍ دې داسې مزه راکړه
چې سپېن نبات يې پر دوکان و شرماونه

له دې وروسته دوې لنډۍ په داسې لوڅو کليماتو ويل شوې دي چې زما له پاره يې دلته ليکل ګران دي. د پښتو لنډيو تر نيمايي زياته برخه، په ساده او ښکلې کليواله ژبه، د لوڅې او پټې مينې سندرې دي. نور نو تقريباً په هر باب يوه څه په کې موندل کېږي. سرې ويلی شي چې د کليوالو او مالدارو پښتنو د معاشرې او اجتماعي ماحول تقريباً بشپړ تصوير دی. تر ټولو ښه خبره دا ده چې د پښتنو د خپل منځي دښمنۍيو او تربور ګلوۍيو په باره کې يا هېڅ لنډۍ نه شته او يا که شته نو د نشت په شمار دي، اکثريت لنډۍ د سوځنده او ځلمی مينې خوږې سندرې دي. ماته د لنډۍيو دغه مينه ناک او سوله ايز اړخ تر هر څه زيات خوند راکوي.

پوهندوي آصف بهاند وروسته يوې بلې مسألې ته اشاره کوي او هغه دا چې وايي ،، د لنډيو په باب د جهاني په نظرياتو کې تر ټولو نوی، د پام وړ او د بحث وړ نظر دا دی چې دی وايي هر څوک کولای شي لنډۍ و وايي، په خپل نامه يې ثبت کړي، څو په دې ډول د لنډۍيو ويلو او ليکلو يوه رقابت را منځ ته شي. دی داسې استدلال کوي چې پخوانی يو خلکو سواد نه درلود، لنډۍ يې په خپل نامه نه شوای ثبتولی او لنډۍ به سينه په سينه تر نورو نسلونو پورې لېږدول کېدلې. دی وايي چې هغه کسان چې وايي لنډۍ دي د شخص په نامه نه ثبتېږي، دا يوه نا پوهېدنه يا غلت فهمي ده چې که د لنډۍ شاعر مالوم نه وي، ارزښت به يې لا ډېر وي. جهاني د خپل بحث په يوه ځای کې داسې ليکلي دي:،،

ځينې څېړونکي بيا په دې عقيده دي چې اوس هم شاعران کولی شي چې لنډۍ جوړې کړي او ويې ليکي، خو په دې شرط چې لنډې به په خپلو نومونو نه ثبتوي. د دې عقيدې او نظر اساس هغه غلت فهمي ده چې ګواکې د لنډۍيو ارزښت په دې کې دی چې شاعران او ويونکي يې څرګند نه دي. په داسې حال کې چې د داسې زرګونو لنډۍيو ويونکي څرګند نه دي چې دومره له هنري ارزښت څخه برخې دي چې نه پر کاغذ باندې په ليکلو او نه ذهن ته په سپارلو ارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې زړې لنډۍ موږ ته سينه پر سينه را رسېدلي دي علت يې دا دی چې زموږ اولسونو سواد نه درلود؛ لنډۍ يې ليکلی نه شوی او چا په خپلو نومونو د لنډيو د ثبتولو کمال نه درلود. ځکه نو لنډۍ نه ليکل شوي وې او نه يې شاعران څرګند وه.

خو که چېرې يوه شاعر د سل ګونو او زرګونو ښو لنډيو د ليکلو استعداد و لري، موږ څرنګه هغه په خپل کلام او کمال له فخر کولو له حق څخه محرومولی شو؟ پخوا چې لنډۍ ليکل شوې نه وې خو چا ليکلی نه شوی؛ اوس چې يې ليکلی شي، پربېږدئ چې په خپلو نومونو يې ثبت کړي او د رقابت په ميدان کې ښې، ښکلې او غښتلې لنډۍ ايجاد شي. ياني د لنډيو د اصيل والي او سوچه والي اساس دا نه دی چې ليکل شوي نه دي او اولسونو سينه پر سينه نقل کړي دي. بلکه خبره د لنډيو په ښايست، موضوع، متانت او تاثير کې ده.

که يوه لنډۍ ښايسته، سوچه او متينه وي؛ که يې شاعر معلوم وي او که نه وي اولسونه به يې حتماً خوښوي، سينو ته به يې سپاري، له يوې حوزې څخه به يې بلې ته نکلوي او خپل ګډ مال به يې بولي. د شاعر له مړينې څخه سل کلونه وروسته به له اولس سره اوسېږي.

بهاند وروسته ليکي چې ,, که د لنډيو ثبتولو د بېلا بېلو ستونزو په لړ کې د جهاني صاحب نظر ومنل شي چې هر څوک هر ډول لنډۍ کولی شي په خپل نامه ثبت کړي، دا پوښتنه به د ځينو فوکلوريستانو او څېړونکو له خوا مطرح شي چې مثلاً همدا نن څوک يوه لنډۍ په داسې تورو او مضمون ثبتوي چې ښايي پخوا به په عين تورو او عين مضمون ليکل شوې او ثبت شوې وي. هغه بيا څنګه کېږي، دا مسله به څنګه کېږي چې فوکلور د اولس مال دی او لنډۍ هم د فوکلور يوه برخه ده. څنګه کې دی شي چې د خلکو مال دي د يوه شخص په نامه ثبت شي،،

ښاغلی بهاند صاحب! په عين تورو او عين مضمون که يوه بيت يا يوه لنډۍ مخکې موجوده وي او څوک يې کټ مټ را نقلوي نو دا خو ادبي غلا ده. که دا غلا له کوم ديوان څخه وي او که د اولسي ادب څخه وي خبره يوه ده؛ په هغه باره کې څوک څه نه وايي. خو که لنډۍ د پښتنو د معاشرې او اجتماعي شرايطو را پيژندونکی فوکلوري ژانر بولو، که دا د مينانو او ځوانو عاشقانو د سوي مينې غلبلې، د بېلتانه په اور کبابېدل، له ځينو ناوړو کورنيو او اجتماعي مقرراتو او رواجونو سره مخالفت او کله، کله د اجتماعي بې عدالتيو په مقابل کې د ځوانو نجونو او ځلميانو بغاوت بولو نو دا ټول شيان خو اوس هم موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډېيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو انګړ**
ځېړنــــــــــچوپړي ( ريســــــــــــــرچ پانې)

موږ ځرنګه کولی شو چې خپل ځلمي د لنډېيو په فورم کې د مينې له اظهارولو او يا د اجتماعي بې عدالتۍيو په مقابل کې له عکس العمل ښودلو څخه منع کړو؟ موږ به هغوی ته ځرنګه و وايو چې تاسې د لنډېيو له جوړولو پرته بل د هر ډول شعرونو او نظمونو د جوړلو حق لرئ.

تاسې له کوم فارسي ژبي څخه اوريدلي چې وايي د رباعي يا دوه ايزو جوړول منع دي او که څوک کومه دوه ايزه جوړه کړي نو دا ادبي غلا ده.

همدا اوس زموږ هزاره ورونه هره ورځ په لس هاوو دوه ايزې، چې د هغوی د فوکلور يوه غني او ښايسته برخه او فورم دی نه توليدوي؟ نو تاسې بايد شاعرانو، په تېره بيا ځلمو شاعرانو ته دا وښياست چې تر کوم کال يا کلونو او يا زماني پورې د لنډېيو جوړول او ويل اړين عمل او اولسي کار وو. تر هغه وروسته د لنډېيو جوړول ناروا او د لايق صاحب په قول د فوکلور د فورم او فکر د غلا کولو عمل ګڼل شوی دی.

لايق صاحب دا کار په رډه رڼا ورځ غلا کول او د تاريخ مسخ کول بولي.

موږ د لنډېيو په فورم کې د ورته مضامينو د کارولو په سل هاوو مثالونه لرو.

او په کتابونو کې ثبت شوي هم دي.

د دې لنډېيو ويونکي په هېڅ توګه معلوم نه دي؛ د لنډېيو د ويلو تاريخ يې هم ځرګند نه دی.
ويونکي يې ښايي مړه وي او که ژوندي وي موږ يې نه پېژنو.

موږ به څوک د لنډېيو په غلا نيسو او ځرنګه به يې اولسي، ملي او يا د ضرورت او امکان په صورت کې بين المللي محکمې ته سپارو.
د مثال په ډول:

▲ په طبيبانو نه رغيږم
د يار په تش ديدن به روغ شم نه راځينه

▲ په طبيبانو نه رغيږم
زه ستا د حُسن تمانچو ويشتلی يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په طبیبانو نه رغېږم
زه سترګو تورو د لیلا وهلی یمه

▲ په طبیبانو نه رغېږم
ماله په کار دې د اشنا تش دیدنونه

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
پېغلو تومبلې دې په زلفو کې ګلونه

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
پېغلې ښکاره شوې لکه لمر په دیوالونه

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
جینکو راوړل په اوربل کې زیړ ګلونه

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
ځلمي په سر د پولو ږدي لنډ کدمونه

▲ په علامه د سپرلي پوه شوم
د خاورو کاړي نه شنړا د کنګرو ځینه

▲ په غم پیدا په غم کې لوی شوم
په غم به مړ شم غم به قبر له ورځمه

▲ په غم پیدا په غم کې لوی شوم
په غم لړلې یاراني ستړی دې کړمه

▲ په غم پیدا په غم کې لوی شوم
غم کې به مړ غم کې به تورې خاورې شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ▲ په غم پیدا په غم کې لوی شوم
### وړکوټی مړ وی چې مې نه لیدی غمونه

دا مثالونه په سل ګونو دي او موږ د خپلو لوستونکو وخت نه سو وربانډې ضایع کولی. اوس خبره دا ده چې موږ به په دې لنډیو کې کومه یوه اصیله بولو او څوک به را نیسو چې هلکو!!؟؛ دا د اولس مال مو ولې غلا کړی او تاریخ او فوکلور مو څرنګه مسخ کړی دی. دا کار خصوصاً هغه وخت ډېر ګران دی چې د لنډیو، فرضي، غلا کوونکي مړه وي او موږ د چا د ګرېوان نیولو او د ډېر قهر(ځاځ) په صورت کې د څېرلو وس ونه لرو.

اوس خبره په دې کې ده چې اولس څوک او شاعر څوک دی؟ دا شاعر خو هم د اولس بچی دی. هغو کسانو چې لنډۍ یې لیکلې او په اولس کې یې خپرولې، هغوی له اسمان څخه راغلي ول؟ که اوس کوم شاعر یا شاعران را ولاړېږي د خلکیانو او پرچمیانو په وخت کې د پل څرخي د زندان ترخې شپې ورځې او غیر انساني شکنجې د لنډیو په کالب کې اچوي. شاعران را ولاړېږي پر کابل او د افغانستان پر نورو ښارونو باندې د مجاهدینو د حکومت او د تنظیمونو تر منځ د جنګونو له امله د ښارونو د تباه کېدلو په باب ښې له سوزه ډکې لنډۍ جوړوي او لیکي. که اوس شاعر یا شاعران په پېښور او د پاکستان په نورو ښارونو کې د افغان مهاجرینو سره د پاکستاني مقاماتو د بدسلوکو او د مهاجرینو د بدو ورځو په باب لنډۍ لیکي د دې کار عیب (ویار) او نقص په څه کې دی.

همدغه لنډۍ به پنځوس او سل کلونه وروسته زموږ د تاریخ یوه فصل وي. شاعران به یې مړه وي او لنډۍ به یې، که د دوی په نومونو چاپ شوي وي که نه وي، د نورو لنډیو په څېر د اولس مال وي. نه لنډۍ او نه یې کالب کوم مقدس حیثیت لري. که موږ په دوولس سپلابي بحر کې د زرګونو غزلونو د لیکلو حک لرو.

د لنډیو په خواږه کالب کې هم د زرهاوو لنډیو جوړلو مستحق یو او حتا زه خو خپل ځوانان دې ته را بولم چې د دې خواږه کالب د ژوندي ساتلو له پاره هغه ته نوي، نوي مضامین ور واچوي او یوازې د بېلتون او غماز څخه په شکایت کولو بسیا نه شي.

البته ځوانان باید کوښش و کړي چې خپلې لنډۍ په خپلو خاصو ټولګو کې په خپلو نومونو چاپ کړي او د راټولو شویو یا را ټولو کړو لنډیو په کتابونو کې یې وانه چوي. په دې توګه به هم د هر شاعر خپل، خپل شعري استعداد څرګند وي، هم به پخې او بېخونده لنډۍ سره بېلې شوي وي او هم به مو د لنډیو امانت، چې له بده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه تر اوسه نه دي خوندي شوي، ساتلې وي. که په دغه شکل مخ ته ولاړ شو نو بیا به له یوې خوا د اصیلو پخوانیو لنډیو پر حریم باندې تېری هم نه وي شوی او په همدغه خوا ره قالب کې به مو، راتلونکو نسلونو ته، د خپلو پیغامونو د رسولو کار جاري ساتلی وي.

په لنډیو کې د کیفیت او کمیت مسأله:

تر اوسه پورې چې ځېړونکو د لنډیو د راټولولو په کارونو ځانونه ستړي کړي دي، خواری او زحمتونه یې د ستاینې وړ دي، البته د هغوی په کارونو کې یوه لوی عیب دا دی چې د لنډیو په نوم او شکل یې هر څه لاسته ورغلي دي هغه یې را غونډې کړي دي.

د خپلو کتابونو ضخامت خو یې زیات کړی او د زیاتو او لا زیاتو لنډیو د راغونډولو په مسابقه کې یوه له بل څخه مخکې شوي دي، خو د ښایستو او اصیلو لنډیو رنګ یې بد کړی او خوند یې خراب کړی دی. د لنډیو د راټولولو کار باید دوام و کړي. ښایې اوس هم داسې لنډۍ وي، زه یقین لرم چې وي به، چې تر اوسه د لنډیو په کتابونو کې نه وي راغلې؛ خو تر وسه، وسه باید کیفیت ته پر کمیت باندې ترجیح ورکړه شي.

موږ داسې ډېرې لنډۍ لرو چې د شکل له مخې هېڅ نیمګړتیا نه لري. کټ مټ لنډۍ ده، خو د متن له مخې هېڅ خوند نه لري او له ورایه ښکاري چې هسې د کتاب پاڼه په توره شوې. د لنډیو شمېر وربانډې زیات شوی دی.

دا لنډۍ ښایي د ډېرو زړو پانو څخه را نکل شوي وي؛ مګر د لنډیو په کالب کې هر څه د راغونډولو ارزښت نه لري. د مثال په توګه:

▲ په تېښته نه خلاصیږې یاره
مُهر محکم دې د یارۍ ولګونه

▲ په توره ځان خاشې، خاشې کړه
زه به مرهم د سپینې خولې درباندې ږدمه

▲ په ځکندن کې راله راشه
په خمارو سترګو مې ته کېږده لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په ځکندن مې ځان حضور کړه
کښل مې لبان کړه چې بیا نه کړې ارمانونه

▲ خاونده ته مې مدد ګار شې
نفس او شیطان مې اباسین ته غورځوینه

▲ د زنې خال دې پیرنګی دی
ځکه دې پلار د انګریزي سلام کوینه

▲ د زړه مکان مې جانان لوټ کړو
د خوشالی سامان یې ټول و چلاونه

▲ دلاله سرې پنړې په پښو کا
د فلانکي خان له پاره و غواړه ملکونه

▲ دلاله شنې لښتې به و خورې
که په ورتلو دې جانان ونه ژړونه

▲ دلاله فکر په کې و کړه
چې شال شړی سره یوه ځای نه کړې مینه

د دغه راز لنډیو شمېر سل ګونو او بنایې زرګونو ته ورسېږي، خو هېڅ وخت به د کتابونو له پاڼو څخه بهر ونه وزي او هېڅکله به یې اولسونه خپلو سینو ته ونه سپاري.

یوازې هغه لنډی د اولسونو په سینو کې ځای نیسي او یوازې هغه لنډی زموږ د غني فوکلوري میراث برخه کېدلی شي چې له خولو را و وزي او پر ژړونو کښېني.

داسې لنډی شته چې ما څه باندې پنځوس کاله مخکې د لومړي ځل له پاره اورېدلې او بیا مې تر نن ورځې پورې له یاده نه دي وتلې. په دې لنډیو کې بنایې د ساده او معصومي پښتنې مینې هغه رنګ پروت وي، هغه شرنګ و لرې چې له یوه ځل اورېدلو سره په زړه ننوزي او بیا د وتلو لاره نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مسافري دې روزي مه شه
 زه دې ملاله خوله ويده پرې ايښې يمه

▲ زيارت کوم نه را رسيږي
خدايه که ګډ کړې دا د کاڼو زيارتونه

▲ تر دې بوړې توپک دې ځار شم
په اوږه ستا دی کړه زه د خياله ځمه

▲ سپوږمۍ پر منځ د اسمان راغله
زه خواره ناسته پخلا مرور کومه

د پښتو فوکلور زياته توجه غواړي. ويليم جونز، جيمز ډار ميسټيټر، تور برن او نورو د پښتنو د فوکلوري سندرو، نکلونو، متلونو او لنډۍيو په راټولولو کې ډېره مرسته کړې ده. د مرحوم محمد ګل نوري، پروفيسر سيال کاکړ، ډاکټري سلما شاهين او نورو خواخوږو زيار او زحمت جلا، جلا د ستاينې وړ دی او د پښتو ژبه به يې پوروړې پاته وي. خو د پښتو ژبې د فوکلور ډېرې برخې، په زياته د فوکلوري سندرو برخه، چې ډېرې زياتې تاريخي پېښې په کې نغښتې دي، ډېر زيات کار ته اړتيا لري او زه يقين لرم چې ډېرې داسې ارزښتناکې سندرې به د تل له پاره ضايع شوي وي چې زموږ د تاريخ ناسپړلي رازونه به يې ويلی.،، (عبدالباري، ۲۰۱۶ زيږدی)

| کڼه. | راټولونکی / ليکوونکی نوم | ليکي / ليکنه | چاپ کال / نا چاپ | ټول ټال لنډی، ټپې، ټيکی او مصری | Lándéy لنډی | Tapé ټپې | Tikéy ټيکی | Mésréy مصری | Related منسوبي | Suffix Voice ورروستاړي غږ | Action Req'ed ګره شوی ■ | (Caution) خبرداری ● | (In control) کنټرول کی ✓ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | عبدالباري جهاني | يوه ځل بيا د لنډيو په باره کې | ۱۳۹۵ ليږدی | ۵۱ | ۲۲ | ۱۸ | | ۱۱ | | | | | |
| | | | | | ۱۱ | ۸ | | ۲ | ▲ Related to men سړو ته منسوبي | | | | |
| | | | | | ۱۱ | ۱۰ | | ۹ | ▲ Related to women ښځو ته منسوبي | | | | |
| | | | | | ۱۰ | ۶ | | ۲ | ونه - uná: (څرګند واو په غږ کلمي سره راشي) ونه. | | | | |
| | | | | | ۳ | ۲ | | ۵ | ينه - ná: (څرګنده ی په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) يينه. | | | | |
| | | | | | ۱ | | | | زوزکی - ana: (نون زور ولري) نه. | | | | |
| | | | | | ۸ | ۱۰ | | ۴ | زورکی - mana - ( منه مجهوله هي * مه ) مه. | | | | |
| | | | | | | | | | زورکی ، ه ،: ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري. | | | | |
| | | | | | | | | | څرګنده ، ه ،: ( کوناټوره، بختوره) ډېرې لږې شتون لري. | | ۶۴۲ | ۳۷ | تول |

څېره ۲. ژ عبدالباري جهاني ,, يوه ځل بيا د لنډيو په باره کې ،، په دې ليکنه کې د لنډيو، مصرو، ټپو او ټيکيو کچه، ۱۳۹۵ ليږدی، ( ګڼه يې په: داني)

۱۵. ۲۱ لښتيليک:. څېره ۲. ژ عبدالباري جهاني ,, يوه ځل بيا د لنډۍيو په باره کې ،، په دې ليکنه کې د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرو کچې، ۱۳۹۵ ليږدی، ( ګڼه يې په: داني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱٦. د انځورونو، څېړو او لښتیلیکو لړلیک:

**لومړي ټوک د انځورونو لړلیک:.**

۱:- د لټکې یا دوې سره مار ( # ۱ انځور)........................................................................ ۱۸
۲:- دوې سره مار ( # ۲ انځور)........................................................................ ۱۸
۳:- د لټکې یا دوې سره مار ( # ۳ انځور)........................................................................ ۱۸
٤:- د لټکې یا لنډۍ ( # ۴ انځور) ........................................................................ ۱۸
٥:- د تور دوې سره مار یا چورنیا د نرۍوالې ګنې ګڼه ۶۱۰۷۶ یا توره لټکه، یا توره لنډۍ ( # ۵ انځور ) ........................................................................ ۱۹
٦:- لنډۍ ( # ۶ انځور ) ........................................................................ ۱۹
۷:- د لنډۍ ( # ۷ انځور ) ........................................................................ ۱۹
۸:- د دوې سره مار، لټکه یا لنډۍ ( # ۸ انځور ) ........................................................................ ۱۹
۹:- لنډۍ ( # ۹ انځور ) ........................................................................ ۲۰
۱۰ :- لنډۍ خپل خواړه خوري ( # ۱۰ انځور )........................................................................ ۲۰
۱۱:- د لنډۍ ایکسري ( # ۱۱ انځور )........................................................................ ۲۰
۱۲:- لنډۍ په ډډ دمه ده او خوب کوي ( # ۱۲ انځور ) ........................................................................ ۲۰
۱۳:- لنډۍ خپل لوري ته بدلون ورکوي، چې په کومه لاره سپخه شي، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو لټکه له یوه بڼه پېیلې یا شعر سره تشبع کړی دی. ( # ۱۳ انځور ) ........................................................................ ۲۱
۱٤:- ښکلې او خوږه لټکه، لنډۍ یا دوې سره مار، لنډۍ چمتو ده، ښکار نې کوي. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د لنډیو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو لټکه له یوه بڼه شعر سره تشبع کړی دی. چې ورته لنډۍ وایي او ټولې ځنګېړنې یې سره ورته دې.......... ۲۱
۱٥:- وران ټپ ۱۴۷۱-۲۴۷۴-۸-۱۰۰-۱۴ ( # ۱۵ انځور) ........................................................................ ۳۰
۱٦:- ۶۸۸۲۹ ووندس، ټپ،(WOUNDS ٦٨٨٢٩) . ( # ۱۶ انځور) ........................................................................ ۳۰
۱۷:- د رنځور یار ټپ ( # ۱۷ انځور) ........................................................................ ۳۰
۱۸:- د نورستانۍ مېرمنو د واده انځور دی، چې د ټیکۍ چارپېریال انځور وي. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د ټیکۍ یو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو ټیک له یوه بڼه پېیلې شعر سره تشبع کړی دی. چې ورته ټیکۍ وایي، او ټولې ځنګېړنې یې سره ورته دي. ( # ۱۸ انځور)........................................................................ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹:- ډاګیر - سره زرو- له یو آر څخه.- ۲۵۰۰ مخزېږدي. له نن څخه ۴,۵۱۷ کاله واړندېنۍ ده. ( # ۱۹ انځور)........................................... ٤٦

۲۰:- لوریستان- اوسپنېزه- ژیړو- ډاګیر- ۱۵۰۰ مخزېږدي. له نن څخه ۳,۵۱۷ کاله واړندېنۍ ده. نن د فیبروري، ۲۸، ۲۰۱۷ زېږدی دی. ( # ۲۰ انځور) ........................................................................................ ٤٦

۲۱:- ویسیکس- رافییار – ټیسټوډ - همفیشیري مصرۍ. ( # ۲۱ انځور)........ ٤٦

۲۲:- ماراکون سپینو زرو مصرۍ ۱ ایل جي. په ډانګ پیلي روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د مصرۍ یو له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زموږ لرغونو پښتنو نیکونو مصرۍ له یوه بنه پېیلې (پېړان، اشلوک، شېر یا شعر) سره تشبې کړی دی. چې ورته مصرۍ وایي، او ټولې ځنګېرنې یې سره ورته دي. ( # ۲۲ انځور)..................................... ٤٧

۲۳:- خوندي شوی انځور د مصرۍ نڅاګرې له مصرۍ تورې سره. چې د انځور شاه سپین بګرونډ لري، ګڼه یې ۵۰۰۶۳۴۵۲ ( # ۲۳ انځور) ...... ٤٧

۲٤:- خوندي شوی انځور د مصرۍ نڅاګرې له مصرۍ تورې سره. چې د انځور شاه سپین بګرونډ لري، ګڼه یې ۶۳۲۷۱۱۲ ( # ۲۴ انځور) ........ ٤٧

۲۵:- مصرۍ سکیمیټارا ۲ ایل جي ( # ۲۵ انځور) ................................. ٤٧

۲٦:- یو آر - سیمېټار- د- ډبلیو اي بي. مصرۍ ( # ۲۶ انځور).................. ٤٨

۲۷:- ډاګیر - د هډوکي لاستي والا مصرۍ ( سپین موټي مصرۍ) ( # ۲۷ انځور) ................................................................................. ٤٨

۲۸:- مملوک- نېکمرغه- مصرۍ – د محمد رسول الله مصرۍ ( # ۲۸ انځور) ......................................................................................... ٤٨

۲۹:- توره - املاش- دودیزه – زر مخزېږدي کالنه ( # ۲۹ انځور) ............. ٤٨

۳۰:- مې سینین- ډاګېر- د ځمریانو د ښکار مصرۍ ( # ۳۰ انځور) ............. ٤٨

۳۱:- د محمد رسول الله مصرۍ # ۳۱ انځور) ........................................ ٤٨

۳۲:- د لیکانې یا کلم په بڼه ځو خورې مصرۍ . ( # ۳۲ انځور) ................ ٤٨

۳۳:- د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو، د رنګونو ښکاروندي جدول څخه ګټه پورته کولو، د رنګونو د ټاکلو کړنلارې انځور. * زه څو سکرینو څخه په یوه محال ګټنې اخلم، زما د کمپیوټر د ښېښې انځور. ( # ۳۳ انځور) ............................................................................ ٦۷

۳٤:-ګل باچا الفت د پښتو سندرې کتاب چې ۱۳۲۵ لېږدي (۱۹۴۶ زېږدي)، ۱۱۲ چوپړي انځور.* ما یې انځور باستلی دی، د پخښتۍ یې سورڅکی تت سور رنګ لري. ( # ۳۴ انځور) ......................................... ۱۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۵:-ګل باچا الفت د پښتو سندرې کتاب چې ۱۳۲۵ لېږدي (۱۹۴۶ زېږدي)، ۱۱۸ چوپړي انځور. د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۲ ده، ۱۱۶ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې سره ګډې ټولې شوې دي. * ما یې انځور باستلی دی، له A٤ یې د چوپړو (مخونو) جوسه لږ اوړد دی. ( # ۳۵ انځور) ........................................................ ۱۰٦

۳٦:- محمد دین ژواک د پښتنې سندرې لومړۍ برخه ۱۳۳۴ لېږدی ج چوپړي انځور. د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۴ ده او سریل ګڼه یې ۱۲۵۹۴ ده، پرله پسې نمبر د پښتو ټولنې ۱۱۵ ده، چې ټولې په کې ۷۳۰۰ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې سره ګډې ټولې شوې دي. چې ۱۳ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې په ننتوزې کې صدیق الله رښتین سره ګډې په کې کښلې دي. * ما یې انځور باستلی دی، له A٤ یې د چوپړو (مخونو) جوسه لږ اوړد دی. ( # ۳٦ انځور) ................ ۱۲۰

**لومړي ټوک د څېړو لړلیک:.**

۵. ۱ څېره ۱. الف په وار، وار ( د هرو۱۰٬۰۰۰الیکل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵لېږدیز لمریز کال ............................................ ۱٤

۵. ۲ څېره ۱. ب په وار، وار ( د هرو۱۰٬۰۰۰ویل شوي شعرونو)، ۱۳۹۵لېږدیز لمریز کال ............................................ ۱٤

۱۰. ۳ روښنایۍ یا رڼا د لنډې څپې او اوږدې څپې ترمنځ د رنګونو څرنګوالی ............................................................... ۵۷

۱۰. ٤ څېره ۱. ۲. ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)،۱۳۹۵لېږدیز لمریز کال .................................. ٦٦

۱٤. ۵ څېره ۱. ۳ الف زما د کتاب څلېر کې د ددو دود څخه زما د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصرعیو کچې، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه یې په: داني) ........................................................... ۹۵

۱٤. ٦ څېره ۱. ۳ ب زما په نیمکیو او زما په ایزو کې د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصرعیو کچې، ۲۰۰۷ - ۰۱- ۱۶ ( ګڼه یې په: داني)..... ۹۵

۱٤. ۷ څېره ۱. ۳ ټ له دې ټولو ۱۱راډیوګانو څخه د پښتو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ د دوی پر څپو په ورځ کې یوه خپرېږي. ............ ۱۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړي ټوک د لښتيليکو ( جدولونو ) لړليک:.**


۱۴. ۱ لښتيليک ځېره ۱. ۳ پ. ,, ځلېر کې د ددو دود،، زما په ليکي کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۶ - ۱۷ ( ګنه يې په: دانې) .................... ۹۶

۱۴. ۲ لښتيليک:. ځېره ۱. ۳ ت. زما اېزو کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۲۰۰۶ – ۱۷ ( ګنه يې په: دانې) ....................................................... ۹۶

۱۵. ۳ لښتيليک:. ځېره ۲. الف ګل پاچا الفت ,, پښتو سندرې ،، ليکي کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۱۳۲۵ لېږدی (۱۹۴۶ زېږدی)، ( ګنه يې په: دانې) ....................................................... ۱۱۹

۱۵. ٤ لښتيليک:. ځېره ۲. ب محمد دين ژواک ,, پښتنې سندرې ،، لومړی برخه ليکی، په ننتوزې د ج چوپړي کې د صديق الله رښتين د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۱۳۳۴ لېږدی، ( ګنه يې په: دانې) ....................................................... ۱۲۳

۱۵. ٥ لښتيليک:. ځېره ۲. ب – ۱ پښتو ټولنه ,, پښتو ځېړنې ،، د پوهاند صديق الله رښتين په اوومه ګڼه مقاله پښتو پېژندنه کې، ۵۰ چوپړي، کې د صديق الله رښتين د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۱۳۵۴ لېږدی، ( ګنه يې په: دانې) ................ ۱۲٤

۱۵. ٦ لښتيليک:. ځېره ۲. پ پښتو ټولنه ,, پښتو ځېړنې ،، د پوهاند دوکتور سيد بهاء الدين مجروح په مقاله لنډۍ يو کې د پښتنې مېرمنې يوه خاصه ځېره، ۱۴۶ چوپړي، کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۱۳۵۴ لېږدی، ( ګنه يې په: دانې) ................ ۱۲۸

۱۵. ۷ لښتيليک:. ځېره ۲. ت پښتو ټولنه ,, پښتو ځېړنې ،، د سليمان لايق په مقاله لنډۍ سرليک او په لنډۍ يو کې د تغير او بدلون پروسه، ځلورم او پينځه دېرشتم چوپړي کې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو کچې، ۱۳۶۱ لېږدی، ( ګنه يې په: دانې) ................ ۱٤٥

۱۵. ۸ لښتيليک:. ځېره ۲. ت – ۱ قلم ټولنه ,, چې لايق په لنډۍ يو باندې کنفرانس ورکوي ،، د بازمحمد عابد ثبت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښلی متن، ۱۳۸۷ لیږدی، ټول چوپړي، کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۶۱ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ................ ۱۵۸

۱۵. ۹ لښتیلیک:. څېره ۲. ټ ,, د پښتو شعر څمککچپوهنې (هندسې) جوړښت ،، محمد محمد اسمعیل یون، ۷ او ۱۳۸ چوپړي، کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۷۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې).................................................. ۱۶۱

۱۵. ۱۰ لښتیلیک:. څېره ۲. ج ,, د پښتو د ولسي ادب لارې ،، څېړنوال دوست محمد دوست شینواری، لنډۍ سرلیک کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ................ ۱۶۵

۱۵. ۱۱ لښتیلیک:. څېره ۲. چ جانان ,, پښتو لنډۍیو کې محرومیت ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۵ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ........ ۱۷۰

۱۵. ۱۲ لښتیلیک:. څېره ۲. ځ ,, د پښتو اولسي شاعري کې د ټپې اهمیت ،، فیاض علي شاه اخونزاده ، لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۶ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې) .................................. ۱۷۵

۱۵. ۱۳ لښتیلیک:. څېره ۲. خ محمد حامد حلیمي,, لنډۍ د ګلونو په سمندر کې ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۶ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)..................................................... ۱۸٤

۱۵. ۱٤ لښتیلیک:. څېره ۲. خ ولایت خان ځدراڼ ,, د پښتو لنډۍیو په اړه یوه څو خبرې،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۷ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې)...................................... ۱۹۰

۱۵. ۱۵ لښتیلیک:. څېره ۲. د آلمان ږغ رادیو ,, په پښتو کې لنډۍ څه ته وایي؟ ،، حبیب الله رفیع د مرکې کښلی متن، لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لیږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ................ ۱۹٤

۱۵. ۱٦ لښتیلیک:. څېره ۲. د – ۱ حبیب الله رفیع د هارون حکیمي د مرکې د پوښتنو ځوابونو کې ,, د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسوي ،، په دې لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ................ ۲۰٤
۱۵. ۱۷ لښتیلیک:. څېره ۲. ډ محمود نظري ,, په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ..................................................... ۲۱۰
۱۵. ۱۸ لښتیلیک:. څېره ۲. ر سرباز خان ,, پښتو ادب کې د ټپې یا لنډۍ مقام ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۸۹ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ..................................................... ۲۲۲
۱۵. ۱۹ لښتیلیک:. څېره ۲. ړ پوهنمل سرفراز مومند څخه ,, د ډیپلوم اېنجینېر عبدالکادر مسعود غوښتنه ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کچې، ۱۳۹۱ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ........ ۲۲۵
۱۵. ۲۰ لښتیلیک:. څېره ۲. ز پوهندوی لال پاچا ازمون ,, د لنډۍ او دوبیتي پرتله! ،، کړې. ما ځنې لنډۍ او د پر ترښتی ځنې راخېستې، دوبیتې او تله یې پاتې په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرو کچې،۱۳۹۴ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) ......... ۲۳۵
۱۵. ۲۱ لښتیلیک:. څېره ۲. ژ عبدالباري جهاني ,, یوه ځل بیا د لنډۍیو په باره کې ،، په دې لیکنه کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرو کچې، ۱۳۹۵ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې) .......................................... ۲۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۷. د کره ليکنې پښتو په پښتو تشريحي وييکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سته په لاندې لښتيليک کې کښل شوي:

**بېلګې:-**

**وی د ابېڅې په سته مانا، د چوپړي ګڼه له ټکی لرونکې کامې او ټکي نه ورسته په شمېر باندې ښودل شوي.**

**۱. اې (ا، الف)**

ابا: پلار، د مور خاوند، د مور څښتن، د مور ساتونکی، د مور مېړه، والد.؛. ۷۳ چوپړي کې (پاڼه کې ، مخ کې ، صفحه کې، مخګڼه کې) شتون لري.

ابېڅه: يوه توری، يوه حروف، ښځېنه لړ نوم دی يا مفرده ښځېنه وی ده. لکه:. ا (اې)، ب (بې)، ت (تې). ؛. ۷۶

ابېڅې: ډېر نوم د تورو دی ښځېنه وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې.
لکه:. زموږ د پښتو ژبې ۷۶ ابېڅې:
الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و (اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (ښواک واو)، ه، زورواله هې(ه يا ــه)، زورکۍ هې(ه يا ــه)، ې، ي، ی، ۍ، ئ ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق
دوديز: ا؛ غږېز(فونوميک): a؛ نوم: اې (اه، زور)؛ بېلګه: اره، اړ؛ غږېزليک ará, aṛ.
؛. ۳، ۱۰، ۲۲، ۳۱، ۳۸، ۴۹، ۶۳، ۶۷، ۱۰۱، ۲۵۹، ۲۶۳ او ۲۶۶ چوپړو کې شتون لري ( او ۲۸ وارې نور په بېلا بېلو چوپړو کې راغلی دی).

ابېڅی: يوه توری، يوه حروف، نر لړ نوم دی يا مفرده نر ويکی دی. ا (اې)، ب (بې) ت (تې). ؛ ۷۳، ۷۴، ۷۵، ۸۱، ۲۷۳ او ۲۷۸ چوپړو کې راغلی دی.

ابېڅي ډېر نوم د تورو دی نر وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې.
لکه:. زموږ د پښتو ژبې ٤۹ ابېڅې:
الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و (اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (ښواک واو)، ه، زورواله هې(ه يا ــه)، زورکۍ هې(ه يا ــه)، ې، ي، ی، ۍ، ئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق ). ؛ ۲۷۳

اخته: مشغول. ؛. ۱۲۵ او ۲۵۳

ارو: راګ دی: سا دې دې ګې دې ما نا دې په دې ګې ما پا نې سا. ؛.۲۶۰

اشنا: ملګری، دوست، انډيوال. ؛. ۹، ۲۲ او ۲۴۸ (ټول ټال۴۶ وارې نور)

انکړ: اکر، حالت او وضع ( بد انکړ) ؛. ۲۶۰

اوب: اوبدل يا ( بافت) . ؛. ۷۶

اوړدپېړی: اوږد پړاوی. ؛. ۶

اوړدمنګی: اوږد عمری. ؛. ۶

اېنجينېر: يوه فرانسوي وی ده. هغه څوک چې طبيعت په خبرو راولي، د طبيعت ژبه ده چې زي روح شيان په خبرو راولي،برداښت، طاقت، ظرفيت، ځرګند والي او ځانګړنې يې معلوموي. او په اصطلاح کې هغه متخصص ته وايي چې د يو شي په باره کې په زهن کې پلان جوړوي او بيا يې د خطونو په واسطې سره ترسيم او تياره وي. ؛. ۲، ۳، ۱۰ او ۲۸۷، ټول ۲۱ واري راغلی دی.

## ۲. آ

آر: اصل. ؛. ۶

آړوتی: شرطی. ؛. ۶

آند: فکر، نظر ، اند. ؛.۶

## ۳. بې ( ب)

بوړ: راټول. ؛. ۲۶۰

بوړولي: راټول کړي، راټولولي. ؛. ۲۶۰

بوړم: راټولوم. ؛. ۲۱، ۳۰، ۳۷، ۴۷، ۷۶، ۲۵۳ او ۲۵۴

بوړوم: راټولوم. ؛. ۳۵، ۹۳ او ۱۰۵

بولن: معقول، بولنې ( معقولې). ؛. ۲۶۰

بيديا: ټټنګ، بيابان، دښته، صحراء. ؛. ۲۶۹

بېلګه: نمونه، ورته بڼه، مثال. ؛. ۴، ۱۲، ۱۳، ... . او ۱۷۹ (۱۴ وارې نور په بېلابېلو چوپړو کې راغلی دی)

## ٤. پې (پ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پار: ساعت، وار. ؛. ۲۶۱
پړ: چپه، نسکور، ژیړمخی، زیړمخی، ملامت. ؛. ۲۶۱
پښت: نسل . ؛. ۴۶
پښپله: قافیه ؛. ۷۰، ۷۳ او ۲۷۴
پلوه: اړخه. ؛. ۲۱، ۲۲۴ او ټول ټال ۱۹ داني نور شتون لري.
پوړ: منزل. ؛. ۴۵، ۷۸، ۹۴ او ۱۵۳
پیداینت: زوکړه. ؛. ۳۸ او ۲۷۰
پینۍ: کائینات. ؛. ۲۶۱
پیبله: اشلوک، شېر، شعر، (نظم). ؛. ۲۵ او ۳۱
پیبېړن: پیبله، اشلوک، شېر، شعر، (نظم). ؛. ۲۵ او ۳۱

**۵. تې (ت)**

توکي: مواد. ؛. ۹، ۲۲، ... . ( ټول ټال ۱۸ وارې نور)
تور: په پړتیا تورن، ملامتیا. ؛. ۲۶۱

**۶. ټې (ټ)**

ټپه: د وۍ یا ویکیي له پامه ( په لغات کې) ټپه هغه دوې سرې پیبلې ( پیبېړن، اشلوک، شېر یا شعر) ته وایي چې د ټپ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوړ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډک شېر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ،، ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پیژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پیداینت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکي بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټپې د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. (دفتنګونه د ټپې توکي دي لکه: وۍ، او، نو وۍ!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وۍ!، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، وروره، یه الکه، یه پښتونه، یه کربانه، کنه او داسې نور... .)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښېلې  يا قافيې کلمې يا غونډلې نه لري. خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټپه  بايد د ه ( زموږ خپله ,,ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ،  دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي، ټپه د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

په نورو ژبو کې د دې ډول پېيله  (البته په همدې وزن او اهنګ) ځرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټپې په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرټولو ټپو، باندې يوه رښت (دودی يا قانون) د تطبيق وړ دی، ياني داچې د هرې ټپې لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ ځپې وي له دفتنګونو پرته.
د هرې ټپې، د لومړۍ ځلورمه او اتهمه ځپه؛ د دوېيمې مسرې ځلورمه اتهمه او دولسمه ځپه، خجنه وي؛ ډېرې وخت په کې کومه ځپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم ځپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۷، ۲۶، ... . ۲۵۵ ( ټول ټال ۹۵ وارې نور)

ټپې: ټپه يې يوون نوم دی، يا مفرده وۍ يې ټپه ده او ټپه ډېرنوم ټپو (نارينه وۍ) او ټپې (ښځېنه وۍ) کېږي. ؛. ۷، ۸، ۱۰ ... . ۲۸۳ ( ټول ټال ۱۷۵ وارې نور)

ټپه ايزې ( ټپيزې): د وۍ يا ويکيي له پامه ټپه ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې درو ټپو سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، ځخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړې دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکي بڼې) يې پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ ټپه ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره!، وۍ اه!، دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د ټپه ایزې ( ټپیزې) توکي دي، چې لکه هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلمې یا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړۍ، دوېیمې او درېیمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره لنډۍ ایزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هي ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، ټپه ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

او درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې ټپه ایزې، د لومړۍ او دوېیمې مسرې ځلورمه او اتهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څپه او د درېمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي. له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سيمه کې بېلوالی لري. په بله وينا لنډۍ ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالې سره سره پر يوه نازورنه څپه يا يوې خوږ غږې يا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې څپې خوږ غږي د ټپه ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالي ترڅنګه د ټپيزې يوه بل رغنده ټوک ګنل کېږي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پيلې په ټوګه يې يوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پايني ټوکونه په يوه پير کې له دغو درېواړو څپو څخه هره يوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې زورنې څپې له يوه څه اغيز سره ټپه ايزې ته يوه خوږ غږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه څپه هم ايوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول يې ترنګټوک يا ترنمي توک کېدای شي. غوره ستېه د ترنګټوک په پاينۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ څپې ولري، د ديفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پيپلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پينځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هايکويۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېليزۍ، ناپيپلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پيپلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بڼه له درې مسرو څخه رغښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درېږ غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګټلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د دې له پاره زما ځېړنه دا سپینې ته را اوباسې چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره ټپه ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرې پېیله له درو سره ټپ یا درو سره زخم یا درې زخمه یا درې ټپه، درو سره ټپه ایزې، څلور سره ټپ له څلور سره ټپه ایزې سره، پېنځه سره ټپ له پېنځه سره ټپه ایزې سره، شپږ سره ټپ له شپږ سره ټپه ایزې سره، اووه سره ټپ له اووه سره ټپه ایزې سره، اته سره ټپ له اته سره ټپه ایزې سره، نهه سره ټپ له نهه سره ټپه ایزې سره او لس سره ټپ له لس سره ټپه ایزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. ؛. ۲۶۲، ۶۶۶ ټول ټال ۱۴ نور.

ټول: واړه، درست . ؛. ۱۷

ټېټه: سویي لوړې، کوزې، لاندې. ؛. ۲۶۵

ټیکۍ: د وۍ له پامه ټیکۍ هغه دوې سرې پېیلې ته وایي چې د ټیک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګټلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټیکۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د ټیکۍ توکي دي لکه: وۍ، او، نو وۍ!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، وروره!، يه پښتونه!، يه کربانه، کنه ... .)، د پښبلي (قافيي) کلمې يا غونډلي نه لري. خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټيکۍ بايد د ه ( زموږ خپله ,,ه،، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېځې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي. ټيکۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېيله ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټيکۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرټولو ټيکۍيو، باندې يوه ربښت د تطبيق وړ دی، يانې داچې د هرې ټيکۍ لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې ټيکۍ د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېيمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي. له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۳۸ چوپړی او ۲۳۲ وارې نور راغلی دی

ټيکۍيو: ټيکۍ يې يکړه وی ( يوون ويکی يا مفرد لغات ) دی يا د ټيکۍ ډېر نوم دی. ؛. ۲، ۶، ۲۶۶... . (۷۳ وارې نور راغلی دی)

ټيکۍ ايزې ( ټيکيزې): د وی يا ويکيي له پامه ټيکۍ ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې د څو سره ټيک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلیډ (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ ټیکۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلي یا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوړ.وي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږ.ونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ. لومړی ټوک یوه خپلواک او دوهیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ،غبرګغږ.ونه، ناتړوییکي، تړوییکي، سترېل، اوسترېل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د ټپه ایزې ( ټپیزې) توکي دي، چې لکه هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډیرای وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلمې یا غونډلي لړې لري. خو ډېری وخت د لومړۍ، دوهیمې درېیمې، څلورمې او پېنځمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره ټیکۍ ایزه باید د ه ( زموږ. خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږ.ن اواز پایته رسېدلې وي، لنډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.
او د لومړۍ ټیکۍ ایزې څلورمه او د دوېیمې ټیکۍ ایزې پېنځمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې ټیکۍ ایزې، د لومړۍ او دوېیمې ( د پورتنۍ څلور سرې مسرې درېیمه، او د پېنځه سرې مسرې څلورمه) مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د درېمې مسرې ( پاینۍ مسرې،) څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي. له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا ټیکۍ ایزې مېچې د ځپیزه او خجیزه ټولوالې سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې او څلوېښتمه (د پېنځه سره ټیکۍ ایزې یې نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې ) څپې خوږغږي د ټیکۍ ایزې مېچې د ځپیزه او خجیزه ټولوالې ترڅنګه د ټیکیزې یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسقۍ پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکونه په یوه پیر کې له دغو دربواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې او څلوېښتمه
(د پېنځه سره ټیکۍ ایزې یې نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې ) زورنې څپې له یوه څه اغېز سره ټیکۍ ایزې ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کېدای شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګر**
ځېړنـــــــچوپړي ( ریســـــــــرچ پانې)

په ټوله کې غوره ایزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ ځپې ولري، د ډیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې ځپېزۍ، څلور ځپېزۍ، پېنځه ځپېزۍ، شپږ ځپېزۍ، اووه ځپېزۍ، اته ځپېزۍ، نهه ځپېزۍ، لس ځپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرۍ بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره.
نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رڼ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د ټیکۍ ایزې د ځپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لري ۳۱ ځپېزې وي، څلور سره ټیکۍ ایزې ۴۰ ځپېزې وي، پېنځه سره ټیکۍ ایزې ۴۹ ځپېزې وي، شپږ سره ټیکۍ ایزې ۵۸ ځپېزې وي، اووه سرې ټیکۍ ایزې ٦۷ ځپېزې، اته سره ټیکۍ ایزې ۷٦ ځپېزې وي، او نهه سرې ټیکۍ ایزې یې ۸۵ ځپېزې وي او لس سره ټیکۍ ایزې ۹۴ ځپېزې وي. چې تر ټولو غوره یې څلور سره ټیکۍ ایزې ۴۰ ځپېزې رانښلولې لړۍ لري او څلور دانې وویل شي. خوند رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکارونډو په ستېه ولاړ راځي، ډېرې ښې یې اته سره ټیکۍ ایزې ۷٦ ځپېزې وي چې دوې دانې وویل شي، ښې به بیا درې سرې ټیکۍ ایزې دې اته دانې یا دولس وویل شي، لږې ښې بیا پېنځه سره ټیکۍ ایزې یا پېنځیزونې ټیکۍ ایزې دي چې پېنځه دانې وویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره ټیکۍ ایزو سره خوا په خوا ځای نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره زما ځېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې يوه څو سره پېيله د څو سره ټيکی ايزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو څلور او پينځه سره پېيله له څلور سره او پينځه سره ايز ټيک، پينځه سره رټ رمټ ايز يا پينځه سره سم برابر ايز او ايزې سره تشبع کوم، چې ورته ټيکی ايزه وايي، په دغه ډول ځېړې لري، درې سره ټيکی ايزې، څلور سره ټيکی ايزې، پينځه سره ټيکی ايزې، شپږ سره ټيکی ايزې، اووه سره ټيکی ايزې، اته سره ټيکی ايزې، نهه سره ټيکی ايزې او لس سره ټيکی ايزې... . په بڼه مندل کيږي. د ټولو پام د ناوې ناويتوب درناوې ته چې په همغه شپبو او چارپېريال کې ويل کيږي نوموم يې. ټولې ځنګېرنې يې د بنادئ د دې شپبو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي سم برابر، يوازې د ناوې ستاينه په کې کوي همدغه چارپېريال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. ۶. ۲۶۷ او ۲۶۹

## ۷. چې (ج)

جانان: زما ريضائي نوم دی، زما ريضايي مور را باندې جانان نوم ايښی و، په دغه نوم به يې نومولم ، ۲:) لالی، معشوق، حبيب، محبوب. ۶. ۹، ۲۵۷ او ۵۴ وارې نور.

جرګه: د پښتنو دود مجلس چې هلته فيصله کيږي. ۶. ۱۰۳، ۱۵۲ او ۲۸۳

جغات: کوشش، ربړ، زيار، زحمت . ۶. ۱۲ او ۲۷۸

جګړې: جمع وی ده جنګونه، مفرده وييکي يې جګړه. ۶.۱۵، ۱۶، ۲۵، ۴۴ او ۱۲۱

جنبان: لړزنده، لړزيدونکی. ۶. ۲۷۰

## ۸. چې (چ)

چوپړي: چوپړی يا مخ، پاڼه ، ورقه، صفحه يې يکړ وی ده، لکه د کتاب او داسې نورو چوپړی. ۶. ۲، ۹، ... . ۲۸۸ او ۳۸ واري نور ټول ټال کښل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۹. ځې (ځ)

ځاځ: غصه، قهر. ؛. ۲۴۹
ځانګړې: خاصه . ؛. ۵، ۷، ۲۸۲ او ۳۸ وارې نور.
ځانمني: کړجنی، مغرور . ؛. ۲۷۱
ځغ غویانو په اوږو یې ږدې، سپاره تړ، موټې، پال، تیر، رسی، ځونډي او غویه کنټرول وي ؛. ۲۷۱

### ۱۰. څې (څ)

څارل: تعقیبول . ؛. ۱۱
څپېزو: څپه ییزو. ؛. ۲۷۱
څڅبېکی: ګړندی، چټک، تیز، ژر،رټ، بیړه. جمع وی یې څڅبېکي ؛. ۲۷۱
څلبر: د بېدیا تالاو، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د سارا حوض، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د ښتې ډنډ، په دشته کی ډنډ په ټیټنګ کې ډنډ په بیدیا کې تالاو، جوور، ترېلی، اوډ . ؛. ۷۶، ۹۵، ۹۶، ۱۰۳، ۲۵۵، ۲۵۶ او ۲۸۸
څورلېڅ: څورلېڅی، چورلېڅ، لټ، محور. ؛. ۲۷۱

### ۱۱. خې (خ)

خولکۍ: وړه خوله، کوچنۍ خوله، مچو، مچې، مچکه، چپو، خولګوټی. ؛. ۱۰۱، ۱۰۸، ۱۰۹... . او نور ۱۷ ټول ټال راغلی

### ۱۲. دې (د)

دا په دا: په دې سبب، په دې وجه، په دې خاطر. ؛. ۲۷۱
دانې: ګنه. ؛. ۲، ۴، ۹ او ۲۸۱ ( ټول ټال ۹۰ واري نور.)
دد: ځناور، ځیرونکی ځاروی، ځیرونکی ژوی، وحشي حیوان. ؛. ۷۶
ددو: د دد جمع ده، ځناورو، ځیرونکي ځاروي، ځیرونکي ژوي، وحشي حیوانات . ؛. ۹۵، ۹۶، ۲۵۵، ۲۵۶ او ۲۸۸
درناوې: د درناوی یې مفرده وی ده، احترام، قدر کول، ځیګی، ځیګتوب. ؛. ۲۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دود: دستور، د ژوند تګلاره، رواج . ؛.۴۴، ۴۹ او ۴۹ وارې په نور په نورو چوپړو کې شتون لري.

دوې ګرایه: دوې هومره، دوې چنده. ؛. ۲۷۱

**۱۳. ډې (ډ)**

ډاډ: مطمعین، باوري . ؛.۱۹۱، ۱۹۲

**۱٤. رې (ر)**

رپ: ثانیې ۱۰۰ برخه. ؛. ۲۶۴، ۲۶۵، ۲۷۷ او ۲۸۱

رټ: تیز، ګړندی، څڅبېکی . زړور، په زړه ببر، تکړه سر تېره: بې باکه: څرګنکد، بر جسته، وتلی ؛. ۵۱، ۲۶۵، ۲۶۹، ۲۷۰، ۲۷۱ او ۲۸۱

رټۍ: تیزپېغله، ګړندۍ پېغله، څڅبېکې پېغله. ؛. ۲۷۲

رغاوه: صنعت. ؛. ۲۷۲

**۱۵. ړې (ړ)**

**۱٦. زې (ز)**

زده کړه: تحصیل. ؛. ۱۲، ۲۶، ۸۱، ۱۵۷ او ۲۴۲

زرغون: شین ، سمسور، زراع، شنه. ؛. ۱۷۶

زوکړه: پیدایښت ؛. ۲۶، ۲۷، ۳۶، ۴۶، ۱۰۵، ۱۶۱، ۱۶۴، ۲۶۹، ۲۷۵، ۲۷۷ او ۲۸۱

**۱۷. ژې (ژ)**

ژبپانګه: وییپانګه، وییزېرمه، ویکبلري، ډیکشنري، (ذخیره زبان . ؛. ۲۷۲

ژاپن: جاپان . ؛. ۲۷۲

ژمنه: وعده. ؛. ۱۹۲

ژۍ: غاړه، کناره، جۍ، پیڅه، څنډه، ۲) ژی: د اوبو مشک، ۳) ژې: د پښتو الفاباء لیکل شوی او کاپي شوی ۲۰ حروف، ۲۰ حوف . ؛. ۴۲

**۱۸. ږې (ږ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږغرل: د زړه په غوږو او ریدل، د زړه له کومې اوریدنه . ؛. ۲۷۲

**۱۹. سې (س)**

ستو: کوشنۍ قطره. ؛. ۲۷۳
ساز: برابر، ورته، مساوي، هم شکله، یوه بڼه. ؛. ۹۰، ۱۵۳، ۱۷۷ او ۱۸۹
سکالو: موضع، مضمون، مطلب، مسله. ؛. ۶، ۷، ۱۰، ۱۳، ۲۲، ۳۱، ۳۸، ۴۹، ۲۶۴، ۲۶۹، ۲۷۷، ۲۸۰ او ۱۸۶
سول: عقل. ؛. ۵۹

**۲۰. شې (ش)**

شتۍ: تیر، سوفار، خدنګ. ؛. ۲۷۳

**۲۱. ښې (ښ)**

ښکالو: د پخښو غړ. ؛. ۲۷۳
ښکالوه: سرخج، بحث، مباحثې. ؛. ۲۷۳

**۲۲. غې (غ)**

غړیالي: ړوب، عضلاتي، تنومند. ؛. ۲۷۳
غورځاوڼ: د یوې ډلې غړی. ؛. ۲۷۳
غوندې: ورته؛. ۱۵، ۴۵، ۴۹، ۵۲، ۵۹، ۶۰، ۷۷، ۹۵، ۱۵۳ او ۲۴۲

**۲۳. کې (ک)**

کټ مټ: یوه شان، ورته، هم شکل. ؛. ۱۱، ۱۸۴(ټول ټال ۱۸ وارې نور)
کړۍ: حلقه، دایره . ؛. ۳۵، ۷۲
کلام: ویناوې، خبرې . ؛. ۱۶۶
کلام: خبره، وینا. ؛. ۲۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم اصل: بې نسبه، سوی اصیل، ډم، ناین، جولا، نداف، قوال، بازینګر، نڅی. ؛. ۱۳۵، ۱۶۳ او ۱۷۹

کوکۍ: ډولیوزې، شا وزرې، ( پکه بي بي، شاه پرک) ۲. مشره خور ؛. ۲۷۳

**۲٤. ګې (ګ)**

ګر: ظلم، ستم. ؛. ۱۷۲

ګس: کین، چپ. ؛. ۳۷

ګوټپېر: ګوټلید، زاویه دید. ؛. ۲۷۴

**۲۵. لې (ل)**

لالا: ستر ورور، ستر اوښی، ستر کاکا، مشری ورور، خوږ مشر. ؛. ۷۶ او ۱۰۱

لالیه: پر مېرمنې چې خپل خاوند ډېر ګران وې نو په لالیه یې رابولي. شرین، خوږ، شات. ؛. ۱۱۱، ۱۶۲، ۱۸۵ او ۲۷۴

لرلید: دوربین . ؛. ۲۸۲

لرلید: ورستۍ ګنه، راتلونکي بڼه . ؛. ۲۲، ۳۱ ،۳۸، ۴۹، ۲۶۱، ۲۶۵، ۲۶۶ ۲۷۵ او ۲۷۸

لرې ویشتونکی: لېندوک، سنیپر، لرېویشتونکی ټوپک، لېندوک باندې تارول (یوه ډول مرغه) په غلچکي ډول وېشتل، خپل ښکار په پټ او لرې ځایه وېشتل، له لرې او پټ ځایه وېشتل، یوړ یو وېشتل. ؛. ۲۷۴

لړ: لړ (ردیف) داسې تعریف کوو چې هغه غونډلې، وییکي ( ویوکي یا وۍ) او ابېڅې چې په ټول او تله برابر یا مقفي شعر په پای کې د ټولو قافیه والو مسرو په یوه بڼه او یوه مانا تکرار راځي ورته ردیف وایو.
تر ټولو ډېرې پېیلې (پیرانو، شېرونو، شعرونه یا اشلوک) د پښتو ژبې د ، ه ، ابېڅې باندې پښېله (قافیبه) او لړ (ردیف) شوي دي. که د ، ه ، ابېڅې د هرې وییکي له بېل بېل ابېڅې و منو نو د ، ه ، ابېڅی په کې لړ (ردیف) راځي. لکه وینه، دینه، شینه، ځینه، بینه په د غو وییې پښېلې کې د ، ه ، ابېڅې لړ ده. یا قافیي دې چې د ه ردیف لري. ۷۳، ۲۷۴ ... . (ټول ټال ۴۰ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړی: پروسه . ؟. ۴۴، ۱۴۱، ۱۸۶، ۲۱۲، ۱۶۹ او ۲۸۱

لغمانی: هغه کس چې په لغمان سیمه کې زوکړه شوی وي، هغه تن چې په لغمان سیمه کې پیدا شوی وي، د نوموړې سیمې ژوند ګړ. ؟. ۵۱، ۸۳، ۸۴، ۲۶۳، ۲۶۴، ۲۷۸

لمپاکا: د لغمان ولایت پخوانی نوم دی. ؟. ۸۳

لنډون: مخففات، چې د اصلي کلمو پر ځای یې د سر، پیل ابېڅی یا د پیل پېژند ابېڅي راځي. لکه: ت. و ( تخنیکي وی)، ا. غ ,, و. غ ،، ( اقتصادي غونډله یا وټیزه غونډله)، ابنج ( انجینېر)، س ( ساینسي)، ک ( کیمیا)، ر ( ریاضي)، ح ( حساب)، ا.ا.ج ( افغانستان اسلامي جمهوریت).. . ؟. ۱۵۰ او ۲۸۴

لنډی: په لغات کې لنډی هغه دوې سرې شعر ته وایي چې د لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډک شعر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

لنډی د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د لنډی توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، ګرانه، وروره، یه کربانه! کنه او داسې نور) د قافیې کلمې یا غونډلې نه لري.
خو د دوبیمي مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړ وي. هره لنډی باید د ه ( زموږ خپله ,,ه،، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه،، وایو) چې د پښتو ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



،نهويشتم, ګڼه ابېځې ده. په واول يا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرتولو لنډۍيو، باندې يوه ربښت (قانون) د تطبيق وړ دی، يانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته او دوېيمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې لنډۍ، د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېيمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۲۳ او ۲۷۶. ( ټول ټال ۱۱۲۲ وارې په دې کښلې کې راغلی دی.)

لنډۍيو لنډۍ يې يوون ( يکړ يا مفرده ) وۍ ده، د لنډۍ ډېرنو يا جمع وۍ يا لغات لنډۍيو کېږي. ؛. ۲۳ او ۲۷۶. ( ټول ټال ۴۲۷ وارې په دې کښلې کې راغلی دی.)

لنډۍ ايزې: د وۍ يا ويکيي له پامه لنډۍ ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې د لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړې دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (پلجياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ لنډۍ ايزې د مسرو شمېر يې ۳، د څپو شمېر يې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته دی. ( دفتنګونه , اليده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې يا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، يې لا خوږ وي، په بله مانا ديفتنګونه , غبرګغږونه يا واکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکب، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ. لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ئ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وئ!، وئ، او، نو وئ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وئ!!، وا وئ، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د لنډۍ ایزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېروالی راولي.

د پښېلي کلمې یا غونډلې لړې لري. خوډېری وخت د لومړۍ، دوېیمې او درېیمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړ وي. هره لنډۍ ایزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ،هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، لنډۍ ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې لنډۍ ایزې، د لومړۍ او دوېیمې مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د درېمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا لنډۍ ایزې مېچې د څپیزه او خجیزه ټولوالي سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرشتمې ځپې خوړغړي د لنډۍ ايزې مېچې د ځپيزه او خجيزه ټولوالې ترځنګه د لنډۍ ايزې يوه بل رغنده توک ګڼل کيږي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پيېلې په توګه يې يوه ځپه کمېږي او له موسقي پلوه خوړ غړ له لاسه ورکوي. دغه پاينې توکون په يوه پير کې له دغو درېواړو ځپو څخه هره يوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې زورنې ځپې له يوه څه اغېز سره لنډۍ ايزې ته يوه خوړغړي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه ځپه هم ايوفوني (euphony) بلل کيږي چې پښتو انډول يې ترنګتوک يا ترنمي توک کېدای شي. غوره سته د ترنګتوک په پاينۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ ځپې ولري، د ډيفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پيېلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې ځپېزۍ، څلور ځپېزۍ، پينځه ځپېزۍ، شپږ ځپېزۍ، اووه ځپېزۍ، اته ځپېزۍ، نهه ځپېزۍ، لس ځپېزۍ، هايکويۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې ټولۍ، ټولونجۍ، نا پښېليزۍ، ناپيېلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پيېلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالي ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرای بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ايزه وينا او يادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی يا ګړندی فرق يې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره زما ځېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه ځو سره پېیله د ځو سره لنډۍ ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرې پېیله له درې سرې لټکي یا درې سرې لنډۍ ایزې، څلور سره لټکي له څلور سره لنډۍ ایزې سره، پېنځه سرې لټکي له پېنځه سرې لنډۍ ایزې سره، شپږ سره لټکي له شپږ سره لنډۍ ایزې سره، اووه سرې لټکي له اووه سرې لنډۍ ایزې سره، اته سرې لټکي له اته سرې لنډۍ ایزې سره، نهه سرې لټکي له نهه سرې لنډۍ ایزې سره او لس سره لټکي له لس سره لنډۍ ایزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. ؛. ۲۶۴، ۲۶۷، ۲۷۷ او ۲۷۶.

لوبغالې: لوبغاله یې مفرده وی ده، سټېډیوم، د لوبې میدان . ؛. ۲۸۴
لوري: سمتونو، طرفونو، له اړنه، د لوری یې مفرده وی ده. ؛. ۲۱، ۳۷، ۶۷ وا ۲۵۳ ( ټول ټال ۴۶ وارې نور راغلی دی)
لېیلي: هڅولي، جغات ورکولي، تشویق کولي. ؛. ۱۲۷

## ۲۶. مې (م)

مانیز: معنایي، معنوي. ؛. ۱۵۹
مسره: د پېیلې نیمه کړی، نیم بند یا نیم بیت ته مسره وایي چې یوه لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصری دوې مسرې لري. ؛. (ټول ټال ۷۲وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)
مسرې مسره یې یوون نوم دی یا د مسره ډېرنوم دی؛ د پېیلې یوې کړی یا کړی، بند یا بیت ته مسرې وایي چې یوه لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصری یوه مسرې وي. ؛. (ټول ټال ۷۲وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)
مسجد: د لونځ ځای، چې یوازې الله تعالی ته په کې عبادت کیږي. ؛. ۴۶
مصری: د وی یا وییکي له پامه مصری هغه دوې سرې پېیلې ته وایي چې د لرغون مصری تورې، مصری سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ... .،، د مصرۍ لرغون اهرمو غونډې چې ترننه يې نه جوړونکو او نه د هغوی نومونه معلوم نه دي ځخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

مصرۍ د مسرو شمېر يې ۲، د ځپو شمېر يې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته. ( دفتنګونه د مصرۍ توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، يه کربانه!، ورورره!، کنه، ولې اواسې نور ... .)، د پښېلې (قافيې) غونډلې (کلمې) نه لري. خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره مصرۍ بايد د ه ( زمور خپله ,,ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېڅې ده.

په واول يا غږن اواز پای ته رسېدلي وي، مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېيلې ( البته په همدې وزن او اهنګ) ځرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د مصرۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرتولو مصرۍ يو، باندې يوه رښت (دودی يا قانون) د پلې (تطبيق) وړ دی، ياني دا چې د هرې مصرۍ لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ ځپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصرۍ، د لومړۍ ځلورمه او اتهمه ځپه؛ د دوېيمې مسرې ځلورمه اتهمه او دولسمه ځپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه ځپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم ځپه په خپل کيفيت نه پاتې کيږي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۶ ، ۴۹، ۵۰، ۲۸۸. (ټول ټال ۳۷۵ وارې نور)

مصرۍيو: مصرۍ يې يکړه وۍ ده، يا د مصرۍ ډېرګڼی نوم دی. ؛. ۱، ۲، ۳، ۴، ... . ۲۸۰. (ټول ټال ۸۰ وارې نور)

مصرۍ ايزې ( مصريزې) د وۍ يا ويکيي له پامه مصرۍ ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې د ځو سره مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، ځخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ مصرۍ ايزې د مسرو شمېر يې ۳، د ځپو شمېر يې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته دی. ( دفتنګونه , اليده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې يا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، يې لا خوږوي، په بله مانا ديفتنګونه , غبرګغږونه يا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نيمواک په ملګرتيا منځ ته رازې او لکه يوستووی اواز يوه وار پټليز له خولې راوزې د يوه غبرګغږ لومړی ټوک يوه خپلواک او دوېيم ټوک يې يوه نيم واک اواز وي، کله زورکۍ واله يې يا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله يې يا درنه يې ,,ۍ ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتروييکي، ترووييکي، ستربل، اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، انديښنې، هيېجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، فردوس خانه!، لغمانيه!، يه که ځاره!، ای الکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروره!، بخته ميره! دغه راز هو، نه، ښه، ځنګه، ولې...)، نومړي ټول د مصرۍ ايزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پيل کې، کله منځ او ډېرى وخت په پاى کې ويل کېږي او د ځپو په شمېر کې ډېر والى راولي.

د پښتو کلمې يا غونډلې لړې لري. خو ډېرى وخت د لومړۍ، دوېيمې درېيمې، څلورمې، پېنځمې او شپږمې مسرې په پاى کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوى ټول ترنګتوک بشپړوي. هره مصرۍ ايزه بايد د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ يا هي ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېځې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي، مصرۍ ايزه د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. د لومړۍ مصرۍ ايزې پېنځمه او د دوېيمې مصرۍ ايزې شپږمه مسره يې ۱۳ ځپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصرۍ ايزې، د لومړۍ او دوېيمې ( د پورتنۍ پېنځه سره مسرې څلورمه، او د شپږ سره مسرې پېنځمه) مسره څلورمه او اتهمه ځپه او د پېنځمه او شپږمې مسرې ( پاينۍ مسرې،) څلورمه، اتهمه او دولسمه ځپه، باندې زورنه وي او ډېرى وخت په کې کومه ځپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سيمه ييزو غږو سره هم ځپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سيمه کې بېلوالى لري. په بله وينا مصرۍ ايزې مېچې د ځپيزه او خجيزه ټولوالي سره سره پر يوه نازورنه ځپه يا يوې خوږ غږې يا ترنمي ځپه پاى ته رسي. د هې ابېځى دى چې غږ يې نس څخه هوا په حنجرې کشوي، چې خولې مخکې مو ورغوى او نيسئ او ه يا هه ووايئ نو هوا ويچې او د نس ډکيدل او تشيدلو باندې پوهېږئ چې همدې ته ترنګتوک وايي، مانا دا چې د پيلنۍ مصرۍ ايزو نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د پېنځه سره مصرۍ ايزې يې ايزو نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښتمې او اته پېنځوستمې) څپې خوړ.غړ.ي د مصرۍ ايزې مېچې د څپېزه او خجيزه ټولوالي ترڅنګه د مصرۍ يوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږ.ي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پيېلې په توګه يې يوه څپه کمېږ.ي او له موسقي پلوه خوړ. غړ. له لاسه ورکوي. دغه پاينې ټوکونه په يوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره يوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږ.دېشتمې او نهه څلوېښتمې (د شپږ. سره مصرۍ ايزې نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږ.دېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې ) زورنې څپې له يوه څه اغېز سره مصرۍ ايزې ته يوه خوړ.غړ.ي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه څپه هم ايوفوني (euphony) بلل کېږ.ي چې پښتو انډول يې ترنګتوک يا ترنمي توک کېداى شي. غوره ستېه د ترنګتوک په پاينۍ مسره کې دى چې نومو‌ړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلي، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ څپې ولري، د ديفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پيېلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ. څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هايکويي، پتۍ ( تي خورو اړوندې پيېلې)، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېليزۍ، ناپيېلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پيېلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالى ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرى بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلى دى او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ايزه وينا او يادونې سره. نومو‌ړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رڼ بېلوالى يا ګړندى فرق يې وکولى شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولى وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصرئ ايزې د ځپې شمېر ښېلګه داسې ده چې درې سره لري ۳۱ ځپېزې وي، څلور سره مصرئ ايزې ۴۰ ځپېزې وي، پېنځه سره مصرئ ايزې ۴۹ ځپېزې وي، شپږ سره مصرئ ايزې ۵۸ ځپېزې وي، اووه سرې مصرئ ايزې ۶۷ ځپېزې، اته سره مصرئ ايزې ۷۶ ځپېزې وي، او نهه سرې مصرئ ايزې يې ۸۵ ځپېزې وي او لس سره مصرئ ايزې ۹۴ ځپېزې وي. چې تر ټولو غوره يې څلور سره مصرئ ايزې ۴۰ ځپېزې رانښلولې لړئ لري او څلور دانې وويل شي. خوندور رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په ستېه ولاړ راځي، ډېرې ښې يې اته سره مصرئ ايزې ۷۶ ځپېزې وي چې دوې دانې وويل شي، ښې به بيا درې سرې مصرئ ايزې دې اته دانې يا دولس وويل شي، لږې ښې بيا پېنځه سره مصرئ ايزې يا پېنځيزونې مصرئ ايزې دي چې پېنځه دانې وويل شي ښې راځي، دا بيا له څلورو دانو شپږ سره مصرئ ايزو سره خوا په خوا ځای نيسي.

د دې له پاره زما ځېړنه دا سپينې ته را اوباسې چې زه خپل د ژبې يوه څو سره پېيله د څو سره يا څو مخه مصرئ ايزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو پېنځه او شپږ سره پېيله له پېنځه سره او شپږ سره مصرئ ايزې، مصرئ تورې او مصرئ ايزې سره ورته ډېرې ځانګړې ځانګېړنې لري، چې ورته مصرئ ايزه وايي، په دغه ډول ځېرې لري، درې سره مصرئ ايزې، څلور سره مصرئ ايزې، پېنځه سره مصرئ ايزې، شپږ سره مصرئ ايزې، اووه سره مصرئ ايزې، اته سره مصرئ ايزې، نهه سره مصرئ ايزې او لس سره مصرئ ايزې... . په ښه مندل کېږي. او مصرئ ايزې ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې داسې دي. ؛. ۲۸۰ ، ۲۸۱، ۲۸۲، ۲۸۳ او ۲۸۴

مل: ښه، ملګری، انډېوال، دوست، اشنا، يار. ؛. ۱۶، ۲۸۷ ( ټول ټال ۲۰۶ وارې نور)

منځه: منځی، هسته. ؛. ۱۷، ۲۹، ... . او ۲۴۳ ( ټول ټال ۱۳ وارې نور)

مير: مشر، سالار، ښاغلی. ؛. ۲۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۷. نې (ن)

ناوی: ناوې، ناوکی. ؛. ۳۸، او ۴۰

نغوته: عشاره، تلميح، کنايه. ؛. ۲۸۴

نګېرني: حس، مونث جمع وويکی يې نګېرنې ده. ؛. ۲۸۴

ننداره: ليدنه، کتنه، ۲:) ننداري يې جمع ده يا سينما. ۳:) نندارتون : نمايشګاه. ؛. ۳۶، ۴۳، ۱۱۷ او ۱۵۴

نټه: انکار، نه منل. ؛. ۲۸۴

نټيالي: منکر. ؛. ۲۸۴

نوږی: جنس ( نر او ښځه) . ؛. ۱۵۵

نوموړې: مېړنی، سرغندوې، سرلوړې، سرفرازه . ؛. ۶۰، ۲۶۴، ۲۶۸، ۲۷۴، ۲۷۷ او ۲۸۲

نی: هفته. ؛. ۲۶

نياو: عدل، داد. ؛. ۲۸۴

نياوتون: ستره محکمه. ؛. ۲۸۴

نياو وزارت: عدلي وزارت. ؛. ۲۸۴

## ۲۸. ڼې (ڼ)

ڼنکی: زنکی، جمعه يې زنکـــــيان، هغه ماشومان چې پر مور باندې ډېر زيات ګران وي، د ناصرو قوم ځيني خلک رنکي ته ڼنکی وايي. ؛. ۲۸۵

## ۲۹. وې (و)

واړه: ټول، درست، ګرسره . ؛. ۳۵، ۹۵. (ټول ټال ۲۷ واړې)

واند: تخيل، شېرې خيال، د شعر پيپلی انځور.؛. ۲۲

وخت: پېر، زمان، سهولتونه، ګرځيدنه، ځرخا، تاويدنه، چورليدنه داعصابو پاريدنه، ګبنی اخيستنه، ترله وتنه: چکروهنه: بدليدنه: کړ ليچ: پيښه: کار، چوپړ، خدمت: وار، روڼ: سينګار: ځيره، جوله، بڼه: طرز، چم: ميلان. ګرځول، چورلول: بڼه ورکول: راپه زړه کول: تاوول: اړول: ستنول: په بل مخ اړول: بې ځايه کول: بدلول: تنبول، په شاکول: مخ کول، توجه کول، سپارل: ترجمه کول، ژباړل: جوړول: ګرځيدل، تاويدل، ځرخيدل، چورليدل، ستنيدل: اوښتل. لکه: زه به لوبغالي ته په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نی ، منځنی (يک شنبه، سه شنبه، ) تلم په يکی باندې، لرليد داره بادې ټوپک مې و، په نښه ويشتو کې ګسمتې يمه ځکه کېڼ لورې سترګه مې عادت د پټېدو نه لري. کلي کې مو ځای نه و، په بيړنيو شيبو کې به يوه بل ته چمتو وو؛ په خپل منځو کې به مو ښې لوبوې کولې، لکه ډباډب، کيکيشن کای کراټې، کرکټ، خوسی. ؛. ۶، ۱۱، ... . (ټول ټال ۱۱۳ وارې نو)

وراشه: وجيز، ښې خبرې. ؛. ۱۵۷

ورهنيزي: کسبي. ؛. ۲۸۵

ولس: قوم، د سيمې وګړي، د سيمې ژوندګړ، جرګه، د مشررانو ناسته (اجلاس). ؛. ۲۴ ټول ټال ۱۲۸ وارې نور

ولوله: احساس، عاطفه. ؛. ۲۲

ولوليز: عاطفي، احساساتي. ؛. ۲۵

وګړيو: خلکو، ولس. ؛. ۴۱

ونج: عوض، تعويض، ميز. ؛. ۲۸۵

وېلاړ: تصميم، عزم، اراده. ؛. ۲۸۵

ويار: عيب، کمی. ؛. ۲۴۹

ويوکي: لغات، وييکي، ويکي، ويي. ؛. ۷۳

وی: لغات، وييکی. ؛. ۷۳،... . ۱۸۳ . ( ۱۲۹ وارې نور )

وی: د حيرانتيا اوز، بې برکته ناره يا غږ، پارنويکی دی. ؛. ۲۲،... . ۲۸۱ . (۱۰ وارې نور)

وييپوهه: لغاتپېژندنه. ؛. ۲۸۶

**۳۰. هې (ه يا هـ)**

هېر: له ياده وتلی، په پام کې نه. ؛. ۹، ۱۱۵ او ۲۳۵

**۳۱. يې (ې)**

يږ: خرس. ؛. ۲۸۶

يېږ: د کښتی لاستی. ؛. ۲۸۶

**۳۲. ي**

يکی: بيسکل. ؛.۲۸۵

يوه نی: يک شنبه. ؛. ۲۸۵

ييبرور: بارور، حاصلخېزه. ؛. ۲۸۶

ييبره: ابره، اپېره، حاصل، ثمره. ؛. ۶

**۳۳. ی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوون: یکړ، واحد، یونټ. ؛. ۲۶۶

**۳۴.** ی

**۳۵.** ئ

دا لاندې نې په هغه ویکیو کې ترې ګټنه اخستل کیږي چې کټ مټ د عربي ژبې لغات وي، په پښتو ژبه کې دا توري نه کارول کیږي، خپلې ژبې وی لرو ورته.

**۳۶.** ثې (ث)

**۳۷.** حې (ح)

**۳۸.** ذې (ذ)

**۳۹.** صې (ص)

صفی الله: (صفي الله) زما نوم دی یا د لیکوال نوم دی، د عربي ژبې وی ده، د الله رښتینی ملګری، د الله صادق دوست، ۲:) د حضرت آدم ع تخلص دی. ؛. ۱۶ او ۱۲۸

**۴۰.** ضې (ض)

**۴۱.** طې (ط)

**۴۲.** ظې (ظ)

**۴۳.** عې (ع)

**۴۴.** فې (ف)

**۴۵.**ق

لنډون
په دې ټولګه کې مخففات د اصلي کلمو پر ځای یوازې دغه لاندېنی راغلی دی.
اېنج. ص. ف: اېنجینېر صفي الله ,, فردوس ،،. ؛. ۲۸۷ چوپړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸. ببیلو ګراپي Bibliography

**د هغو لیکونو لېست چې په یوه سکالو یا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري.**


۱. **Admin**, Posted on (۳۰ November ۲۰۱۰), Views: ۹۵٦ views, Tanegashima Municipal Government Hall, town officials said. *Two headed Snakes-Twice as dangerous*.

۲. **Aszafe**, (September ٥ ۲۰۱٤), important measurements of a newborn. https://www.slideshear.net

۳. **Edged weapons,** *BCE Sumerians are depicted wearing helmets, the sword, Ramses III wielding a sickle shaped sword ۲۰۰۹.*

٤. **Elgood.** *1979, p.203.*

٥. **Lionel. Menasche.** *(September 23rd 1997)& (2001, 5 ed.), writing a Research Paper, Rev. end. (Pitt Series in English as a Second Language. ISBN 0472083694 (ISBN 13: 9780472083695).*

٦. **Hillary Mayell**, (March ۲۲, ۲۰۰۲), for National Geographic Kids News, *Life Is Confusing For Two-Headed Snakes*.

۷. **Jimmy Wales and larry Snager.** Nonprofite Wilimedia Foundation, ( Janvary ۱٥, ۲۰۰۱), *Wikipedia, the Free encyclopedia Laghman province.* ( January ۳۱, ۲۰۱۱, ۱۲:۰۰am)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. **John Benjamins,** (۲۰۰٦), *Philadelphia, (m/The_Turns_of_Translation_Studies_New_Paradigms_or_Shifting_Viewpoints) p. 133*

۹. **Lizette Borreli**, (September ٥ ۲۰۱٤), *Healthy Living Male Anatomy 101:8 little –known Facts about penis size- medical daily.* www.medicaldaily.com>male anatomy

۱۰. Britanica Junior ( World Almance ( published annually by the new yark world- telegram and sun). Encyclopaedia Britannica, Inc., ۱۹۸۷,.

۱۱. **Mamluk Sword in the style of the Blessed Sword of the Prophet Mohammed**

۱۲. **Namit Bhatia,** (۱۹۹۲), *The Oxford Companion to the English Language, ed. Page 1.*

۱۳. **Omani.** *example is included in this sale as lot 151 Mohamed 2007, p.79, cat.43*

۱٤. **Petrie. W.M.Flinders.** *Karnak Stela of Amenhotep II A History of Egypt, Part Two, p.155.*

۱٥. **Piero Morandi,** (*1968* ), *Villa-Italian-Traveler-Kafiristan, Luca Villa, Page # 141* [https://edspace.american.edu/silkroadjournal/wpcontent/uploads/sites/۹۸٤/۲۰۲۱/۰۳/Villa-Italian-Traveler-Kafiristan.pdf]

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٦. **Zahra Barnes**, ( Decembers ١٦ ٢٠١٤), *The size of your Vagina:is it_Normal? – Womwn's Health.* www.womenshealthmag.com > health.

۱۷. **القران الکریم.** ( ۲۰۰۳ م کال)، د الله ج کتاب، یا کتاب الله، زما قران چې وایم یې ( بعون الله وحمده تمرطبع هذا المصحف الشریف فی مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشریف بالمدینة المنورة باءشراف وزارة الحج والاوقاف المملکة العربیة السعودیة عام ۱۴۰۶ق ، مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشریف المراقبة البائیة رقم ۱۰۹۰۱، ج ـ ۰۱۷-۳۰۰۴ )، (قران کریم،۸ سورت یا انفال سورت ، ۹ ایت، چوپړی ۱۷۸).

۱۸. **برهان دین (الدین) صدیقي. مولانا.** ( ۲۰۰۶ میلادي کال)، د اسلامي معلوماتو ذخیره ، د مولانا غفران رشیدي کیرانوي د کتاب ژباړه، د مکتب دیوبند خپرندویي ټولنې تخنیکي څانګه پېښور. ۴۷چوپړي.

۱۹. **پښتو ټولنه.** ( ۱۳۵۴ لیږدی)، د پښتو څېړنو د نړوال مرکز د نړوال سیمینار د مقالو مجموعه، پښتو څېړني ، د چاپ کال ۱۳۵۶ لیږدی، چاپ شمېر ۱۰۰۰، پر له پسې نمبر ۲۲۳، د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۴ده ، پښتو څېړني، پښتو ټولنه، ۵۰ چوپړی.

۲۰. **پیرو مرنډي.** ( ۱۹۶۸ زیږدی)، ګرځندوی په کافرستان کې ایټالیاوی دره، د انسان پېژندنې دوره او د توکم پېژندنې موزیم ټولونه، ۱۰ څېره، د نڅا تیارول، ۱۴۱ چوپړی.

۲۱. **پینده محمد. زهیر.** ( ۱۳۱۰ لیږدی یا ۱۹۳۲ زیږدې)، غوړشکه د لنډیو، خطي نسخه ملي ارشیف، استقلال لېسه کې کښلي، ۱۳۱۸ لیږدې کې پښتو ټولنې ته سپارلې. اوس یې ملي ارشیف کې د موندنې ګڼه ۴/۵۲ پر له پسې ګڼه ۴۶۳۸ ده، ۱۲۲ چوپړی.

۲۲. **حبیب الله رفیع.** ( ۱۳۴۹ لیږدی)، د خلکو سندرې، افغانستان اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۰۹ چوپړی.

۲۳. **حبیب الله رفیع.** . ( ۲۰۱۰ زیږدی کال)، د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسېږي ، هارون حکیمي مرکه. [٩:١٤:١٢ PM Sunday November ٢٨, ٢٠١٠] ۱۶:۰۳ د شپې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴. **حبیب الله رفیع.** . ( ۲۰۱۰ زېږدی کال)، په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ ، د آلمان ږغ راډیو سره د اوستاد حبیب الله رفیع دمرکې متن. په دې برېښلیک یې وګورئ:
[http://www.khost-web.net/adabyat/landay/۵۸۸۱-۲۰۱۴-۰۸-۰۲-۱۰-۱۵-۵۲]، [۲۰۰۸-۳-۲۴]، [9:14:12 PM Sunday November 28, 2010] ۱۹:۴۳ د شپې.

۲۵. **جانان.** ( ۲۰۰۶ زېږدی کال)، په پښتو لنډیو کې ښځینه محرومیتونه، له انټرنېټ څخه یې لیکنه په نوم او د مقالې په نوم موندلی شئ. برېښلیک یې وګورئ:
[http://janaan.bloguna.tolafghan.com/posts/۷۱۵]، [۱۵,۱۰,۲۰۰۶]، ۰۷:۲۹ د سهار.

۲۶. **جانباز سرفراز. مولوي. پوهندوی.** ( ۲۰۱۳ میلادي کال)، الرحیق المختوم، سیرت النبي ژباړن، صفی الرحمن. مبارکپوری. پوهاند. د کتاب لیکوال. دوهم کتونکی رفع الله .عطاء . دکتور. ۳۱۶چوپړي.

۲۷. **(د لیکوال پېژند څرګند نه دی).** ( ۱۳۱۲ لېږدی یا ۱۹۳۴ زېږدې )، منتخبات لغات متفرقه پښتو، خطي نسخه (کلمي کښلي یا په قلم لیکلي) ملي ارشیف، په ۱۳۱۸ لېږدې کې پښتو ټولنې ته سپارلې شوې وه. اوس یې ملي ارشیف کې د موندنې ګڼه ۴/۸۲ پر له پسې ګڼه ۵۳۸۲ ده، ۲۲۴ چوپړی.

۲۸. **دوست محمد دوست شینواری. څېړنوال.** ( ۲۰۰۶ میلادي کال)، د پښتو د ولسي ادب لارې، لنډۍ سرلیک، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه پېښور.

۲۹. **سرباز خان.** . ( ۲۰۱۰ زېږدی کال)، پښتو ادب کښې د ټپې یا لنډۍ مقام، ټپه، لنډۍ، مصره، په پښتون فورمز کې پورته کړې لېکنه، په دې برېښلیک یې وګورئ:
[http://www.pashtunforums.com/literature-/۹۰۵-۱۶۶۲-۱۶۹۰-۱۵۷۸-۱۶۰۸-۱۵۷۵-۱۶۰۶-۱۶۰۴-۱۵۷۵-۱۶۱۰-۱۷۴۴-۱۶۶۲-۱۶۶۰-۱۵۸۳-۱۷۴۴-۱۶۹۰-۱۷۰۵-۱۵۷۶-۱۵۸۳-۱۶۰۵-۱۵۷۵-۱۶۰۲-۱۶۰۵-۱۷۴۱-۱۶۷۳-a.html] ، [۲۰۱۰-۰۴-۲۷]، ۰۵:۴۶ د سهار.

۳۰. **سرفراز مومند. پوهنمل.** ( ۲۰۱۲ زېږدی کال)، څخه د ډیپلوم انجنیرعبدالقادر مسعود غوښتنه.

۳۱. **سلطان عزیز. عزیز ابوحذیفه. مولوي.** (۱۳۹۱ لمریز لېږدی، ۱۴۳۳ سپوږمیز لېږدی، ۲۰۱۳ زېږدی)، د عزیز التفاسیر لیکونکی، د قران کریم پښتو ترجمه او تفسیر، خپرندوی دارالکنوز العلمیة تخنیکي څانګه پېښور،۶ ټوک، ۱۳ سپاره، ۱۳ سورت، الرعد، ۲۴ ایت ۴۱۲ چوپړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲. **سليمان لايق. څېړونکی.** ( ۲۰۰۸ زېږدی کال)، سليمان لايق په لنډيو غږېږي، د اګست په ۲۱ نيټه قلم نړيوالې ټولنې د لنډيو په هکله سليمان لايق غږولی و او بازمحمد عابد ثبت کړی و چې دا دی کټ مټ يې ستاسې په وړاندې خپروم.

۳۳. **سليمان لايق او مجاور احمد زيار مومند.** ( ۱۳۶۱لېږديز لمريز کال)، پښتو لنډۍ، پښتو لنډۍ د شفاهي ادب او فوکلور د ډيفارټمنټ د علمي غړو د ۱۳۶۱ لېږدي ګډه علمي پروژه، د لنډيو په باب تحليلي څېړنه، د سليمان لايق او د مجاور احمد مومند په زيار، د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې له خوا، د پښتو ټولنې د نشراتو نمبر يا پرله پسې نمبر يې ۸۲، افغانستان د علومو اکاډمۍ مرکزي علمي کتابتون ګڼې کوډ ۱۵۲۴۷، عمومي مطبعه کابل ،۱۰۰۰ چاپ ګڼه، چاپ کال ۱۳۶۴ لېږدی، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۵۳ ده، څلورم چوپړی.

۳۴. **سلما شاهين. ډاکتره.** ( ۱۹۸۴ زېږدی)، روهي سندري، پېښور د پښتو اکاډيمی مخکنی رئيسې، پېښور پوهنتون،۳۸۰ چوپړی.

۳۵. **سيد بهاء الدين مجروح. پوهاند. ډاکتر.** ( ۱۳۵۴ لېږدی)، پښتو څېړنې، د پښتو ټولنې ادبياتو د څانګې له خوا، د چاپ کال تله ۱۳۵۶ لېږدی، چاپ شمېر ۱۵۰۰، پر له پسې نمبر ۲۲۳، د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه (۱۳۵۴). د پښتو ټولنې له لورې. د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۴ پ، ۱۵۳ چوپړی.

۳۶. **سيد عبدالسلام رستمي ابو زکريا. علامه الشيخ.** (۱۳۹۲ لمريز ليږدی، ۱۴۳۵ سپوږميز ليږدی، ۲۰۱۴ زېږدی)، احسن الکلام ليکونکی، د قران کريم پښتو ترجمه او تفسير، خپرندوی جامعه عربية لاشاعة التوحيد و السنة بده بېره پېښور،۵ ټوک، ۱۳ سپاره، ۱۳ سورت، الرعد، ۲۴ ايت ۲۸۳ چوپړي.

۳۷. **سيد محی الدين هاشمي. محقق.** ( ۱۳۸۶ لېږديز لمريز کال)، ادب پوهنه ,ادبيات او ادابي څېړنې، ۴۶چوپړي.

۳۸. **شهسوار سنګروال. پوهاند. تاريخ پروفيسور.** ( ۱۳۹۱ لېږدی- ۲۰۱۲ زېږدی) ، تاريخ مرصع تاريخي څېړنه، افغان ادبي جرګه – لندن خپرندوی، ۱۰چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. **صفي الله فردوس. ډیپلوم. انجېنر.** ( ۱۳۸۸ لېږدیز لمریزکال)، څلېر کې د ددو دود، زما د شعرونو ټولګه.
[http://www.ketabton.com/book/id/۸۲۰]، [۳۱ ۲۰۱٦ January]، ۲۲:۱۸ د شپې.

۴۰. **صفي الله فردوس. ماستر. اېنجینېر.** ( د کب ۱۲، ۱۴۰۰ لېږدیز لمریزکال)، د ټاټوبي ټنګټکور او پېیلې، وړیا پوهنغونډ ویکیپېډیا له پاره لیکنه، ۱۱ چوپړی.
[ https://ps.wikipedia.org/wiki/د_ټاټوبي_ټنګټکور_او_پېیلې ]،
[۱۱ ۲۰۲۲ November]، ۱۱:۴۰ د ورځې.

۴۱. **عبدالباري جهاني.** ( ۳۱، جنوري، ۲۰۱۶زېږدی کال)، یو ځل بیا د لنډیو په باره کې ، تاند خپرندوی، تر اوسه ۳ درې وار لیدل شوي په انټرنټ پاڼه کې د خپریدو له وخته. برېښلیک یې وګورئ:
[http://www.taand.com/archives/٦٢٦٧٦]، [Written by: Tand, ۳ Replies]، [ January ۳۱ ۲۰۱٦]، ۲۲:۱۸ د شپې.

۴۲. **عبدالروف. بېنوا** ( ۱۳۳۷ لېږدی)، لنډۍ چاپ کوونکی او فارسي مترجم، انګرېزي ژباړه یې محمد ابراهیم شریفي کړي، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لېږدي کې د کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه تېره شوي ټولګه ده، په عامه کتابتون کې یې د موندنې ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب دی، ۱۲۲ چوپړی.

۴۳. **عبدالروف. بېنوا**. (۱۳۸۷ لېږدی)، پښتولنډۍ، دوېیم چاپ، تاج الدین ایجاز زاوه وال اوردو ژباړه، په کندوز کې د رېدي ګل مشاعرې په ویاړ، دانش خپرندویه ټولنه، ۷۶ چوپړی.

۴۴. **فرهاد. محمد غالب ترین. خویشکی.** ( ۲۰۰۳ م کال)، مشکات شریف پښتو ژباړه، څلورم ټوک، د بیان او د شعر بیان، ۴۵۸۰ ګڼه حدیث، ۱۴ چوړی.

۴۵. **فیاض علی شاه. اخونزاده.** ( ۲۰۰۷ زیږدی کال)، د پښتو اولسي شاعري کې د ټپې اهمیت، له برېښنایې پاڼې څخه.

۴۶. **ګل باچا الفت. د ادب ستوری.** ( ۱۳۲۵ لېږدی یا ۱۹۴۶ زېږدی)، پښتو سندرې، ګل باچا الفت د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تالیف د څانګو امیر، د پښتو ټولنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشراتو نمبر ۹۵، عمومي مطبعه کابل ، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۲ ده، ۱۱۲ ـ ۱۱۹ چوپړي.

٤۷. **لال باچا ازمون. پوهندوی.** ( ۲۳، اګست، ۲۰۱۵ زېږدی کال)، دلنډۍ او دوبيتي پرتله!- ، ۰۰۴ ګڼه او تر اوسه ۱ يو وار ليدل شوي په انټرنټ پانه کې د خپريدو له وخته. انعکاس راډيو، ( http://www.enikaasradio.com)

٤۸. **محمد آقا شېرزاد او جمشېد رشيدي. پوهنمل.** ( ۱۳۸۵ لېږديز لمريز کال)، پښتو ژبه او ادبيات، کابل، بېلا بېل چوپړي. ۹ چوپړی

٤۹. **محمد اسمعيل يون. پوهيالی.** ( ۱۳۷۷ لېږديز لمريز کال)، د پښتو شعر هندسي جوړښت، کابل، ۴ چوپړی.

۵۰. **محمد حامد حليمي.** . ( ۲۰۰۷ زېږدی کال)، لنډۍ د ګلونو په سمندر کې. په دې برېښليک يې وګورئ:
[http://www.benawa.com/pashto/print.php?id=۱۱۹۹۵]، [۲۰۰۷-۰۵-۰۱]، ۱۸:۴۰ د شپې.

۵۱. **محمد داود وفا.** (۱۳۹۲ لېږدی)، د فلکلور پېژندنې لارښود ، ختيځ اکاډمي ننګرهار، ۴۳ چوپړی.

۵۲. **محمد دين. ژواک.** ( ۱۳۳۴لېږديز لمريز کال)، پښتنې سندرې، لومړۍ برخه، د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې له خوا، د پښتو ټولنې د نشراتو نمبر يا پرله پسې نمبر يې ۱۱۵، افغانستان د علومو اکاډمۍ مرکزي علمي کتابتون ګڼې کوډ ۱۲۵۹۴، عمومي مطبعه کابل ،۲۵۰۰ چاپ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۴ ده، د او هـ چوپړی.

۵۳. **محمد رحمت الله تنها. پوهنيار.** (۲۵ د ليندۍ، ۱۳۹۱ لېږدی، ۱۵ ډېسمبر ۲۰۱۲ زيږدی)، موږ په بې رنګه نړۍ کې ژوند کوو., په پورتنۍ نېټه د بي بي سي له پانې د ګرينويچ په وخت: ۲۱:۲۱ – يونۍ خپور کړی، ۱ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٥٤. محمد رحیم الهام. پوهاند. ډاکټر.** (۱۳۷۹ لېږدی)، لنډۍ ها، د اریک سیار کتابتون اداره او مسلسله ګڼه یې ۴۳، د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۲/ ۳۹۸ ل ۳۸ الف:. ۱۶، ۸ او ۹ چوپړی


**٥٥. محمد عمر.** ( ۱۳۱۸ لېږدی یا ۱۹۴۰ زېږدي)، متلونه او لنډۍ ( ذخیرة الغات پښتو)، خطي نسخه ملي ارشیف، ۱۳۱۸ لېږدي کې پښتو ټولني ته سپارلې. اوس یې ملي ارشیف کې د موندني ګڼه ۴/۸۲ پر له پسې ګڼه ۵۳۸۲ ده، ۶۳ چوپړی.

**٥٦. محمود نظري.** . ( ۲۰۱۰ زېږدی کال)، په لنډیو کې طنزي او خندونکي توکي. په دې برېښلیک یې وګورئ: [-http://www.khost-web.net/adabyat/landay/٥٨٨٠ ۳۱-۱۳-۱۰-۰۲-۰۸-۲۰۱٤]، [۲۸, ۲۰۱۰ Sunday November ۹:۱٤:۱۲ PM] ۱۹:۴۳ د شپې. ۱۸:۴۰ د شپې.

**٥٧. مجاور احمد زیار. پوهاند. دوکتور.** ( ۱۳۸۵ لېږدی، ۲۰۰۶ زیږدی)، لیکلار ښور , یوه پښتو – کره پښتو، د نوې ژبپوهنې په رڼا کې، ساپي پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، ۵۱ چوپړی.

**٥٨. ولایت خان څدراڼ.** ( ۲۰۰۸ زېږدی کال)، د پښتو لنډیو په اړه یو څو خبرې، سویډن، له انټرنېټ څخه یې لیکنه په نوم او د مقالې په نوم موندلی شئ. په دې برېښلیک یې وګورئ:
[http://baheer.com/baher/modules.php?name=News&file=article&sid=۳۷۷٦]، [شنبه، ۱۵ چنګاښ ، ۱۳۸۷]، ۱۸:۴۰ د شپې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Landayyu, Tapo, Tekayyu and Mesrayyu Courtyard Research Papers

## Volume I

M.BSc.Eng

# Safiullah Firdows

Course: Residue Knowledge
Apprisor: Smallness Sensation
Date: April 02, 2024

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library